د پښتني فولکلور

د چاپي مجموعو څیړندود

لیکوال: نصرالله "ناصر"

کابل - ۱۳۸۳

دافغانستان دعلومو اکاډیمي
دبشري علومو معاونیت
دژبو او ادبیاتو مرکز
د پښتو ژبې او ادبیاتو انستیتوت
دفولکلور او شفاهی ادب څانګه

د پښتني فولکلور

د چاپي مجموعو څېړندود

دسرڅېړونکی مرستیال
علمی رتبې ته د ترفیع له پاره

لیکوال

څېړونکی نصرالله " ناصر"

لارښود استاد

سرڅېړونکی عبدالله بختانی خدمتګار

کابل: ۱۳۸۳ هـ. ش، تله. ۲۰۰۴ ع

Amiri Book Shop کتابفروشی امیری
فارسی انگلیسی
تصویر ... و ایرانی وغیره موجود است
آدرس ... شهر کابل موبایل: 070280114

دکتاب پیژندنه

ـ داثر نوم: د پښتني فولکلور
دچاپي مجموعو څېړندود
ـ لیکوال: څېړونکی نصرالله " ناصر"
ـ خپرونکی: دافغانستان دعلومو اکادمي
ـ کمپوز، ډیزاین او اهتمام :
عبداللطیف احمدی
ـ دلیکلو نیټه: ۱۳۷۳ لمریز کال.
ـ دچاپ نیټه : ۱۳۸۳ ،تله
ـ دچاپ شمیر: ۵۰۰ ټوکه
ـ دچاپ ځای: دآزادی مطبعه.

بسم الله الرحمن الرحيم

فهرست

گڼه	سرلیك	مخ
۱_	دلاربنود استاد نظر	الف
۲_	تقریظ	ل
۳_	تقریظ	ف
۴_	ځوخبرې	خ
۵_	زېږی او....	هـ هـ
سریزه		۱

لومړی ځپرکی

دمنابعو او ماء خذونو ارزیابی ۱۷

دوهم ځپرکی

کلتور او فولکلور ۴۵

۱_ کلتور ۴۵

۲_ فولکلور ۵۱

لومړی: دفولکلور لغوي مانا ۵۲

دوهم: دفولکلور اصطلا حي مانا ۵۴

دریېم ځپرکی

دفولکلور تېولونی لارې چارې ۶۱

الف: دفولکلور ټولونی او ځیړنی میتود ۷۰

لومړی

ب : دفولکلور ټولوونکی ځانګړنی ۷۱
ج : دفولکلور ټولونی روشونه او تکنیکونه ۸۰
۱_ مرکه ۸۰
۲_ پوښتنلیك ۸۶
۳_ کتنه ۸۸

څلورم څپرکی

دفولکلور ټولونی او څیړنی پسمنظر ته
یوه عمومی کتنه دموضوع یو تاریخ ښاج ۸۹
۱_پښتنی فولکلور او ختیځ پوهان ۱۱۰
۲_په افغانستان کی د پښتنی فولکلور... ۱۲۴
۳_په لره پښتونخوا کی د پښتنی فولکلور... ۱۵۵
الف: په پیښور کی د پښتنی.... ۱۶۲
ب : په کوټه او بلوچستان کی د... ۱۶۵

پنځم څپرکی

[۱]

په عمومی ډول پښتنی فولکلور.... ۱۶۹

[۲]

تر اوسه مونږ د پښتنی فولکلور کومی ۱۸۵

[۳]

دپښتنی فولکلور ټولی شوې ۱۸۸

لومړۍ برخه

دختیځ پوهانو له خوا د پښتنې ۱۸۸
۱_دکابل سلطنت بیان، لومړی ټوک ۱۸۸
۲_دکابل سلطنت بیان، دوهم ټوک ۱۹۲
۳_بنویا زموږ افغانی سرحد ۱۹۴
۴_دپښتونخوا د شعر هارو بهار ۱۹۶
۵_نکلونه ۲۰۰
۶_دقصو مجموعه ۲۰۲
۷_پښتو متلونه او محاورې ۲۰۲
۸_دپښتو متلونو او محاورو مجموعه ۲۰۳
۹_افغانی (پښتو) حکایې او افسانی ۲۰۳
۱۰_سپوږمیه کړنګ وهه راخیژه ۲۰۴
۱۱_دوصال او هجران سندرې ۲۰۶
۱۲_د پښتنو تاریخی سندرې ۲۰۶

دوهمه برخه

په افغانستان کی د پښتنې فولکلور
ټولی شوې چاپی مجموعی ۲۰۸
۱_ پښتو متلونه ۲۰۸
۲_ ملی هنداره ، لومړی ټوک ۲۱۰
۳_ ملی سندرې ۲۱۱

۴_	ملی هنداره ، دوهم ټوک	۲۱۲
۵_	متلونه	۲۱۳
۶_	پښتو قصی	۲۱۵
۷-	پښتو نولی	۲۱۶
۸_	پښتنی خویونه	۲۱۸
۹_	پښتنی سندرې، لومړۍ برخه	۲۲۱
۱۰_	پښتنی سندرې ، دوهمه برخه	۲۲۲
۱۱_	پښتنی دودونه	۲۲۴
۱۲_	لنډۍ	۲۲۶
۱۳_	دژوند سندره	۲۲۷
۱۴_	هلمند دکلتور په ساحه کی	۲۲۸
۱۵_	پښتو متلونه	۲۲۹
۱۶_	توربرېښ	۲۳۲
۱۷_	خوږې نغمی	۲۳۳
۱۸_	دهوتکو نارې	۲۳۹
۱۹_	دخلکو سندرې	۲۴۰
۲۰_	دخندا پلوشی	۲۴۳
۲۱_	کندهار، لومړی او دوهم ټوک	۲۴۴
۲۲_	ملی هنداره، دریيم ټوک	۲۴۶
۲۳_	پښتنی ملی اتڼونه او نڅاوې	۲۴۷
۲۴_	د پښتنو دودونه	۲۴۷

۲۵_ امثال او حکم ۲۴۸
۲۶_ فولکلوري ګیډۍ ۲۴۹
۲۷_ فولکلوري مرغلرې ۲۵۰
۲۸_ اولسی پوهه ۲۵۲
۲۹_ دخلکو تجربی ۲۵۴
۳۰_ ګړنی ادب ۲۵۶
۳۱_ دپښتنی قبیلو اصطلاحی قاموس ۲۵۷
۳۲_ دمتلونو کیسی ۲۶۰
۳۳_ دماشومانو فولکلور ۲۶۱
۳۴_ فولکلور ۲۶۳
۳۵_ لنډۍ (د ۵۸ کال چاپ) ۲۶۴
۳۶_ پښتو متلونه ۲۶۶
۳۷_ دغرونو څوکی ۲۶۷
۳۸_ غرنۍ سندرې ۲۶۹
۳۹_ فولکلوري ګلونه ۲۷۰
۴۰_ زرینی څانګی ۲۷۲
۴۱_ پښتانه کوچیان ۲۷۵
۴۲_ دغلا م محی الدین افغان افکار او آثار ۲۷۷
۴۳_ دپښتو ځانتنی ادب او موسیقی ۲۷۸
۴۴_ دودونه ۲۸۰
۴۵_ اولسی سندرې، لومړی ټوک ۲۷۲

۴۶_	ترکمنی مرغلرې	۲۸۵
۴۷_	ټوټکی	۲۸۷
۴۸_	دسر درو توتیان	۲۸۸
۴۹_	دګوربز و کلتور او فولکلور	۲۹۰
۵۰_	ددوو دوستو هیوادونو اولسی پوهه	۲۹۱
۵۱_	دپښتنو ځینی فولکلوري روایات	۲۹۳
۵۲_	لنډۍ (د ۶۴ کال چاپ)	۲۹۶
۵۳_	پښتنی فولکلور	۲۹۹
۵۴_	دښادۍ بدلی	۳۰۴
۵۵_	اولسی سندرې ، دوهم ټوک	۳۰۵
۵۶_	د تڼیو کلتور او فولکلور	۳۰۷
۵۷_	دکابل تاریخی جغرافیه او کلتور	۳۰۹
۵۸_	دګوربز و نکلونه	۳۱۱
۵۹_	دننګرهار نکلونه	۳۱۳
۶۰_	دکندهار فولکلور	۳۱۸
۶۱_	ټوکی ټکالی	۳۲۱
۶۲-	دپکتیا نکلونه. دوهم ټوک	۳۲۳
۶۳_	افغانی موسیقی	۳۲۴
۶۴_	دټو کو خورجین	۳۲۷
۶۵_	په لغمان کی دواده دودونه	۳۲۹
۶۶_	دمومندو نرخونه	۳۳۳

۶۷- ادبیات مردم ۳۳۵

دریمه برخه

په لره پښتونخوا کې د پښتني فولکلور ټولې شوې چاپي مجموعې ۳۳۸
۱_ حیات افغانی ۳۳۸
۲_ متلونه ۳۴۱
۳_ پښتو لوګګیت ۳۴۱
۴_ تاریخي چاربیتي ۳۴۳
۵_ پټهانو کی رومان ۳۴۳
۶_ دنوره دین چاربیتي ۳۴۴
۷_ دمروتو کسرونه ۳۴۵
۸_ ګل ټپې ۳۴۷
۹_ سرود کهسار ۳۴۸
۱۰_ چټانین اور رومان ۳۵۰
۱۱_ سرحد کی رومان ۳۵۲
۱۲_ دټکرو شکور ۳۵۴
۱۳_ کاکړې لنډۍ ۳۵۵
۱۴_ دغرو ځوکې ۳۵۶
۱۵_ پښتني افکار (پښتو کیسۍ) ۳۵۸
۱۶_ سپیڅلې ګایونه ۳۶۰
۱۷_ غاړې ۳۶۱

۱۸_ چغیان	۳۶۴
۱۹- پښتو کې رومان	۳۶۵
۲۰_ پښتني فولکلور	۳۶۶
۲۱_ ملي ادب	۳۶۷
۲۲_ زموږ ژواك	۳۶۸
۲۳_ اولسي نکلونه	۳۶۹
۲۴_ مزارات	۳۷۰
۲۵_ کاکړۍ	۳۷۲
۲۶_ ترینو	۳۷۳
۲۷_ فولکلوري طب	۳۷۴
۲۸_ روهي متلونه	۳۷۶
۲۹- دمتلو قصې	۳۷۸
۳۰_ فولکلوري سندرې	۳۷۹
۳۱_ انګۍ	۳۸۰
۳۲_ اټك کې اُسپار	۳۸۲
۳۳_ ټکونه یا (دمازغو جنګ)	۳۸۳
۳۴_ ټنګ ټکور	۳۸۵
۳۵_ ټپې	۳۸۶
۳۶- ځرخ	۳۸۷
نتیجه او پیشنهادونه	۳۸۸
ماخذونه	۳۹۶

اتم

دلاربنوداستاد نظریه:

دپښتنی فولکلور ټولې شوې مجموعی دکوم روش تابع دي؟

دکتاب په باب

په ډیرو لرغونو زمانو کښی دژوندانه د پایښت او پرمخ تګ لپاره بنی آدمانو پرله پسی زیار ایستلی دی. څو چه یی د ذهن استعداد ونه په عمل کښی راغلی دي، فکر او خبرې یې کړي، دنن او سبا په غم کښی شوي، کارو بار یی منظم کړی او ورته یې دوام ، استمرار، انکشاف اوارتقا بخښلی ده .

له همغو وختونو څخه یی د ژبی سرته زونګې ورغلی او سندرې ترې جوړې شوي دي. په کار کې د بر یالیتوبونو او ناکامیو، او دژوندانه د خوږو ترخو له تجربو څخه یی، د

متلونو په شان د ژوند او پند مرغلرې له خولی تویی شوي
دي. دژوندانه دسفر او مزل دکړلیچو نو او پیچو مو په لوړو
ژورو کې یې دکار ، عمل، قربانیو او قهرمانیو له یادونو او
ستاینو څخه نکلونه او داستانونه جوړ شوي او د ټولنیز سوله
ییز ژوند له مراو داتو ، روابطو ، کښیناستو پاڅیدوڅخه یې
دود و دستور منځ ته راغلی دی.

کله چې په دې هلو ځلو د بنی آدم یاغی جذبات دعقل
په رسۍ تړل شوي، دین ته یی غاړه ایښی، دتمدن په بنسټو-
نویی تیږې ایښی او دنړۍ دودانۍ پردیوالو نویی خښتی
لګولی، نو ورسره څوکه څوکه غریزي حرکتونه یی هم مهار
شوي او په نتیجه کې یې د یو لړ ټو لنیزو نظامونو خاوند
شوی هم دی.

کله چې انسانان د پیړیو په پوړیو، نور هم دتمدن
ماڼۍ ته په بره ختل ، نو ددې تګ ودو په مسابقه کې، ددوي
ترمنځ ، دمنزل په طریقو ، دمنزل په پیژندلو او ټاکلو، دیو څه
ګټلو ، یو څه بایللو او یو څه لرلو په سر ، دتضادونو په اثر
تصادمونه پیښ شوي، جنګونه او جګړې، غالب او مغلوب،
فاتح او مفتوح پکی پیدا شوي، بیا نو دزمکی ددې خاورینی
کرې پرسر ، کله کله، دلته هلته، یو تمدن، یوه معاشره او
ټولنیز جوړښت ، له خپلو ټولو فلسفی،سیاسی، اجتماعی او
عقیدوي ارزښتونو سره ، ظاهراً له منځه تللی او بل پرې حاکم

شوی دی. بیا هم د وګړو ترمنځ، دپخوانی نظام یو څه فکري او ذهنی مسلط ارزښتونه خو پاته شوي مګر، یوڅه مخفی شوي، یو څه دنوي جوړښت له ارزښتونو سره ګډ او متداخل شوي او یوڅه په پخوانۍ محتوا، په نوي شکل او په بل رنګ ښکاره شوي دي. یعنی دنوي نظام دتسلط په دوران کې، دزاړه نظام رسمی قانونی ارزښتونه، که ظاهراً منسوخ شوي هم وي، بیا هم یوڅه دخلکو په افکارو، کړو وړو، روایاتو، سندرو، داستانونو، انګیرنو، متلونو او ژبنیو پانګو، په تیره اصطلاحاتو کې، په یو او بل ډول پاته شوي او په پیړیو پیړیو یی د مروجو ارزښتونو په ډول دوام موندلی دی.

دټولنی او تاریخ دڅپاند سمندر په تل کی، ددغسی رسوبی ارزښتونو دتبارز یوه روښانه زمینه، مونږ دفولکلور په نامه پیژنو، مګر، په دې فرق چه دفولکلور اصلی مواد خو دانسان د تمدن له لومړنیو لرغونو پیړیو څخه موجود وو. د بشر له تاریخی – ټولنیز خوځښت، بدلون او بشپړ تیا سره یی ورو ورو حرکت کړی، تحول – انکشاف او غناء یی موندلی او په ډیر مبدل شکل یی تر مونږ پورې ځان را رسولی دی. او که د بشر دغه تارخ یوه افسانه وي نو دغه افسانه هم یو تاریخ دی. دې سره او په دې باب کې، زمونږ پوهنه او پیژندنه، دیو علمی خدمت او حرکت په ډول، ددې افسانو نړۍ په تاریخ یاددې تاریخی جهان په افسانه کې، ډیره نوې او نابالغه ده.

یعنی دانسانی ټولنی دپیړیو پیړیو په دې زړه نړۍ کې.
یوازې په دې وخت ، یعنی په دې دوو وروستیو پیړیو کې.
مونږ فولکلور پیژندنه ، ټولونه او څیړنه ، د یوې علمی رشتی
په توګه پیژندلی ده او په دې لا رکې مو هم بیځایه قدمونه
ایښی او هم مو پرځای ګامونه اوچت کړي دي. دا لومړي
کارونه هم د بشر پیژندنی او تاریخ پوهنی په عامه پروسه کې،
او ورسره تقریباً په یو ځایی ډول ، پیل شوي دي. او هغه هم
داسی چې کله کله یا ډیر ځله بشرپیژندنه ، ټولنپوهنه ،
تاریخ، جغرافیا، ادبیات، فولکلور او ان سیاست ، یو تربله
سره ګډ وډ دیو موٴلف په یو اثر کې ټولنی ته وړاندي
شوي دي.

دعلومو او معلوماتو د بهیر دغه ګډ ژوند تر هغه
پورې دوام موندلی دی چې د بشري ټولنی د ګډ ژوند په
اعماقو کې دانفرادیت ریښی قوي شوي او دکارونو او پوهنو
دتراکم له ا مله رشتی او څانګی سره بیلی او دعلومو په ساحه
کې د تبحر ځای تخصص نیولی دی، بیا نو دهر ډول علمی
خدمت حدود او ثغور ټاکل شوي، اصول او قوانین ورته وضع
شوي، دودونه او میتودونه یی ښودل شوي دي. نو ځکه هغه
کار چې نن ترسره کیږي دنن دمیتود په تله برابر ، دپرون په
تیره لږ څه کم، دوړمی ورځی په وزن ډیرکم خیژي او دلا وړمی
ورځی په میزان به هیڅ وزن ونه لري. ځکه چې په هغه ورځ خو

دا دنن (میتود) لا له موره زیربیدلی نه و. دهمدی لامله ، دهر علمی – هنري اثر په شان دفولکلور پیژندنی، ټولونی او ځیړنی په ساحو کې هم دهرې ورځی کار دهماغی ورځی په تیره تللی کیږي.

دمثال په توګه، لیرې به نه ځو، کله چې داستاد قیام الدین خادم د (پښتو نولی) په نامه کتاب خپریده (۱۳۳۱ هـ .ش –کابل) نو دلته ، زمونږ په تاریخی لرغونی هیواد کې دفولکلور ټولونی او خپرونی ډیر لومړنی قدمونه اخستل شوي وو، مګر دمیتود په باب کې یی هیڅا څه نه وو ویلی، ځکه چې لا هیڅوك په څه نه پوهیده. په همدې وخت (۱۳۳۱- ۱۳۳۲ هـ .ش) ما (پښتنی خویونه) لیکل او ایله همدو مره پوهیدم چې پښتون یو با شهامته قوم دی. ددنیا دنورو ساهو قومونو په شان خپل روایات، دودونه ، نرخونه او عادتونه لري او ددې ټولو له مجموعی نه (پښتنولی) جوړه شوې ده . نو ما به یوازې ددې قوم پرعاداتو او اخلاقو مقالی لیکلی او په زړه کې می هم دا خبره نه تیریدله چې دا به کومه ورځ ، دفولکلوري څېړنی له نظره، په خارج او داخل کې ، دچا پام ځانته واړوي او یا به یي څوك پرمیتود خبرې وکړي.

مګر، نن ، دنړۍ دپوهانو او موسسو د پرله پسی پراخو کارونو او تجربو په اثردفولکلور ټولونې له پاره اصول، قوانین او میتودونه ټاکل شوي دي،ددې عصر فولکلور

ټولوونکی د هغو په رڼا کې کار کوي. له بلی خوا دنولسمی او شلمی پیړۍ په بهیر کې، زمونږ په تاریخی هیواد او دنړۍ په نورو برخو کې، ښاغلو مولفانو د فولکلوري مواد و او مسایلو یو لړ کتابونه ، یا په کتابونو کې یو لړ فولکلوري مواد او مسایل چاپ کړي دي. له دغو آثارو نه په خپلو وختونو کې لازمی استفادې شوي دي او لیا به کیږي. مګر د یو کل په توګه ،دغه نفیس کلکسیون بی له شکه داوسنیو او راتلونکو څیړندویانو لپاره د څېړنی په زړه پوري مواد وړاند-ې کوي نو دهغه ساتل او حتی بیا چاپول خو مفید کار دی. دې سره ، ددې وخت په معیارونو د هغو پیژند لو ته هم ډیر ضرورت احساسیږي. خو چې زمونږ ښاغلی اخلاف دخپلو درنو اسلا فو داحترام ترجذبی لاندې د " تقلید" په نارو غی اخته نه شی او په خپلو چارو کې او سنیو معیارونو ته پوره توجه ولري.

نو دافغانستان دعلومو اکاډمی د ژبو او ادبیاتو مرکز نخښنه رسا ویشتلی ده چې ددغه مرکز ځوان محقق، ښاغلی نصرالله ناصر ته یی دا وظیفه ورپه غاړه کړه چې دغسی کتابونه دفولکلور ټولونی دمیتود له مخه ویلټی . نوموړی هم نارا ستی ونه کړه او په خالی تش میدان یی ، دې ګران کارته ، دهمت ملا وتړله.

په داسې شرايطو کې چې زمونږ په هيواد کې دجګړو او رونه بل دي او لمبې يې آسمان ته خيږي. دعلومو تکړه استادان يا له وطن نه مهاجر شوي او په بهرنيو ملکونو کې اواره ګرځي او يا له نړۍ څخه بهر د آخرت په سفر تللي دي. کتابخونې زياتره لوټ شوي، سوي او کنډر شوي دي او کوم چې پاته دي په امن کې نه دي. نن يې دروازه پرانيستې او سبا تړلې ده . پرون يې ښيښه ماته ده او نن يې کړکۍ ايستل شوې ده، دا کتاب پکې شته او هغه نه ... نو ښاغلي ناصر جراء ت څه چې جسارت يې کړی دی. خپل کار پسې شوی دی . له ما او تا نه يې دمدارکو پوښتنې او غوښتنې کړي او څه چې يې موندلي د هغو پر بنا ء يې خپل کار سرته رسولی دی.

نوموړي خپل اثر په پنځو څپرکيو (بابو نو) ليکلی چې هر څپرکی يې ځانله بيلې برخې (فصلونه) لري. تر سريزې وروسته يې کولتور او فولکلور څيړلی، بيا يې د فولکلور ټولونې لا رې چارې ښودلې ، ورپسې يې د پښتو د فولکلور ټولونې او څيړنې په پس منظر کې دموضوع تاريخي جاج اخيستی او بيا يې دا خبره څيړلې ده چې په عمومي ډول ، پښتني فلکلور د کوم منل شوي روش په اساس راټول شوی دی؟ چې ددې پنځم څپرکی په وروستۍ برخه کې، ددې موضوع (۱۱۵) چاپ شوي کتابونه هم ځانله ځانله معرفي شوي او مولف د هر يو په باره کې خپل انتقادي نظر هم

ثرگند کړی او دا یی ښودلی دی چې نوموړی اثر دفولکلور ټولونی په اوسنی میتود برابر دی او که نه ؟ دکتابښود دغه برخه په دې هم مهمه ده چې په عین حال کی یو منظم ارزښتمن بیبلیو گرافیکی کار هم دی. چې په دې کی دنورو کتابونو په باب دمولف نظریات دفولکلور ټولونی په معاصر منل شوي میتود متکی بولم او دهغه دټاکل شوې علمی وظیفی په حدود کی یی په ځای گڼم.

دې سره او له دې موقع نه په استفاده ، زه پخپله دمیتود دیو شرط په باب خپل افاقی نظر دهیواد او نړۍ دعلمی ټولنو دانشمندانو او همدارنگه ددې میتود دواضعانو او میتودیکو واعظانو دتوجه لپاره داسی وړاندې کوم:

دفولکلور ټولونی دمعاصر میتود یو شرط دادی چې دفولکلور ی موادو راویان باید وښودل شی. دا ښه او ضروري شرط دی. مواد پرې کره او ثقه کېږي. دې سره ، یوازې په دوو مشخصو برخو کې، زه استثنا باندې قایل یم :

۱ـ ځینی آثار داسی دي چې دفولکلور ټولونی دمعاصر میتود دتثبیت او ترویج نه دمخه تالیف شوي دي او په هغو کې فولکلوري مواد، خصوصاً لنډۍ، اولسی سندرې او متلونه ثبت شوي دي. نو که دهغو بیل بیل راویان ښودل شوي هم نه وي، مونږ باید حق ولرو چې پخپله مؤ لف یا مدون دهغو راوي وبولو.

۲_ځينی آثار اکاډيميك حيثيت لري. دځيرونکو اوعلمی موسسو داستفادې لپاره وي . دا بايد په ميتود پوره برابر وي. دټولو معيارونو ، شرايطو او دميتود دغتو وړو خبرو رعايت پکې وشی او ټول راويان او وريانتونه يی وښودل شی. او ځينی نور آثار بيا دعا مې استفادې لپاره وي. عام خلك خپلوملی سندرو، متلونو او داستانونو سره علاقه لري. ځان پکې ګوري. دخپل زړه اواز ترې اوري، نو ځکه ورته غوږ ږدي او لولی يی . که په دې کې راويان ، دراويانو کړه وړه، او دمتن وريانتونه راواخلو بيا نو دعامو لوستونکو لپاره داستفادې ساحه تنګيږي او دچاپ اوخپرونی اصلی هدف ته حتی تاوان هم اوړي. دعامو لوستونکو او اوريدونکو احساسات فقط په متن ترضيه کيږي دوی دې پسی نه وي، او ورته ضرورت هم نه لري چې راوي يی څوك او څنګه دی؟ مګر له دې نه خوند اخلی چې چيرته ولولی يا له چانه واوري:

شمالی لاله زار باشد به من چه ؟
زمستانش بهار باشد به من چه؟

يا

ماته په سترګو کې حال وايه !
لارې کوڅی له غمازانو ډکی دينه

دا لنډۍ خومې په سلها و ځله اوریدلی او لوستی ده .
که زه د لنډیو کومه مجموعه راټولوم یا ترجمه کوم. نو ددغسی لنډیو راوي به څوك وښیم؟

دښاغلی ناصر داثر دا تاثیرو چې پرمایی. په بین المللی سویه یو پیشنهاد وکړ. **نور نو په عمومی ډول دهغه کار او زیار په دی هم ستایم چې په خپله نوعه کې نوی کار دی. له نوښت سره یی شکلیات سم اوڅیړنه دقیقه ، علمی او بی طرفه ده . په میتود برابر کار یی برابر ګڼلی او نابرابریی نابرابر . همدا یی علمی وظیفه وه .**

نو موږی پر ډیرو ماء خذونو استناد کړی دی. ځینی یی ډیر مشهور آثار دي. په دې کې دلرې او برې پښتونخوا او خارجی لیکوالو آثار او په پښتو کې دبهرنیو مستشرقانو دلیکنو ترجمی شاملی دي. دا زیا تره کتابونه دي چې په کابل، پیښور ، کویټه او دوشنبه کې چاپ شوي دي. ټایپی نسخی هم پکې دي چې زما په نظر دخطی نسخو حکم لري. زیاتره کتابونه او رسالی او یو څه په مجلو او جریدو کې خپرې شوې مقالی دي. مولف پر ځینو لیکلو خطی یا دښتنو هم اتکا کړې ده . دایی هم دتلاش یوه نخښه ده . په موجود و شرایطو کې، ددې کار لپاره . زه موجود ه مآ خذونه پوره کافی بولم او دهغو په موندلو مولف ته شاباسی وایم.

په کتاب کې، دموضوع دزيات وضاحت لپاره، دمولف ځينې يادونې تکرار شوي دي. ما ترې خواهش وکړ چې دچاپ وخت کې دې ، تر ممکنه حده پورې دتکرار مخنيوی وشی. دا يوه تخنيکی نشراتی مشوره ده . دې تکرار-ونو سره دموضوع علمی اړخ ته کومه صدمه نه ده رسيدلی بلکې له توضيح سره يې مرسته کړې ده . ما نوموړي ته نورې مشورې هم ورکړې او هغه ومنلی او دې سره زه دهغه کار بشپړ بولم. په دې برياليتوب ورته مبارکی وايم او وړيی ګڼم چې د (محقق) له درجی څخه (دسرمحقق مرستيال) علمی درجی ته ارتقاء وکړي.

په درناوي
ستاسو خدمتګار "عبدالله بختانی"
ننګرهار - د۱۳۷۳ کال ددلو ۱۲مه

تقريظ

کله چی د (فولکلور) نوم اخلو نو ورسره جوخت زموږ دفکر نیلی ډیرو لرغونو زمانو ته وځغلی، هغو زمانو ته چی لا تر اوسه دتاریخ پوهه نه ده وررسیدلی او لا ډیرې هڅی پکار دي چی دبشري ژوندانه دغی ارتی اوله پریمانه حقایقو ډکی ورشو ته لاره پرانیزو او دښکلو او زړه وړونکو مناظرو نندارې ته یی ځان ورسوو. فولکلور داسی یوه پراخه او ناپایه خزانه ده چې تر څو انسانی بصیرت کار کولای شی، په هماغه اندازه نوې او لا نوې او دلید لو وړ ملغلرې پکی زموږ پاملرنه جلبوي. فولکلور یو نه ایلیدونکی تو پانی دریاب دی چی له ډیرې لرغونی ماضی څخه سر چینه اخلی، د پیړیو په پوړ یو کی اوړي را اوړي او له پریمانه حکایتونو سره یوځای ترموږه ځان رارسوي، له همدې امله کیدای شی ووایو چی (فولکلور) په بشري ژوندانه کی دبدلونونو او اوښتونو نو ښکارندوی هم دی، په فولکلورکی زموږ ماضی. حال او استقبال سره کوشیریږي. فولکلور زموږ دپلار نیکه دژوندانه طبیعی او بی الا یشه انعکاس دی. فولکلور دژوند په بهیر کی انسانی تجربه ده ، مینه ده ، کرکه ده ، خو اشینتیا او

خوشالتیا ده . هیله ده ، ارمان دی، له همدې امله بې څه نه ده چی ووایو فولکلور دژوند پیښنو په اړوند دانسانی عمل – عکس العمل دی او دپوهی او بصیرت په زیاتوب کی یی یوه ممده او اغیزمنه وسیله ده .

ښایی یادونه وشی چی دفولکلور دغه پراخ بعدیزه ننداره او دغه پراخ بنسټه تاد اوونه ددې باعث وي چی موږ ته په دې برخه کی هره هڅه او هر ګام په زړه پورې او دلچسپ شی او موږ په ډیره مینه جلب کړي. بی څه نه ده چی دښاغلی ناصر دغه اثر هم یو ددلچسپی وړ اوله خوند ونو ډك اثر وبولو، ځکه چی له یوې خوا موږ په عامه توګه دفولکلور له خوند ورې دنیا سره اشنا کوي او دهغی په کم و کیف موخبروي او له بلی خوا مو په خاص ډول ددې لارې له لارویانو سره یوځای په سیستماتیك ډول دهغو منظرو ننداری ته کینوي چی زموږ په خپل ټولنیز جوړښت ـ پښتنی ټولنه کی هست شوي او دجمال درجی ته رسیدلی دي.

په بله وینا ، کیدای شی ووایو چی دښاغلی نصرالله ناصر دغه اثر دهغو پراخو معلوماتو یوه مجموعه ده چی تر اوسه پورې زموږ دڅیړونکو د پلټنو په لړ کی را برسیره شوي دي. ددې اثر محتوا ښیی چی دښاغلی لیکوال زیاته پاملرنه دپښتنی فولکلور څیړنی میتودیك اړخ ته متوجه ده او غواړي دې پوښتنی ته ځواب ومومی چی دپښتنی فولکلور پوهنی په

ساحه کې رامنځ ته شوي آثار د څیړنې داوسنیو منل شوو معیارونو په تله برابر دي که یه ؟

ترکومه ځایه چې ښکاري لیکوال په خپله څیړنه کې خپلې پورتنۍ موخې ته درسیدو لپاره له تشریحي او انتقادي میتود نه کار اخلی او ډیر بریالی پر مخ ځی. کیدای شي ووایو چې لیکوال په دې بریالی شوی دی چې ددغو میتود ونو په رڼا کې خپل اثر هست کړي او په مینه یې دفولکلور مینانو ته وړاندې کړي. په دې اثر کې دلیکوال هڅه داده چې دپخوانو او اوسنیو څیړنو له درناوي سره سره اوسنی فولکلور پستان دعلمی او منل شویو روشونو له رڼا سره یو ځای راتلونکو څیړنو ته رهنمایی کړي، له همدې امله دښاغلی ناصر دغه اثر ځوانو فولکلوریستانو ته دیو لا رښود حیثیت غوره کولای شی. ددې اثر غوره ښیگڼه داده چې دیوې روښانه هنداري په حیث د پښتو فولکلور پوهنی ټولی هڅی زموږ مخی ته ږدي او موږ دهغو له مندرجاتو سره پوره پوره اشنا کوي. دا هم باید هیره نه کړو چې په دې اثر کې له تاریخی میتود څخه هم گټه پورته شوې ده او په دې توگه موږ د پښتو فولکلور څیړنې کرونو لوژیك جریان هم پکی لید لای شو. دغه میتود موږ ته هغه مرغلین تاربریښی چې دفولکلور څیړنې دغه راز روش ښایی زموږ ځوان فولکلور یستان دې ته وهڅوي چې فولکلور څیړنی ته په ساده سترگه ونه گوري

او اصالت ته یی له درناوي سره سره په علمی او اکاډیمیك نظر دغی پراخی نړۍ ته ورننوځی، او په دې توګه دغه نا پایه خزانه لکه څرنګه چی ښایی معرفی کړي او خپلو راتلونکو نسلونو ته یی دیو درانه میراث په توګه پریږدي.

ترکومه ځایه چی بریښی ښاغلی ناصر دخپلی لیکنی په ترځ کی ډیر محتاط هم دی، بی بنسټه اوبی دلیله حکم نه کوي، تشریحی سیستم یی خوږ، ساده او بی تکلفه دی او انتقادونه یی هم دلطافت په وریښمین ټوکر کی نغښتی دي او بی ګودره موزې له پښو نه نه باسی. په دې برسیره دده زیاته هڅه داده چی عنوان او معنون سره موازي کړي او هره خبره دعنوان له تقاضا سره سمه راولی خو داسی بریښی چی دضرورت په وخت کی یی دغه الزام ته غاړه نه ده ایښی او داضافی مګر موجه معلوماتو له راوړ لو څخه ډډه نه کوي.

دغه راز هڅه موږ ته دا واقعیت راڅرګندوي چی لیکوال تر زیاتی اندازې دیو ښوونکی مسئولیت غوره کړی او غواړي زیاتره هغه پوښتنی ځواب کړي چی دیو لوستونکی په مغز کی راڅرخی.

لنډه دا چی ناصر په دغه اثر کی (دریاب په کوزه کی ځای کړی دی) ځکه له یوې خوایی دفولکلور پوهنی تیوریك اړخونه له یاده نه دي ایستلی او په ډیره موجزه توګه یی په دې برخه کی دڅیړنو نتایج په ګوته کړي دي او له بلی خوایی موږ

له (۱۱۵) هغو آثارو سره هم آشنا کړي يو چې د پښتو فولکلور څېړنې په ساحه کې دکورنيو او بهرنيو پوهانو له خواهست شوي دي. له همدې امله دا اثر ديو عمده ماء خذ حيثيت هم لري.

که چيرې دخبرو داوږديدو مخه ونيسو نو به ووايو چې دغه اثر دزيات کړاو پايله ده ، ځکه له يوې خوا ليکوال زيات پيدا او پناه آثار چې په اوسنيو شرايطو کې يې ترلاسه کول، په ترورږمې کې د سپوږمې دليدلو هڅه ده !، په زياته حوصله مندي پلټلي او کتلي دي اوله بلې خوا يې په داسې حالاتو کې دليکلو تکل کړی دی چې قلمونه دپرله پسې کور ورانوونکې جګړې له امله خواشينې بريښي.

ددې او داسې نور وښيګڼو له امله زه دغه اثر يو علمي اثر بولم او په داسې حال کې چې ليکوال ته دزړه له کومې مبارکي وايم، هيله من يم چې ښاغلی ناصر ته دې ، ددې درانه اثر دکښلو له امله دڅېړونکي له علمي رتبې څخه دسرڅېړونکي مرستيال علمي رتبې ته ترفيع ورکړلای شي.

په درناوی

دسرڅېړونکی مرستيال نورمحمد " سهيم"

تقریظ

که داخبره دځرګندواقعیت په توګه ومنو چی فولکلور ټاکلی تاریخ نه لري دامکان نه لرې خبره نه ده .ځکه چی دفولکلور پیلامه د بشري تمدن دلومړیو وختو څخه را پیل کیږي او داوږد زمانی واټن په اوږ دو کی دیوه نسل څخه بل نسل ته په میراث پاتی کیږي. دغه اولسی ارزښتناکه پانګه دبشري ټولنو دژوند دبیلا بیلو اړخونو د روښانتیا دپاره دیو مهم توك په حیث کارول کیدای شی،اوکیدای شی چی دیوې ټولنی دټولنیز ژوند هنداره یی وګڼو او دشاعر دغه وینا هم ورسره تصدیق کړو چی وایي:

دهرقوم راز معلومیږي له قصو څخه
د هر چا هند ا ره خپلی افسانی دي

(نوري)

په فولکلورکی موږ تربیتی، تعلیمی، اخلاقی. او ان صحی او روحیاتی مسایل موندلا ی شو، چی د پیړیو پیړیو په بهیر کی دانسانانو دزیاتو تجربو او ګرویږ نو محصول یی وګڼو او موږ ورڅخه دژوند په دغو ساحو کی مثبته او ګټوره

استفاده کولا ی شو. موږ په افغانی ټولنه کی هم داصیل فولکلور خوراښی بیلګی موندلا ی شو او ددغو اصیلو موادو راټولول او خوندي کول خورا داهمیت او قدر وړ ګټور کار ګڼل کیږي او دفولکلور یستانو اساسی دنده هم داده چی پرې نه ږدي چی دغه ارزښتناکه خزانه دانسانانو دمړینی سره یو ځای دهغوي په سینو کی ترخاورو لاندې شی. که څه هم زموږ یو شمیر لیکوالو او فولکلور یستانو په دغه برخه کی څه ناڅه تر خپله وسه پورې هلی ځلی کړي دي، خو بیا هم دا کار نیمګړی پاتی دی. په دغه برخه کی دځوان نسل دنده ده چی هغوی دخپلو پلرونو دغه تاریخی او ارزښتناکه خزانه دخپل همت ، کار او ځیړنی په برکت سره خوندی او ثبت کړي.

دبشري تمدن وده خورا ګړندی پر مخ روانه ده بشري ټولنی دساینس، کمپیوټر، کیهان ساحی ته ځانونه رسوي، دژوند ددغه عصري پرمختګ سره نوي مسایل او موضوعات رامنځته کیږي، زاړه مناسبات او عنعنی زیاتره په نویو بڼو سره را څرګندیږي او یا دمنځه تللو خواته حرکت پیل کوي. دکلیو او بانډو او سیدونکی زیاتره دښار او عصري سیمو یا ښاري سیمو ته ځیرمه ژوند اختیارول او میشته کیدل غوره ګڼی دمهاجرتونو او تګ راتګ زمینه ورځ په ورځ آسانه کیږي دهمدغو فکتورونو پر اساس اصیل او کلیوالی فولکلوري موضوعات دهیریدلو او له منځه تللو سره مخامخ

کیږي. بیا هم ددې خبرې ضرورت او اړتیا رامنځ ته کیږي چې په هره بڼه چې وي دغه ارزښتناکه خزانه باید دحوادثو دڅپو څخه خوندي پاتې شي. خو په دا ډول یې خوندي پاتې کیدل هم دانصاف وړ کار نه دی؛ لکه چې په دا وروستیو وختو نو کې یو شمیر خیړونکو د فولکلور دراټولو په نامه ، دوریانټ او دفولکلور ټولونې د میتود پراساس چې راوي باید معلوم وي او دهغه ټول مشخصات باید یاد کړل شي ددغه نوي میتود څخه په استفادې سره یو شمیر ځوانانو یوازې یو نکل دخپلې سیمې په لهجه سره ثبت کړ دمور پرځای یې (میږ) ولیکې او د پښتنو دفولکلور اصیل نکلونه چې په ټولوسیمو کې رواج او عمومیت لري دخپلو سیمو دنکلونو په نامه یادکړئ، دبیلګې په توګه دبامیان نکلونه . دننګرهار او کندهار نکلونه ، دپکتیا نکلونه ... په همدې ډول نور کله چې داثر متن ته رجوع وکړله شي هلته مور دآدم خان او درخانۍ نکل پکې موندلا ی شو، نو تاسې خپله قضاوت وکړئ چې دآدم او درخانې نکل مور دکوم ولا یت او کومې سیمې نکل وګڼو!

هلته په نکل کې په ډاګه سره په یوه ناره کې داسې راغلې دي:

که دوې دي دوې دي دکلابس دروازې دوې دي
په یوه یې آدم وزي په بله یې دمور سوې نارې دي

کلا بس، د(کلا بست) عوامی تلفظ دی او دبست تاریخی کلا په لښکر ګاه یا هلمند کی موقعیت لري، دنکل اصلی قهرمان او هیرو هم دهمدغی سیمی دي بیا نو څه اړتیا شته چی موږ دغه نکل دولا یتونو دنکلونو ترعنوان لاندې ثبت کړو. دانه دفولکلور ټولونی میتود او نه فولکلوري مواد دي فقط دومره کیدای شی چی په پای کی له موږ څخه اصلی نکل او کیسه ورکه شی دولایتونو په نومونو پسی به ګرزو؟

او نه به دا ورینټ وي چی نکل په یوه او بله لهجه سره ولیکو او دوریانټ اصطلاح ورته وکاروو. زه په دغه برخه کی بشپړ معلومات نه لرم خو دومره ویلای شم چی وریانټ به هغه مشخصات او مشترك خصوصیات چی یوه کیسه یا نکل یی ولري او هغه په بله لرې سیمه او هیواد کی وموندل شی. دبیلګی په توګه، دیوه شرق پیژندونکی په قول دآدم خان او درخانۍ نکل، دشهزاده بهرام او ګل اندامی نکل دداغستان په جمهوریت کی په یوه کلی کی دکوم سپین ږیري له خولی نه ثبت کړي، ددغسې انتقالا تو او لیږدونو وریانټو نه که څرګند کیږي دا به پرځای خبره وه. که څه هم دغه نکل په هغو سیمو کی په پښتو ژبه نه بلکی دداغستان دخلکو په محلی ژبه او روسی ژبه سره دخلکو په یاد دی. که موږ ددغی خبرې جاج واخلو کله چی دهوتکی امپراتوري دسقوط وروسته د هوتکی قبیلی په سلګونو کورنۍ ، ایران ، مازندران، او

داغستان او ځنو نورو سیمو ته تبعید کیږي او یا بهر ملکونو ته مهاجرت کوي دهغوي سره طبیعي خبره ده چې دفولکلوري موادو کیسې هم هغې سیمې ته وړل کیږي لکه چې دتاریخي اسنادو په حکم یو زیات شمیر غلجي قبایل په داغستان کې میشته شوي نو دا خبره هم حقیقت او واقعیت ته نږدې ده چې دا نکل او کیسې دهغوي سره یوځای دغو سیموته انتقال شوي وي. یا دبیلګې په توګه د پښتنې فولکلوري افسانې او نکلونه دکوچیانو دلیږد او کوچ سره یوځای له یوې سیمې نه وبلې ډیرې لیرې سیمې ته لیږ دول شوي وي. ددغو وریانتیونو څرګندول دفولکلور دښه معرفې سره لا زیاته مرسته کولای شي.

خبرې په دغه برخه کې خورا ډیرې دي زه مجبور یم چې خپلې اصلي موضوع ته راوګرځم او خپل تقریظ را تقریض کړم – دځیړونکې نصرالله ناصر اثر دپښتنې فولکلور ټولې شوې مجموعې دکوم روش تابع دی. ما په غور سره وکوت. دغه اثر چې دلیکوال له خوا په پنځه ځپرکو کې بشپړ شوی دلیکوال دزیاتو هڅو او منډو په نتیجه کې دتکمیل مرحلې ته رسیدلی دی. په داسې ځپځپانده حالت کې چې لیکوال هم په خپله ورته اشاره کړې دیوه اثر لیکل او بشپړول خورا ګران کار دی او زیاتې هڅې غواړي دغه زلمی لیکوال دغه اثر دوه ځلې لیکلی چې لومړی ځل دناوړه پیښو له کبله له منځه تللی

او ده بیا ددویم ځل دپاره دهمت متي رانغاړلی او دغه اثر یې تکمیل کړی دی دستاینی وړ اقدام ګڼل کیږي. ددغه اثر په اړوند دا څو ټکی هم دیاد ولو وړ دي.

۱ـ ددغه اثر محتوا دعلمی او منطقی تسلسل له مخی په منظمه او سیستماتیکه توګه او ډله شوې او په پای کی بشپړه ببلیو ګرافی هم لري.

۲ـ دلیکوال دلیکنی سبك خوږ او په معیاري لهجه یی لیکلی دسیمی دلهجی تراغیزې لاندې نه دی راغلی.

۳ـ دلیکنی میتودیی دعلمی اصولو پر اساس تشریحی او انتقادي دی، په اکثرو مواردو کی لیکوال نقد او کره کتنه کوي او خپل نظر په علمی او مدلل توګه څرګندوي چی دا دلیکوال دعلمی صلاحیت څرګندونی کوي. او کیدای شی ووایو چی دا برخه یی دنوښت بڼه هم لري.

۴ـ دمفاهیمو او تعریفاتو په اړوند یی خورا مهم مواد راټول کړي کیدای شی چی دښوونی اوروزنی په تعلیمی برخه کی هم ورڅخه ګټه واخیستله شی.

۵ـ دتکراري موضوعاتو څخه لیکوال په بشپړه توګه مخنیوی کړی چی دا کار داثر په محتوا مثبته اغیزه لري او دلیك دود نښی پکی مراعات شوي دي.

۶ـ دزیاتو او مهمو ماء خذو څخه یی ګټه اخیستی او پرماخذونو برسیره دتعلیمی او تدریسی موادو دیادابښتونو

څخه هم دقدر وړ استفاده اخیستل شوې ده چې داکار دکتاب دعلمي کیدو په برخه کې نوره او ښه اغیزه هم لري.

په پورتنیو یادونو برسیره ښاغلي نصرالله ناصر دیو دقیق، احتیاط کاره . څیړونکی په توګه خپل نقد په خورا خوږه او نرمه لهجه لیکي او خپل مطالب په هنري ادبي قالب کې افاده کوي.

په لنډه توګه ویلای شم چې دښاغلي ناصر دغه ګټور کار مثبت ارزیابي کړم او دی ددې وړ ګڼم چې ددغه اثر په واسطه دڅیړونکي دعلمي رتبې نه د سرڅیړونکي دمرستیال علمي رتبې ته ترفیع وکړي. او ددغه ډول نوروعلمي کارونو په برخه کې ورته لازیات بریالیتوب غواړم.

لاس دې پرچا رو براوسي

په درناوي

سرڅیړونکی نعمت الله " اندړ"

دبخښونکی او مهربان خدای (ج) په نامه

څو خبرې

څرنګه چی ښایی زه نه لیکوال یم او نه دلیکوالۍ دعوه لرم ؛ خو دوظیفوي مکلفیت له مخې چی کومه موضوع راته راسپارله شوې وه ، دهغی دبشپړ تابه د څرنګوالی په باب غواړم، ځینی ټکی ستاسودرانه حضور ته وړاندې کړم.

کوم خواره واره وییونه او عبارات چی ما په څو راټلونکو پاڼو کی سره اوډلی او دا حاضر کتابګوټی ځینی جوړ شوی، سره له دې چې زیاتی خلا وې او نیمګړتیاوې به ولري، چی راتلونکی څیړونکی به دغه کمۍ بشپړې او نیمګړتیاوې به سمی او له منځه یوسی. خو له دې سره سره بیا هم هیله من یم چی زما دغه نیمګړی زیار به دڅه شیبی له پاره لوستونکی بوخت کړی او ښایی چی له فولکلور ټولوونکو او څیړونکو سره په بیلا بیلو اړخونو کی مرسته وکولای شی او دهغوي داستفادې وړ وګرځی!

پخوا له دې چی دسرڅیړونکی مرستیال علمی رتبی ته دارتقا لپاره موضوع غوره او کارېرې پیل کړم، په یوې بلی

موضوع (دودونه) می کار کاوه . دا دهغی مشترکی پروژې یوه برخه وه ، چی (دپښتنی فولکلور فرهنګ) په نامه د فولکلور او شفاهی اد بیاتو دځانګی غړو (حضرت محمد ویاړ- نصرالله ناصر- مجاور احمد مومند او میراحمد ګوربز) ته سپارل شوې وه او هر چا په خپله ونډه کار کاوه .

کله چی په پورتنۍ مشترکه پروژه کی ما خپله ونډه پشپړه او اړوندی څانګی ته می وسپارله . په دې لړه کی شوم چی دعلمی ترفیع لپاره هم باید یو علمی اثر ولیکم او داسی یوه موضوع وټاکم چی هم دمرکز له لرلیدي (دورنمایی) پلا نونو سره برابره وي او هم په کار کولو وارزي او دراتلونکو څیړونکو له پاره هم څه ناڅه مواد برابر کړی شي.

موضوع می په څانګه کی مطرح کړه . له خبرو وروسته دا پریکړه وشوه . چی زه باید د پښتنی فولکلور د ټولولو شویو چاپی مجموعو په اړه پروژه ولیکم. پورتنۍ موضوع می د (۱۳۶۹) کال په وروستیو ورځو کی له محترم سر محقق زلمی هیواد مل سره یاده کړه . نوموړی په ورین تندي دې ته حاضر شو چی په دې موضوع کی به زما دلا رښود استاد په توګه له ماسره مرسته کوي.

هماغه وو چی له هغه سره په مشوره می دموضوع خاکه ترتیب او له اسنادو سره یو ځای می دځانګې غونډې ته وړاندې کړه . ددغی موضوع اوټلاین او نورو اسنادو خپل

ټول قانوني پړاوونه ووهل او بالاخره دافغانستان دعلومو اکاډیمی درئیسه هیئت د(۴) ۲۴ر۴ر۱۳۷۰ نیټې په غونډه کې تصویب شوه. چې دکارموده یې دوه کاله (له ۳ر۱ر۱۳۷۰ - ۳۰ر۱۲ر۱۳۷۱) او سر لیك یې (دپښتنې فولکلورټولې شوې مجموعې د کوم روش تابع دي؟) ومنل شو.

ما په (۱۳۷۰) کال کې دښاغلي هیواد مل په لارښوونه دټاکلې موضوع په باب خپلې څېړنې پیل کړې. چې د (۱۳۷۱) کال دلړم دمیاشتې تر پایه می په سلو کی (۸۵) دپروژې تحقیقی چارې بشپړې کړې وې او نور خام مواد مې هم راټول کړي وو. چې دموضوع د پوره بشپړ تیا سره یې مرسته کولی شوای. څرنګه چې زمونږ دفترونه ترهمدغې نیټې پورې تر یوې اندازې داستفادې وړ او کار په کې کیدای شو، دمرکز، انستیتونو او نورو اړوند و څانګو داسنادو زیاته برخه په شعبو کې موجوده وه او ډیر لږ اسناد ضایع شوي او له منځه تللی وو. خو فرنیچر او ددفترونو نور سامانونه چور شوي وو. ما هم په همدې نیامت چې دغه اسناد ښایی په دفتر کې محفوظ پاتی شي(ما دلته خپل کور نه درلود. ځکه چې کورمی لا پخوا چور شوی و) خو له بده مرغه د (۱۳۷۱) کال وروستې پیښو دا وښودله چې دانسانانو په وژل کیدو. دښار په ورانیدو او دکورونو په نړیدو بر سیره

رسمي دفترونه هم چور ، تالان او دزياتره دفترونو اسناد وسوځول شول، چې په دې لړ کې د ژبو او ادبياتو په مرکز کې موجود دولتي اسناد ، کتابونه ، شخصي اسناد او آثار هم په دغه اور کې لولپه شول. او اعضايي څادر په اوږه د مرکزله ودانۍ څخه وايستل شول. دکتابونو تحويلخانې يې تشې او کتابونه يې په برالا ډول په موټر و او کراچيو کې نامعلومو لورو ته يوړل شول او خدای خبر چې څه به پرې شوي وي...!؟ (*) قلمي او ټاپيي آثار او نوررسمي سندونه دبخاريو دتودولو او دچای او پخلي په چارو کې داور خوراك شول او لوخړويي د پښتو ټولنې دودانۍ ديوالونه لکه دنانوايي هټۍ په تور- وغوړ اشکوپټ کړل. ددغه علمي مرکز کوټې په کنډوالو بدلې شوې. اوس که يې داسې يو څوك ووينې چې پخوايې دغه ځای نه وي ليدلی: هيڅکله به هم داونه منې چې ګوندې دلته هم رسمي دفترونه موجود و؛ پوهانو او څيړونکو په کې خپلې څيړنيزې چارې پرمخ بيولې.

دچپاوونو په دغه سيلا ب کې چې د پښتو ټولنې څو پنځوس کلن اسناد يې دپناه کندې ته وغورځول، زما مسکين کتابونه ، دزېږي جريدې اسناد(چې له ماسره وو) او زما

---

*_ هغه متل دی چې وايي: (دزروپه قدر زرګر پوهيږي) ما يو وخت دخپل خدای بخښلي نيکه ميرزا کريم الله خان کتابونه لټول. دهغه ديوه قلمي اثر په څنډه کې مې دغه نظم تر سترګو شو:

((کتابی نوشتم به صد عجزو نیاز مبادا افتد به دست کسی که فروشد به نرخ پیاز))

درسمي پروژې پاڼې او ... یې هم دقیمتی آثارو او اسناد و ترڅنګ له ځان سره لاهو کړل. کله چې زمینه مساعده شوه او ددفتر خواته لاړم . هغه متل دی . وایي: (جای و او جولانه) چې پرته له ځو ما تو میزونو می نور څه ونه لیدل. لاسونه می په تشو کیښودل او له څه شیبې خواشینی حالت وروسته : بیرته د پښتو ټولنې له هغه انګړ څخه چې په کنډواله بدل شوی و . ووتلم . څه موده پریشانه او خفه ګرځیدم . وروسته دا جمله را یاده شوه چې: (مه مایوسیږه رسیږې!) بیا می سل زړونه سره یو کړل او تصمیم مې ونیو چې زه به په دې پروژه (که خدای کول) له سره کار پیل کوم. خو بیا به می داخبره ذهن ته ودریده چې بیایې راته ونه سوځوي: چیرې به یې ساتم !!!؟

په هر حال په دغه وخت کی زما لاربنود استاد محترم سرڅېړونکی زلمی هیواد مل هم په کابل کی دناکراریو او کور ورانوونکی جګړې دناوړه شرایطو تر اغیزې لاندې نور دشپو او ورځو تیرولو توان نه درلود نوځکه کوزې پښتونخوا ته ولیږدید .

ما چې له یوې خوا دخپلې علمی پروژې یو کاغذ هم په لاس کې نه درلود او له بلې خوا می لاربنود استاد هم تللی و. کور او دفتر می په سپیرو ډاګونو او کنډوالو بدل شوي وو. په دې تورتم کې می بیا په خدای توکل وکړ او دا جمله می

ځانته دتسلی ورکولو په خاطرورو ورو زمزمه کوله (تصمیم دبري لومړی شرط دی.) یا داچی: (خدای (ج) مهربان دی، ګوندې سوله راشی او...!)

په همدې توسن ددې په لټه کی شوم چی دخپلی پروژې یو فهرست ترلاسه کړم. وایی چی (جوینده یابنده است) له زیات هاند او هڅی وروسته می ددغی موضوع فهرست لاس ته راووست چی هغه می له محترم استاد څیړندوی بختانی خدمتګار سره په مشوره بیا ترتیب او څه لا زمی او ضروري زیاتونی مو هم په کی راوستی. څه سر به مو خوړوم. دپروژې دکار دمودې دتمدید او دبل لارښود استاد له ټاکلو وروسته می خپل کار پیل کړ.

نوموړي استاد برسیره پردې چی د پروژې دچارو په ښه سمبالښت کی یی وخت په وخت ګټوري مشورې راکړي او لا رښوونه یی راته کړې ده ، په خپل خپل وخت یی زما تر سره شوي کارونه په پوره حوصله کتلی چی په دې لړ کی یی زه دخپل کار دلاښه کیدو خواته څیر کړی یم.

استاد بختانی خدمتګار برسیره په لارښوونه دخپل ځانګړي کتابتون آثار هم ماته داستفادې له پاره راکړي دي. چی زه دهغه له دغی مرستی څخه ډیره ډیره مننه کوم.

همدا رنګه له محترم سرڅیړونکي زلمی هیواد مل څخه هم دزړه له کومی مننه کوم چی له ماسره یی ددغی

موضوع په طرح، ډیزاین او دانفرادی پلان په ترتیب او د
مآ خذوپه ښودلو کی پوره مرسته کړې ده .ټولو ته څرګنده ده
چی په اوسنی وخت کی اکثره علمی آثار چورچپاول یا
سوځیدلی او یا ترخاورو لاندې شوي دي او داستفادې وړ نه
دي. زه له همدې امله دخپل کار په بهیر کی خصوصاً دماء
خذو په میندلو او ترلاسه کولوکی له سختو ستونزو سره
مخامخ شوم.

ترکومه ځایه چی ماته معلومه ده په دغی زمانی مقطع
کی دافغانستان داسلامی دولت دعلومو اکاډیمی کتابتون به
په کابل کی یواځینی کتابتون وي، چی دمراجعینو پرمخ
خلاص دی او دکابل دعامی کتابخانی یواځینۍ ځانګه چی
مراجعین ترې څه ناڅه استفاده کولی شي هغه هم دمجلو او
جریدو ځانګه ده .

ما برسیره پردوو پورتنیو مراجعو چی له ټولو
کارکونکو څخه یی مننه کوم او خاصاً دعلومو داکاډیمی
دکتابتون له مشر سرڅیړونکی ډاکتر مددي نه زیاته مننه کوم
چی ما ته یی په سختو او ستونزمنو شرایطو کی له کتابتون
څخه دښی او ګټورې استفادې زمینه برابره کړې ده . همدا
رنګه په ترتیب سره له لا ندینیو محترمو پوهانو څخه زیاته
مننه څرګندوم او کوروداني ورته وایم چی دخپلو شخصي
کتابتونونو آثار یی ماته داستفادې له پاره راکړي دي او دهغو

په لټو لو کې یې په ځان ستونزې منلې دي. دلته به په ترتیب سره دهغومحترمو پوهانو نومونه ولیکم کومو چې دخپلو کتابتونونو آثار ماته داستفادې له پاره راکړي او خپلې مرستې یې نه دي سپمولې:

۱ـ سرڅېړونکی زلمی هیوادمل.

۲ـ څېړندوي عبدالله بختانی خدمتګار.

۳ـ اکاډیمیسن پوهاند عبدالشکور رشاد.

۴ـ دسرڅېړونکی مرستیال دکتور خلیل الله اورمړ.

۵ـ دسرڅېړونکی مرستیال عبدالواجد واجد.

۶ـ څېړونکی نصرالله زرمتی.

۷ـ سرڅېړونکی علی محمد منګل.

۸ـ دسرڅېړونکی مرستیال عبدالجبار نادر.

۹ـ دسرڅېړونکی مرستیال میراحمد ګوربز.

۱۰ـ دسرڅېړونکی مرستیال محمد یاسین رسول.

۱۱ـ انجنیر عبدالمتین، دطبیعی علومو دمرکز غړی.

۱۲ـ غلام صدیق شینګنك، دسرحدونو چارو دوزارت کارمند.

همدارنګه مې یو شمیر آثار له بازار څخه هم رانیولي اوبالاخره مې دغه نا څیز اثر ترتیب کړی چې ستاسو درانه خدمت ته یې وړاندې کوم، بنایي له ما څخه یو شمیر آثار

پاتی شوي وي. که څه هم ما زیاته هڅه وکړه چې ټول مربوط آثار دلته معرفي او وڅیړم خو بیا هم دځینو آثارو په ترلاسه کولو بریالی نه شوم، دبیلګې په ډول " روهي سندرې" ، " اولسي سندرې " دریم ټوك او داسې نور.

په پای کې له محترمو لوستونکو څخه زما هیله داده چې په عالمانه لارښوونو به ما خپلو تیروتنوته ملتفت کړي، څو ددوی په سلا مشوره ددغه اثر نیمګړ تیاوې سمې او دیوه سالم اثر په توګه دچاپ جامه واغوندي.

په درنښت

څیړونکی نصرالله " ناصر"

کابل - بی بی مهرو (رح) ۲۲ر۱۰ر۱۳۷۳

غر و نه به ولې نه غتېږي
چې پښتانه پکې پښتو چيغې وهينه

زېږی او مبارکي

په اوسنۍ نړۍ کې فولکلور څېړنه او فولکلور پوهنه د ځانګړي دريځ لرونکې، ډېره غوره علمي موضوع ده، دفولکلور څېړنې او فولکلور پوهنې بهير ته اوس ځکه په نړۍ کې ځانګړې پاملرنه شوې او کېږي چې له يوې خوا راتلونکی او نوی نسل بايد د بشري ژوند له دغو فرهنګي په خپله راشنو شويو (خود رويه) ګلونو سره آشناشي. له بلې خوا د فولکلور څېړنې او فولکلور پوهنې سره په هر اړ خېزه توګه د فولکلوري آثارو ايجاد او هستونې سره ډېره مرسته کولای شي. همدا وجه ده چې اوس په معاصرو علمی او ادبی څېړنو کې د فولکلور څېړنې او فولکلور پوهنې علمی کار او زيار په خاص جديت او هاند سره په نظر کې ساتل کېږي....

د پښتو ادب په کلاسيکه دوره کې د پښتو ژبې د پلار خوشحال خان ختيك په آثارو کې دغه غوره او درنه موضوع ښه راځلېدلې ده ... خو ديوې ځانګړې ځانګې په توګه

فولکلور څېړنه اوفولکلورپوهنه زموږدعلمي څېړنو او تحقیق په بهیر کې یوه نوې ، تانده، تازه او رنګینه موضوع ده .

موږ لا تر اوسه د خپلو فولکلور ي څېړنو او پوهنو پوره وړي یو . هر څومره چې په دغه برخه کې هڅې او هاندونه کیږي باید دهمدغه فرهنګی پور دادا لپاره یې نورهم بېړني او چټك کړو . ځکه چې وخت او زمانه په بدلون کې ده داسې وخت به راغلی وي چې بیا به موږ دخپلو دغو خود رویه صحرایي ګلا نو رنګین رنګونه او اصیل عطرونه او خوشبویي و نه وینو. لا سونه به پسې مږو او لاسوبه ترزنې ورته ناست یو.....

هو کې:

د ډېرګران او خواږه ورور د سر څېړونکي مرستیال نصرالله ناصر ددغه ډېر په زړه پورې څېړنېز او تحقیقي علمي اثر چا پیدل د همدغو یادو شویو هڅو په لړ کې یو ډېر د ځانګړې یادونې او بیخي زیاتې ستاینې وړ کار دی. چې د فولکلور څېړنې په برخه کې یې په زیاته ستونزه سر ته رسولی. خو حاصل. ایبره او خوږه میوه یې دعلم او ادب په ګلستان کې ډېره ارزښتمنه ده ، دا ځکه په دغه تحقیقي څېړنه کې زموږ ښه رسېدلي استاد او څېړونکي د سرڅېړونکی مرستیال نصرالله ناصر دفولکلور څېړنې او فولکلور پوهنې د پخوانیو او او سنیو څېړنو او تحقیق پوره

جاج په خوږه او روانه ادبي ژبه سره اخيستی دی او يوه ګلورينه علمي غوټۍ ده چې په ليدو يې زما سترګې روښانه او زړه مې پرې باغ باغ شو ځکه هغه کارونه چې تر اوسه پورې د فولکلور څېړنې په برخه کې ترسره شوي، په کره توګه يې په ارزښت او نوښت سره دلې څېړلي دي او زياته ستونزه يې ګاللې ده ....

زما په نيمګړې پوهه په پښتو فولکلور څېړنه کې دده دغه مغتنم خوږ څېړنيز اثر د فولکلور څېړنې د نوي بهير د پاره ډېره غوره څېړنه ده ، ځکه چې دراتلونکو څېړونکو ، پوهانو او محققينو سره دعلمي او څېړنيزو کارونو په سرته رسولو کې ډېره مرسته کوي، څېړونکي . ليکوال او پوهان کولای شي چې ددغه اثر په لوستلو سره ځانونه د فولکلور څېړنې او فولکلور پوهنې کارونو ته چمتو کړي او د تحقيقي څېړنو دپاره به يې له علمي ګټو څخه زياتې استفادې او لاس ته راوړنې په برخه شي. داځکه ګران ناصر په عمومي ډول دفولکلور څېړنې د بهير ټوله رنګيني او ارزښتونه دلی را ټول کړي دي....

زه درانه ورور نصرالله ناصر ته ددغه اثردچاپيدلو زياته مبارکي ورکوم ډير پرې خوشاله يم او زما دا هيلې او اميدونه هم را تازه او تاند شول چې زموږ راتلونکي فولکلور څېړونکي به په خپلو څېړنو کې ورڅخه پوره ګټه واخلي ځکه دا يو پوره اثر دی.

په مينه

سرمحقق علی محمد منګال

کابل- انصاري واټ ۲۵-۴-۱۳۸۴

PROPERTY OF ACKU
13618

باغ دګلو به سمسور وي موړ به نه یو
دبلبلو به پرې شور وي موړ به نه یو

سریزه

فولکلوریستان ددې له پاره چې له خپل مسلك څخه یې دفاع کړې وي، ډول ډول دلایل وړاندې کوي ، دبیلګې په ډول کله وایي: دلیکلو ادبیاتو اصلي منبع شفاهي ادبیات دي، که شفاهي ادب نه وای نو لیکلي ادب به وجود نه درلود. فولکلور دخلکو دژوندانه څرنګوالي منعکسوي . تر هغو چې د یوې ټولنې په کلتورونه پوهیږو دهغې په تاریخ په سمه توګه نه شو پوهیدلي او داسې نور....

ویکتور هوګو وایي: " په افسانه کې تاریخ دی او افسانه په تاریخ کې ده ." ماکسیم ګورکي بیا وایي: " دلفظي هنر پیل په فولکلور کې دی."

دا چې تاریخ له فولکلور څخه راوځي او که فولکلور دتاریخ یوه برخه ده په دې اړه له خبرو نه تیریږم ځکه چې دغه موضوع جلا څیړنه غواړي . خو په لنډ ډول باید ووایم چې

فولکلور له تاریخ سره او تاریخ له فولکلور سره اړیکی لري او ډیر ځله کولی شو چی تاریخی مسایل د فولکلور په مرسته وڅیړو او روښانه یی کړو. مونږ ددغسی مسایلو د حلولو له پاره د پښتنو ډیرې لنډۍ، چاربیتی او فولکلوري افسانی لرو، دساري په ډول ویلای شو چی په هیواد کی رامنځ ته شوې ډیرې تاریخی پیښی په کی منعکسی شوي دي. لکه دکابل دجنګ چاربیته او نور. یا دا لنډۍ:

که د خا لو لښکرې را غلی
زه به ګومل ته دخپل یار دیدن ته ځمه

په هر حال راځو خپلی اصلی موضوع یعنی پښتنی فولکلور ته، د پښتو دشفاهی ادبیاتو، که په عام ډول ووایو د پښتنو دکلتور او فولکلور لمنه زیاته ارته ده، سره له دې چی ددې فولکلور په باب په لره او بره پښتونخوا او همدارنګه دختیځ پوهانو له خوا په سلګونو مجموعی راټولی او خپرې شوي دي، او په همدې ډول په دې وروستیو پنځو سو کلونو کی دهیواد په موقوتو خپرونو کی د مقالو په بڼه دپښتنی فولکلور ډیر توکونه او مواد خپاره شوي، چی شمیرې زرګونو مقالو ته رسیږي. هغه دیو محقق خبره: " داولسي ادب له قصو که تیر شو د پښتو عام اولسی ادبیات اوس هم په سینو کی ساتل شوي دي او دومره زیات کار ورته نه دی

شوی، په تیره بیا په اولسی ادبیاتو کی علمی او نسبتاً سیستماتیکه څیړنه خو بیخی او سنی ده ." (۱)

له پورتنیو خبرو څخه زما موخه دانه ده چی د پښتنو فولکلور او کلتور ته چا کار نه دی کړی، ما مخکی هم وویل چی په دې ارتباط په زرګونو مقالی او په سل ګونو مجموعی خپرې شوي چی دغه کار په خپل ځای دیادونی او ستاینی وړ دی او لیکوالو ته یی باید کور ودانی وویل شی او قدریی وشی. خو له دې څخه هم سترګی نه شو پټولی چی زمونږ تیر کارونه زیاتره دفولکلور څیړنی دعنعنوي مېتود په رڼا کی ترسره شوي دي او حتی په دې وروستیو کلونو کی هم مونږ داسی فولکلوري مجموعی وینو چی دفولکلور څیړنی دمعاصر میتود څرك په کی نه لګیږي.

زمونږ اساسی دنده به دا وي چی هم پخوانی آثار کره کړو او نوې څیړنی وړباندې وکړو او هم خپلی اوسنۍ څیړنی او ټولونی د نوو میتودونو په رڼا کی ترسره کړو.

مونږ پخوانی کارونه له یوې مخی نه شو ردولی بلکی هغه په دې لاره کی له مونږ سره زیاته مرسته کولی شی خو په پوره احتیاط او دقت باید ورڅخه استفاده وشی.

---

۱ _ دوست محمد دوست، دپښتو داولسی ادب لارې، پښتو ټولنه ، دولتی مطبعه، ۱۳۵۶ ، ۱۵مخ.

دپښتنې فولکلور لویه او شتمنه خزانه چې ددې قوم د بزګرانو ، کسبګرو سپین ږیرو، ښځو او ماشومانو په وسیله سینه په سینه نقل او تر مونږ ه رارسیدلې ده ، مونږ ددې ارزښتمنې شتمنۍ په باب په ښکاره ډول ویلی شو چې ددې ژبې دشفاهي ادب او که په عام ډول وواېو فولکلور او کلتور (*) لمنه دومره ارته ده چې دنورو قومونو او ژبو دایې په زیري کې هم نه شي راتلای.

ددغو موادو او توکو راټولولو ته باید جدي پاملرنه وشي او دفولکلور دنوي څېړندود په رڼا کې راټول او دلزوم په وخت کې په دې اړه تحلیلي څېړنې هم ترسره شي. چې دا کار لاتراوسه د پښتنې فولکلور په باب تقریباً نوی دی.

دلته باید ددې خبرې یادونه وکړم چې نړۍ دنوو اکتشافاتو په لور روانه ده ،چې زمونږ هیواد هم ورڅخه ګوښه نه شي پاتې کیدای او حتمي ده ، چې زمونږ د ژوندانه شرایط به هم دمعاصرې نړۍ دپرمختګو نو په رڼا کې دزمانې په تیریدو سره یو لړ تغیرات که وغواړو یا ونه غواړو منې، مونږ یې همدا اوس هم ډیرې بیلګې دسر په سترګو وینو.

(*)ـ دفولکلور او کلتور کلمې مترادفې نه دي بلکې دکلتور ساحه ډیره وسیع او فولکلور یې جز ګڼلی شو خو دا چې زمونږ سروکار له داسې آثارو سره هم دی چې یوازې د فولکلور په محدود چوکاټ کې نه بلکې د کلتور په وسیع چوکاټ کې راتلای شي نو ځکه مې په ځینو ځایو کې داحتیاط له پاره دا دواړه کلمې څنګ په څنګ کارولې دي.

زمونږ ډیرو پخوانیو دود ونو خپل ځای نوو دودونو ته پریښی یایی بنه بدله شوې ده ، ډیرې عامی او خاصی سندرې چی تر اوسه نه دي ثبت شوي دوخت په تیریدو تر خاورو لاندې شوي، کیږي او مري. همدارنګه ډیرې فولکلوری کیسی چی دسپین ږیرو او سپین سرو زده دي؛ دهغو له مړینی سره سم مري او داسی نور....

په همدې توګه ددغو بدلونونو په لړ کی دواده ددودونو په باب ددې څو تیرو کلونو یادونه کولی شو یعنی له (۱۳۵۷) کاله را په دیخوا دزمانی دجبر او دژوند دناوړو شرایطو دموجودیت پر اساس ډیر تغیرات ترسترګو کیږي، چی دغه موضوع ځانله ځیړنه غواړي او زمونږ ځوان ځیړونکی باید دغه ټکی ته پاملرنه وکړي.

دلته دیوې بلی خبرې یادول هم ضروري دي او هغه دا چی په پخوا وختو کی زمونږ یو شمیر فولکلور یستانو دخپل شخصی ذوق له مخی د فولکلور ټولو لو ته توجه کړې او یا یی ددې له پاره چی دیوه اثر خاوندان شی.هرڅه چی وخو دا کار یی کړی دی او بیا وروسته ځینو علمی موسسو دغی خواته لږو ډیره پاملرنه کړې ، لکه پښتو ټولنې، دکلتور ددولتی کمیټی دخلکو دفرهنګ آمریت دافغانستان دعلومو اکاډیمی دژبو او ادبیاتو مرکز او ځینی نورې موسسی چی په راتلونکو مخونو کی دهغو په باب یادونی لرو.

په اوسنی وخت کی **ترټولو لومړی** دافغانستان دعلومو اکاډیمی دژبو او **ادبیاتو دمرکز** دفولکلور دڅانگی دنده ده چی دهیواد دفولکلوریستانو په مرسته زمونږ د فولکلور ټولولو ته ملا وتړي او په اساسی ډول یی راټول او خوندي کړي ، ځکه چی همدا اوس دساحوي څیړنی له پاره هم ترزیاتی اندازې زمینه برابره ده . باید له وخت څخه په گټی اخیستنی دغه کار ته اقدام وشی...

ما دمخه هم یادونه وکړه چی مونږ ډیرې فولکلوري مجموعی لرو خو دغه مجموعی له یوې خوا زیاتره په عنعنوي ډول راټولی شوي او له بلی خوا لا تر اوسه زمونږ دغنی او شتمن کلتور ډیرې مرغلرې تر ایرو او خاور و لاندې دي چی باید دغه دوړې ورڅخه وڅنډل شی او امیلونه ترې جوړ شی. هغه پښتو لنډۍ ده چی وایي:

ستا د ښا یست گلونه ډ یر د ي
ځولی می تنگه زه به کوم کوم ټولومه

زمونږ فولکلور او کلتور دومره شتمن دی چی اوس هم کولی شو په سلگونو نوې مجموعی ورڅخه راټولی او تدوین کړو. ما په دې نیت ددې اثر لیکلو ته ملا وتړله چی له یوې خوا زمونږ راټولی شوې چاپی مجموعی (البته دامکان ترحده) ټولنی ته وروپیژنم او راتلونکی څیړونکی په دې ارتباط لږ و ډیر معلومات ترلا سه کړای شی چی زمونږ

فولکلور ته په لره او بره پښتونخوا او دخيځ پوهانو له خوا ځومره کار شوی او کومی برخی يی تر اوسه راټولی شوي دي. او له بله پلوه ترهغی اندازې چی زما حقير فقير فکر کار کوي؛ ددغو مجموعو په څيړندو د او توکونو څه ناڅه خبرې وکړم. دادی دلوی خدای (ج) په مرسته می دغه ناچيز اثر وکيښ چی دهغه دڅرنګوالی په باب په لا ندنيو کرښو کی په لنډ ډول ځينی مطالب وړاندې کوم:

۱_ ميتود:

ددې اثر په ليکلو کی له مروجو علمي ميتودونو څخه کار اخيستل شوی چی زياتره برخی يی دتشريحی او انتقادي ميتود په رڼا کی ليکل شوې دي او داثر جوړښت په دې ډول دی:

دغه اثر سريزه ، پنځه څپرکی (فصلونه) ، نتيجه او دماخذونو فهرست لري. په لومړي څپرکی کې له دودسره سم هغه منابع او ماء خذونه په لنډه توګه معرفی شوي چی ددې اثر په ليکلوکې ورڅخه استفاده شوې ده . بايد ووايم چی په دې برخه کی زياتره هغه آثار معرفی شوي چی لومړی لاس او تيوريکی برخه يی درنه ده ځکه دپښتنی فولکلور ټولی شوې مجموعی خو په مکمل او مفصل ډول په پنځم څپرکی کی هم معرفی او ارزيابی شوي دي، چی دلته دټولو بيا راوړل موضوع ته تکراري بڼه ورکوي. نوځکه د ټولو له معرفی کولو څخه تير شوم.

په دوهم څپرکی کی د کلتور او فولکلور په باب خبرې شوي چی دفولکلور او کلتور په تعریفونو برسیره دفولکلور په لغوي او اصطلاحی مانا ګانو بحثونه شوي او دبیلا بیلو پوهانو نظریی هم ورسره ملې دي.

په دریم څپرکی کی دفولکلور ټولونی لا رې چارې تشریح شوي دي او دا په کی په ډاګه شوې چی فولکلور باید دکومو میتودونو په رڼا کی راټول او خوندي شی او څوك یی راټول کړي؟

دفولکلورټولوونکی ځانګړنی او همدارنګه دفولکلور ټولونې تکنیکونه پکی څیړل شوي او په دغی موضوع پوره رڼا اچوله شوې ده .

څلورم څپرکی د فولکلور ټولونی او څیړنی پس منظر ته وقف شوی او په دې باب یوه نسبتاً سیستماتیکه څیړنه تر سره شوې ده ، چی په عمومی ډول دافغانی فولکلور ټولولو په باب خبرې شوي او په خاص ډول دپښتنی فولکلور ټولونی کار ته زیاته پاملرنه او ښتی ده . دا چی په عمومی ډول ددغه فولکلور ټولول کله پیل شوي او دعلمی مقاصد و په منظور په اساسی توګه څه وخت ورته توجه شوې ، په دې برخه کی دافغانی پوهانو اوفولکلوریستانو اوعلمی- تحقیقی مؤسسو هڅی په ځانګړو سر لیکونو کی تر څیړنی لاندې نیول شوي او په ترتیب سره په دریو عنوانو کی په لاندې ډول موضوع طرحه شوې ده :

۱ـ ختیځ پوهان او پښتنی فولکلور.
۲ـ په افغانستان کی دپښتنی فولکلور ټولونی پیل.
۳ـ په لره پښتونخوا کی د پښتنی فولکلور ټولونی او څیړنی هڅی.
پورتنی سرلیکونه د موجودو آثارو په رڼا کی څیړل شوي دي.

په پنځم څپرکی کې دوه موضوع ګانی په عمده ډول په پام کی نیول شوي دي:

لومړی : تر اوسه چی مونږ د پښتنی فولکلور کومی مجموعی لرو او یا په عام ډول څه مواد چی په موقوتو او غیر موقوتو خپرونو کی خپاره شوي، دغه کار دکوم منل شوي روش په اساس شوی دی ؟ ایا سل په سلو کی داکار درست دی او که ځینی برخی یی له میتود سره برابرې دي؟ هلته دغه موضوع ترزیاتی اندازې روښانه شوې ده ، بحث ورباندې شوی او دمؤلف نظر څرګند شوی دی.

په دوهم سر لیك کی په لنډ ډول په دې موضوع خبرې شوي چی تر اوسه مونږ کومی چاپی مجموعی لرو؟ وروسی دغه چاپی مجموعی په ترتیب سره په درې عمده برخو کی معرفی او درسالی له اهدافو سره سم خبرې ورباندې شوي او په څیړندو دیی هم لازم بحث شوی دی.

ما لومړی غوښتل چی دهر صنف مجموعی په بیله برخه کی وښیم خو دڅیړنی په بهیر کی دا راته ثابته شوه چی

دغه کار له ستونزو ډك دی، ځکه هغه مستقلی مجموعی چی دفولکلور دیوه خاص صنف توکونه پکی راټول شوي وي، ډیرې لږ دي او زیاتره مجموعی مختلط مواد لري. نو له همدې امله می په دې اثر کی راغلی مجموعی په کرونو لوژیك ډول معرفی کړې.

دکومو اثارو چی دچاپ او لیکنو نیټه نه ده ځرگنده په خپله خپله برخه کی می دنورو آثارو په پای کی معرفی کړي دي.

دغه اثر چې څه ناڅه (۱۱۵) فولکلوري مجموعی په کی معرفی او څیړل شوي دي، دلیکلو په وخت کی یی دغه لاندنی ټکی هم په نظر کی نیول شوي دي:

۱_ په لمن لیکونو کی دماٰء خذونو پرله پسی نومرې دهر فصل یاهرې عمده برخی په ارتباط له (۱) څخه پیل او همداسی ترپایه دوام مومی.

۲_ ماخذونه دهر مخ په لمن لیك کی دمنل شوو معیارونو سره سم ښودل شوي دي او همدارنگه دکتاب په پای کی دببلیوگرافی په سیستم هم راغلی دي.

۳_هر اثر چی کتل شوی، په میتودیی خبرې شوي او که دبل اثر په مرسته معرفی شوی، په میتودیی بحث نه دی شوی.

۴_ ماهڅه کړې چی ټول آثار په خپله وگورم خو دمجبوریت له مخی می یوشمیر آثار د نورو آثارو په مرسته معرفی کړي دي.

۵_ دهرې مجموعی په باب چی غربیدلی یم هلته مې د (تریوه حده، ترزیاتی اندازې، څه ناڅه) کلمی کارولی دي او مطلق حکم می نه دی کړی.

ما په دې مجموعه کی ځکه یوازې ټولی شوې چاپی مجموعی انتخاب کړي دي او بس ځکه چی ، که په موقوتو نشراتو کی می‌ټولی خپرې شوې مقالې اودپښتني فولکلور بیلا بیل توکي هم په پام کی نیولي وای نو موضوع به دومره اوږده شوې وای ، چې ډیر کلونه وخت ورته په کارو، ځو دغه کار څنګه چې لازم و تر سره شوی وای له همدې امله مې یوازې په چاپي ټولو شوو مجموعو بسنه وکړه ځکه چې له یوې خوا په دومره لږ وخت کی ددې ټولو موادو څیړل اسانه کار نه و اوله بلې خوا داکار ددې رسالې له حوصلي څخه وتلی و، له خطي مجموعو څخه مې ځکه صرف نظر وکړ چې :

الف : په هیواد کي دننه زیاتره مجموعې له اشخاصو سره دي او په اوسني وخت کې دهغو تر لاسه کول څه اسانه کار نه دی.

ب ـ یو شمیر نورې مجموعی چی زمونږ دهیواد په کتابتونو کی خوندي وې زیات شمیریی له منځه تللی او که پاتی هم وي داکثره کتابخانو دراوزې ترلی دي، اوپه اوسنیو شرایطو کی په هېڅ ډول له هغو څخه داستفادې امکانات نه شته.

ج: هغه مجموعې چې زمونږ دهیواد په کتابتونو کې خوندي وې ، زیات شمېریې له منځه تللی او که پاتې هم وي، داکثره

کتابتونو دروازې ترلي دي. او په اوسنيو شرايطو کې په هيڅ ډول له هغو څخه داستفادې امکانات نشته .

د_ اساسی خبره داده چی کيدای شی په دغو مجموعو د هغو ټولوونکی، که ژوندي وي : بيا کتنه وکړي او يا بل چا ته دهغی دکره کولو او په ټولنه کی دهغی دبيا تطبيق په ارتباط دنده وسپارله شی او دغه مجموعی له لا زمو اصلاحاتو وروسته چاپ ته تياري شی.

دپورتنيو او داسی نورو ملحوظاتو د په پام کی نيول سره می يوازې په چاپی مجموعو اکتفا وکړه ، هغه متل دی چی وايی:

" مشت نمونه خروار" دلته زما هدف دادی چی له يوې خوا دغه مجموعی معرفی او ميتود يی وښيم او له بلی خوا ددغو مجموعو يو لنډ فهرست هم ولرو. چی اساسی برخه يی ميتودولوژي ده نوځکه کيدای شی چی زمونږ د تيرو کارونو په باب دهمدغو مجموعو په ښودلو سره څه ناڅه معلومات تر لاسه کړو.

له بلی خوا د يوشمير هغو منظومو مجموعو له معرفی څخه می هم په دې اثر کی صرف نظر وکړ چی دپيښور په قصه خوانی بازار او ځينو نوروځايونو کی چاپ شوي دي.

دا مجموعی می ځکه نه دي معرفی کړي چی دچاله خوانه دي راټولی شوي يا خپله شاعراو ويونکی چاپ کړي او يا

دکتابونو کوم تجار خپرې کړی دي. څرنګه چی زما سرو کار له ټولو شوو مجموعو او دهغو له میتود سره دی، نوځکه می دغه منظومی لکه دمومن خان او شیرینو ، شهزاده بهرام او ګل اندمی او داسی نورې چی منظومی کیسی دي او ویونکی یی هم معلوم دي- دلی معرفی نه کړې.

دموضوع مبرمیت او اهمیت

ددې موضوع په باب دڅیړنی مبرمیت او اهمیت په دې کی دی چی تر اوسه پورې په پښتو ژبه کی داسی یو مستقل اثر چی دپښتنی فولکلور ټولونی او څیړنی تیر کارونه په کی ارزیابی او یا دغه مجموعی په کی په بشپړه توګه معرفی شوي وي ، نه و موجود. که څه هم دپښتنی فولکلور څیړنې او ټولونی په باب په دې وروستیو وختو کی ځینی مستقل آثار او مقالی خپرې شوي چی له هغی جملی څخه دکاندید اکاډیمسن محمد صدیق روهی (فولکلور پیژندنه) نومی اثر او دفولکلور پوهنی سیمپوزیم دمقالو په مجموعه کی دیوشمېرپوهانو مقالی دبیلګی په ډول یادولی شو . خو دفولکلور دټولو شوو مجموعو دارزیابی او معرفی په باب کوم مستقل اثر زما له نظره نه دی تیر شوی، دغه آثار هم یوازې تیوریکی جنبه لري.

دموضوع ضرورت:

لکه چې څرګنده ده ، تر اوسه مونږ دپښتنی فولکلور دخپروشو وتوکونو او موادو په باب داسی کوم مستقل اثر نه لرو چې په هغه کی دې زمونږ تیر کار ونه په کرونو لوژیك ډول ښودل شوي وي او یا دې دهغو ارزیابی شوي وي.

په دې اثر کی که له یوې خوا په تیرو کارونو خبرې شوي او هغه ارزیابی شوي ښه او بد اړخونه یی روښانه شوي دي، پردې برسیره دغه اثر د پښتنی فولکلور څیړنی او ټولونی لنډه تاریخچه او همدارنګه دراتلونکو څیړونکو له پاره د فولکلور ټولونې او څیړنی دلارو چارو په باب هم مواد وړاندې کولی شی.

ددغه اثر په لیکلو سره به هغه تشه (خالیګاه) چی د پښتنی فولکلور دترسره شو وچارو (البته دچاپی مجموعو په برخه کی) دارزیابی، څرنګوالی او څو مره والی په باب موجوده وه؛ ډکه شی او هم به دا په ډاګه شی چی زمونږ فولکلوریستانو په کومو برخو کی زیات کار کړی دی او کومی برخی لا اوس هم دخلکو په سینو کی خوندي پاتی دي، چی په راتلونکی کی باید دهغو ټولولو او څیړلو ته ملا وې وتړو.

په پای کی باید په لنډ ډول ووایم چی:

- دغه اثر دکورنیو او بهرنیو څېړونکو له پاره داستفادې وړ مواد وړاندې کولی شي؛ په دې دلیل چې له یوې خوا د فولکلور دبیلا بیلو اصنافو په باب خپرې شوې مجموعې په کې معرفي او میتودیې ښودل شوي دي او حتی دموادو دټولولو سیمې هم په ګوته شوي دي.

- همدارنګه هغه کارونه چې په لره او بره پښتونخوا کې تر سره شوي او کومې چارې چې ختیځ پوهانو تر سره کړې ، ټولې په کې (دامکان ترحده) څېړل شوي دي.

- دا اثر په حقیقت کې هم دفولکلور ټولولو لارې چارې، هم دپښتنی فولکلورټولونی او څېړنې تاریخي پس منظر او دفولکلور ټولونی بیلا بیل روشونه تشریح کوي.

هیله ده چې زما دغه نیمګړې زیار به زمونږ دراتلونکی نسل او په خاص ډول دځوانو څېړونکو له پاره داستفادې وړ مواد وړاندې کړې شي.

که څه هم ما زیاته هڅه وکړه ، څو ټولې مجموعې چې په معرفي کولو ارزي، دلته معرفي کړم ، خو بیا هم متاء سفانه زه په دې بریالی نه شوم چې دپښتنی فولکلور ټولې راټولې شوې چاپې مجموعې دلې معرفي او وڅېړم ، بې له دې چې په دې باب بله خبره وکړم؛ علت یې په اوسنیو شرایطو کې دکتابخانو دنشتوالی او دعلمي او تحقیقي آثارو له

لومړی څپرکی

کمبود ځخه بل څه نه شی کیدای، چی دغه ستونزې له هیڅا ځخه پټی نه دی.

بیا هم ما ددې اثر دبیلا بیلو برخو په لیکلو کی خپلی هڅی نه دي سپمولی خو کمی او تیروتنی به خا مخا په کی وي چی محترم لوستونکی به دمرستی او پیرزوینی له مخی ما هغو ته متوجه کاندي. څو د دوی په عالمانه مشورو وکولی شم، په خپلو راتلونکو څیړنو کی دغه نواقص تریوې اندازې رفع او له منځه یوسم.

دمنابعو او ماء خذونو ارزیابی

په دې لنډه لیکنه کې به له خپل وس او توان سره سم دلاس ته راغلو آثارو او ماء خذونو له مخې په هغو تیرو کارونو او څیړنو چې دپښتنی فولکلور څیړنی او ټولونې په باب تر اوسه سرته رسیدلی څه ناڅه رڼا واچوم.

په دې څپرکي کې زیاتره هغو آثارو ته کتنه شوې ، چې د فولکلوري موادو ترڅنګ دفولکلور ټولونی او څیړنی په اړه هم لږ یا ډیر تیوریکی مواد لري، ځکه که دلته ټول هغه آثار چې ددې کتاب په بیلا بیلو برخو کې ورڅخه ګټه اخیستل شوې ترارزونې لا ندې ونیول شي: موضوع به زیاته اوږده او بنایی تکراري بڼه هم غوره کړي. نو ځکه د همدغو او داسې نورو دلا یلو له مخې یو شمیر مهم ماء خذونه دلته تر څیړنې لا ندې نیول شوي او دهغو آثارو له معرفی څخه دلته تیر شوم چې په هغو کې یوازې او یوازې بیلا بیل فولکلوري

اصناف را ټول او خوندي شوي دي مګر تيوريکه برخه يې کمه او يا په نشت حساب ده . ددې آثارو له معرفۍ او کتنې څخه دلته ځکه تېر شوم چې ددې رسالې په پنځم څپرکي کې په بشپړ ډول معرفي او ارزول شوي دي، چې شمېر يې له سلو څخه زيات دي.

دلته بايد ديوې بلې خبرې يادونه هم وشي. هغه دا چې ددغو آثارو په ښودلو کې کرونولوژيك سيستم کارول شوی دی. کوم آثار چې د چاپ دنيتې له مخې قدامت لري هغه دمخه راوړل شوي او کوم آثار چې وروسته خپاره شوي، هغه په ترتيب سره ترنورو وروسته معرفي شوي دي.

اوس به په لنډ ډول يو شمير هغه مهم ماء خذونه وڅېړو چې په دې ليکنه کې ورڅخه زياته استفاده شوې ده او هم دفولکلور څېړونکو له پاره دمطالعې وړ مواد وړاندې کولی شي.

۱ _ دکابل سلطنت بيان :

ددغه اثر مؤلف مونټ ستوارټ الفنستين دی چې په درې کلونو کې يې خپل نوټونه په پوني کې تنظيم او تصنيف کړل او دغه اثر يې وليکه. دا اثر لومړی وار په انګليسي ژبه په (۱۸۱۵ م) او وروستی ځل په (۱۸۱۸) کال کې په يوه ځانګړي جلد کې چاپ شوی دی.

دغه کتاب په دې وروستیو کلونو کی په پښتو ترجمه او په دوو ټوکونو کی چاپ شوی دی. ددې اثر لومړی ټوك د پوهنوال ډاکتر محمد حسن کاکړ او پوهنیار نصرالله سوبمن له خوا په پښتو ژباړل شوی او (۳۳۴+ ۱۰) مخه د پښتو څیړنو دبین المللی مرکز له خوا په ۱۳۵۹ کال په ګوندي مطبعه کی له چاپه راوتلی دی.

ددې اثر دوهم ټوك د پوهنوال محمد حسن کاکړ له خوا ژباړل شوی چی په (۱۳۶۱) کال په همدغی مطبعه کی دیاد شوي مرکز له خوا چاپ او خپور شوی دی.

" دکابل سلطنت بیان" نومی اثر دواړه ټوکه په عام ډول دافغانستان تاریخی ، کلتوري او جغرافیایی حالا ت بیانوي ،خو په ځانګړي ډول د پښتنو دبیلا بیلو قومونو درسومو او عاداتو او په مجموع کی دپښتنی کلتور په اړه زښت ډیر مواد لري. لکه چی ښاغلی کاکړ دخپلی سریزي په یوه برخه کی لیکلی دي: " دالفنسټن دکتاب یو بل خصوصیت جامعیت دی. په دغه اثر کی هم حکومتی تشکیلات شرح شوي او هم دټولنې ډلی لکه درباري اشراف او سردارن ، خانان ، ځمکوال، دهقانان زراعتی بزګران ، اجوره کاران، شپانه ، ښځی ، کسبګر ددوی له سلو کونو ، لوبو،کورونو ، ژبو ، ثقافتونو او تاریخ سره بیان شوي دي. دافغانستان اولسونه په قومی لحاظ هم شرحه شوي دي...

دالفنستن کتاب لومړی اثر دی چی افغانستان یی لویدیځی نړی ته ورپیژندلی دی."

۲_ بنو یا زمونږ افغانی سرحد:

BANNU OR OUR AFGHAN FRONTIER

دغه اثر په ۱۸۷۸ ع کال کی چاپ او خپور شوی دی. ټول اثر (۴۷۰) مخه دی چی دایس ایس تهاربرن له خوا د نولسمی پیړی په وروستی ځلورمه کی راټول شوی دی. چی لومړی برخه یی شپږ فصلونه لري او ددوهمی برخی لومړی فصل ټولنیز ژوند، ملی کیسو او معما ګانو ته وقف شوی دی. په دریم فصل کی د پښتو متلونوانګریزي ترجمه راغلی چی ددغو متلونو شمیر (۱۲۳۲) ته رسیږي.

په ځلورم فصل کی ددغو متلونو پښتو متن راغلی دی،متلونه دموضوع په لحاظ سره بیل شوي لکه رسمونه، رواجونه، معاشیات، قومی صفتونه او نور.

ددې اثر په لومړی برخه کی دافغانستان جغرافیایی جوړښت او نور ورته حالا ت تشریح شوي دي او په نورو برخو کی دافغانی فولکلور پر مواد و بر سیره ځینی تشریحات هم لري.

۳_ دپښتونخوا دشعر ها روبهار:

دختیځ پوهانو په ډله کی جیمزډ ار مسټیر لومړی پوه دی چی زمونږ داولسی ادب داولسی سندرو ځینی خورې ورې

مرغلرې یی راټولی کړي او له ورکیدو څخه یی ژغورلی دي.
دغه فرانسوي پوه د پښتونخوا سیمی ته راغلی او له دې سیمی څخه یی برسیره په اولسي سندرو (عامو او خاصو سندرو) یو شمیر چیستانونه او پښتو متلونه هم راټول او په خپل اثر "د پښتونخوا دشعر هار و بهار" کی یی خوندي کړي دي.

دډارمستېټر دغه اثرلومړی ځل په (۱۸۸۸ ع) کال په پاریس کی او دوهم ځل په (۱۹۷۴ع) کال په جرمنی کی او دریم ځل په (۱۳۵۶ ش) کال په کابل کی د پښتو ټولنی له خوا چاپ او خپور شوی دی.

دکابل په چاپ کی چی پښتو متن یی د توضیحاتو او نوملیکونو په ملتیا چاپ شوی. د ډارمستېټر سریزه هم ورسره مله ده .په دې اثر کی دبیلابیلو اولسی شاعرانو سندرې ، پښتو لنډۍ او نور دې ته ورته مواد خوندي شوي دي، چی په دې اثر کی ورڅخه لازمه استفاده شوې ده .

۴_ رهنمای فولکلور:

دهغی وړوکی رسالی نوم دی چی دمرحوم سرور ګویا له خوا کښل شوې او دکابل دادبی انجمن له خوا چاپ او خپره شوې ده . دغه رساله په افغانستان کی دفولکلور ټولونی او څیړنی په برخه کی لومړنی اثر ګڼل شوی، چی پکی د فولکلور

دتصنیف ، تعریف او دې ته ورته موضوعګانو په باب بحث شوی دی.

په دې رساله کی دهغه وخت له شرایطو سره سم دفولکلور ساحه ټاکل شوې او دفولکلور ټولونی د لارو و چارو او د فولکلور دویش په باب معلومات په کی راټول شوي . دا خبره هم دیادولو وړ ده چی اوس دمعاصرو میتودونو په وړاندې ددغی رسالی زیاته برخه دمنلو وړ نه ده . او په رد کی یی ډیر څه لیکل کیدای شی ؛ چی دغه کار دیوې جلا څیړنی ایجاب کوي.

په همدغه وخت کی دکابل مجلی دشپږم کال په (۶۳) ګڼه کی د (مردم شناسی) ترعنوان لاندې دمرحوم محمد قدیر تره کی یوه مقاله خپره شوه چی دفولکلوري مواد و دتصنیف په ارتباط یې مینه والو ته دڅیړنی زمینه برابره کړه.

دمرحوم سرورګویا د (رهنمای فولکلور) رساله دښاغلی حبیب الله رفیع له خوا په پښتو ترجمه او دخلکو سندرې نومی اثر کی چی دتاریخ او ادب ټولنی له خوا په (۱۳۴۹) کال کی چاپ شوی، هم راغلی ده .همدارنګه دغه رساله دفرهنګ مردم مجلې په خپله د (۱۳۶۰) کال دحمل او ثور په ګڼه کی په دري ژبه چاپ کړې ده .

13618

۵_ پښتو متلونه :

دغه اثر چې (۱۱۷) مخه دی، دمرحوم محمد قدیر تره کی او مرحوم امین الله زمریالی دګډې هڅې په نتیجه کی د پښتو ټولنی له خوا دکابل په عمومی مطبعه کی په (۱۳۱۸ ش) کال له چاپه راوتلی دی. په دې اثر کی د پښتو یو شمیر متلونه دالفبی په ترتیب راغلی چې دري ترجمه هم لري او داستعمال موارد یی هم په ګوته شوي دي.

دغه اثر چې په پیل کی یوه لنډه معلوماتی سریزه هم لري، زما په نظر په بره پښتونخوا کی د پښتو متلونو لومړنی چاپی مجموعه ده او ښایی چې په لره پښتونخوا کی به هم له دې څخه مخکی دمتلونو کومه مجموعه نه وي خپره شوی او زه دخپلی څیړنې په بهیر کی هم له داسی کومی مجموعی سره نه یم مخامخ شوی. خو ددې اثر یو عمده نقص دادی چې منابع په کی نه دي ښودل شوي.

۶_ پښتنی سندرې (لومړی برخه):

دغه اثرپه (۱۳۳۴ش) کال دکابل په عمومی مطبعه کی دپښتو ټولنی له خوا په (۳۹۸) مخونو کی چاپ اوخپور شوی دی، چې مهتمم یی محمد دین ژواک او دیوې ډلی پوهانو دګډ زیار په نتیجه کی ترتیب او تدوین شوی دی.

په دې اثر کې پښتو لنډۍ، داتڼ نارې، کاکړۍ غاړې او دشين خالو نارې خوندي شوي دي، چې ددغو هر ډول سندرو په پيل کې لنډې لنډې تبصرې او دسندرو په باب معلومات وړاندې شوي او بيا سندرې پيل شويدي.

۷_ پښتنې سندرې (دوهمه برخه):

دپښتنې سندرې نومي اثر دغه برخه په (۱۳۳۵ش) کال دپښتو ټولنې له خوا چاپ او خپره شوې ده . چې مهتمم يې محمد حسن ضمير صافي دی. په دې برخه کې د پښتو خاصې سندرې لکه: چاربيتې، رباعی، بګتۍ، قصې، داستانونه ، نيمکۍ او سرونه راغلي دي چې ددغو سندرو په پيل کې تبصرې هم لري يعنی لومړی ددغو سندرو هر صنف لنډ معرفي او بيايې نمونې وړاندې شوي دي.

۸_ سرودکهسار(پښتو ټپې اوران اردو ترجمه):

دغه اثر چې ټولوونکی او او اردو مترجم يې محمد يونس سيټهي وفا دی، په (۱۹۶۳ع) کال دپيښور په حميديه پريس کې له چاپه راوتلی دی. په دې اثر کې دپښتو لنډۍ دموضوع ګانو په حساب سره راټولې او په اردو ژبه ترجمه شوي دي. دکتاب په پيل کې دتعارف تر سر ليك لاندې د قدرت شهاب ليکنه او ورپسې دژباړونکی سريزه راغلې ده. په دې اثر کې برسيره پردې چې يو شمير پښتو لنډۍ هم په

اردو ترجمه شوي. دټپې (لنډۍ) په باب هم څه نا څه معلومات په کې راغلي او ليکوال په دې اړه تبصرې کړې دي.

۹_ کاکړۍ غاړې:

ددې اثر ليکوال صاحبزاده حميد الله دپښين د ی چې په (۱۹۶۷ع) کال ديونيورسټي بك ايجنسي پيښور له خوا چاپ او خپور شوی دی. په دې اثرکې د ډول ډول موضوعاتو په باب کاکړۍ غاړې راټولې شوي او همدارنګه دغاړو په ډولونو هم دليکوال له خوا تبصرې شوي دي.

۱۰_ سپېڅلي ګايونه (پښتو متلونه):

ددې اثر ټولوونکی ولي‌محمد خان سيال کاکړ دی چې په (۱۹۶۹ع) کال دکوټې په اسلا ميه پريس کې چاپ او خپور شوی دی. په دې اثر کې دپښتو (۱۰۲۳) متله راټول او خوندي شوی دی. درسالې په پيل کې دمتلونو په باب دليکوال له خوا يو څېړنيز بحث هم راغلی دی.

۱۱_ پښتني افکار:

دغه اثر په (۱۹۶۹ع) کال (۸۰) مخه دکوټې په اسلا ميه پريس کې له چاپه راوتلی دی. دغه رساله چې ليکوال يې ولي محمد خان سيال کاکړ دی د پښتو کيسيو يوه مجموعه ده ، چې پښتو کيسې په کې درديف په حساب ترتيب اوحل شوي

دي. درسالې لومړي (۵۲) مخه دکیسیو په باب معلوماتو او دپوهانو نظر یو ته وقف شوي دي.

۱۲_ چغیان (انګی):

ددغه اثر ټولوونکی ولی محمد خان سیال کاکړ دی، چې په (۱۹۷۰ع) کال (۴۸) مخه دکوټې په اسلا میه پریس کې له چاپه راوتلی دی. درسالې په لومړۍ برخه کې چې (۲۸) مخه ده ، دفولکلور او خاصتاً دانګیو په باب څیړنه او تبصرې راغلې او وروسته په (۲۰) مخونو کې انګۍ خوندي شوي دي، چې له دواړو برخو نه یې څه ناڅه استفاده شوې ده.

۱۳_ دخلکو سندرې:

ددې اثر لیکوال حبیب الله رفیع دی، چې دپښتنی فولکلور دخاصو او عاموسندرو ډولونه پکې راټول شوي دي. همدارنګه په دې اثر کې چې په (۱۳۴۹ ش) کال دتاریخ او ادب ټولنې له خوا په دولتي مطبعه کې له چاپه راوتلی ، دفولکلور دتعریف ، ټولونې ، څیړنې او دافغانی فولکلور په تاریخي پس منظر لنډ ې خبرې شوي او همدا رنګه دمرحوم سرور ګویا د " رهنمای فولکلور" پښتو ترجمه هم پکې راغلې ده . په دې اثر کې دپښتنی فولکلور ټولونې په اړه کوم انتقادي نظر نشته.

۱۴ـ دهوتکو ناري:

داهم دښاغلی حبیب الله رفیع اثر دی چی په (۱۳۴۹) کال له چاپه راوتلی دی. په دې رساله کی برسېره پردې چی دهوتکو یو شمیر ناري په کی راټولی شوي، ددغو سندرو په باب یی دلنډ و تاریخی معلوماتو په څنګ کی دسندرو خصوصیات هم په ګوته کړي دي.

۱۵ـ پښتنی فولکلور:

ددې اثر لیکوال او خپروونکی ولی محمد خان سیال کاکړ دی چی په (۱۹۷۱ع) کال (۷۸) مخه دکوټې په اسلامیه پریس کی له چاپه راوتلی دی. ددې اثر په دوهمه برخه کی یو شمیر اولسی سندرې خوندي شوي او لومړۍ برخه یی تیوریکه ده چی دفولکلور دکلمی او دفولکلور دتاریخچی په باب دمطالعی وړ مواد او معلومات په کی ترلا سه کیدای شی. چی ما له دغه اثر څخه په خپله لیکنه کی استفاده هم کړې ده .

۱۶ـروهی متلونه (لومړی ټوک)

دغه اثر چی دترتیب او تدوین چارې یی دمحمد نواز طائر له خوا تر سره شوي. دپښتو اکیډیمی پیښور یونیورسټی له خوا دپیښور په حمیدیه پریس کی له چاپه راوتلی ، اصل متن یی (۲۷۸) مخه، دسیدخیال بخاري

لیکنه (۷) مخه او دمحمد نواز طائر سریزه چی د (روهی متلونه) ترسرلیك لاندې لیکل شوې (۱۶) مخه ده . په دې اثر کی د (۵۰۰۰) په شاوخوا کی پښتو متلونه راټول شوي دي. چی په پیل کی دمتل په باب دبیلا بیلو پوهانو نظریی ، دپښتو متلونو دخپریدو او راټولولو پرسابقه خبرې او داسی نور معلوماتی مواد هم لري.

دغه اثر په جلا پوښ کی د (روهی متلونه معه اردو ترجمه) په نامه هم خپور شوی چی په لومړي مخ کی پښتو متلونه او په مخامخ ، مخ کی دهغو اردو ترجمه راغلی ده .

۱۷_ پښتو پانګه (لومړی ټوك)

ددې اثر مؤ لف حبیب الله رفیع دی. چی په (۱۳۵۴) کال دپښتو ټولنی له خوا په دولتی مطبعه کی چاپ اوخپور شوی دی. په دې اثر کی دالفبی په ترتیب دپښتو (۵۰۰) چاپی آثار په لنډه توګه معرفی شوي دي. برسیره پر نورو آثارو یو زیات شمیر فولکلوري آثار هم په کی معرفی شوي چی دفولکلور دمینه والو له پاره دیوې معلوماتی منبع حیثیت لري.

ما هغه شمیر آثار له دې کتاب څخه په استفاده معرفی کړي چی له ډیر لټون او پوښتنو وروسته یی له پیدا کولو یا ترلاسه کولو څخه نا امیده شوی یم نو لا علاجه می دا کار کړی دی.

له دې اثر څخه په استفاده مې مجموعاً (۹) آثار په خپله پروژه کې معرفي کړي دي.

۱۸_ فولکلوري ګيډۍ:

دغه اثر چې ليکوال يې علي محمد منګل دی په (۱۳۵۵) کال دپښتو ټولنې له خوا په دولتي مطبعه کې چاپ او خپور شوی دی. ددې اثر په لومړي څپرکي کې کرکې، کرښې او انګيرنې، په دوهم څپرکي کې دودونه او په دريم څپرکي، کې يې کيسې راغلي دي.

ددغه اثر په پيل کې يوه مفصله سريزه راغلې چې دفولکلور او فولکلور ټولونې په باب په کې يو څه معلومات وړاندې شوي دي. خو په تاء سف سره بايد ووايم چې په خپله ليکوال په دې اثر کې يادې شوې لارې چارې په پوره ډول په پام کې نه دي نيولې.

۱۹_ پښتوپانګه(دوهم ټوك)

دغه اثر چې مؤ لف يې حبيب الله رفيع دی او په (۱۳۵۶) کال دپښتو ټولنې له خوا په دولتي مطبعه کې له چاپه راوتلې دی، مونږ ته د پښتو ژبې (۸۲۸) چاپي مجموعې راپيژني چې په دې جمله کې يو شمير فولکلوري آثار هم شامل دي. ددې اثر په مرسته مې هم ځينې آثار په خپله رساله کې معرفي کړي دي، چې په خپل خپل ځای مې

ددغه ماء خذيادونه پکی کړې ده . ددې اثر په مرسته دمعرفی شوو مجموعو شمیر(۳) ته رسیږي.

۲۰_دپښتو داولسي ادب لارې:

ددغه اثر لیکوال اروانښاد سرمحقق دوست شینواری دی چی په (۱۳۵۶) کال دپښتو ټولنی له خوا په دولتی مطبعه کی چاپ او خپور شوی دی. دغه اثر په خپله نوعه کی دخپل وخت لومړنی جامع چاپی اثر دی چی دپښتنی فولکلور دڅیړنی د (تیوریکی اړخ) په باب په کی هراړخیزې څیړنې شوي دي او ددغه فولکلور بیلا بیل فورمونه لکه اولسی سندرې، متلونه او نور په کی څیړل شوي او دڅیړونکو او مطالعینو له پاره وړ مواد په کی ترلاسه کیدای شی.

برسیره په دې چی لیکوال دفولکلور د بیلابیلو اصنافو په باب خبرې کړي دپښتنی فولکلور په سابقه او لرغونتوب یی هم پوره رڼا اچولی ده .

۲۱_فولکلوري مرغلرې:

ددې رسالی ټولوونکی عبدالکریم پتنګ دی چی په (۱۳۵۶) کال کی د پښتو ټولنی له خوا خپره شوې ده . په رساله کی کرکی ، کړنی او ټوکی ټکالی راټولی او خپرې شوې دي. ددې رسالی په پیل کی دمحترم زلمی هیواد مل له خوا یوه سر یزه لیکل شوې چی دپورتنیو موادو په باب په کی

هر اړخیزمعلومات وړاندې شوي او ددغو موادو دراټولولو پرضرورت یې هم رڼا اچولې‌ده.

۲۲_ دلی‌اوشهی:

دغه اثر دصدرخان خټك له خوا نظم شوی چې په (؟) کال دپېښور یونیورسټی پښتو اکیډیمی له خوا چاپ شوی دی. د دې منظوم اثر په پیل کې دمولانا عبدالقادر یادونه او دخیال بخاري سریزه راغلې ده . چې دفولکلوري کیسو په باب پکې ښه څېړنه شوې او دکتنی وړ مواد پکې ترلا سه کیدای شی.

۲۳_ فولکلوري سوغات(داتڼ نارې)

ددې اثر ټولوونکی ولی محمد خان سیال کاکړ دی چې په (۱۹۷۸ع) کال کې دکوټې په زمانه پرینټنګ پریس کې چاپ شوی او دمخونو شمیر یې (۱۱۲) ته رسیږي. په دې اثرکې برسیره پردې چې داتڼ نارې راټولې او خوندي شوي ددغو نارو دمرکزونو او تاریخی پس منظر په باب هم پکې خبرې شوي دي.

۲۴_ دخلکو تجربی:

دغه مجموعه ښاغلی عبدالکریم پتنګ راټوله کړې چې په (۱۳۵۶) کال دکابل پوهنتون دادبیاتو او بشری علومو د پوهنځی له خوا د پوهنتون په مطبعه کی چاپ او

خپره شوې ده . په دې اثر کې دکليوالي دارو درملو او اولسي تجربو په باب مواد راټول شوي او دښاغلي هيوادمل له خوا پرې يوه (۳۸) مخيزه سريزه ليکل شوې چې دخلکو دتجربو په باب عمومي معلومات پکې راغلي او تاريخي پس منظر يې روښانه شوی دی.

۲۵ـ دغرونو څوکې:

دا اثرپه (۱۳۵۹) کال دکابل پوهنتون دژبو او ادبياتو دپوهنځی له خوا دميافقيرالله جلال آبادي دمړينې د دوه سوم تلين په مناسبت دلوړو او مسلکي تحصيلاتو په مطبعه کې له چاپه راوتلی دی. په دې رساله کې برسيره پردې چې يو شمير فولکلوري سندرې خوندي شوي په پيل کې يې دښاغلي ډاکتر زيار او ښاغلي هيوادمل څرګندونې هم ورسره ملې دي. دښاغلي هيوادمل ليکنه(۶۱) مخه ده ، چې په رساله کې دراغلو سندرو په باب يوه مفصله څيړنه وړاندې کوي.

۲۶ـ فولکلوري ګلونه :

ددې اثر ليکوال ښاغلي علي محمد منګل دی.چې په (۱۳۶۰) کال دافغانستان دعلومو اکاډيمی دژبو او ادبياتو دمرکز له خوا په (۲۶۰) مخونو کې له چاپه راوتلی دی. دااثر برسيره پردې چې په خپلو پاڼو کې د پښتنې فولکلور بيلابيلې برخې خوندي کوي، دفولکلور د تعريف، ساحه او دفولکلور ټولونې دلا روچارو په باب هم يوه څيړنه لري.

۲۷ـ زرینی ځانګی:

دغه اثر لیکوال ښاغلی حبیب الله رفیع دی چی په (۱۳۶۰) کال دافغانستان دعلومو اکاډیمی دژبو او ادبیاتو مرکز دزېري جریدې له خوا په دولتی مطبعه کی له چاپه راوتلی دی.

ددې اثر په یوه برخه کی برسیره پر دې چی د پښتنی فولکلور ښکلی مرغلرې خوندي شوي، ددغو ارزښتناکو مرغلرو (سندرو) په باب تحقیقی مطالب هم په ځنګ کی لري چی دفولکلوریستانو دمطالعی وړ مواد په کی تر لاسه کیدای شی.

۲۸ـ غرنۍ سندرې:

دغه اثرنوم دی چی لیکوال یی ښاغلی محمد عارف غروال دی او په (۱۳۶۰) کال د پښتو ټولنې له خوا په دولتی مطبعه کی له چاپه راوتلی دی. په دې اثر کی دپکتیا دهسکو غرونو یو شمیر اولسی سندرې راټولی او خوندي شوي. داثر په لومړۍ برخه کی دښاغلی هیوادمل او ښاغلی حبیب الله رفیع له خوا ددغو سندرو دسابقی او ټولولو دلا رو چارو او ضرورت په باب مفصلی څیړنی وړاندې شوې دي.

۲۹_دپښتو ځانتني ادب او موسيقي:

دغه اثر په (۱۳۶۰) کال دافغانستان دعلومو اکاډيمی دژبو او ادبياتو دمرکز له خوا دښوونی او روزنی په مطبعه کی له چاپ راوتلی. چی لومړی برخه يې دزلمی هيوادمل سريزه او توضيحات دي او وروستۍ برخه يی دمرحوم غلام جيلا نی جلالی تاء ليف دی چی دپښتو سندرو او د هغو ارتباط له موسيقی سره او ددغو سندرو د ډولونو په باب يی په کی خبرې کړي او نمونی يې ورسره ملی دي.

ددې اثر مدون او سريز وال ښاغلی هيواد مل دی چی په خپله سريزه کی يی دپښتو ادب او فولکلور په تاريخی پس منظر رڼا اچولی او يوه په زړه پورې څيړنه يی کړې ده او هم يی داستاد غلام جيلانی جلالی درسالی ځينو برخه ته په انتقادي نظر کتلی دي.

۳۰_ دغلام محی الدين افغان افكاراو آثار:

ددغه اثر مدون او سريزه ليكونكی ښاغلی زلمی هيوادمل دی، چی په (۱۳۶۰) كال دغلام محی الدين افغان دشپيتم تلين په مناسبت دكابل پوهنتون دژبو او ادبياتو دپوهنځی له خوا چاپ او خپور شوی دی.

ددغه اثر لومړی برخه دپوهاند زيار ليكنه ده ، سريزه او نور تشريحات يی په ښاغلی هيوادمل پورې اړه لري او دمتلونو برخه دمرحوم افغان ده. ددغه اثر په بيلا بيل برخو

کی دفولکلور څیړنی په اړوند (خاصتاً دمتلونو په باب) دیادونی وړ مواد ترلاسه کیدای شی.

۳۱_ اولسی سندرې(لومړی ټوك)

ددې اثر ټولوونکی او لیکوال محترم زلمی هیوادمل دی چی په (۱۳۶۱) کال کی دپښتو ټولنی له خوا په ګوندي مطبعه کی له چاپه راوتلی دی. په دې اثر کی د (۱۴۰) تنو اولسی شاعرانو (۲۲۰) سندرې راټولی او خوندي شوي دي. په پیل کی له نظریاتو وروسته دښاغلی رفیع لیکنه او ورپسی دښاغلی هیوادمل سریزه راغلی‌ده . په دې سریزه کی داولسی سندرو په لرغونتوب خصوصیاتو، شکل او مضمون له موسیقی سره ددغو سندرو په ارتباط، دپښتو اولسی سندرې او نقادان، ایا دغه سندرې فولکلوري دي که یه ؟ اولسی شاعران (چی په مجموعه کی دراغلو پاړکو شاعران په کی معرفی شوي) ، داولسی سندرو د ټولنګ هڅی (په دې برخه کی تیر کارونه تر څیړنی لاندې نیول شوي او دقلمی او چاپی مجموعو په باب هم خبرې شوي دي) سرلیکونه تر څیړنی لاندې نیول شوي اوپه دې اړه یوه سیستماتیکه څیړنه وړاندې شوې ده . داثر دمیتود په باب په پنځم څپرکی کی خبرې شوي دي.

۳۲_ لنډۍ:

دغه اثر د یوې مشترکې پروژې په بڼه ترتیب، تدوین او په (۱۳۶۴) کال دافغانستان دعلومو اکادمی دژبواو ادبیاتو دمرکز له خوا په دولتی مطبعه کی له چاپه راوتلی دی. په دې اثر کی برسیره پر دې چی څه لپاسه (۱۱) زره پښتو لنډۍ راټولی او خوندي شوي؛ په پیل کی دسلیمان لایق یوه (۶۰) مخیزه تحلیلی څیړنه هم ورسره مله ده چی په لنډۍ یو کی دتغیراو بدلون پروسه پکی څیړل شوې ده .

۳۳_ دادب او فولکلور په باره کی:

دغه وړه رساله په (۱۳۶۵) کال په دولتی مطبعه کې له چاپه راوتلی چې مؤلف یې سرمحقق محمد صدیق روهی دی. په دې اثر کی دمحترم روهی یو شمیر هغه مقالی راټولی شوي، چی دهیواد په مطبوعاتو کی په متفرق ډول خپرې شوې وې. ددې مقالو له جملی څخه یو څومقالی دفولکلوري څیړنو په باب دي.

۳۴_پښتنی فولکلور:

دغه اثر په (۱۳۶۵) کال دافغانستان دعلومو اکاډیمی دژبو او ادبیاتو دمرکز له خوا په دولتی مطبعه کی له چاپه راوتلی دی چی څلور برخی لري، درې برخی یې فولکلوري مواد (لکه فولکلوري طب ،کرکی او کړنی او

اولسی لوبې) دي چې دموضوع په اړه لږ و ډیر معلومات هم وړاندې شوي دي.
داثر لومړۍ برخه چې مؤلف یې غلام مصطفی نږدې دی، دکلتور او فولکلور، همدا رنګه دفولکلور دتعریف، دفولکلور ټولونی دروشونو په باب تحقیقی مطالب لري.

۳۵_ فرهنګ مردم (مجله):

ددغې مجلې د (۱۳۶۴) کال په (۳-۴) ګڼه کې دفولکلورټولونی او څیړنی په باب دکلتور ددولتی کمیټې په نړیوال سیمینار کې لوستل شوې مقالی خپرې شوي. چې هیواد نیو او بهرنیو پوهانو لیکلی دي.
په دغو مقالو کی په عام ډول دفولکلور او په خاص ډول د پښتو فولکلور ټولونی او څیړنی په باب هم یو څه مواد ترلاسه کیدای شی.

۳۶_ رباعیات خلق تاجیک:

دهغه اثر نوم دی چې په (۱۹۸۳ع) کال په تاجکستان کی چاپ او خپور شوی دی. په دې اثر باندې رجب امانوف یوه سریزه لیکلی چې دفولکلور ټولونی څینی تکنیکونه په کی تشریح شوي دي.

۳۷_فولکلور پیژندنه :

دهغه جامع او ګټور اثر نوم دی چی په (۱۳۶۵) کال دافغانستان دعلومو اکاډیمی دژبو او ادبیاتو دمرکز له خوا په دولتی مطبعه کی له چاپه راوتلی دی. دغه اثر چی(۱۸۲) مخه دی، لیکوال یی سرمحقق محمدصدیق روهی دی، چی په شپږو فصلونو کی یې کښلی دی:

لومړی څپرکی: فولکلور پیژندنه ، دوهم څپرکی : دفولکلور پیژندنی پس منظر، دریم څپرکی :دفولکلور څیړنی نظریی. څلورم څپرکی: فولکلوري مقولی ، پنځم څپرکی : دفولکلور څیړنی میتود ، شپږم څپرکی: پښتنی فولکلور.

دا خو غټ عنوانونه وو. دغه هر عنوان په څو برخو کی څیړل شوی چی دټولو راوړل موضوع اوړدوي. په دې اثر کې (چی تردې وخته دفولکلور څیړنی او ټولونی په باب په بره او لره پښتونخوا کی دغسی یو جامع اثر چانه ولیکلی) دفولکلوریستانو دمطالعی او استفادې وړ هر ډول مواد پیدا کیدای شی اوپه خاص ډول دځوانو فولکلوریستانو له پاره ددې اثر مطالعه یوه ضروري خبره ده . له دې اثر څخه مخکی دمرحوم دوست شینواري (دپښتو داولسی ادب لارې د۱۳۵۶ کال چاپ) دیادونی وړ دی خو دا اثر هم مشرح دی او هم نوي موادلري.

۳۸_ دفولکلور پوهنې سیمپوزیم:

د(۱۳۶۵) کال په حوت کی دافغانستان دعلومو اکاډیمی دژبو او ادبیاتو دمرکز له خوا دفولکلور پوهنی په نامه یو سیمپوزیم جوړ شو چی په هغه کی دکورنیو او بهرنیو پوهانو له خوا یولړ مقالی ولوستل شوې چی شمیریی (۱۰) ته رسیږي. په سیمپوزیم کی لوستل شوې مقالی په (۱۳۶۶) کال کی دیاد شوي مرکز له خوا په ګستتنر ډول چاپ اوخپرې شوي، چی په ترتیب سره ددغو مقالو سرلیکونه او دهغو دلیکوالانو نومونه دلته لیکم:

دمقالی عنوان، لیکوال یا مترجم

۱_ تجلی فرهنګ عامیانه درشعر

اکاډیمسن داکتر عبدالاحمد جاوید

۲_ فولکلوربایددتیوري په رڼا کی وڅیړل شي.

کاندید اکادیمسن محمد صدیق روهی

۳- ایا دکلیوالی ژوندټوله پدیدې په فولکلورکی مطالعه کیږی.

محمد ابراهیم عطائی.

۴_ درباره کلیات فرهنګ تاجیک

پروفیسور شیرمحمد وف

۵- دفولکلور ملیت او بین المللیت او دفولکلوري آثار و دترجمی شرایط

دوست شینواری.

۶_ دفولکلور په برخه کی ځو خبرې
څیړنمل محمد دین ژواك
۷_ پښتو فولکلور او په شوروي اتحادکې يې ژوره مطالعه:
لیکوال: م. ګ اسلانوف
مترجم: سرمحقق معتمد
۸_ پښتو شفاهی سندرې او دټولولولارې چارې یی
څیړندوي عبدالله خدمتګار بختانی
۹_ برخی از ګرد آوري ادب شفاهی دري. اسدالله شعوز
۱۰- دپښتنی فولکلور او پښتو شفاهی‌ادبیاتو دتصنیف ربړې
زلمی هیواد مل
دپورتنی مجموعی له بیلا بیلو مقالو او همدارنګه ددغه سیپوزیم له اساسی وینا څخه ما دارتیا په صورت کی استفاده کړې ده . او ډیر نوي مواد په کی ترلاسه کیدای شی.

۳۹_دپښتو پرشفاهي داستان يوه تحليلي څيړنه :

ددې اثر لیکوال کاندید اکادمیسن محمد ابراهیم عطایی دی چی په (۱۳۷۰) کال داطلاعاتو او کلتوروزارت دنشراتو دریاست له خوا د (۲۰۰۰) نسخو په شمیر په دولتی مطبعه کی چاپ او خپور شوی دی.

دغه اثر چی (۲۶۸) مخه دی ، دداستان لیکنې ، داستان ، هنر ، کلتور ، ملی هنر په فولکلور کی درواياتو ارزښت او نور وعناوينو په ترڅ کی دفولکلور څيړونکو دمطالعې وړ مواد وړاندې کوي.

۴۰_ افغانی موسيقی:

دهغه اثرنوم دی چی په ۱۳۷۰ کال دافغانستان دهنر- مندانو د اتحاديی له خوا په دولتی مطبعه کی چاپ او خپور شوی چی مؤلف يی څيړنمل محمد دين ژواك دی.

په دې اثر کی بر سيره پردې چی دافغانی موسيقی په باب معلومات راټول شوي او د پښتو داولسی سندرو ارتباط له دغی موسيقی سره ښودل شوی؛ دکندهار ، لوګر او مشرقی موسيقی په کی څيړل شوې او همدارنګه د پښتو لنډيو په باب چی دبيلا بيلو موضوعاتو په باره کی ويل شوي- يو څه تحليلی څيړنه هم لري.

*　　*　　*

که څه هم ما دمخه دې ټکی ته اشاره وکړه چی ماددې اثر په ليکلو کی له زياتو ماخدونو څخه استفاده کړې ده ، دلته می زياتره پر هغو آثارو خبرې کړي چی دفولکلور په باره کی څيړنی او مواد لري، نور آثار څه په پنځم فصل او په مکمل ډول درسالی په پای کی معرفی شوي دي.

تر دي ځایه چې مو دکومو آثارو په باب لنډې خبرې وکړې ، په دې آثارو کې داسې اثر نه ترسترګو کیږي چې د پښتنی فولکلور دمجموعو په باب دې داسې معلومات وړاندې کړای شي چې په هغو کې په مجموعی ډول زمونږ دفولکلور ټولونې او څیړنې پرونې کارونه ارزیابی شوي وي او یا دهغو یو تاریخی پس منظر په مفصل ډول تشریح شوي وي.

په دې باب باید ووایم چې ښاغلی زلمی هیوادمل یواځنی لیکوال دی چې په خپل اثر (اولسی سندرې لومړي ټوك، دعلومو اکادمي د ۱۳۶۱ کال چاپ) کې یی دتیرو تر سره شوو کارونو په لړ کې په یو شمیر هغو مجموعو خبر ې کړي چې د پښتو اولسی سندرې په کې راټولی شوي دي، خو هلته هم ددغو مجموعو د میتود په باب خبرې نه دي شوي بلکی ددغو کارونو یو پس منظر بیان شوی او څه ناڅه انتقادي نظرېرې اچول شوی دی.

ښاغلی محمد صدیق روهی په خپل اثر (فولکلور پیژندنه ، دژبو او ادبیاتو دمرکز د ۱۳۶۵ کال چاپ) کې د پښتو فولکلور ټولونی کارته دیوې کتنی په ترځ کې ځا ی ځای دځینو مجموعو نوم اخیستی او یایی په مجمل ډول دځینو فولکلور یستانو په کارونو انتقاد کړی دی. که څه هم په نورو برخو کې دغه اثر د موادو له مخې غنی دی، خو دا

باید ووایم چی دپښتو فولکلور څیړنی په پس منظر هم لنډ بحث په کی شوی دی.

دغه اثر چی ستاسو په مخ کی دی له پورتنیو آثارو څخه دا توپیر لري چی:

- په دې اثر کی دپښتنی فولکلور دبیلا بیلو اصنافو په باب چی کومی مستقلی او مشترکی مجموعی چاپ شوي. دامکان ترحده ټولی په کی معرفی شوي، مواد یی ښودل شوي او پر میتودیی خبری شوي دي. دامکان ترحده ځکه وایم، کومی مجموعی چیلاس ته راغلی، په هغو خبرې شوي دي.

_ له مستقلو مجموعو څخه مې هدف دادی چی یوازې دفولکلور یو صنف لکه متلونه یا لنډۍ او داسی نور فولکلوري مواد په کی خوندي شوي.

له مشترکو مجموعو څخه زما موخه داده چی ډول ډول فولکلوري مواد لکه لنډۍ، متلونه، کرکی، او نور په یوه مجموعه کی راټول شوي وي.

همدارنګه په دې اثر کی دفولکلور ټولونی پیل په لره او بره پښتونخوا او دختیځ پوهانو له خوا د بیلا بیلو عناوینو په ترڅ کی څیړل شوی دی. پردې برسیره دفولکلور ټولونی روشونه او ټول هغه مواد چی یو فولکلور ټولوونکی یی باید

دوهم څپرکی

په پام کې ونیسي: په دې اثر کې ترزیاته حده تشریح شوي او پوره رڼا پرې اچول شوې ده .

او بالاخره د پښتنې فولکلور د ټولو شویو چاپي مجموعو له معرفي او ارزیابي وروسته دا ښودل شوې چې دغه مجموعي دفولکلور ټولونې له معاصر میتود سره برابرې دې که نه ؟ که برابر ې دي په څه دلیل او که نه دي د کومو دلایلو پر اساس؟ دواړه عوامل په کې ښودل شوي دي.

همدارنګه په دې موضوع هم رڼا اچول شوې چې په راټلونکې کې بایدزمونږ فولکلوریستان څه وکړي او په څه ډول فولکلوري مواد راټول اوله ورکیدو او تلف کیدو څخه یې وژغوري .

کلتور او فولکلور

((۱))

کلتور

که څه هم زما دڅېړنې موضوع زیاتره باید دپښتنې فولکلور ټولونې او څېړنې په شاو خوا راوڅرخي او په دې برخه کې به چې: پښتنې فولکلور ټولونې او څېړنې ته کله پاملرنه شوې او دغه فولکلورڅه ډول راټول شوی او په کومه بڼه باید په راټلونکې کې راټول او وڅېړل شي: زیاته څېړنه وشي او نورې برخې به هم په ضمنې توګه تر مطالعې لاندې ونیول شي. خو ددې موضوع ګانو د څېړنې او چاڼولو په څنګ کې به دا هم بې ځایه اوبې ارتباطه نه وي. چې دکلتور په معنی او تعریف او همدارنګه دفولکلور په عامه او خاصه معنی ځانونه پوه کړو ځکه چې زموږ روانه څېړنه دهمدغو دوو کلمو یا دوو سرلیکونو سره په اړوند تیا کې پرمخ روانه ده .

زه به هڅه وکړم چې دلته دکلتور په باب لنډ معلومات وړاندې کړم او وروسته دفولکلور په باره کې هم په جلا ډول بحث وکړم:

" دفرانسوي ژبې کلتور، دانګلیسي ژبې کلچر او دعربې ژبې ثقافت چې په دې وروستیو شپیتو کلونو کې په فارسي ژبه فرهنګ بلل شوی (*)، د ټولنی دتکامل په بهیر کې ټولو ترلاسه شویو مادي او معنوي پدیدو ته ویل کیږي، چې یوه ټولنه له بلې ټولنی سره یوځای کوي او بیا یې له بلې ټولنی څخه بیلوي....

دیوې ټولنی مادي کلتور ټول مادي څیزونه لکه: کالي، ټاټوبې، ودانۍ او نور دې ته ورته وسایل را چاپیروي او هره پدیده یې دیوې ټولنی دمادي کلتور دراسپړلو ښکارندویی کوي.

معنوی کلتور دټولنی دمعنوي پدیدو لکه: اخلاق، هنر، ژوند، علم، فلسفه، سیاست، افکار، عقاید، ژبه، فکر، منطق، تګ لوری او دیوې ټولنی دخلکو داحساسونو مجموعی ته ویل کیږي چې په عمومی ډول په معنویاتو پوره لري. " (۱)

---

* _ مرحوم محمدګل مومند په پښتو کې ورته (هڅوب) تجویز کړی دی چې عمومیت یې نه دی موندلی. (دسرمحقق بختانی لیکلی یادښت)

۱ _ مصطفی نړدې، پښتنی فولکلور، دژبو او ادبیاتو مرکز، دولتی مطبعه، ۱۳۶۵، سریزه ۱-۲ مخونه.

" کلتور ته ثقافت هم وایی او همدارنګه دکلچر په بڼه هم ضبط شوی دی. دکلتور یو بل تعریف داسی دی: له کلچر څخه مراد دیوې ټولنی مجموعی عادتونه ،کړنی ارزښتونه او موسسې دي چی په یوه ټاکلی وخت او ځای کی دخلکو دژوند خاصه طریقه ښیی دکلچر عنصر د ټولنو په ټولو لاسی چارو، صنایعو او همداسی په هنر او ادبی هنر کی تجلی کوي...." (۲)

هرکله چی دا اصل قبول کړو چی انسان یو اجتماعی مخلوق دی یعنی یوه داسی هستی ده چی دژوند په جریان کی ټولنه جوړوي او هرڅوك چی دټولنی په منځ کی ژوند پر یو لړ مناسباتو او روابطو بنا کوي نو موږ هغه ته (دکلتور خاوند) وایو.

کوم روابط او مناسبات چی دډیرې او لنی او پخوانی بدوي ټولنی څخه دانسانانو ترمینځ موجود شوی او بیا یی د ټولنی دتکامل سره ارتقا کړې ده نو دغه مناسبات او روابط تر یوه عنوان لاندې راجمع کیږي چی دغه عنوان ته کلتور وایی. (۳)

کلتور اصلاً لاتینی کلمه ده چی له دې لارې یې نورو ژبو ته لاره موندلی او بیل بیل شکلونه یی غوره کړي دي لکه

۲ـ زلمی هیوادمل، دادبی تاریخ میتودولوژي، دژبو او ادبیاتو مرکز، ۱۳۶۷، دس.ش مقاله، ۵۶ مخ.

۳ـ محمدابراهیم عطایی، د پښتو پرشفاهی داستان یوه تحلیلی څیړنه ، داطلاعاتو او کلتور وزارت، دولتی مطبعه، ۱۳۷۰، ۴۰ مخ.

په عربی ژبه کی چی یې ثقافت او په انګلیسی ژبه یی کلچر بولی او په دري کی اوس (فرهنګ) ورته وایی.
په بریتانیکا انسیکلوپیدیا کی دکلتور (کلچر) په باره کی داسی راغلی دي:

" کلتور دخلکو عادات او طریقی دي. دهر شی نشو ونما ده چی ومخصوصې پالنی ته ضرورت لري په مطالعه سره سرې ښه کیږي او دکلتور خاوند کیږي یعنی چی له علم او عقل څخه استعداد ولري."(۴)

دکلتور یو بل تعریف په دې ډول دی:

کلتور یا کلچر په خپل پراخ تعریف کی دیوځای دخلکو په ماضی او حال کی دامیالو ، اعمالو، لاسی هنرونو ، کرهنی ، مذهب، اقتصاد، روایاتو ، ژبو او افسانو مجموعی ته ویل کیږي. (۵)

په پورته ډول مود کلتور یا کلچر په اړه بیلا بیل تعریفونه او څرګندونی وړاندې کړې ومولیدل چی په دغو تعریفونو کی یو لړ شباهتونه او حتی یو له بله تو پیرونه هم ترسترګو کیږي؛ په هر حال په مجموع کی دا ورڅخه څرګندیږي چی کلتور دانسان د ژوند له پیله تر پایه دهغه ټول

۴_ پورتنی اثر ، ۴۱مخ.
۵_ هماغه اثر، ۴۲ مخ.

کړه وړه په برکی نیسی، ددې ټولو تعریفونو په پای کی دکلتور یو بل تعریف چی زما په نظر جامع دی هم دلی راوړم:

"کلتور یا ثقافت دانسان د ارتقایی ژوند او عمل یوه مجموعی پانګه ده . چی دانسانی ژوند له پیله تر ننه پورې ورو ورو راغونډه او خوندي شوې ده ، دکلتور په دې لویې تاریخی مجموعی کی دغه لاندې اجزا شامل دي:

داولسی ژوند نظام(Social Process) ، تمدن او تهذیب (Civilization) ، روایات، ژبه او (Communication) ، هر ډول اداري اواولسی تنظیمونه ، هر ډول اجتماعی دودونه، قصی، دم ، درود، جادو ، اقتصادي ادارې او تنظیمونه، تعلیم ، تربیت ، ادب، قانون، فلسفه، اخلاقیات، علوم او فنون موسیقی، نقاشی، ادب ، لوبی او لنډه دا چی داولسی ژوند له هر اړخ سره متعلق عمل چی د تاریخی دور د ابتدا نه وروسته په دې خوا را روان دی، دکلتور یا ثقافت په دایره کی شمارلی شی."(۶)

له پورتنیو یادونو څخه په لنډ ډول داسی نتیجه اخیستلی شو چی کلتور (کلچر) یه عامه بڼه د انسانانو ټول کړه وړه د ژوند له پیله تر مرګه مطالعه کوي او څیړي یې یعنی ساحه یی ډیره ارته او پراخه ده او له همدې امله

۶_ عبدالکریم پتنګ، دغرونو څوکی ، دکابل پوهنتون دفلا لوژي پوهنځی ، دلوړو او مسلکی تحصیلاتو مطبعه، ۱۳۵۹ ، دزلمی هیوادمل سریزه، پنځم مخ .

فولکلور د کلتور جز او د کلتور په چوکاټ کی مطالعه کیږي او ساحه یی نسبت کلتور ته خاصه او محدوده ده.

که څه هم زمونږ ځینی محترم څیړونکی کله کله ټول هغه موضوعات چی په عام ډول باید دکلتور په چوکاټ کی مطالعه شی له خاصو فولکلوري څیړنو سره ګډ وي. په هر حال زه فکر کوم د کلتور په باب به همدغه لنډې یادونی کافی وي ځکه چی دڅیړنی اصلی موضوع فولکلور ده ، هغه هم د پښتنی فولکلور ټولونی د پخوانی او روان بهیر په اړه خبرې.

((۲))

فولکلور

څرنګه چې په دې وروستیو لسیزه کې د فولکلور د هر اړخیزې پیژندنی او څیړنی په باب زمونږ په ګران هیواد افغانستان کې یو لړ غونډې جوړې او په نتیجه کې ځینی آثار هم خپاره شوي، دبیلګې په ډول:

داطلاعاتو او کلتور وزارت له خوا په ۱۳۶۳ کال کې د " فولکلور پیژندنه " تر سرلیك لا ندې یو بین المللی سیمینار جوړ شو، چې دمقالو مجموعه یې د " فرهنګ مردم" مجلې د (۱۳۶۴)کال د پسرلی په (۳-۴) ګڼه کې خپره شوه.
همدارنګه په(۱۳۶۵) کال کې دافغانستان دعلومو اکاډیمی دژبو او ادبیاتو دمرکز له خوا "دفولکلور پوهنی سمپوزیم " په نامه یو علمی سیمینار جوړ شو چې د بیلا بیلو پوهانو له خوا پکې غوره مقالې ولوستل شوې، ددغه سیمینار دمقالو مجموعه په (۱۳۶۶) کال کې چاپ او خپره شوه.

همدارنګه په دې اړه د کاندید اکادیمسن محمدصدیق روهی " فولکلور پیژندنه " نومی اثر هم چې په (۱۳۶۵) کال کې دافغانستان دعلومو اکادمی دژبو او

ادبیاتو دمرکز له خوا دچاپ په ګاڼه پسولل شوی. دیادونی وړ دی.

په دغو یادو شویو آثارو کی تر ټولو زیات د فولکلور تیوری - څیړنی او دفولکلور دخوندي کولو او نورو اړوندو موضوع ګانو په باب په زړه پورې او ګټور معلومات تر لاسه کیدای شی. نوځکه ځینی موضوعات چی په ضمنی ډول زما دڅیړنی له موضوع سره اړه لري: په لنډ ډول څیړم او دزیاتو معلوماتو له پاره محترم لوستونکی او دفولکلور مینه وال د پورتنیو آثار و مطالعی ته وربولم.

لومړی: دفولکلور لغوي مانا:

څرنګه چی دفولکلور کلمه د لومړي ځل له پاره دیوه انګریز له خوا په انګریزي متن کی استعمال شوې ده . نو له همدې امله. فولکلور انګریزي کلمه ګڼل کیږي. دفولکلور (Folk-Lore) لغت له دوو توکونو څخه جوړ شوی دی: (فولك) دخلکو په مانا دی او (لور) پوهی او حکمت ته ویل کیږي. په دې اساس ، فولکلور دخلکو دپوهی په مانا راځی.

په انګریزي ژبه کی د (فولك) دکلمی (ل) نه تلفظ کیږي، یعنی په خپله انګریزي ویونکی د فولکلور کلمه (فوکلور) په بڼه تلفظ کوي خو په نورو ژبو کی چی همدا کلمه یی په عاریت اخیستی ده معمولاً (ل) هم تلفظ کیږي او (فولکلور) یی لیکی او هم یی وایي.

فولکلور ته په دري ژبه کی (فرهنگ عوام) یا (فرهنگ مردم) او کله کله (فرهنگ توده) وایی . په ترکی ژبه کی ورته خلقیات ویل کیږي. په پښتو ژبه کی دعلمی او فرهنگی موسسو له خوا فولکلور ته کومه ټاکلی کلمه نه ده وضع شوې خو ځینو منفردو لیکوالو کله کله دفولکلور په ځای (اولسی پوهه) کلمه استعمال کړې ده .(۷)

دفولکلور دکلمی واضع انگریزي لیکوال ټامس (W.J.Thoms) دی. ده په یوه لیك کی چی د -Ambroise) Merton) په مستعار نامه یی لیکلی و، دلومړي ځل دپاره دفولکلور کلمه استعمال کړه . د (ټامس) مضمون چی د (۱۸۴۶) کال په اگست کی په (اینینیم) کی خپور شوی دی، په ضمنی او عبوري توگه دعامیانه پاتی شونو Populr) Antiquities) دپاره دفولکلور (Folklore) اصطلاح وضع کوي. دلیکونکی هدف دا و چی په برتانیه کی دپخوا زمانو څخه راپاتی شوي خرافات ، وجیزې، دودونه، منظوم داستانونه او نورې عنعنوي پدیدې وڅیړل شی.

دغی اصطلاح ډیر ژر دپوهانو پاملرنه ځانته راواړوله او په چټکی سره په ټولو اروپایی ژبو او داتلا نتیك دپورې غاړې په هیواد و کی باب شوه. (۸)

۷_ محمد صدیق روهی، فولکلور پیژندنه.دافغانستان دعلومو اکادمي دژبواو ادبیاتو مرکز. دولتی مطبعه . ۱۳۶۵ (۷) مخ .

۸_ پورتنی اثر، ۳۴-۳۵ مخونه.

داچې زمونږ په هیواد کې دفولکلور ټولونې او څېړنې کار ته څه وخت توجه شوې په جلا برخه کې څېړل کیږي.

دوهم: دفولکلور اصطلاحي مانا:

ځینې پوهان وایي چې په فولکلور کې رسوم ، عقاید ، خرافات ، رواجونه، اولسي افسانې اولسي سندرې ، اولسي موسیقي ، نڅاوې، متلونه او دعادي انسان دورځنی ژوندانه مشاهدات ټول یکې مطالعه کیږي. ([9])

خو په (پخوانی) شوروي اتحاد کې د فولکلور اصطلاح یوازې داولسي شفاهي ادب او خلاقیت ، اولسي سندرو ، اولسي نڅا وو په مفهوم استعمالیږي ددې نظریې خاوندان دفولکلور اصطلاح داولسي شفاهي شاعرانه تخیلق سره برابره بولي او وایي:

"فولکلور دخلکو دژبې محصول دی او دوی له دغې لارې ډیر برجسته قهرمانان چې په هنري لحاظ کامل ټیپونه ګڼل کیږي خلق کړي دي." په عمومي ډول ددوهمې ډلې په اصطلاح فولکلور لفظي هنر دی.

له بلې خوا په وروسته پاتې ټولنو کې د فولکلور مفهوم دومره وسیع دی چې حتی دکلیوالی ټولنو دخلکو دورځنی ژوند ټول کړه وړه په فولکلور کې مطالعه کیږي.

۹ـ پښتني فولکلور، ۷-۸ مخونه.

اوحتی دا مفهوم کله دومره پراخ شی چی ددانش عوام ، توده شناسی اصطلاحات هم ورته استعمالوي. ([10])

زما په نظر د (توده شناسی) کلمه له فولکلور سره معادله نه ده او له دې موضوع سره پوره اړخ نه لګوي او د (دانش عوام) کلمه تر یوه حد ه مطلب افاده کوي. لکه څنګه چی په نورو ژبو کی دغی کلمی ته ډول ډول اصطلاحات وضع شوي په پښتو ژبه کی هم زمونږ ځینو لیکوالو دغه کار کړی او فولکلوریی په بیلو بیلو نومونو یاد کړی دی لکه : اولسی پوهه ، اولسی ادبیات دعوامو فرهنګ، او داسی نور. خو زما په اند تر هغو چی دیوې علمی ټولنی له خوا یوه داسی کلمه چی هم مفهوم درست ارایه کړي او هم د ټولو له خوا په واحد ډول منل شوي نه وي؛ همدغه د (فولکلور) کلمه دې په خپل اصلی شکل استعمال شی، ځکه لکه څنګه چی زمونږ پوهان په دې برخه کی هم لا یوې واحدې نظریې ته نه دي رسیدلی او دپښتو د فولکلور یکو ادبیاتو په ځینو برخو کی هم سره په یوه نظر نه دي، یوه ډله پوهان ټول هغه اولسی ادبیات چی په اولسی فورمونو کی ویل شوي لکه چاربیتی، بګتۍ او نور په فولکلور کی شامل ګڼی او بله ډله وایی چی هغه اولسی شعرونه چی ویونکی یی معلوم کسان دي هغه دهغو مال دی او داولس ورسره کار نشته او یوازې هغه برخيچی ویونکی

---

۱۰ _ پښتنی فولکلور، ۷-۸ مخونه .

يې نه وي معلوم په فولکلورکی دمطالعی ور ګنی لکه: لنډۍ ، متلونه او داسی نور او هغه بله یاده شوې برخه په لیکلو ادبیاتو کی شاملوی.

په هر حال دا موضوع اوږده څیړنه غواړي لکه څنګه چی ماته په دې ساحه کی له خپلی مطالعی څخه څرګنده شوې ده ، تر اوسه زمونږ څیړونکی په عام ډول خپل کار ته دوام ورکوي او حتی لا دفولکلوري موضوعاتوپه تصنیف کی هم کوم واحد او داسی نظر چی دټولو دمنلو وړ دې وي زما په نظر نه دی راغلی خو زمونږ هر یوه دانشمند په خپل زعم یا دنورو له لیکنونه په استفاده یو تصنیف وړاندې کړی دی.

زمونږ یو محقق دفولکلور په باب داسی لیکی: " فولکلور داولسی ژوند هینداره ده . په دې هینداره کی دخلکو دودونه، ارزښتونه، چال چلند، انګیرنی، کړنی او دژوند هر راز لارې چارې منعکس کیږي. دفولکلور دڅیړنی ساحه ډیر ه پراخه خو عمده برخه یی اولسی دودونه ، خرافات ، رواجونه، اولسی ادب لکه (متلونه ، سندرې، کیسی او نور) دي. " (۱۱)

زما په نظر دا تعریف ډیر عام دی چی حتی زیاتره کلتوري مسایل په بر کی نیسی.

۱۱_ دوست محمد وست، دپښتو داولسی ادب لارې، پښتو ټولنه ، دولتی مطبعه، ۱۳۵۶ ، سریزه، الف مخ .

دفولکلور دوه نور تعریفونه په دې ډول دي:

الف: دغربي تعبیر له مخې:

فولکلور (Folklore) په اصل کې یوه انګلیسي کلمه ده چې د ادابو ، رسومو ، عقایدو ، عاداتو ، افسانو ، حکایتونو ، امثالو، ترانو عامیانه اشعارو پر مجموعه اطلاقیږي. او یا هغه علم ته ویل کیږي، چې پر ادابو ، سننو ، عامیانه ادب او عامه فرهنګ بحث کوي.

"فولکلور یوه عمومي اصطلاح ده چې اساطیر ، افساني ، امثال اوحکم نخا ، جادوګري، خرافات ، ترانې، سرودونه، شوخي، دودونه چې له یوه نسله بل ته پاتې دي چاپیروي."

ب : په شرقي تعبیر:

اولسي شفاهي ادب اوخلاقیت، اولسي سندرې، اولسي موسیقي او اولسي نخا په فولکلورکې څیړل کیږي. ([12])

دفولکلور یو څو نور تعریفونه په دې ډول دي:

۱_ دلا روس په فرانسوي قاموس کې راغلي دي چې فولکلور په یوه ټاټوبي کې دخلکو دعنعنو ، افسانو ، سندرو او دودونو مجموعې ته ویل کیږي.

۱۲_ عبدالکریم پتنګ ، دغرونو څوکې، ۱۳۵۹، دهیواد مل سریزه ، پنځم مخ .

۲ـ په بریټانیکا دایرة المعارف کی لیکی: فولکلور دهغو اسطورو، افسانو ، کیسو ، متلونو، سندرو، جشنونو او اخترونو دبیلګو او نڅاو، روایتونو او حکمتونو ، جادویی ، فورمولونو او خرافاتو یو عمومی نوم دی چی په نالیکلی توګه له پخوانیو وختو څخه تر دې وخته پورې رارسیدلی دی.

۳ـ (امریکانا) انسیکلوپیدیا لیکی: " فولکلور یو جنریك (عام) نوم دی چی دعوامو خلکو پر هغو عنعنوي عقایدو ، خرافاتو ، کړو وړو ، دودونو، او شعایرو دلالت کوي، چی له ځنډنو وختو څخه تر اوسه پورې په لړ بدلون او یا لاس ناخوړلی توګه را پاتی شوي او دمعاصرو پوهنو او ددین له منل شوو چلن بیلګو څخه د باندې واقع شوي دي. نکلونه ، عنعنوي منظومی، سندرې ، متلونه او دمادي کلتور ځینی خوا وې هم په فولکلور کی داخل دي. " ([۱۳])

د فولکلور کلمه دنړۍ په یو زیات شمیر ژبو کی په همدې بڼه منل شوې ده خو مفهوم یی له یوه ځایه تربله ځایه پورې یوڅه تغییر موندلی دی. په فرانسه ، جرمنی، په تیره په سکاندیناوي هیوادو نو کی د فولکلور په مفهوم کی دکور جوړولو عنعنوی سبکونه ، دکرنی لارې چارې او کرنیز ابزار داوبولو طریقی، او دمادي کلتور ځینی برخی چی دانتروپالوجستانو له خوا هم څیړل کیږي، شاملی دي. په

۱۳ـ فولکلور پیژندنه ، ۱۱-۱۲ مخونه .

شوروي تاجکستان کی فولکلور یا " ایجادیات شفاهی خلق" د " فرهنگ مردم" یو جز گڼل کیږي. د " ادبیات شفاهی مردم تاجیك" مؤلفان (و. اسراري) او (ر. امانوف) په دې باره کی داسی لیکی : " دخلکو شفاهی ایجادیاتو ته فولکلور هم وایی. " ([14])

دپورتنیو تعریفونو ترمنځ ځنی مشابهتونه او په ځینو برخو کی تضادونه تر سترگو کیږي، په ځینو کی دانسانانو ټول کړه وړه چی په مادي او معنوي دواړو اړخونو اړه لري په فولکلور کی شامل گڼل شوي او په ځینو کی بیا یوازې دخلکو شفاهی ایجادیات فولکلور گڼل شوی. په هر حال فولکلور یوه انگریزي کلمه ده چی وروسته نورو ژبو ته هم په څه ناڅه تغییر ورانتقال شوې ده.

دغه اصطلا ح دلومړي ځل له پاره دانگریزي پوه ټامس له خوا پیشنهاد شوې ده چی پراخ مفهوم لري او په هغی کی " موسیقی، نڅا، رسامی، حکاکی، زر دوزي او داسی نور دخلکو ایجادیات هم شامل دي خو اکثراً دخلکو بدیعی شفاهی ایجادیات د فولکلور داصطلاح په دایرې کی راځی." ([15])

۱۴_ همدغه اثر یادشوي مخونه.

۱۵_ پورتنی ماٰخذ ، ۱۲-۱۳ مخونه .

دریم څپرکی

په تیرو پاڼو کی مو دفولکلوردلغوي او اصطلاحی مانا ګانو په باب خبرې وکړې او په دې اړه مو دپوهانو نظریی هم دنقل قول په ډول راوړې. همدارنګه مو د فولکلور ډول ډول تعریفونه وړاندې کړل چی فولکلور دغربیانو له خوا څه ډول مفهوم افاده کوي یایی غربیان څه ډول تعبیر وي او فولکلور په شرقی ټولنو کی څه ډول مفهوم ښندي په دې ارتباط لږو ډیرو غږیدو خو وموليدل چی دغه ټول تعریفونه سره یو شانته نه دي او لږ یا ډیر یو له بله سره تفاوت لري. زما په نظر دفولکلور له پاره داسی کوم تعریف چی په عام ډول دې ټول پوهان په یوه نظر ومنی او دهغه په باب دې ټول یوه خوله وي تر اوسه نشته خوپه شوو وځینو تعریفونو کی نږ دیوالی او مشابهتونه هم لیدل کیږي . دخپلو خبرو په پای کی به دغه تعریف هم را واخلو: چی " البته په دې خبرو ټول پوهان متفق دي چی اولسی سندرې (دخلکو سندرې) نکلونه محلی افسانی، خرافات ، متلونه او چیستانونه دفولکلور خاصې موضوعګانی دي. " ([16])

۱۶ـ همدغه اثر، یادشوي مخونه .

دفولکلور ټولونی
لارې چارې

په دې لیکنه کې به له موجودو آثارو څخه په استفاده دفولکلور ټولونې دمیتود په باب خبرې وکړو، داچې په سرلیك کې مو یوازې (دفولکلور ټولونی) کلمه ذکر کړې او دڅیړنې نوم مو نه دی اخیستی (که څه هم له دغه ډول آثارو څخه په تیوریکه برخه کې استفاده هم شوې ده)؛ دا کار مو ددې له پاره کړی چې په دې اثر کې زمونږ سرو کار زیاتره له ټولو شوو مجموعه سره دی، چې دغه مجموعې څه ډول راټولې شوي، آیا دمیتود څرك په کې لګیږي او که نه ؟

همدا رنګه ددې خبرو په څنګ کې دا لازمه ګڼل کیږي، چې کله که مونږ د فولکلور په چا پې او راټولو شوو آثارو غږیږو ، ددې په څنګ کې باید دفولکلور ټولونې دلاروچارو په باب هم څه ناڅه معلومات ولرو. دلته لازمه ده چې تر هر څه دمخه پوه شو چې میتود څه ته وایی او کوم

ډولونه لري؟ وروسته به دخپل نظر وړ میتود په باب مفصل معلومات وړاندې کړو.

میتود (Method) :

میتود یونانی کلمه ده چی لا رې او طریقی ته ویل کیږي یعنی هدف ته درسیدلو لاره یا دیوه فعالیت دتنظیمولو طریقه.(*)

له پخوازمانو څخه راهیسی دعلم او معرفت دحاصلولو لپاره له بیلا بیلو لارو څخه کا ر اخیستل شوی او ډول ډول میتودونه کارول شوي دی. دبیلګی په ډول: د صلاحیت میتود، دشخصي تجربې میتود، د سلیم عقل (عامه ذهنیت) میتود . شهودي میتود، میتافزیکی میتود. علمی میتود او فلسفی میتود. (۱)

دلته که دهر میتود په باب خبرې وکړو نو موضوع به ډیره اوږده شی، دا چی په فولکلور ټولونه کې زیاتره له (سروې) څخه کار اخیستل کیږي په دې اړوند به لنډې خبرې وکړو. وروسته به دفولکلور ټولوونکی په مشخصاتو وغږیږو

*_ دمیتود یو بل تعریف داسی دی: دمیتود کلمه له یونانی Meta او (hodos) څخه جوړه شوې ده چی اصلی معنی یی (لاره) او (لوری) دی یعنی دیوه مرام دلاس ته راوړلو طریقه .

۱_ محمدصدیق روهی، فولکلور پیژندنه ، دژبو او ادبیاتو مرکز، دولتی مطبعه، ۱۳۶۵، ۱۰۳مخ.

چې یو فولکلور ټولوونکی باید کوم مشخصات ولري او څه باید وکړي؟

" دفولکلور ټولونې او پېژندنې دپاره سروې تر ټولو عام او منل شوی میتود دی او دتاریخی او تجربی میتود په نسبت په فولکلوري څیړنو کی زیات په کاریږي. که چیرې فولکلوري څیړنه دیوې فرضیې یا نظریې له اثبات سره اړه ولري نو هلته باید دتجربی میتود مرحلې تعقیب شي. حتی په تجربی میتود کی هم دفولکلوري معلوماتو ټولونی ته ضرورت لیدل کیږي. په دې اساس باید دفولکلور څیړونکو ته د سروې (په عمده توګه فولکلور ټولونی) دمیتود تکنیکونه پوره څرګندوي...." (۲)

کله چې مونږ فولکلوري مواد راټولوو هغه باید په خپله اصلی بڼه او بې له هر ډول لاس وهنې راټول او دغه امانت راتلونکې نسل او را تلونکو څیړونکو ته لکه څنګه چې په ټولنه کی موجود دي؛ وروسپارو.

دعلمي مقاصدو په خاطر دعوامو دادبیاتو په لیکلو او راټولولوکی باید لومړی په نظر کی ولروچې : دعلمی مقاصدو په منظور باید دعوامو ادبیات لکه څنګه چې دي په هماغه بڼه راټول کړو او په هماغه ډول یې بې له بدلونه خپاره کړو . دعوامو دایجادیاتو نسخې په هغه صورت کی دعلمی

۲ـ پورتنی اثر، ۱۲۵ مخ.

خپرونواو خپرنو له پاره دباور وړ ګڼل کیدای شي چې دهغی دلیکلو وخت ، ویونکی او حتی ضبطوونکی په باب معلومات موجود وي.

که چیرته مونږ دعوامو دایجادیاتو یوه کلمه هم واړوو نو په هغه صورت کی دهغو پر نورو اړخونو هم لاس بری پیدا کوونو په دې حالت کې کولی شو د عوامو په ایجادیاتو نوي مضامین ورزیات کړو چې دا کار دعلمی غوښتنو پر خلاف دی. (۳)

مونږ فولکلوري مواد له خلکو او اولس څخه دروایت، مشاهدې، پوښتنلیکونو او نورو په مرسته راټولولی شو خو ددې په څنګ کی کولی شو له خپلو پخوانیو ادبی متونو څخه هم فولکلوري مواد راټول کړو چی زمونږ یو شمیر څیړونکو دغه کار کړی هم دی، دمثال په ډول ښاغلی علی‌محمد منګل دخوشحال خان خټك او رحمان بابا له دیوانو څخه یو شمیر متلونه او فولکلوري اصطلا حات راټول کړي چی په کابل مجله او زیري جریده کی خپاره شوي هم دي. همدارنګه ځینو څیړونکو له یو شمیر فولکلوري مجموعو څخه په استفاده ځینی آثار ترتیب کړي او ټولنی ته یی وړاندې کړي دي لکه دمحمد شفیق وجدان، ادبیات مردم ، دمرحوم عبدالروف

۳ــ رجب امانوف، رباعیات خلق تاجیك، انستیتوت زبان وادبیات بنام رودکی ۱۹۸۳-ص ۴-۵.

بینوا، پښتو ملتونه او پښتو لنډۍ او داسی نور. ددغو آثارو ځینی په نورو ژبو ترجمه شوي هم دي.

دغه کار هم که دیوه خاص میتود په رڼا کی وشی جایز دی . دپښتو په کلا سیکو متونو کی د فولکلوري موادو دموجودیت په باب یو محقق لیکی : " د پښتو دکلاسیك ادبیاتو په متونو کی د پښتو دلفظی ، نیمه لفظی او غیر لفظی فولکلور په باب په پاشلی توګه مواد راټول شوي دي، دا مواد تصنیف بندي نه لري د روایاتو ، عقایدو او عنعناتو ، عرف او عاداتو عنوانو نه ورکول شوي دي او دعامیانه کلمه یی په لاحقه راغلی ده.

دتقریباً (۱۰۰۰) کالو زیات وکم زمانه کی چی دپښتو ادبی متون پرله را اړوو نو لږ به داسی یو اثر پیدا کړو چی په هغی کی دفولکلور په رابطه مواد نه وي ځای شوي...." (۴)

په دې ارتباط که مونږ دخوشحال خان دستارنامه مطالعه کړو یو عالم فولکلوري مواد پکی پیدا کولی شو، همدا ډول دده فالنامه ، طب نامه ، دیوان ، همدارنګه درحمان بابا دیوان ، داشرف خان هجري دیوان ، دعبدالقادر خان ختك ، کاظم خان شیدا او حمیدبابا دیوانونه له نظره تیر

۴ـ م. ابراهیم عطائی، په افغانستان کی د پښتو فولکلور ټولونی او څیړنی دکار پر سابقه یوه کتنه،فرهنګ مردم ، فولکلور ټولنه ، ۱۳۶۴ دریمه-څلورمه ګڼه، ۱۲۲-۲۳-۲۴ مخونه .

کړو نو زيات فولکلوري مواد به په کې ومومو چې په تيت او پرك ډول په کې خوندي دي.

دموضوع داوږدوالی دمخنيوي په خاطر په دې برخه کې له زياتو خبرو او دمثالونو له وړاندې کولو څخه تيريږو او راځو دې خبرې ته چې فولکلور بايد څنګه او په څه ډول راټول شي يا يې څه ډول راټول کړو؟

فولکلور بايد په هغه بڼه راټول شي چې په اولس کې موجود دی او سينه په سينه ترمونږه را رسيدلی دی. ددې په څنګ کې بايد يو فولکلور ټولوونکی دې ټکی ته هم متوجه وي چې په فولکلور ټولونه کې دراوي معرفي کول. دثبت نيټه. سيمه او داسی نور ملحوظات په ټينګه په پام کې ونيول شي. چې بی له دې به دهغه کار دعلمي ارزښت وړ ونه ګرځی. په دې ارتباط پروفيسور رجب امانوف ليکی:

دعوامو دايجادياتو دبيلا بيلو بڼو دتر لا سه کولو او دهغوي دصحيح متنونو ټاکل ددغو ايجادياتو دراټولوونکی اوزده کوونکی اساسی دنده ده . فولکلور پيژندونکی دمسئلی په دې اړخ ښه پوهيږي. ولی هغه کسان چې ددغو دندو ترسره کول يو ساده کارګڼی، اشتباه کوي، ځکه تر هغو چې مهمترينی نسخی راټولی شی، زياتو کلونو ته اړتيا ده څو کلی په کلی وګرځی او دعوامو ايجاديات راټول او مجموعی ترې جوړې کړي. دعوامو دايجادياتو راټولول دکار

پیل دی ځکه چی لومړی بنه دخامو موادو حیثیت لري، چی دهغو ترتیبول او داستفادې وړ ګرځول زیات وخت او انرژي غواړي. (۵)

همدارنګه نوموړی دفولکلوري مواد و دثبت په برخه کی ددغو لاندنیو ټکو مراعات ضروري ګڼي:

- دثبت کال، راټولوونکی، دهغه او دپلار نوم یی.

- دراوي نوم ، دهغه دپلار نوم، جنس، عمر، چی په لاندې ډول دعمر له مخی په اتو ګروپونو ــــ

ویشل کیږي:

ګروپونه:

۱_ له ۱- ۱۶ کلنی، ۲_ له ۱۷ -۱۹ کلنی؛ ۳_ له ۲۰- ۲۹ کلنی؛۴_ له ۳۰- ۳۹ کلنی؛ ۵_ له ۴۰-۴۹ کلنی ؛ ۶_ له ۵۰- ۵۹ کلنی؛ ۷_له ۶۰-۶۹ کلنی؛ ۸_ له ۷۰ کلنی څخه پورته. که چیرې دراوي جنس یا عمر او دروایت کال معلوم نه وي نو (۰) باید کیښودل شی.(۶)

پوهاند شاه علی اکبر شهرستانی په خپله یوه مقاله کی چی دفولکلور پیژندنې په سیمینار کی یی لوستلی ده او دفرهنګ مردم مجلی د (۱۳۶۴) کال په دریمه او څلورمه

۵_ رباعیات خلق تاجیك، ۵-۶ مخونه.

۶_ پورتنی اثر، ۹ مخ .

ګڼه کی خپره شوې، دفولکلور ټولولو په باب داسی نظر څرګند کړی دی:

فولکلور په دوه ډوله را ټولیدای شی:

۱_ له خلکو څخه.

۲_ له کتابونو او نوروآثارو څخه.

او همدارنګه دپوښتنو او مسایلو په طرحه کی دغه لا ندې مواد ضروري ګڼي:

۱_دسوالونو طرحه او دهر سوال په مقابل کی دځواب ترلاسه کول.

۲_ له نظرور شخص سره دخبرو پیل کول او دمطلب دپیل له پاره دهغه دافکارو متمرکز کول.

۳_ دځواب ورکوونکی ذهن د ټوکې ، متل او یا یو شعرپه واسطه اماده کول، او دداسی پوښتنو طرح کول چی دځواب ورکوونکی دخفګان او نفرت سبب ونه ګرځی او هم هغه ارنه باسی چی دځواب له ورکولو څخه ډډه وکړي. (۷)

ترکومه ځایه چی ماته معلومه ده دفولکلور ټولونی او څیړنی دلارو چارو یاددغو موادو دمیتود په باب ان دکابل دادبی انجمن دتاسیس له وخته یو لړ هڅی روانی وی چی په هغه وخت کی (درهنمای فولکلور) په نامه یوه رساله هم خپره

۷- پوهاند شاه علی اکبر شهرستانی ، شیوه ګرد آوري فولکلور،فرهنګ مردم، فولکلور ټولنه ۱۳۶۴- ۳-۴ګڼه، ۹۶ مخ .

شوې وه . همدارنګه په (۱۳۶۳) کال کې دفولکلور ټولنې له خوا يو سيمينار جوړ شو، رهنماى فولکلور خو لا هغه وخت هم دفولکلور ټولنې له معاصر ميتود سره پوره اړخ نه لګاوه او اوس خويې زياتره برخې درد وړدي چې ددې رسالې په يوه بله برخه کې به پرې مفصل بحث وشي. همدارنګه دفولکلور دمجلې د ۱۳۶۴ کال په (۳-۴) ګڼه کې چې دفولکلور پيژندنې دبين المللې سيمينار د مقالو کومه مجموعه خپره شوې، هلته هم دفولکلور ټولنې په باب که څه هم لږو ډير معلومات شته خو داسې کومه مقاله زما تر سترګو نه شوه چې په مفصله توګه يې دغه موضوع تشريح کړې وي.

په پورتنيو کرښو کې ما دهمدغې مجلې او ځينو نورو آثارو په مرسته دفولکلور ټولنې په ارتباط ځينې خواره واره معلومات وړاندې کړل، مګر دغه معلومات به هم دفولکلور ټولونکو داستفادې او مطالعې له پاره کافي نهَ وي.

څرنګه چې په دې ارتباط(دفولکلور پوهنې سيمپوزيم) دمقالو مجموعه نومې اثر کې چې په (۱۳۶۶) کال د افغانستان دعلومو اکاډيمې دژبو او ادبياتو دمرکز له خوا په ګستتنرې ډول له چاپه راوتلې او دا اثر د هغو مقالو مجموعه ده چې ددغې اکاديمې دياد شوي مرکز له خوا په (۱۳۶۵) کال کې په جوړ شوي بين المللې سيمپوزيم کې لوستل شوي دي- هم يو څه معلومات په بيلا بيلو مقالو کې

تر سترګو کیږي او همدارنګه دسرمحقق محمد صدیق روهی په " فولکلور پیژندنه " نومی اثر کی په دې اړه مفصل معلومات ترلا سه کیدای شی. دلته زه دنورو موضوعاتو په باب له بحث نه تیریږم او یوازې هغه برخی به له یاد و شوو ماخذونو څخه راواخلم چی له فولکلور ټولوونکو سره مرسته کولی شی. له نورو موضوع ګانو څخه می چی یادونه وکړه دبیلګی په ډول دا خبره چی په فولکلور کی کوم مواد مطالعه کیدای شي؟ په دې باب ډیرې مقالی خپرې شوي او هم ددې رسالی په دوهم فصل کی ورباندې یو څه بحث شوی دی چی دلته یی بیا تکرار ته ضرورت نه لیدل کیږي. په لاندې ډول به دهرې موضوع په باب په تفصیل سره وغږیږو:

الف ـ دفولکلور ټولونی او څیړنی میتود:

دفولکلور ټولونی او پیژندنی دپاره د سروې میتود تر ټولو عام او منل شوی میتود دی او دتاریخی او تجربی میتود په نسبت په فولکلوري څیړنو کی زیات په کاریږي. که چیرې فولکلوري څیړنه دیوې فرضیې یانظریې له اثبات سره اړه ولري نو هلته باید د تجربی میتود مرحلی تعقیب شی. حتی په تجربی میتود کی هم دفولکلوري معلوماتو ټولونی ته ضرورت لیدل کیږي. په دې اساس، باید دفولکلورڅیړونکو

ته دسروي (په عمده توګه فولکلور ټولونی) دمیتود تکنیکونه پوره څرګندوي. (۸)

ب_ دفولکلور ټولوونکی ځانګړنی:

۱_ ترټولو د مخه دفولکلور ټولوونکی له پاره دا لازمه ده چی دفولکلور په مانا وپوهیږي او دفولکلور ټاکلی برید ونه، وپیژنی، دمثال په توګه ، یو چا د (فرهنګ مردم) په مجله کی د (نکل) تر سرلیك لاندې یوه کیسه لیکلی وه چی عنوان یی وه " دفیوډالی مناسباتو ناوړه دودونه " بیایی لیکلی وه چی په پخوازمانو کی یو خان و چی بزګریې مځکه ورته کرله. دبزګر زوی دساینس له پوهنځی څخه فارغ شو. دکیسی ټول مشخصات یوې لنډې کیسی ته ورته دي خو محترم لیکوال پر هغه دنکل نوم ایښی دی. دکیسی عنوان دیوې سیاسی مقالی دعنوان په شان دی. په پخوا زمانه کی د ساینس پوهنځی نه و تاسیس شوی. ښایی د(نکل) په نامه ښاغلی لیکوال غوښتی وي چی په فرهنګ مردم کی دکیسی خپرولو دپاره جواز تر لاسه کړي. کیسه دمحتوا او شکل له پلوه په زړه پورې ده خو له (نکل) سره جوت توپیر لري. (۹)

۸_ محمدصدیق روهی، فولکلور پیژندنه ، ۱۲۵ مخ .
۹_ پورتنی اثر، ۱۲۹-۱۳۰ مخونه .

۲ـ فولکلور ټولوونکی باید د میتودولوجی له اساساتو په تیره د فولکلور ټولونی له میتود سره پوره اشنا وي. که فولکلور ټولوونکی هر څو مره دامانتداري خیال ساتلی وي او ښه مواد یی راغونډ کړي وي خو که د میتود مراعات یې نه وي کړی دیوه جدي فولکلور یست په نظر دهغه څیړنه خپل ارزښت له لاسه ورکوي.

۳ـ فولکلور ټولوونکی باید دخپل کار دپیل کولو په وخت کی طبیعی او نور مال شرایط برابر کړي وي. دمثال په ډول که یو فولکلور ټولوونکی دخلکو دپرګنو منځ یا یوه کلی ته په داسی لباس کی لاړ شی چی له نورو خلکو څخه څرګند توپیر ولري (دساري په ډول په دریشي کی لاړ شی) او دده کړه وړه خلکو ته نا آشنا ښکاري په دې صورت کی به مطلوبه نتیجه تر لاسه نه کړای شی.

کله چی فولکلور ټولوونکی یوه نا آشنا محیط ته ورځی تر هر څه لومړی باید په دې پوه شی چی له خلکو سره ځان څنګه محشور کړي او دده موجودیت خلکو ته دویرې سبب نه شی، یعنی له داسی تکنیکونو څخه کار واخلی چی خلك دې ته حاضر شی څو بی له ویرې خپل مطالب اظهار کړي او خپلی خبرې په دې ډول پیل نه کړي چی مقابل لوری دې ته اړشی چی د اصلی مطلب په ځای خبره بلې خواته بوځی. ددې له پاره چی یو فولکلور یست له دغسی ستونزو

سره مخامخ نه شي باید تر هر څه لومړی دکلی له مخور و او یا تعلیم یافته کسانو سره مفاهمه وکړي څو هغوي خلك په دې وپوهوي چې ددې سیمی فولکلور ټولونه ګټور کار دی. او بله لاره یی داده چې فولکلور ټولوونکی خپل مطلب پټ وساتی او دخپل یوه آشنا په ذریعه له خلکو سره آشنا شي او په پټ ډول خپل یادښتونه واخلی او دامکان په صورت کی خپل یادښتونه بیا وآزمایی.

۴ـ فولکلور ټولوونکی باید موقع پیژندونکی وي اوپه خاصه توګه په دی وپوهیږي چې څه وخت له کوم ډول تکنیك څخه کارواخلی.که چیرې پوښتونکی وکولی شي چې پوښتیدونکی مخامخ مرکی ته حاضرکړی شی دا به دده له پاره یو ستر موفقیت وي.

فولکلور ټولوونکی بایدیادښت اخیستلو په برخه کی له احتیاط څخه کار واخلی ځکه چې عوام له قلم او ټیپ ریکارډر نه ویریږي او داسی فکر کوي چې کومه ورځ به دده څرګندونی دسند په توګه دهغه پر ضد استعمال شی. (۱۰)

ددې له پاره چې مقابل لوری له ټیپ ریکارډر نه ونه ویریږي (خصوصاً کم سنه ځوانان او ماشومان) باید فولکلوریست خپل آواز ټایپ کړي او نوروته یې واوروي څو د

۱۰ـ یادشوی اثر، ۱۳۰-۱۳۱ مخونه.

هغوي ويره ورکه شی او بیا کولی شی چی دوی په خبرو راولی او خپل ټاکلی مطالب ورڅخه ثبت کړي.

۵ـ کله چی یو فولکلور ټولوونکی یوې سیمی ته د فولکلوري مواد و د راټولولو له پاره ورځی باید دهغی سیمې دکلتوري ارزښتونو په باب معلومات ولري څو دخپل کار په جریان کی له ستونزو سره مخامخ نه شی.

دبیلګی په ډول په لغمان کی مشر ورور یاهم پلار ته دادا وایی، ددې په خلاف کندهاریان مشرې خورته دادا وایی. په همدې ارتباط زمونږ دسیمی یو مامور چی میا ګل نومیږي په کندهار کی له سختو ستونزو سره مخامخ شوی و.

یا مثلاً په اکثرو سیمو کی له ښځو سره خبرې نامناسبې ګڼل کیږي هغه هم چی یو پردی او بیګانه سړی یې کوي، په دې صورت کی باید فولکلور یست له سپین سرو ښځو او له خپلوانو ښځو څخه مواد راټول کړي.

همدارنګه په پښتنو کی ښایی داسی دود ونه هم وي چی نیغ په نیغه یې څوك دچا د پوښتنی په وړاندې ځواب ونه وایی کیدای شی چی دغسی مسایل د خبرو په ترڅ کی تر لاسه شي.

۶ـ فولکلور ټولوونکی ته لا زمه ده په هغه سیمه کی چی څیړنه کوي باید دهغی سیمی له لهجی سره بلدیت ولري. ځکه چی ډیر ځله له لهجی سره نابلدي دستونزو سبب ګرځی

(لکه پورتنی مثال چی وړاندې شو) یا یوبل مثال هم وړاندې کولی شو: زه یووخت په شاه شهید کی روان وم یو سړي راباندې غږ وکړ: " څوك یی؟ سړي ته چی ګورم سپین ږیری دی تقریباً (۷۰-۷۵) کاله عمر به لري هر څومره می چی فکر وکړ ومی نه پیژانده ، بیایی راته وویل چی څوك یی؟ ما په ځواب کی ورته وویل: زه .... پلانی یم، ده وخندل ... ځکه چی دده هدف دا و چی زه د پښتنو په کوم خېل پورې مربوط یم (ځائی یم، منګل یم او ....)

۷ـ پوښتونکی په ځینو مواردو کی کولی شی دکتنی او مشاهدې له لارې خپل معلومات بشپړ کړي، دمثال په ډول د اخترونو ، لوبو ، اتڼونو ، ودونو او ځینو نورو مراسمو داجرا په وخت کی کتونکی کولی شی خپل معلومات بشپړ کاندي دغه میتود نظر نوروته ځکه ښه دی چی کتونکی هر څه په خپلو سترګو وینی او هغه خالیګاوې چی موجودې وي ډکوي یې . دا لاره ددې له پاره ښه ده چی ځینی دودونه د خلکو په نظر مبتذل وي او له ویلو او تشریح کولو څخه یی ډډه کوي نو په دې وسیله یو فولکلوریست په دغسی مواردو کی دکتنی او مشاهدې په وخت مواد په ښه ډول ترتیبولی او ثبتولی شی. په دې برخه کی ځینی ټولنپوهان په دې عقیده دي چی هر سړی دخپل کلتور ړوند او دپردي کلتور په برخه کی سترګور دی.

۸_ دنکلچیانو، اتنیکی ډرامه ښودونکو او لوبغاړو د ژستونو ، حرکاتو، لهجی او دناستی ولاړې دچاپیریال په باره کی باید مفصل یادښتونه واخیستل شی. همدارنگه دامکان په صورت کی دې اتنیکی نڅاوې (لکه اتڼ) ، محلی لوبې او ځینی نور مراسم دعکاسی او فلم اخیستلو له لارې ثبت شی.

۹_ فولکلور ټولوونکی باید سامپل انتخاب کړي او دسروې له تکنیکونو څخه سمه استفاده وکړي.

۱۰_ فولکلور ټولوونکی چی په کومه سیمه کی څیړنه کوي باید دهغی سیمی تاریخی پس منظر،جغرافیوي موقعیت، دخلکو دژوند سطح، دسواد او تعلیم وضع او داسی نور معرفی کړي. هغه حق نه لري چی دیوې سیمی فولکلور له مقایسوي څیړنی نه پرته دنورو سیمو له پاره تعمیم کړي او یا د پښتنو دیوې قبیلی فولکلور دټولو قبایلو د فولکلور په نامه یاد کړي. (۱۱)

دبیلگی په ډول (په لغمان کی دواده دودونه) نو می اثر محترم لیکوال بې له دې چی په لغمان کی کومه مشخصه جغرافیایی سیمه په نظر کی ونیسی تر همدغه عمومی عنوان لاندې یی په حقیقت کی دخپلی سیمی دواده دودونه دخپل ذهن په مرسته لیکلی او په ټول لغمان یی تپلی دي. ښایی په

۱۱_ محمد صدیق روهی، فولکلور پیژندنه،۱۳۳ مخ .

زیاتره برخو کی به دغه دودونه یو ډول وي خو ځینی خاص او دکتنی وړ توپیرونه هم په کی لیدل کیږي.

۱۱_ فولکلور ټولوونکی باید بیلا بیل وریانتونه هم په نظر کی ونیسی او دخیړنی په ترخ کی هغه وښیی او په یوه ورینت بسنه ونه کړي، چی متاسفانه زمونږ اکثر فولکلور ټولوونکی دغه اصل ډیر لږ په نظر کی نیسی.

۱۲_داسی تصورونه شی چی ګوندې فولکلور ټولونه یوازې په ساحوي ریسرچ (څیړنې) پورې اړه لري. که څه هم سروې یا ساحوي ریسرچ دفولکلور ټولونی دپاره اساسی اهمیت لري خو کله کله ددې ضرورت احساسیږي چی باید له لیکل شوو آثارو څخه هم استفاده وشی. پر منظومو فولکلوري داستانونو برسیره ځینی څیړونکی دشاعرانو په دیوانونو او نورو آثارو کی دعامیانه فرهنګ بیلګی لټوي. دپښتو دکلاسیك شاعرانو له دیوانونو څخه ډیر زیات متلونه راایستل شوي دي. (۱۲)

۱۳_ دلته یو لړ پوښتنی مطرح کوو:

- فولکلور دیوې ډلی په واسطه ښه ټولیدای شی که دیوه کس په ذریعه؟

۱۲_ محمد صدیق روهي ، فولکلور پیژندنه ۱۳۴ مخ .

- دیوې سیمی فولکلور دهماغی سیمی داوسیدونکی شخص له خوا ښه راټولیدای شی او که دبلي سیمی داوسیدونکی له خوا؟

- فولکلور په رسمی توګه ښه راټولیدای شی او که په غیر رسمی توګه؟

داسمه خبره ده چی ډله ایز کاربه له یو کسیز یا ځانګړي کار څخه هر اړخیز او بشپړوي خو زمونږ دهیواد شرایطو او محیطی ستونزو ته چی وګورو نو هرومرو به دې نتیجی ته ورسیږو چی دفولکلور دراټولولو په برخه کی له یوې ډلی نه دیوه تن کار اغیزمن دی. ځکه ډله ایز کار ځینی موانع او ستونزې لري او دکار مخه یی نیسی او یو تن کولی شی چی ډیر فولکلور یك مواد په داسی ډول راټول اوویې څیړي چی څوك پرې پوه نه شی او مخه یی ونه نیسی.

دا چی دیوې سیمی فولکلور دهماغی سیمی اوسیدونکی راټول کړي او که دبلی سیمی اوسیدونکی؟ ځینی په دې نظر دي چی دهماغی سیمی اوسیدونکی ځکه مناسب دی چی دخلکو په ټولو کړو وړو بلد وي او خلك هم هماغه سړی پیژنی او هیڅ ترې نه پټوي او هر څه په څرګنده او بی پردې ورته وایی. خوځینی دهماغی سیمی سړی ځکه مناسب نه بولی چی هغه دهماغی سیمی دی او نه شی کولی چی ډیر و باریکیو اوجزئیاتو ته ملتفت شی نوځکه یی کار دقیق او درست نه راځی.

خو زمونږ دټولنی شرایط دا ایجابوي چی دهرې سیمی اوسیدونکی دخپلی سیمی فولکلور په ښه توګه راټولولی شی، نه دبلی سیمی اوسیدونکی، په دې شرط چی ټولو فولکلوري او کلتوري جزئیاتو او باریکیو ته ملتفت وي.

داچی په رسمی توګه یو څوك استول کیږي. خصوصاً چی رسمی لباس یې په تن وي او یاڅوك وربانديې وپوهیږي چی داسړی رسمی ورغلی دی، هېڅکله به یې هم کار اغیزمن نه وي.

۱۴_دفولکلور دټولولو په وخت کی دفولکلوریست له پاره دلاندنیو ټکو مراعات هم لازم او ضروري دی:

_ دچا له خوا ، په کوم ځای او کوم وخت کی ولیکل شو.

_ دکوځی ، کلی، ولسوالۍ او سیمی نومونه باید درج شی.

_ دلیکلو وخت دې ثبت شی.

_ دویونکی آدرس دې په دقیق ډول ولیکل شی. (۱۳)

۱۵_ دکلتوري او فولکلوري پدیدو د ضبط شرایط دادي چی: روایت، سندره او نور باید دیوه راوي له خولی ونه کښل شی. او فولکلور ټولوونکی باید چی‌راټول کړي مواد ددوویا

۱۳_ مصطفی نژدې ، پښتنی فولکلور، دافغانستان دعلومو اکادمی، دژبو او ادبیاتو مرکز، دولتی مطبعه، ۱۳۶۵ ، ۲۰-۲۱ مخونه .

دریواو حتی که امکان ولري دزیاتو روایانو په وسیله ثقه او کره کړي. بیا دې نشر ته وسپاري....([14])

دا وې په پورته ډول دفولکلور ټولوونکی ځانګړنی او مشخصات چی په لنډه توګه دا پکی څرګنده شوه چی فولکلور باید څوك راټول کړي او فولکلور ټولوونکی باید کوم مشخصات ولري. که څه هم په دغو معلوماتو کې به ځینې تکراري ټکی هم تر سترګو کیږي خو په ځینو ځایوکې یا د مجبوریت او یاد تاکید په منظور ځینې برخې ښایی مکررې راغلې وي او له بلی خوا دغه معلومات به له هره اړخه او سل په سلو کی مکمل هم نه وي.

ج_ دفولکلور ټولونی روشونه او تکنیکونه :

سرمحقق محمدصدیق روهی دفولکلور ټولونی درې عمده تکنیکونه : مرکه ، پوښتنلیك او کتنه بولی.

۱_ مرکه:(Interview)

په پښتو ژبه کی مرکه دجرګی په مانا هم راځی. خو دلته مرکه دسروې دیوه تکنیك په توګه هغو خبرو اترو ته ویل کیږي چی دیوه ټاکلی هدف په رڼا کی دسمو او باوري

۱۴_ زلمی هیواد مل، دپښتنی فولکلور ټولونی ربړې... دافغان یاد (دمقالو مجموعه) دکابل پوهنتون دژبو او ادبیاتو پوهنځی،دولتی مطبعه، ۱۳۶۰ . ۱۵۲ مخ.

معلوماتو دراغونډولو له پاره له یوه یاډیرو کسانو سره کیږي. ([15])

_ مرکه؛ ددووکسو ترمینځ چی شخړه او اختلاف پیدا شی، نو دمرکی په وسیله دغه اختلاف حل کیږي: مرکه په ولسی سویه دقضایی صلا حیت خاونده مؤ سسه ده چی دمدعی او مدعی علیه ترمنځ پر دعوه اظهار نظر کوي په مرکه کی مرکچی دنرخی په مشوره فیصله صادروي.

دمرکی اوجرګی توپیر دادی چی جرګه په لویو قومی مسایلو کی پریکړې(فیصلی) کوي او مرکه په عادي قبیلوي مسایلو کی جوړیږي. مرکه پر دوه ډوله ده چی یوې ته دژبی د ښوریدومرکه وایی او بلی ته دواك مرکه وایی دژبی دښوریدو په مرکه کی دواړه مقابلی خواوې دلایل وایی او مرکچیانو غوږ ورته نیولی وي خو دواك په مرکه کی مدعی او مدعی علیه واك مرکی ته ورکوي اودهغی فیصله به منی. ([16])

په پښتو ژبه کی مرکه د تولنی ، جرګی، ډیالوګ او مصاحبی په مانا راځی... په لرغونی یونان کیدمرکی فن د (سوکرات) فیلسوف له خوا تعمیم شوی دی. (سوکرات) به

۱۵_ فولکلور پیژندنه ، ۱۳۶ مخ .

۱۶_ محمد ابراهیم عطایی، دپښتنی قبیلو اصطلاحی قاموس، دپښتو څیړنو بین المللی مرکز، دولتی مطبعه، ۱۳۵۷- ۲۵۱ مخ .

کوښښ کاوه چې دمرکې په ترڅ کې مقابل لوري (سيال) ته ماتې ورکړي... ([17])

همدارنګه په پښتو ژبه کې (مرکه) په مختلفو مګر سره ورته معنا ګانو استعماليږي. دجنوب ختيځې سيمې پښتانه (مرکه) دولسي خلکو هغې با صلاحيته غونډې ته وايي چې دقبيلوي نظام له دستور سره سم دېوې لانجې دپريکولو يا دکوم تړون دمنظور ولو دپاره جوړه شوي وي. په ځينو نورو پښتنې سيمو کې د(Dialogue) په معنى هم راځي. همدارنګه مرکه د (انجمن) يا (ټولنې) مراد فه هم ګڼل شوې ده. ليکن په دې وروستيو وختوکې (مرکه) زياتره دمصاحبې دپاره استعماليږي. ([18])

دفولکلور ټولونې په کار کې مرکه په همدغه وروستۍ معنى په کاريږي. بايد وويل شي چې له مرکې څخه دپوهنو په نورو څانګوکې هم کار اخيستل کيږي په تيره بيا درواني ناروغانو په تداوي، استشارې ، شخصيت پيژندنې ، سياسي تبليغاتو او داسې نورو کې هم کار اخيستل کيږي. خو دلته زمونږ هدف له هغې مرکې څخه دی چې د سروې ديوه تکنيك په توګه هغو خبروته ويل کيږي چې ديوه ټاکلي

۱۷_ محمدصديق روهی، دځيړنې لارښود ، پښتو ټولنه ، دولتی مطبعه، ۱۳۵۴ - ۱۰۲-۱۰۳ مخونه.

۱۸_ محمدصديق روهی، دادب او فولکلور په باره کې ، دولتی مطبعه ، ۱۳۶۵-۹۹ مخ .

هدف په رڼا کی دسمو او باوري معلوماتو دراغونډولو دپاره له یوه یا ډیرو کسانو سره کیږي.
دفولکلور ټولونی په کار کی مرکه له بل هر تکنیك نه غوره ښکاري.

" فولکلوري مرکه کله محدوده وي یوازې د(هو) یا (نه) یا دغه شانته کوم بل لنډ ځواب غواړي په ځینو وختو کی مرکه آزاده وي. که فولکلوریست غواړي چی د یوې موضوع په باره کی مفصل معلومات په لاس راوړي ښایی چی آزاده مرکه دده مطلب په ښه توګه ترسره کړي. اما که فولکلوریست غواړي چی دیوه ټاکلی دود دښه والی او بدوالی په باب عامه ذهنیت ځانته معلوم کړي او مثبت یا منفی نظریی په کاروي په دې صورت کی محدوده (پلان شوې) مرکه ګټوره برینښی . کله کله مبتدي مرکچی دپوښتنی په وخت کی اشتباه کوي دمثال په توګه دا لاندې پوښتنی وګورئ:

_ ستاپلارخو کلن دی؟ (ښایی دده پلار وفات شوی وی)
_اولاد لرې؟ هو . واده دې کړی دی؟ (بی نزاکته او نامعقوله پوښتنه ده)
_ستا ددې خبرې فلسفه څه ده ؟ (ښایی مخاطب دفلسفی په مفهوم ونه پوهیږي.)

ـ ستاکچالو او منی خوښیږي؟(دوې مفکورې په یوه جمله کې راغلی‌دي) اوداسی نورې پوښتنی.

پوښتونکی نه یوازې دا چې ددغسی نیمګړ و او ناوړه پوښتنو له کولو څخه ډډه وکړي بلکی ښایی دموضوع په انتخاب کی دغو لاندې ټکو ته هم پاملرنه وکړي:

۱ـآیا دڅیړنی موضوع کوم نوي معلومات وړاندې کوي او که دپخوانیو څیړنو تکرار دی؟

۲ـ ایا دڅیړنی موضوع په دې ارزي چې خلکو ته دمرکی دپاره مراجعه وشی؟

۳ـپوښتیدونکی ته باید دموضوع اهمیت څرګندشی. فولکلور ټولوونکی باید اوریدونکی په دې متیقین کړي چې دمرکی موضوع په دې ارزي چې خبرې ورباندې وشی.

۴ـ پوښتیدونکی ته با ید ډاډ حاصل شی چې د مرکی له موضوع څخه ناوړه استفاده نه کیږي او هغه ته کوم زیان نه متوجه کیږي.(*)

۵ـ پوښتیدونکی باید احساس وکړي ناچاره و دخپلو معلوماتو دبشپړولو دپاره ده ته مراجعه وکړي....

۶ـ پوښتنی څرګندې ، بشپړې او دمنلو وړ وي.

---

*ـ زما یو دوست یو وخت له خپل ماما سره خبرې کولی خو په عین زمان کی یی خپل ټایپ هم دلاس وهلو په پلمه کوك کړی و، دخبرو په پای کی یې فیته له سره کړه او ټایپ یی چالان کړ. زما ددوست ماما دخپلو خبرو په اوریدو سخت خواشینی او خفه شو او حتی خپل خوریي ته یی بدرد هم وویل. (لیکوال)

۷_ پوښتونکی باید له دغسی پوښتنو څخه ځان وژغوري چی دعقاید و دتفتیش بڼه ولري او دپوښتیدونکی په خصوصی ژوند پوري اړه پیدا کوي.

۸_ پوښتونکی باید د پوښتنو روحیاتی ترتیب په نظر کی ونیسی.

۹_ له مرکی څخه لاس ته راغلی جوابونه باید دتصنیف، تعمیم او تفسیر وړ وي. کله چی دکثرت(فریکونسی) او تکرار مسئله په منځ کی وي باید دشمیر څیړنی (احصایی) عملیات ورباندې اجرا شی. ([19])

هغه علمی موسسی چی په هغو کی ساحوي ریسرچ ته اړتیا لیدله کیږي او دغه کار ددوي دڅیړنو ځینی برخی بشپړوي دوی ته لا زمه ده چی دمرکی له پاره داسی کسان انتخاب کړي چی سالمیت، علمی بیطرفی او جذابیت ولري یعنی وکولی شی په محیط کی له خلکو سره نیك روابط وساتی، دخلکو توجه جلب کړي، د خلکو اعتبار او باور په ځان پیدا کړي. ددوستانو په پیداکولو کی مهارت ولري او په دې وپوهیدای شی چی مقابل لوری څه ډول تمایلات لري.

۱۹_ محمد صدیق روهی، فولکلور پیژندنه، ۱۳۶-۱۳۹ مخونه .

مرکچی (*) باید دومره کمزوری نه وي چی مقابل لوری یې په زړه وپوهیږي او دهغه په میل او خوښه خبرې وکړي. بله خبره داده هغه څوك چی مرکه کوي باید مخکی له مخکی په اصولو ځان پوه کړي او باید مقدماتی مطالعه ولري.

۲_ پوښتنلیك:

کله چی فولکلور ټولوونکی له تعلیم یافته کسانو څخه معلومات ټولوي هغه کولی شی د پوښتنلیك له تکنیك څخه کار واخلی. پوښتنلیك دسروې یوه معمولی وسیله ده .

هر تکنیك که دمرکی تکنیك دی او که دپوښتنلیك او یا مشاهدې او کتنی هر یوپه خپله برخه کې موثر دی. فولکلور ټولوونکی باید دې ټکی ته ملتفت شی چی دکومی موضوع په ارتباط کوم تکنیك مؤ ثر دی باید له هماغه تکنیك څخه کار واخلی، دبیلګی په ډول دواده مراسم ، داتڼ نڅا د مشاهدې له لارې په ښه توګه معرفی کیدای شی او فولکلور یست کولی شی له دې لارې خپل معلومات راټول کړي. خو پوښتنلیك بیا په بیسواده ټولنه کی دګټی پرځای ښایی تاوان پیښ کړي پوښتنلیك دتاوان ترڅنګ ګټی هم لري

(*)_ مرکچیانو ته په ځینو ځایو کی تولګر هم وایی او جرګه مارهم دغه دمرکچی مفهوم ورکوي مرکچی په خپل سر حکم نه شی کولی بلکی دده په اړخ کی ناست نرخی څخه به پوښتنه کوي او دهغه مطابق حکم کوي. (اصطلاحي قاموس ۲۵۰ مخ) په فولکلور ټولونه کی مرکچی دمصاحبه کوونکی په معنی راځی.

دمثال په ډول په یوې لرې فاصله کی چی مونږ هلته دمرکی له پاره نه شو تللی دپوښتنلیکونو لیږل هم په اقتصادي لحاظ ښه تمامیږي او هم له دې لارې ډیر مواد لاس ته راتلای شی.

" له پوښتنلیك څخه هغه وخت دمرکی په نسبت مطلوبه نتیجه لاس ته راځی چی په سمپل کی دشاملو کسانو نوم او پته چاته نه معلومیږي او یا پوښتیدونکی ته پوره ډاډ حاصل شی چی دده هویت نه افشا کیږي. دغه ډول پوښتنلیکونو ته پوښتل شوي کسان سم ځواب ورکوي... دپوښتیدونکی د ډاډ له پاره باید پوښتنی په داسی ډول ترتیب شی چی دهغه دهویت دپیژندلو نښی په کی نه وي....

دپوښتنلیك نیمگړ تیا داده چی پوښتونکی دځواب ورکوونکی دبی میلی او ځان تیرولو حدود نه شی ټاکلی په داسی حال چی مرکه کوونکی کولی شی دمقابل لوري دشوق اوعلاقی اندازه ځان ته معلومه کړي ....

دپوښتنو دباوري توب دمعلوموملو دپاره لازمه ده چی هماغه پوښتنی په څه طریقه بیرته یو شمیر پخوانیو ځواب ویونکو ته ورکړی شی او ددوی بیا ځلی ځوابونه له مخکنیو ځوابونو سره پرتله شی او داحصائیوي عملیې په واسطه یی دباوریتوب فیصدي وټاکله شی.

پوښتنلیکونه هم دمرکی په شان آزاداو محدود ډولونه لري. دآزاد پوښتنلیك یوه ښیگڼه داده چی پوښتونکی ته

څلورم څپرکی

دځواب ورکوونکی دخپلی خوښی واقعی ځواب څرګندیږي.
او ډیر ځله پوښتونکی ته داسی تیاره اړخونه هم روښانه کیږي چې پخوایې په فکر کې نه ګرځېدل، په داسې حال کی چی دمحدودو پوښتنو ځوابونه په اسانی تصنیف کیدای شی دآزادو پوښتنلیکونو تصنیف ، تعمیم او تفسیر اسانه کار نه دی" ([20])

۳_ کتنه:

دسروې یو بل تکنیك کتنه ده ... تکراري استنادي څیړنی او کتنه د تحلیلی سروې دپاره زیات اهمیت لري. په فولکلور ټولونه کی له کتنی څخه هم په زیاتو مواردو کی کار اخیستل کیږي. دعوامو دفرهنګ پر مادي توکونو برسیره دمراسمو، شعایرو، جشنونو ، لوبو ، نڅاوو ، اولسی ډرامو او نورو دمطالعی دپاره له کتنی څخه زیاته استفاده کیږي. ([21])

ددې موضوع په ارتباط په تیرو پاڼوکی څرګندونی شوي دي نو ځکه دلته په همدغی لنډې یادونه بسنه کوو.

۲۰_ فولکلور پیژندنه ، ۱۳۹- ۱۴۲ مخونه.
۲۱_ پورتنی اثر، ۱۴۲ مخ.

دفولکلور ټولونی او څېړنی پسمنظر ته عمومي کتنه

دموضوع يو تاريخي جاج

مخکی له دې چې په افغانستان کی دفولکلور ټولونی او څېړنی (*) په باب خبرې وکړو، ددې په څنګ کی بايدداهم روښانه کړو چې په اساسی ډول د پښتو ادب ته کله پاملرنه شوې؟ په نړيواله سطحه د فولکلور ټولونی او څېړنی دچارو په باب يو اجمالی نظر او بالاخره په افغانستان کې د فولکلور ټولونی او څېړنی دهڅو په باب کرونو لوژيکه څېړنه ، چې په دې برخه کی به دعلمی مؤسسو او دفولکلور پر ځينو ادارو

(*)ديادنی وړده چې زمونږ په هيواد کی لاتر اوسه دفولکلور څېړنی په باب ډېر کارونه ، نه دې تر سره شوي، خو بيا هم ورڅخه سترګی نه شو پټولی. زه به په دې ليکنه کی هڅه وکړم چې تروسه وسه په دواړو برخو رڼا واچوم. دا هم بايد زياته کړم چې فولکلور ټولونه او فولکلور پيژندنه يو له بل سره توپير لري.

برسیره دځینو مشهور و فولکلور ټولوونکو هڅی هم له یاده ونه باسو.

لومړی به دپورتنیو موضوعاتو په ارتباط لنډې خبرې وکړو، چی وروسی به دپښتنی فولکلور ټولونی په باب هلی ځلی او په دغه ارتباط به داړوندو موسسو او دپښتو ژبی دځینو خوا خوږو فولکلور پوهانو په باب خبرې وکړو.

دغه موضوع به له عمومی خبرو وروسته ددریو سر لیکونو په ترڅ کی وڅیړله شی:

۱ـ ختیځ پوهان او پښتنی فولکلور.

۲ـ په افغانستان کی د پښتنی فولکلور ټولونی پیل.

۳ـ په لره پښتونخوا کی دپښتنی فولکلور ټولونی هڅی.

مخکی له دې چی دغه درې سرلیکونه وڅیړو د سریزې په توګه به په دې برخه کی چی په اساسی ډول پښتوژبی او ادبیاتو ته کله دمشرانو او پوهانو پاملرنه او توجه را اوښتی ده ، خبرې پیل کړو.

هسی خو دپښتو ژبی دادبی پانګی دخوندي کولو له پاره په منظمه توګه دهوتکیانو په دوره کی څه ناڅه توجه شوې ده ، چی زمونږ ددې ادعا ثبوت په هغه وخت کی دنوروفرهنګی خدمتونو ترڅنګ د پټې خزانی لیکل او موجودیت دی. دهمدغی خزانی په استناد په ډاګه شوې ده چی په همدغه وخت کی به دنارنج په مانۍ کی د

ادباووغونډه جوړيدله او په خپله شاه حسين هوتك به هم برخه په كې اخيستله. په دغو غونډو او نورو علمي- ادبي فعاليتونوبرسيره مشاعرې هم كيدلې. زمونږ يو محقق په همدې اړه ليكلي دي:

" په افغانستان كې د پښتو لومړنۍ منظمې ادبي غونډې چې تاريخ يې راښيي هغه غونډې دي چې هره هفته دشاه حسين هوتك له خوا دكندهار په سلطنتي كتابتون كې دده په مشرې جوړيدلې،دكندهار علماو او ادباو به ګډون په كې كاوه، ادبي او علمي بحثونه او مشاعرې به يې كولې او دپټې خزانې دياودونې له مخې په دې ټولنه (ادبي دربار) نوم ايښودلې شو." (١)

په پټه خزانه كې دغې موضوع ته داسې نغوته شوې:

" پادشاه عالم پناه په ارګ كې دقندهار، هغه قصر چې نارنج باله شي، هلته په هفته يوه ورځ دربار كا په كتب خانه مجلس كې علما جمع كيږي او فضلا ټولوي." (٢)

همدارنګه دلوی احمدشاه بابادواكمنۍ په دوره كې چې په خپله هم د پښتو ژبې شاعراو ليكوال و، د پښتو ژبې پرمختيا ته لږ پاملرنه شوې ده او ددغې زمانې يو شمير آثار

١_ حبيب الله رفيع، ژبپالنه، دژبو او ادبياتو مركز، ګوندي مطبعه١٣۶١، ٧٧ مخ.

٢_ محمد هوتك، پټه خزانه(دپوهاند حبيبي په تحشيه او ...) دپښتو دانكشاف او تقويې رياست، دولتي مطبعه، ١٣۵۴-۵۶ مخ.

لکه دپیر محمد کاکړ معرفة الافغانی، داحمد شاه بابا دیوان او نور تر مونږه رارسیدلی دي خو په دغه وخت کی دپښتو ژبی له پاره کومی خاصی او منظمی هڅی ماته نه دي معلومی.

په همدې ډول دامیر شیرعلی خان په وخت کی هم یو شمیر عسکري اصطلاحات او قوماندې په پښتو شوي چی تر اوسه دافغانستان په وسله وال پوځ کی دود ، دي.

" ... په دې برخه کی اساسی او بنیادي ګام هغه وخت اخیستل کیږي چی په افغانستان کی یی مورخین دریفورم او اصطلاحاتو دوره بولی. دا وخت دهیواد دیوه خوا خوږی ټولواك امیر شیر علی خان دواکمنۍ دوهمه دوره وه. دا امیر لومړی ځل په(۱۸۶۳ ع) کال دهیواد واکمن شو او په همدې وخت کې د هیواد دلوی عالم او فیلسوف علامه سیدجمال الدین افغان خپل اصلاحي نظریات په لیکلی ډول ورته وسپارل په دې سپارښتنو کې د پښتو پرمختیا او په رسمی چارو کې دودیدل هم شامل و خو ده د کورني اړو دوړله امله ونه کړای شول چې دعلامه پروګرام تطبیق کړي اوپه ۱۲۸۲ ه ق - ۱۸۶۶ ع کې امیرمحمد افضل خان واکمني ترې ونیوله کله چې په ۱۲۸۵ ه .ق -۱۸۶۵ ع کال کی امیر شیر علی خان یو ځل بیا دافغانستان واکمن شو نو داصلاحاتو د یادشوي پروګرام عملی کول یی پیل کړل، د کابینی پر

جوړولو، دعسکري رتبو پر تاکلو، دمطبعو پر راوړلو . داخبارپر ایستلو ، دښوونځیو ، عصري ښار، عصري سړکونو او نور و پررامنځ ته کولو سر بیره یی د پښتو پاللو او رسمی کولو ته هم لاس اوږد کړ، ده لومړی دپښتو نو مونو دټاکلو او اینبودلو له پاره د اروانباد سید نور محمد شاه صدراعظم په مشري یوه کمیټه جوړه کړه او لاربنودنه یی ورته وکړه چی دنومونو په اینبودلو او جوړولو کی د (عام فهمی) اصل په نظر کی ولري، ددې کمیټی ډیر مهم او فعال غړی قاضی عبدالقادر پیښوری وچی دقاضی قادر و په نامه مشهور و. دنوم اینبودنو او اصطلاحاتو جوړولو پروگرام ډیر ژر نتیجه هم ورکړه او په لومړۍ مرحله کی د توپخانی او پلو او سورو عسکر و دبولیو درې توکه کتابونه له انگریزی څخه دقاضی قادر په وسیله په پښتو راواړول شول او ټولی انگریزي بولۍ یې په خوږه او روانه پښتو ترتیب کړې چی په عسکري کی یی زده کړه پیل شوه ...." (۳)

ویل کیږي چی د امیر عبدالرحمن خان په وخت کی هم ځینی پښتو عریضوته ، پښتو ځوابونه لیکل کیدل. " دامیر عبدالرحمن خان (۱۲۹۷-۱۳۱۷ ه .ق) په وخت کی هم پښتو عریضو ته دعرض بیگی له خوا پښتو جواب کښل کیده . لکه د حاجی محمد اکبر هوتك(۱۲۳۸-۱۳۱۷ ه .ق) پښتو

۳_ژبپالنه، ۴۶ مخ .

منظومی عریضی ته دملا محمد (۱۳۰۵ ش مړ) عرض بیګی منظوم پښتو جواب...."([۴])

تر دې ځایه مو په څولنډ و ټکو کی دموضوع په باب یو اجمالی نظر واچاوه چی ددې ټکو یادول هم ضروري وو، خو تفصیل یې دلی نه ځایږي. اوس راځو دې خبرې ته چی په اساسی توګه دغه ادب ته څه وخت پاملرنه شوې او په دې ارتباط څه پریکړې شوې دي؟

" زمونږ دادب په معاصر تاریخ کی د پښتو ژبی او ادب له پاره دمنظم او پرله پسی نغښتی کار پیل دامانی غورځنګ (۱۳۳۷- ۱۳۴۷ ه.ق) په لس کلنی دورې پورې اړه لري. په دې دوره (کی) ددغی ملی ژبی دودې او روزنی له پاره په رسمی توګه د (مرکه د پښتو) په نامه موسسه جوړه شوه. ددغی مؤسسی د تاءسیس کال(۱۳۰۱ ه. ق) و ، چی په (۱۳۰۲ ه .ق) کال دافغانستان داساسی تشکیلاتو د نظامنامی په (۴۷) ماده کی د پوهنی دوزارت ددریم ریاست په توګه ومنل شو او دهمدغی نظامنامی د (۵۵) مادې له مخی یی وظیفه د پښتو ژبی داصولو او قواعدو ضبط او تدوین او ددرسی کتابونو ترجمه او نقلول ښوول شوي دي.([*])

۴_ غلام جیلا نی جلالی، دپښتو ځانتنی ادب او موسیقی، دزلمی هیوادمل سریزه، دافغانستان دعلومو اکادمی، دښوونی او روزنی مطبعه، ۱۳۶۰، ۱ مخ

(*)_ " دامانی فرهنګی رفورم په لړ کی چی په (۱۳۰۱) کال (مرکه دپښتو) جوړه شوه نو دهغی ټولنی دیو غړي قاضی ګل احمد له خوا د (یوازنۍ پښتو) تر *

سربیره له دغی مرکی د هیواد په ځینو سیمو کی جرایذ و هم په خپرونو پیل وکړ چی پښتو منظومو او منثور و ټوټو هم په کی دچاپ موقع درلوده په امانی دوره کی په پښتنی سیمو کی د پښتو عریضو کښلو هدایت دپاچا له خوا ورکړ شو او هغه عریضی به چی پاچا ته له دغو سیمو ورتللی، ځواب به یی په پښتو لیکل کیده . دطلوع افغان ، (۱۳۰۰ ش) کال په (۴۴) ګڼه کی داعلیحضرت امان الله خان یو پښتو فرمان چاپ شوی، چی دپورتنیو خبرو دثبوت ملا تړ کوي. دغه نهضت د پښتو آثارو د نشرله پاره قسماً کار وکړ، اودپښتو دودې دمعاصر نهضت پیل هم له دې وخته وشو. تر (۱۳۰۰ هـ . ق) کال وروسته ورو ورو په لره او بره پښتونخوا کی دځوانی‌ مراحلو ته داخل او پر له بشپړیدونکی او دپرمختیا په حال کی شو. دپښتو معاصر ادب د پیل دوره هم ځینی ادبی مؤرخین له همدغه مهاله ګڼی." (۵)

که دغه لړی همداسی ترننه پسی تعقیب او وڅیړو، زما په فکر: اصلی موضوع به راځخه پاتی شی. زه فکر کوم چی (مشت نمونه خروار) وګڼو او دلته په همدې لنډه یادونه

---

* نامه لاندې چی کوم اثر خپور شو په هغه کی د نوروموضوعاتو په اړخ کی یو شمیر داسی موضوعات هم شامل وچی دفولکلور سره اړه لري. "
(فرهنګ مردم، د ۱۳۶۴ کال ۳-۴ ګڼه، ۱۲۶ مخ ، دمحمد ابراهیم عطایی مقاله)

۵_ دپښتو ځانتی ادب او موسیقی، ۱-۲ مخونه .

بسنه وکړو. که چیرې دا موضوع دڅېړنې په بهیر کې تر ننه پورې راوسپړو ، دیوه جلا اثر دلیکلو ایجاب کوي.

اوس به په خپلې اصلي موضوع چې دفولکلور ټولونې او څېړنې پس منظر دی پیل وکړو. لومړی به په دې وغږېږو چې فولکلور ته لومړی کله او چیرته د پوهانو توجه وروابښته او په څه ډول دغه موضوع دنورو هیوادو او سیمو دپوهانو د توجه وړوګرځیده.

" څه وخت چې دفولکلور په باب ږغیږو زموږ نظر له روه، داروپایی ژبو او ادبیاتو ته لاړسی، ځکه چې اروپایی پوهانو او دژبو سکالرانو تر هر چا دمخه په دې میدان کې علمي پلټنې کړې دي او بیا یې وروسته د نورو پاملرنه دغه لورته راګرځولې ده . باید ووایو چې ډبلیو- جې ټامس (W.J. Thoms) لومړی انګریز پوهاند دی، چې په اګسټ کال (۱۸۴۶) عیسوي کې دفولکلور (Folk-Lore) ټکی استعمال کړ. دغه ادبی اصطلاح دوې برخې لري، لومړۍ برخه یې فوك (Folk) او دوهمه برخه یې لور(Lore) ده فوك دخلکو په معنی استعمالیږي او لوردپیژندنې مطلب ښندي. په لنډ ه توګه موږ ویلای شو چې فولکلور هغه ساینس (*) دی چې دیوې ټولنې دخلکو په روایاتو (Traditions) دودونو

(*)_ کاندید اکادیمسن محمد صدیق روهی په خپل اثر فولکلور پیژندنه (۸) مخ کې لیکلي دي: "هغه کسان چې (لور) دپوهی او حکمت په مانا ترجمه کوي باید دا ټکی په پام کې ونیسي چې (لور) علمی پوهه نه ده . بلکې له هغې څخه مراد عنعنوی ډوله عامیانه او تقریباً تاریخ وهلی پوهه ده . چې دمعاصرو پوهنو (ساینسونو) له پرنسیپونو او موازینو سره سمون نه خوري دفولکلور اساسی صفت دهغه عنعنوي توب دی. "

(Costumes) ، طرز تفکر(Way of the Thinking). عاداتو (Habits) ،عقایدو (Beliefs)، ثقافت (Culture) ، تمدن روحیاتو او په ادبی تاریخ (Literary History) پورې نیغه اړه لري.

دلته باید دا خبره هم په ګوته کو چی په (۱۵) او (۱۶) پیړۍ کی دیونان (Greece) او روم (Room) پوهانو دفولکلور په ډګر کې ښې خوندورې څیړنی کړي دي چی نومونه یی په دې ډول دي لکه هیرو ډوتس (Herodotus) ،لیوي (Livy) او پلائینی (Plliny) دغه راز په اوولسمه او اتلسمه پیړۍ کی دانګلستان رابرټ برتن هم دفولکلور په میدان کی ډیرې ژورې څیړنی کړي دي او بیا څه وخت چی انسانانو په نولسمه پیړۍ کی قدم کښیښوو. نو دانګلستان پوهانو په ډیر دقت سره دادبیاتو فولکلوري اړخ ته خپله پاملرنه وګرځوله او په دې لړ کی یی دفولکلور یوه ټولنه (Folklore Society) تشکیل کړله چی لومړی ډایرکټر یی ډبلیو جی- ټامسن او سرلارینس (Sir Lourence) یې اعزازي سکرټر مقرر شو.

په دې توګه لیکوالو په ورځپاڼړو(ورځپاڼو) او مجلو کی لیکنی پیل او دفولکلور ریکارډ (Folklore Record) په نامه یوه ادبی مجله منځ ته راغله چی دخلکو پاملرنه یی خپل لور ته ورجلب کړه . لنډه دا چی فولکلور یو زوړ ادبی تاریخ لري چی په لنډ ه توګه بیان شو. دا وخت هم په لندن کی یوه

مجله خپرېږي چې دی فورلکلور ژورنال (The Folklore Journal) نومیږي او دغه راز (The Journal of Folklore) جهانی شهرت لري. " (۶)

په دې ارتباط په بیلا بیلو آثارو کی په تفصیل سره خبرې شوي، چی زیاتره له یو څه تغییر پرته سره مشابه هم دي. نو له همدې امله دلته دټولو دنظریو له راوړلو څخه صرف نظر کوو او دځو تنو پوهانو له آثارو څخه په استفاده به خپلی څیړنی ته دوام ورکړو.

کاندیداکادیمسن محمد صدیق روهی دخپل اثر (فولکلور پیژندنه) په یوه برخه کی لیکی: "... په اوولسمه پیړۍ کی په اروپاکی دفولکلور ټولونی په برخه کی سیستماتیك او شعوري کار پیل شوی دی. (John Aubrey) په (۱۸۸۶-۱۸۸۷) کلونو کی دخپل وخت یو زیات شمیر خرافات او دودونه ولیکل چی په (۱۸۸۱م) کال کی ورته دچاپ زمینه برابره (اود) (Henry Bourne Populur intiquities) په نامه خپور شو. په دې کتاب کی دانګلستان دبزګرانو عنعنی او موسمی شعایر شرح شوي دي. همدارنګه (جان برانډ) او نورو پوهانو د فولکلور په باب آثار خپاره کړي دي.په نولسمه پیړۍ کی جرمنی پوهانو (یاکوب ګریم) او دده

۶ـ ولی محمد خان سیال کاکړ، پښتني فولکلور، کوټه، ۱۹۷۱ م، ۷-۱۰ مخونه.

ورور (ویلهلم گر یم) دفولکلورپیژندنی په برخه کی تیوریکی څیړنې وکړې. انګریزي پوه (ټامس رابټ) په خپل اثر کی دادبی نوښت او په هغه کی د نکلونو داغیزې موضوع وڅیړله.

د(و.ج. ټامس) په مشري په لندن کی د فولکلور ټولنی له تاسیس نه رووسته فولکلور پیژندنه ډیره باب شوه او په یو زیات شمیر اروپایی هیوادو کی دفولکلور څیړنی مؤسسی او مرکزونه جوړ شول.

دفولکلوري موادو ټولونه نه یوازې داکاډمیك انټرسټ او علا قه مندي له مخی پیل شوه بلکی دهیواد پالنی او دملی تشخص احساساتو هم پکی مهم نقش درلود. فولکلوریستانو زیار ایسته چی فولکلوری اسناد او معلومات دورکیدوله خطر نه بچ کړي. (۷)

په دغه وخت او زمان کی دفولکلور څیړنه نه یوازې دا چی په انګلستان ، جرمنی، فرانسه او نورو اروپایی هیوادو کی محدوده پاتی نه شوه بلکی برسیره پر دې چی په دغو هیوادو کی ورته زیات کار وشو او په اساسی ډول دفولکلور ټولونی او څیړنی ته دپوهانو پام ورواوښت، په نورو هیوادو

۷_ محمد صدیق روهی، فولکلور پیژندنه ، دافغانستان دعلومو اکاډیمی، دژبو او ادبیاتومرکز، دولتی مطبعه، ۱۳۶۵ ، (۳۸) مخ.

کی هم دغه کارته پاملرنه وشوه او پوهانو دفولکلوري مواد و په ټولولو او څیړلو پیل وکړ.

په پخوانی شوروي اتحاد کی (چی هلته زیاتره له فولکلور څخه مراد دعواموشفاهی ادبیات دي) هم دفولکلور ټولونی او څیړنی کار ته توجه وشوه.

" و.گ، بلینسکی دروسیی دنولسمی پیړۍ دانقلابی دموکراتانو د فولکلور پیژندنې مؤ سس گڼل کیږي. ده دعوامو د بدیعی تخلیقاتو په برخه کی دسامبریستاتو او پوشکین عنعنه صیقل کړې او څلا نده کړې ده . په نولسمه پیړۍ کی دروس روښانفکره او مترقی قشر له خلکو سره دسمپاتی دڅرگند ولو په ترڅ کی دهغو د فولکلور اصیلو او دموکراتیکو ارزښتونو ته متوجه شول. دهغومثبت اوروښانه اړخونه یی له ایرو څخه پاك کړل او تیوریکی بنستونه یی ورته کیښودل..."(۸)

همدارنگه چرنیشفسکی د شفاهی ادبیاتو او ښکلا پیژندنی په باره کی دیادونی وړ لیکنی کړي دي. ده په دې ټکی ټینگار کاوه چی دعوامو بدیعی ایجادیات باید دهغو په مشخصه تاریخی قرینه کی تر څیړنی لا ندې ونیول شی،

---

۸ ـ پورتنی اثر ، ۳۹ مخ .

بالعکس که شفاهی ادبیات له تاریخی زمینی نه د باندې مطالعه شی خپل مفهوم او ارزښت له لاسه ورکوي.... ([۹])

همدارنګه دشوروي اتحاد یوه وتلی لیکوال ماکسیم ګورکی خو دلفظی هنر پیل په فولکلور کی لټوي. فکرکوم چی دفولکلور څیړنی د عمومی پسمنظر له پاره به تر یوه حده دغه څیړنه بس وی.

اوس خپل پام دې ټکی ته راګرځوو چی زمونږ په ګران هیواد افغانستان کی دفولکلور ټولونی او څیړنی کار په عام ډول، دکومو خصوصیاتو په لرلو سره پیل شوی اوپه میتودیک ډول ددغو چارو د سر ته رسولو سابقه تر کومه ځایه وراندې ځي.

ددې موضوع په ارتباط باید تر هر څه دمخه په دې وپوهیږو چی زمونږ فولکلور څومره ځنډن دی، که څه هم ددې خبرې پوخ ثبوت او څرګنده نیټه معلومول څه اسانه خبره نه ده او داکار به امکان هم ونه لري خو په دې باب به دیو شمیر محققینو خبرې راواخلو چی ددغه فولکلور د لرغونتوب په اړه یی کړي دي.

" دا یوه تشه دعوه نه ده چی افغانستان دلرغونی آریایی تمدن او لرغونی فولکلور زانګو بولی. آریایی لرغونی قبایل چی لا په خپل لومړي ټاټوبی ، بلخ، پامیر، دهندوکش

۹_هماغه ماخذ. ۴۰ مخ.

په لمنو او دافغانستان په نورو سیمو کی میشته وو، روښانه تمدن یی لاره فولکلورچی (د) اولس ذپوهی معنی لري داولس دعینی او ذهنی شرایطو ځرګندوی دی.

دپخوانیو آریائیانو داولسی پوهی آثار له هر څه زیات په اویستا کی پاتی دي خو دمحققینو وروستی تحقیقات وایی چی زمونږ تر عصره رارسیدلی آریایی اولسی پوهه(فولکلور) ددو سلسلو پاتی شونی دی:

الف_ دباختر یانو له لارې چی همدغه اولسی پوهه (خصوصاً دحماسی په ډول) له هرڅه زیات داویستا په متونو اغیزه کړې، هغه یی اخستی دي او دزردشتی دین دعقایدو جزګرځیدلی دي.

ب_ دساکو اولسی پوهه: دزردشتیانو دنظریاتی اختلاف له امله دهغوي اولسي پوهی داویستا متونو ته لاره پیدا نه کړه خو له یوې مینې نه بلی ته نقل او وروسته له هر څه زیات په فارسی ژبه ادب کی منعکس شول دساري په ډول درستم حماسی دفردوسی په شهنامه کی." (۱۰)

دهر اولس فولکلور دلیکلی ادب په اندول دعمر په لحاظ دومره پخوانی دی چی حتی دماکسیم ګورکی خبره "

۱۰_ دوست محمد دوست، (تقریظ) فولکلوري ګیدۍ (ع.منګل)، پښتو ټولنه، ۱۳۵۵، شپږم –اووم مخونه.

دلفظی هنر پیل په فولکلورکی دی" خو دفنی ښېړنو له مخی دلیکلی ادب نه ډیر کشر او نژدې زمونږ همزولی دی. (۱۱)
رښتیا هم فولکلور دانسانانو دژوند نه بیلیدونکی جز دی او که په عام ډول وغږیږو، انسان په هره زمانه او هر وخت کی چی وي، دیوه کلتور خاوند و او دی او دخپل ژوند د مشغولتابه په خاطر یی له ډول ډول وسایلو څخه کار اخیستی او خپل ژوند یی پرمخ بیولی . له ښکار، لیږد او کوچ نه نیولی بیا تر نن ورځی پورې چی انسانان عادي ژوند لري دغه لړۍ ادامه مومی.
" په پښتو ژبه کی دشعر ابتدایی زمانه په یقین سره خو لا معلومه نه ده ولی قیاس یی ددویمی صدۍ هجري دوړومبو کلونو نه کیږي، ځینی اندرونی او بیرونی محققین دپښتون قام او پښتو ژبی دادب دتاریخ قیاس او اندازه ددرې نیمو زرو کالو(*) تر خوا وشا کوي دهغوي قول دی چې " شعر او ادب دانسان طبیعی صفت دی نو که چیرې مونږ ددوی (پښتنو) دوجود قدامت تر دغه وختە تسلیم کړو نو بیا مونږ ددوی په ژبه کی دادب دوجود نه هم منکر یدی نه شو خو

۱۱_ دوست محمد دوست، دپښتو داولسی ادب لارې، پښتو ټولنه دولتی مطبعه، ۱۳۵۶، ۱۴ مخ .
(*)_ ویل کیږي چی افغانان پنځه زره کلن تاریخ لري، دا چی پښتانه دافغانستان اصلي اوسیدونکی دي ددوي تاریخ هم باید (۵۰۰۰) کلن وي.

افسوس دی چی تر دې وخته مونږ ته دهجري سن نه اګاهو ددې ژبی دادب څه آثار په لاس نه دي راغلی.

دپښتو قدیم شعر په ټپه یا مصرع یادیږي او ورپسی درزمیه نظمونو ابتدا کیږي چی په مثال کی دامیر کروړ هغه مشهورنظم ورکول کیږي. " (١٢)

په دې برخه کی له زیات تفصیل څخه تیریږم او محترم لوستونکی کولی شی په دې ارتباط دمحترم کاندید اکادیمیسن روهی (فولکلور پیژندنه) اثر ته مراجعه وکړي هلته دا موضوع په تفصیل سره څیړل شوې ده.

اوس راځو دې خبرې ته چی دغه فولکلور ته په عمومی ډول (هدف می افغانی فولکلوردی) څه وخت دڅیړونکو پام وراوښتی دی او په دې اړوند کومی نظریی موجو دې دي. دلته به دموضوع دلاروښانتیا په منظور دځینو محققینو وینا وې داستناد په ډول راواخلو. دافغانی فولکلور دراغونډولو په باب یو محقق کښلی دي:

" دافغانی فولکلور دراغونډولو په لار کی البیرونی دپنځمې پیړۍ افغانی محقق لویه برخه لري او په دې لار کی یی ډیر کار کړی دی چی زیات آثار یی دداروبوټو ، معدنی مواد و او روایاتو په باب لیکلی اوله (آثار الباقیه عن القرون

١٢_آدم-درخانۍ ، پښتو اکیدیمی، پیښور یونیورسټی، دمحمد نواز خان طاهر، سریزه، ١٩٥٩م ٧ مخ.

الخالیه)... او ځینو نورو کتابونو څخه یې دفولکلور په څېړنه کی استفاده کیدای شی." ([13])

همدغه محقق په دې باب خپلو خبرو ته دوام ورکوي اولیکی:

" هسی خو په عمومی توګه دافغانستان فولکلور کماحقه چا نه دی څېړلی او بې له سر سري یادونو په دې لاره کی زیات کار نه دی شوی. البته مستشرقینو څه ناڅه څېړنی او یادونی کړي دي، خو مستشرقین زمونږ په روحیاتو کی دومره وارد نه دي چی افغانی فولکلور په خپله افغانی بڼه وڅېړلای شی. " ([14])

له (۱۳۱۲ هـ . ش) کاله راپه دیخوا تر یوه وخته کابل مجلی ځینی فولکلوري آثار خپاره کړل، دکابل په کالنیو کی هم ځینی فولکلوري مواد چاپ شول، دآریانا مجلی هم په لومړیو وختو کی دفولکلور په باب څه ناڅه نشرات وکړل او په همدې وخت کی دکابل ادبی انجمن دفولکلور یو کوچنی لارښوونکی(رهنمای فولکلور) نشر کړ. ([15])

داچی په علمی لحاظ دافغانی فولکلور ټولونی او څېړنی چارې څه ډول دي او څو مره سابقه لري په دې باب یو محقق لیکی: " په افغانستان کی دفولکلور ټولونی او څېړنی

۱۳_ حبیب الله رفیع، دخلکو سندرې،دتاریخ او ادب ټولنه ، کابل. دولتی مطبعه، ۱۰ مخ .

۱۴_ پورتنی اثر، ۱ مخ .

۱۵_ هماغه اثر، ۲ مخ.

کار داسی چی دعلمی میتودولوژي په چوکاټ کی سرته ورسیږي ډیره اوږده سابقه نه لري، ځکه په دغه شیوه کار دنړۍ په علمي ټولنو کی هم نوی دی..." ([16])

په (۱۳۱۵ هـ ش) کی دفولکلور پیژندنی په باره کی د (مردم شناسی) ترعنوان لاندې دکابل مجلی په (۶۳) ګڼه شپږم کال کی د محمد قدیر تره کی مقالی دفولکلوري موضوعګانو په تصنیف کی د ریسرچ دپاره زمینه برابره کړه.

ده په دري ژبه دفولکلور دپاره د (مردم شناسی) کلمه مناسبه بللی ده او په ترکیه کی چی د (خلقیات) یا (حکمت عوام) او په ایران کی د(توده شناسی) او (فرهنګ عامه) کلمی دفولکلور دپاره وضع شوي دي، دقدیر تره کی په نظر مقبولی نه دي . دا باید وویل شی چی مردم شناسی له فولکلور پیژندنی سره یو څه ورته والی لري خو د فولکلور او مردم شناسی ترمنځ فاصله ډیره زیاته ده . لکه پخوا مو چی ویلی و فولکلور پیژندنه علم دی اما په خپله فولکلور علم نه دی.

دمردم شناسی په لیکلو سره محمد قدیر تره کی زمونږ په ټولنه کی دلومړي فولکلوریست لقب وګاټه، له دغی

۱۶ـ محمد ابراهیم عطایی، په افغانستان کی دپښتو فولکلورټولونی دکار پرسابقه یوه کتنه ،فرهنګ مردم، فولکلور ټولنه، ۱۳۶۴-۳-۴ ګڼه ۲۲ر۱۲۳ مخونه .

مقالي وروسته په (۱۳۱۶) کال کې دسرور ګويا په زيار او ژباړنې سره د (رهنمای فولکلور) رساله خپره شوه... پويا فاريابي په دې عقيده دی چې دقدير ترکي دمقالې، دسرورګويا د (رهنمای فولکلور) دژباړنې او دصادق هدايت د (راهنمای ګرد آوري فولکلور) ترمنځ شباهت دومره زيات دی چې ښايي ټولوله يوې سرچينې څخه اوبه څښلې وي.

نوموړی دا هم وايي چې دفولکلور پيژندنې کار په افغانستان کې له ايران نه مخکې پيل شوی دی او ددې احتمال هم نشو نفی کولی چې صادق هدايت له افغاني منابعو څخه په الهام اخيستلو سره دايراني فولکلور دټولولو په فکر کې شوی وي. ([۱۷])

د(رهنمای فولکلور) درسالې په باب زلمی هيوادمل خپل نظر داسې څرګندوي: " د (رهنمای فولکلور) په نامه چې کومه رساله دسرورګويا په قلم دانجمن ادبی له خوا نشر شوې او بيا دفرهنګ مردم مجلې د (۱۳۶۰ ش) کال دحمل او ثورپه ګڼه کې رااخيستی او دوهم ځل يې چاپ کړې، په فولکلور څيړنه کې دنويو انکشافاتو په منځ ته راتګ سره يې ډيرې برخې درد وړ دي او په رد کې يې ډير څه ليکل کيدای شي... کوم موضوعات چې په دې رساله کې دفولکلور په نامه

۱۷ـ فولکلور پيژندنه ، ۴۸-۴۹ مخونه.

صنف بندي شوي او بیا پرې بحث شوی ډیره برخه یی په فولکلور کی د مطالعی ځای نه لري..." (۱۸)

زمونږ ځوان فولکلوریست ښاغلی اسدالله شعور په هیواد کی دفولکلور ټولونی په باب داسی نظر لري:

" گرچه ثبت آثار فولکلوري در کشور ما از مدت تقریباً هفتاد سال بدینسو بطور پراگنده و غیر منظم آغاز یافته ، اما کار نیمه اسلوبی در مورد گرد آوري و تحقیقات فرهنگ مردم بار نخست توسط انجمن ادبی کابل (۱۳۱۰) با تاسیس شعبه فولکلور آن بنیاد نهاده شد و نشر رساله (رهنمای فولکلور) توسط آناداره تلاشی بود برای اسلوبی ساختن و گسترش ثبت آثار فولکلور مردمان کشور ما ....

تاسیس انجمن فولکلور دراخیر سال (۱۳۵۱) میتوان آغاز دوباره انسجام در امور ثبت ، گرد آوري، پژوهش های فولکلوري در کار اسلوبی و میتود یک در عرصه فرهنگ مردم مهیا ساخت . اما بررسی مطالب نشر شده درین مجله و سایر نشریه های همزمان آن نشان میدهد که طی مدت تقریباً پانزده سال همه کار ها به شکل غیر میتودیک و یاندرتاًنیمه اسلوبیانجام یافته است...."(۱۹)

۱۸ـ زلمی هیوادمل، دپښتو فولکلور ټولونی ربړې... (دافغان یاد دمقالو مجموعه) کابل پوهنتون، ۱۳۶۰- ۱۵۰-۱۵۱ مخونه .

۱۹ـ اسدالله شعور، برخی از مسایل گرد آوري مسایل ادب شفاهی دري، دفولکلور پوهنی سیمپوزیم، دمقالو مجموعه، دژبو او ادبیاتو مرکز(گستتنر) ، ۱۳۶۶، ۹۴-۹۵ مخونه .

زه فکر کوم دافغانی فو کلور ټولونی او څېړنی دچاړېبه په باب به په عمومي ډول همدغه لنډه څېړنه بس وي، ځکه که چیرې دی موضوع ته نوره هم غزونه ورکړو، دبیلګی په ډول په دري ژبه کی څو مره څېړنی شوي؟ یا دپشه یی ، نورستانی او نورو ژبو فولکلورته څه وخت توجه شوې او کوم آثار لري؟ او داسی نورې پوښتنی مطرح او ځوابونه ورته پیداکړونو موضوع به راڅخه ډیره اوږده شی. همدارنګه که ددې خبرې په ثبوت پسی پایځی بڼ وهو چی زمونږ دفولکلور لرغونتیا کومی زمانی ته رسیږي؟ چی دا موضوع هم دزیاتو څېړنو ایجاب کوي، نو دیو جلا اثر لیکلو ته به موملا تړلی وي. دلته دموضوع په اړوند په همدغو لنډ و ټکو اکتفا کوم او محترم لوستونکی د (فولکلور پیژندنه)، (دفولکلور پوهنی دسیمپوزیم دمقالو مجموعه)، دپښتو داولسی ادب لارې ، دافغان یاد او یو شمیر نورو ورته آثارو ته چی دفولکلور څېړنی دلاړو چارو په باب په کی غنیمت مواد خوندي شوي دي لوستلو ته رابولم، او په راتلو نکو پاڼو کی به د پښتو فولکلور ټولونی په باب مشخص بحثونه وشی.

[١]

پښتني فولکلور او ختیځ پوهان

که څه هم په عامه توګه ددې موضوع په باب یو څه خبرې هم وشوې، خو دلته لازمه ده چې په یو څه تفصیل سره ددې موضوع په څېړنه او سپړنه کې څه وولیکو، چې ختیځ پوهانو څه وخت اوولی د پښتو فولکلور ټولونې او څېړنې چاروته مخه وکړه . او همدارنګه به ددغې ځانګړې موضوع په ارتباط ددوی دکار په څومره والی او څرنګوالی هم لنډې خبرې وشی.

سره له دې چې د پښتو ادبیاتو او پښتني فولکلور په باب کورنیو او بهرنیو پوهانو او څېړونکو څه ناڅه کار کړی او هر چا په دې لاره کې خپل نیلی ځغلولی دی، خو اوس هم چې سړی فکر کوي د پښتني فولکلورله دغه عظیم سمندر

څخه محدودې او دګوتو په شمار مرغلرې را برسيره شوي او نورې هماغسې پرځای پرتی دي.

زما دمعلوماتوله مخې په لره او بره پښتو نخوا کې تر اوسه څه ناڅه له (۱۰۰) زياتی ټولی شوې مجموعې او رسالی چې منثور او منظوم آثار په کې شامل دي. همدارنګه په لس ګونو خورې ورې مقالی هم خپرې شوي خو بيا هم ددې پوره پوره ضرورت احساسيږي چې پښتنی فولکلور لکه څنګه چې لازمه ده ، نه دی را ټول شوی؛ چې بايد راټول شی.

" داولسي ادب له قصو که تير شو د پښتو عام اولسی ادبيات اوس هم په سينو کې ساتل شوي دي او دومره زيات کار ورته نه دی شوی. په تيره بيا په اولسی ادبياتو کې علمی او نسبتاً سيستماتيکه څېړنه خو بيخی اوسنۍ ده . " (۲۰)

زمونږ د پښتو ژبې يو خوا خوږی فولکلور يست په دې اړه داسی نظر څرګندوي او خپلی خبرې دخوشحال خټک په دې لاندې بيت پيل کوي:

چايې پلوله مخه وانه خيست
پښتو لا هسې بکره پرته ده
(خوشحال خټک)

۲۰ـ دوست محمد دوست ، دپښتو داولسی ادب لارې، پښتو ټولنه ، کابل ، ۱۳۵۶، ۱۵ مخ .

رښتیا هم دا چی په خپله پښتنو ګرانی پښتو ته .
هیڅکله التفات او پاملرنه ، نه ده کړې که چیرې دانصاف او
عدالت له مخی قضاوت وکړو ، نو خبره به داسی سپینه سی،
چی تر ټولو دمخه داروپا پوهانو او ژبپوهانو په موږ پښتنو
زموږ مورنۍ ژبه ، ګرانه پښتو پیژندلی ده ، ځینو پوهانو
دپښتو ګرامرونه لیکلی دي، او ځینو بیا زموږ دژبی ضرب
الا مثال او لغات راغونډ کړي دي- ځینو بیا دا زیار ایستلی
دی چی دادب مینا نو ته یې د پښتو ملی سندرې وړاندې
کړي دي اوځینی پلټونکی داسی دي، چی هغو د پښتنو
دنسل او نژاد په باب خپل عقاید ښکاره کړي دي لکه ایم -
آرایلفنسټون - ایچ - جی راورټی، هنري والټر بلیو، میجر
لوریمر، جی ای ګریرسن او دپښتو لوی پوهاند ډار مستتر.
... زموږ ژبه دادبیاتو له پلوه خوار ډیره مړه او لمن
یې پراخه ده او دا یوه بیله خبره ده چی په دې باب تر دا وخته
پورې پلټنی او علمی کنجکاوي نده شوی، په تیره بیا د پښتو
ادبیاتو فولکلوري اړخ، درنو لیکوالو ته هر وخت بلنه ورکوي
ځکه چې زموږ فولکلور تر اوسه پورې ، دخلکو په سینو کی
خوندې پروت دی او زموږ د ادبیاتو دغه خوند وره برخه به تر
هغو پورې دخلکو په سینو کې زیرمه ، وي تر څو پورې چی
زموږ خلکو ته د تمدن پلوشی نه وي رسیدلی..." (٢١)

٢١_ ولی محمد خان سیال کاکړ. پښتنی فولکلور، کوټه . ١٩٧١ . ٥-٦ مخونه .

دا چې په عملي ډول لومړی وار د پښتو فولکلور څیړنې کار چا پیل کړی دی، راځئ چې په دې اړه دښاغلي محمد ابراهیم عطایي خبرې واورو . نوموړی وایي:

" دپښتو فولکلور ټولونې او څیړنې کار په نیمه علمي شیوه په نولسمه پیړۍ کې داروپایي ختیځ پیژندونکو په لاس پیل شو. نیمه علمي مې ځکه وویل چې دوی دخپل دغه کار له پاره کوم ټاکلې علمي میتود نه درلود بلکې زیاتره یې د سیاسي اهدافو له پاره دغه کار کاوه.

ددغو ختیځ پیژندونکو په جمله کې نو مونټ ستوارټ الفنسټن زموږ مخې ته راځي چې دنونسمې پیړۍ دلومړۍ لسیزې په پای کې دشاه شجاع الملك سره دیوه سیاسي قرار داد په منظور پیښور ته راغلی و او دغه سړي ددغه ماموریت په ترځ کې دافغانانو په باب ژور مطالعات وکړل او په پای کې یې دکابل سلطنت بیان په نامه یو کتاب چاپ کړ چې په هغه کې یې د پښتو لفظي، نیمه لفظي او غیر لفظي فولکلور په باب ډیر معلومات وړاندې کړي دي. " ([22])

خو له څېړنو څخه داسې جوتیږي چې ډارمستتر لومړنی افغان پیژندونکی دی چې دنورو موضوعګانو ترڅنګ یې د پښتني فولکلور اولسي سندرو ته پام اړولی دی.

۲۲_ محمدابراهیم عطایي، په افغانستان کې دپښتو فولکلور ټولونې او څیړنې دکار پر سابقه یوه کتنه ، فرهنګ مردم (مجله) ، فولکلور ټولنه ، ۳-۴ ګڼه، ۱۳۶۴ ، ۱۲۲-۱۲۳-۱۲۴ مخونه .

" دپښتنی فولکلور د بیلا بیلو برخو ، لکه اولسی سندرو ، متلونو ، اولسی اصطلا حاتو محاورو ، روایاتو او دودونو ټولونګ او خپرونګ ته ترټولو دمخه په اتلسمه پیړۍ کی اروپایانو شروع وکړه خو دا باید هیره نشی چی داروپائیانو په دغه ډول کارونو کی دمشهور خیتځ پوه جیمزډارمستتر (۱۸۴۹-۱۸۹۴) کارونه تر ټولو دمخه زموږ تر سترګو کیږي، نوموړی پوه د پښتو اولسی چاربیتی ، لنډۍ ، متلونه او نور فولکلور ي مواد په خپله مجموعه د پښتو نخوا د شعر هار و بهار کی خوندي کړل. " (۲۳)

د پښتو نخوا د شعر هار و بهار لومړی وار په (۱۸۸۸ ع) کال دپاریس دختیځ ټولنی له خوا د پاریس په سر کاري مطبعه کی او یو ځل په (۱۹۷۴) کال په المان کی چاپ شوی دی . دغه اثر دریم ځل په (۱۳۵۶ه ش) کال کی د پښتو ټولنی له خوا چاپ او خپور شوی دی. (۲۴)

لکه چی دمخه مو یادونه وکړه، په دې باره کی دالفنسټون هڅی هم دیادونی وړ دي چی نوموړي د پښتنی فولکلور په باب په خپل اثر (دکابل سلطنت بیان) کی د پښتنو ددودونو ، کړو وړو ، فولکلوري نکلونو او نورو

۲۳ـ عبدالکریم پتنګ ، فولکلوري مرغلرې ، دزلمی هیواد مل سریزه، پښتو ټولنه ، کابل: ۱۳۵۶، ۱۹ مخ .

۲۴ـ نصرالله ناصر، دپښتنی فولکلور د ترجمو تاریخی سیر، ټایپی اثر ، دژبو او ادبیاتو مرکز، ۱۳۶۶، ۸۷ مخ .

اړوندو موضوعګانو په ارتباط مواد راټول کړي دي. ددغه اثر لومړی ټوك دپوهنوال محمد حسن کاکړ او نصرالله سوبمن له خوا او دوهم ټوك يې يوازې د کاکړ صاحب له خوا ترجمه شوی دی. چې لومړی يې په (۱۳۵۹) او دوهم ټوك يې په (۱۳۶۱) کال د پښتو څېړنو د بين المللی مرکز له خوا چاپ او خپور شوی دی. ([۲۵])

بل اروپايی ختيځ پوه چې دنورو کارونو ترڅنګ يې پښتنی فولکلور ته هم پاملرنه کړې ، هغه ميجرراورټی (۱۸۲۵- ۱۹۰۶م) دی. ده په خپل اثر (دافغانستان او بلوچستان پراحوالو باندې نوټونه (*) د پښتنو په فولکلور هم معلومات وړاندې کړي دي. ([۲۶])

په دغه لړ کی د يو شيمر نورو ختيځپوهانو نومونه هم د يادولو وړ دي چې له دې جملې څخه د تاربرن نوم يادولی شو. نوموړي په خپل اثر (بنو يا زموږ افغانی سرحد) (Bannu or our Afghan Frontier) کی چې په (۱۸۷۶) کال کی چاپ او خپور شوی دی، ټوکی، فولکلوري کيسی ، متلونه او نور فولکلوري مواد راټول او په انګريزي يې ژباړلی دي.

۲۵ـ پورتنی اثر ، ۵۱-۵۲ مخونه .

*ـ دغه اثر زما لاس ته رانه غی.

۲۶ـ م . عطايی، فولکلور مجله ، ۱۳۶۴ ، ۳-۴ ګڼه، ۱۲۴ مخ .

ددې اثر څخه یو شمیر متلونه دبناغلی شیر محمد کریمی له خوا په پښتو ترجمه او په (۱۳۶۰) کال کی دژبو او ادبیاتو د مرکز له خواچی شمیر یې (۱۲۳۲) ته رسیږي چاپ او خپاره شوی دي. ([۲۷])

بل سړی چی د پښتو فولکلور ځینی برخی یې راټولی او په انګریزي ترجمه کړي دي، (سی، ای، بایل) نومیږي. نوموړي لیکوال د پښتو متلونه ، پښتو نکلونه، دپښتنو ځینی دودونه او داسی نور مواد په خپل اثر (پښتو نکلونه) کی چی په (۱۹۳۸ م) کال، په پیښور کی دفقیر چند مهر له خوا ددویم ځل له پاره چاپ شوی، خوندي کړي دي. ([۲۸])

همدارنګه په دې برخه کی د پخوانی شوروي اتحاد دافغان پیژندونکو هڅی هم دیادولو وړ دي څکه چی ددغه هیواد یو شمیر پوهانو هم پښتنی فولکلور ته پام اړولی او په دې باب یې څېړنی کړي دي. یو محقق په دې باب لیکی:

" ... برابر له دغه وخت سره چی بریتانوي محققینو د پښتو ژبی او ادبیاتو او ضمناً فولکلور په برخه کی کار کاوه په تزاري روسیه کی هم دغسی هڅی پیل شوي دي. بوریس اندرییویچ دورن (۱۸۰۵- ۱۸۸۱) په خپل اثر خرستوماتی

۲۷_ دپښتنی فولکلور د ترجمو تاریخی سیر، ۵۸ مخ .

۲۸_ نصرالله ناصر، دپښتنی فولکلور د ترجمو تاریخی سیر، (ټایپی اثر) د ژبو او ادبیاتو مرکز، ۱۳۶۶، ۶۰ مخ .

(منتخبات) کی د پښتو ادبیاتو ځینی منثور او منظوم متون راوړي او دعیار دانش دیوې برخی له خپرولو سره په غیر مسقیمه توګه د فولکلوري ادب حکایتی پروفیل څرګند کړ خو په مستقیمه توګه (یې) د پښتو فولکلور سره غرض ونه کړ (۲۹)

همدارنګه دپخوانی شوروي یو شمیر نورو محققینو لکه (عزیز نیالو) دملی هنداري او پښتو ملی سندرو په باب په روسی ژبه معلومات خپاره کړل او معروف شوروی پوه اسلانوف د افغانی فولکلور رساله ولیکله. (۳۰)

په افغانی ادبیاتو کی داولسی توب مسله په نامه ، فقیدنیکولای الکساندرویچ دوریانکوف (۱۹۷۹م) یو کتاب لیکلی دی او په هغه کی یې هڅه کړې ده ، څو ثابته کړي چی د پښتو داو سنیو او پخوانیو ادبیاتو په مضمون کی له فولکلوري موادو څخه ډیره استفاده شوې ده . ددې کتاب یو فصل ځانله د پښتو په شفاهی ادبیاتو اړه لري. دا کتاب دنوموړي دعلومود ډاکتري تیزس دی چی د شوروي اتحاد دعلومو اکادمی له خوا منظور شوی دی. دا اثر په ۱۹۶۰ کلونو کی لیکل شوی دی.

۲۹_ م. ابراهیم عطایی، دفولکلور مجلی یاده شوې ګڼه، ۱۲۵- ۱۲۶ مخونه .
۳۰_ پورتنۍ مجله ، ۱۲۷ مخ .

فقید فیود وروویچ ګیرس په (۱۹۹۴م کی مړ) د پښتو شفاهی ادبیاتو پر منظومو کیسو او داستانونو ډیرې څیړنیزې مقالی لیکلی او خبرې یې پرې کړي دي. په دې باب دهغه مقالی د پخوانی شوروي اتحاد دعلومو داکادمی او همدارنګه دافغانستان دعلومو اکاډمی د پښتو څیړنو د بین المللی مرکز په (پښتو) مجله کی په منظمه او پرله پسی توګه خپرې شوي دي (۳۱)

همدارنګه داوزبکستان دعلومو اکادمی غړي ښاغلی عارف عثمان دخوشحال خان خټك پرژوندانه او آثار و مفصلی څیړنی کړي دي. هغه دخوشحال او فولکلور په باب هم دتوجه وړ لیکنی لري. دخوشحال په آثارو کی د فولکلور انعکاساتو ته پوره پام اړولی او هغه یې ددغو آثارو مزیت ګڼلی دی. په همدې توګه یو بل پوه ښاغلی اناکاووسوف د ترکمنستان معاصر شاعر او ادیب دافغانی سندرو په پیروي په ترکمنی ژبه یو لړ سندرې لیکلی او یو شمیر پښتو سندرې یې په ترکمنی ژبه اړولی دي.

۳۱_ داستاد سرمحقق عبدالله بختانی خدمتګار لیکلی یادښت ، د۱۳۷۳ کال سلواغه.
یادونه : کله چی محترم استاد بختانی زما رساله وکتله، هغه ماته ځینی لیکلی یادداشتونه راوسپارل چی په خپل اثر کې ورڅخه استفاده وکړم. په کومه برخه کی چی له دغو یاداشتونو څخه استفاده شوې هلته مې دنوموړي استاد نوم لیکلی دی. (لیکوال)

نوموړی (دملنګ جان سندره) تر عنوان لاندې هم یوه سندره لري دا ناکاوسوف ددغو شعرونو پښتو ترجمه (دافغانستان سفر) نومی مجموعه کی کتلی شی، چی دعبدالله بختانی له خوا په پښتو شعر ترجمه او په ۱۹۷۸ م کال په کابل کی چاپ شوې ده .

همدارنګه د (وصال او هجران) په نامه یوه بله مجموعه چی د پښتو عشقی سندرې په کی راټولی شوي په مسکو کی چاپ شوې ده . ([۳۲])

برسیره پر پورتنیو پوهانو یو شمیر نورو هم د پښتنی فولکلور له ځینو برخو سره تماس نیولی او ددغه فولکلور ځینی برخی یې څیړلی او یایې په روسی ژبه ژباړلی دي لکه :

دپښتو متلونو مجموعه ، چی د ویخوسکی ، ګاوریلین او جویکوف له خوا په ۱۹۵۰ ع کال په تاشکند کی خپره شوې ده . بله مجموعه د لیبدوف او میرمن لودمیلایاځویچ له خوا په (۱۹۶۱) کال په مسکو کی خپره شوې ده .

دپښتو متلونو او محاورو ژبه او نظم ، د ادصولت شاه میر ګانوف ددکتورا تیزس دی چی په ۱۹۷۳ کال کی یې په مسکوکې لیکلی دی.

۳۲ـ سرمحقق عبدالله بختانی خدمتګار، لیکلی یادښت، د ۱۳۷۳ کال سلواغه.

" د پښتو تاریخي سندرې – دهغه اثر نوم دی، چې فیود ورویچ ګیرس (۱۹۹۴ م) لیکلی او په (۱۹۸۴ع) کال کې یې چاپ کړی دی. په دې لړ کې هغه ټولې تاریخي سندرې چې د پښتو نخوا دشعر هارو بهار، تور برېښ او ځینو نورو منابعو کې چاپ شوي، د ښاغلي ګیرس له خوا په روسي نظم ترجمه او دنوموړي له خوا ورباندې تبصرې لیکل شوي دي. په خارجي ژبو دا د پښتو شفاهي سندرو یوه غوره ترجمه او په دې باب ګټوره څېړنه ده . " (۳۳)

اوس به په عمومي ډول د مستشرقینو د څېړنو د څرنګوالي په باب څه ناڅه وغږېږو ، په دې ارتباط یو محقق لیکلي دي:

" دمستشرقینو څېړنې په عمومي ډول له ځینو خطاوو سره ملې دي. البته که له تېروتنو یې تېر شو ، بیا هم دغه څېړنې زمونږ د فولکلوري څېړنې په عمومي سیر کې بې پد له نه دي. ددې څېړنو بل عیب دادی چې دمسایلو په تفسیر کې هر چا له یوې خاصې مفکورې کار اخیستی دی؛ چې دهغو مفکورو په چوکاټ کې د پښتني معاشرې څېړل به حتمي څه ستونزې پېښوي.

۳۳_ دسرمحقق خدمتګار یادښت.

۳۴_ زلمی هیواد مل ، دپښتني فولکلور ټولوني ربړې، (دافغان یاد- دمقالو مجموعه) کابل پوهنتون، دولتي مطبعه، ۱۳۶۰ ، ۱۵۵-۱۵۶ مخونه . *

(* د ۱۲۱ مخ لمن لیک)

هغه تعبیرونه چې مستشرقینو زموږ دځینو فولکلوري او کلتوري پدیدو په مورد کې کړي زیاتره یې (په) صحیح او واقعي شکل تطبیقي جنبه نه لري او صرف دهغو ښاغلو د ذهنونو مولودیې ګڼلای شو. " (۳۴)

شوروي پوه اسلا نوف د لویدیځو ختیځ پوهانو دکارونو په باب داسې نظر لري: " دغربیانو له خوا د پښتو دفولکلور دغه ټولونه او چاپ که له یوې خوا مثبت او ګټور کار دی خو دبلې خوا یې دغه فولکلور نیمګړی کړی او محدود کړی دی او زیان یې ور رسولی دی، په دې معنی چې تقریباً د پښتو نخوا یوازې دختیځې خوافولکلور ټول شوی دی یعنې ددوی په مجموعو کې یوازې د هغو پښتنو فولکلور راغونډ شوی دی چې دافغانستان نه دباندې او سیږي چې په دې تقدیر پښتو فولکلور نیمه خوا شو او زیان یې وموند..." (۳۵)

باید ووایو چې دښاغلي اسلا نوف ددې لیکنې نه په راوروسته کلونو کې دښاغلودوریانکوف، ګیرس، عثمانوف، اکاؤسوف او صولت شاه کارونو او څیړنو تر ډیره حده پورې داخلا ډکه کړې ده او په دې توګه دلرې اوبرې پښتونخوا د

۳۵ـ محمداکبر معتمد (مترجم) ، پښتو فولکلور او په شوروي اتحاد کې یې ژوره مطالعه، (دفولکلور پوهنې سیمپوزیم - دمقالو مجموعه) ، دژبو او ادبیاتو مرکز، ګستتنر، ۱۳۶۶، ۶۶ مخ.

پښتنى فولکلور پلوشى دنړۍ په شرق او غرب کى خپرې شوي دي ([36])

زمونږ يو شمير محترم څيړونکى چى د ختيځ پوهانو آثار لولى، دهغو له آثارو څخه په پوره ډاډ منه توګه استفاده کوي او ددوى دغه څيړنى ديوه منل شوي اصل په حيث منى. حال دا چى دغو آثارو ته بايد په انتقادي نظر وکتل شى او کله چى دا راته څرګنده شوه چى ددغو موادو هغه برخى چې په سمه توګه راټولى او ضبط شوي دي، بيا په خپلو ليکنو او څيړنو کى ترې استفاده وکړو.

پورتنۍ يادونى ددې مانا نه لري چى ګوندې دختيځپوهانو کارونه له يوې مخى رد وو او ددوي دغو هلو ځلو ته اهميت نه ورکوو. البته دهغوي هڅى په خپل ځاى داهميت وړ دي ځکه چى تر ټولو لومړى دغى خواته دوى توجه کړې او دهغه وخت له شرايطو سره سم يى دهغه وخت د روشونو پراساس(چى دفولکلور ټولونې کوم خاص ميتود لا نه و موجود) دغه کار تر سره کړى دى. خو دا يادونى موځکه وکړې چى په خپله دژبى ويونکى ددغسى مواد و په راټولولو کى له اشتباهاتو څخه بچ نه شى پاتى کيداى او يا هم ځينى کسان په ارادي ډول په کى بدلون راولى، په دې اند چى ګويا ځينى فولکلوري اصطلا حات يى معياري کړي او يا په دې

۳۶_ داستاد بختانى ليکلى يادښت.

بهانه چی رکیك الفاظ یې ورڅخه لرې کړي او یایې بڼه وراړولی ده ، خو دوی په حقیقت کی فولکلور مسخ کوي.

کیدای شی چی دځینو ختیځ پوهانو په آثارو کی داسی او یادې ته ورته ځینی نور تغیرات او بدلونونه وجود ولري چی له همدې امله باید له دغو آثارو څخه داستفادې په وخت کی له علمي احتیاط څخه کار واخیستل شي.

[۲]
په افغانستان کې د پښتنی فولکلور ټولونی پیل

په دې څیړنه کی به زه له خپلی وسی سره سم زیار وباسم چی په عمومی ډول دا خبره سپینه کړم چی د پښتنی فولکلور ټولونی کار کله پیل شوی؟ او ددغه کار ادامه څنګه او په څه ډول تر مونږه را رسیدلی ده .

" په پښتو ژبه کی د فولکلور ټولونی کار له خوشحال خان او دده له کورنۍ سره پیل کیږي. په (سواتنامه) کی ده د یو سفزیو دودونه ، انګیرنی او چلنبیلګی په ژوره عالمانه توګه څیړلی دي... دده فالنامه دخلکو دانګیرنوپه باره کی یو مهم ماخذ دی. خوشحال خان که څه هم ظاهراً منظومی

افسانې نه دي لېږلي خو خپلو زامنو ته يې په دې برخه کې لارښوونې کړې دي. " (۳۷)

په همدې ارتباط باید زیاته کړم چې د پښتو ژبې پیاوړي لیکوال، شاعراو ملي قهرمان خوشحال خان ختک په خپل ژوند کې آرزو درلوده چې یو زیات شمیر آثار یې باید لیکلي وای. لکه چې همداسې یې وکړل خو په تاسف سره باید ووایو چې دده له ګڼ شمیر آثارو څخه چې څوک یې له سلو زیات او څوک یې لاتر (۲۰۰) اضافه ګڼي مونږ ته یو لږ شمیر را رسیدلی دی. ده ددې په څنګ کې چې خپله یې په نظم او نثر لیکنې کولې: خپل زامن هم دې ته هڅول چې یو شمیر آثار (په نظم یا نثر) ولیکي او یایې له نورو ژبو څخه راوژباړي.

په دې اړه یو محقق کښلي دي: " ... هغه (خوشحال) ورته تردې حده ووې چې د پښتني رومان آدم - درخانۍ د لیکلومې نیت دی خو که دا اهم کار زمانه پاتې شه نو ته یې سرته ورسوه لکه چې صدر خان ددغې کتاب دتالیف دسبب د بیانو لو په موقع ویلي دي:

ده وې ښه دې ووې زویه ۔۔۔ یوکتاب په دا باب بویه
له آدم له د ر خا نۍ ۔۔۔ بو یه ښې سخنر ا نۍ
چې منظوم یوه قصه شي ۔۔۔ یادګارپاتو په ستنه شي

۳۷_ فولکلور پیژندنه ، ۴۷-۴۸ مخونه .

او که پا تی شی له مانه　　زه روان شم له جهانه
ته منظومه کړه بالجزم　　دا قصه په ښکلی نظم

داقصه لکه څنګه چی دبره یې ذکر وشو صدر خان د پلار دمرګ نه اتلس کاله پس یعنی په سنه (۱۱۱۸ هـ ق) کی ولیکله ولی ددلی او شهی قصه یې ددې نه یو څو کاله آګاهو په سنه (۱۱۱۰ هـ) کی لیکلی ده لکه چی ددې قصی په اخر کی یې دلیك کال داسی ښودلی دی:

ښه رنګ تم شوه سن یی دادی بی اشکاله
ددلی شهی قصه تمامه لاله " (۳۸)

صدر خان ختك دخپل پلار دغوښتنی په اساس د (آدم خان او درخانی) دداستان په منظومولو لاس پورې کړ. دصدر خان دکار غټه ښیګڼه داده چی زیار باسی خپل داستان دیوې ثقه او معتبرې منبع په استناد ولیکی او په پای کی د (میرو) دزوی دخولی نه روایت شوي بیان ته ترجیح ورکوي. صدرخان پر دغه موضوع داسی رڼا اچوي:

تاتی نام یو یوسفزی و　　حاجی خیل و ښه زلمی و
ما ترې وکړ له پوښتنه　　په دارنګ چی: اې دا دمنه
وا قعه له مطر با نو　　له یا را نو قصه خوانو
په بل شان ومونږ ته کیږي　　له تا بل شان معلومیږي

۳۸ـ سیدخیال بخارې، دلی اوشهی، پیښور یونیورسټی بك ایجنسی ...؟ سریزه ۷-۸ مخونه.

ده وې ماله دې داستانه　　تحقیق وکړ ډیر خو شانه
د میر و قوا ل د پوره　　ما ته شو ې د ه مزبوره
هغه ووې دا تحقیق ده　　نو ر ه لرې له طریق د ه

دصدر خان او سکندر خان ختټك نه نیولی په بره پښتونخوا کی دروښانتیا (یا مشروطه غوښتنې دلومړي نهضت) تر دورې پورې اوپه لره پښتونخوا کی دخدایی خدمتګار و ترنهضت پورې داستانونه او افسانی فولکلوري بڼه لري. حتی دمولوي احمد او منشی احمد جان حکایتونه او کیسی هم دفولکلور په خم کی رنګ شوي دي. " ([39])

که مونږ دخوشحال خان ختټك (۱۰۲۲- ۱۱۰۰ ه.ق) او دهغه دزامنو آثار په غور سره وګورو یا په اصطلاح دسر په سترګو ورته نظر وکړو ، نو دابه راته په ښه ډول جوته شی چی زمونږ ملی قهرمان او دده کورنۍ نه یوازې دلیکلی ادب په ډګر کی نیلی ځغلولی بلکی د پښتو فولکلوریك ادب یی هم له پامه نه دی غورځولی.

که سړی دصدرخان ختټك دې کارته چی دی دیوه تن دخولی په روایت قناعت نه کوي او څو تنو ته دمراجعی په صورت کی بالا خره د میرو دزوی په قول باور کوي او دده له خولی قصه اوري او په پښتو یی نظم کوی؛ سړی دده دې کارته حیرانیږي چی زمونږ زیاترو اوسنیو فولکلور څیړونکواو

۳۹- فولکلور پیژندنه ، ۴۷-۴۸ مخونه .

فولکلورپوهانو هم دغسی دقیق کار ته ملا وړې نه دي تړلی او ځانونه يې نه دی په تکليف کړي او زياتره (په اصطلاح) يواځې په خپلو مشاهداتو تکيه کوي.

دخوشحال خان په منثورو او مظومو آثارو کی په ځرگنده د پښتو د فولکلوري مواد و ځرك لگيدای شی. دساري په ډول که مونږ دخوشحال ختټك دستار نامه وگورو ، هلته د دستار تړلو دود پوره شرحه شوی او په کی ځرگنده شوې ده چی څوك بايد دستار وتړي او چا ته ددستار سړی (دقوم مشر) ويلی شو. ځکه دستار يا لنگوټی (پگړی) خو هر ځوان او سپين ږيری تړي. خوشحال خان ددستار سړي داسی يادوي:

چی دستار تړ ي هزار دي

ددستار سړي په شمار دي (۴۰)

ددستار دتړلو په باب په دستار نامه کی داسی راغلی دي:

" ددستار په سرکول چی تعلق په قابليت لري. شرايط يې ډير دی تر حساب تر شماره تير دي. واړه موقوف په قابليت دي. دقابليت اسبابونه هم بلا احصا او بلا انتها دي- لکه هنرونه او خصلتونه چی په تحصيل او په تدخيل يی سړی قابل باله شی.

۴۰_ خوشحال ختټك، دستار نامه ، پښتو ټولنه ، دولتی مطبعه، ۱۳۴۵ ، دپښتی دوهم مخ.

خبر شه چی دستار په سرکول د ښیوې او دنمای دپاره نه دي . دستار د مرد شرم او عزت دی تمام شرم دمرد په دستار کی دی...." (۴۱)

استاد پوهاند رښتین ددستار نامی په باب داسی لیکلی دي: " دخوشحال دستارنامه په حقیقت کی یوه درنه پګړی ده دعزت، حرمت او سرپیتوب پګړی ده . که څوك ددستار نامی په معیار دغه شل هنره او شل خصلته نه لري نو دقام دمشري ددستار ترړلو قابل نه دی. " (۴۲)

همدارنګه په دې اثر کی دمشر توب خصوصیات او نورې فولکلوري او کلتوري پدیدې راغلی دي لکه دښکار ، دآس دسورلی، ننبه ویشتل او دې ته ورته موضوع ګانو په ارتباط خبرې.

دخوشحال ختیك پر سواتنامی ، دستارنامی او فالنامی بر سیره دده بازنامه هم یو عالم فولکلوري مواد لري. په بازنامه کی د باز دښکار ، بلدولو ، نیولو او دهغه دناروغیو دعلاج او ښکار طریقی بیان شوي دي اوهمدارنګه یې د یوان هم له دغسی آثارو څخه مالامال دی .

زمونږ ډیرو پخوانیو شاعرانو داکار کړی چی له فولکلوري مواد و څخه یې په خپلو اشعارو کی کار اخیستی

۴۱ـ پورتنی اثر ، دپوهاند رښتین سریزه ، ص مخ .

۴۲- همدغه اثر، ۱ مخ .

او اخلی یې. په دې اړه یو محقق لیکی: " ... همدارنګه دپښتنی فولکلور په خوندي کولو کی د پښتو داولسی شاعرانو برسیره نوروشاعرانو هم برخه اخیستی، نکلونه او فولکلوري مواد یې راټول کړي دي خومتاسفانه چی په خپل اصلی شکل نه دي پاتی او دادب او شعر په چوکاټ کی یی دځایدلو په غرض دفولکلور لاس او پښی ورمات کړي او په دې چوکاټ کی یی ورننه ایستلی دي د پښتو اکثرو شاعرانو لکه خوشحال خان ، حمید بابا ، قادر خان ختټك، سکندر خان ختټك او نورو د پښتو فولکلوري مواد راټول کړي او د پښتو ملی کیسی یې نظم کړي دي، چی راوروسته شاعرانو هم دا لاره تعقیب کړې او تعقیبوي یی خو بیا هم داصیل او حقیقی فولکلور له پاره ډیر کم کار شوی دی. " ([۴۳])

دپورتنیو خبرو په ارتباط باید ووایو چی پخوانیو او اوسنیو شاعرانو په خپلوشعرونو کی عام متلونه راوړي دي، دې بدیعی صنعت ته (ارسال المثل) وایی. کله شاعر د کومې مشهورې افسانی قهرمان په خپلو ادبی تصویرونو کی یادوي او له هغه څخه دیوې موضوع (سمبول) جوړوي. کله لادافسانی پیښه په شاعرانه ژبه بیانوي، دې ته (اسطوره) وایي. ([۴۴])

۴۳_ حبیب الله رفیع، دخلکو سندرې، دتاریخ او ادب ټولنه، ۱۳۴۹، ۱۱ مخ.
۴۴_ داستاد بختانی لیکلی یادښت.

ښايي دمحترم ليكوال موخه له دې يادونو څخه چې شاعرانو د فولكلور هڅونه ورمات كړي، له هغې برخې څخه وي چې هغوي په خپلو شعرونو كې ورڅخه استفاده كړې ده او دا كار زمونږ ډير و شاعرانو كړى دى، چې يو شمير متلونه او فولكلوري اصطلا حات يې په خپلو اشعارو كې كارولي دي، د بيلګې په ډول:

دهر چا سره چې كينى هم هغه شى
اوس مې نيمه ژبه خوښه ده شيتك يم
(خوشحال ختك)

ددې متل معادل په دري ژبه كې (با ما نشينى ما شوي، با ديګ نشينى سياه شوي) دى . شاعر بعضې وخت مجبوريږي چې دخپل شعر د آهنګ دبرابرولو په خا طر كله متل يا اصطلاح په خپله بڼه او كله يې په ټوټوويشى او په خپل شعر كې يې ځايوي.

" دپښتني فولكلور د بيلا بيلو برخو لكه اولسى سندرو ، متلونو ، اولسى اصطلاحاتو ، محاورو، رواياتو او دودونو ټولونګ او خپرونګ ته تر ټولو دمخه په اتلسمه پيړۍ كې اروپايانو شروع وكړه خو دا بايد هيره نه شى چې داروپائيانو په دغه ډول كارونو كې مشهور ختيځ پوه ډارمستټر (۱۸۴۹- ۱۸۹۴ ع) كارونه تر ټولو دمخه زمونږ تر ستركو كيږى . نو موړي پوه د پښتو اولسى چاربيتى،

لنډۍ . او نور فولکلوري مواد په خپله مجموعه د پښتونخوا دشعر هارو بهار کی خوندي کړي. " (۴۵)

همدارنګه د پښتو د فولکلور پیژندنی په برخه کی دانګریز ختیځ پوه (مونټ ستوارټ الفنسټون) او له ده وروسته بل انګریز (میجر راورټی) ، روسی پوه (ډورن) ... په شعوري او هدفمنده توګه د پښتنو دملی کرکټر او ټولنیزې سایکالوجی د پیژندلو په منظور د پښتو شفاهی ادبیات پلټلی او خیړلی دي.(۴۶)

کاندید اکادیمیسین محمد ابراهیم عطایی هم په دې باور دی چی تقریباً په اساسی ډول د پښتو فولکلور ټولونه او څیړنه د ختیځ پوهانو له خوا پیل شوې ده .

" دپښتو دفولکلور ټولونی او څیړنی کار په نیمه علمی شیوه په نونسمه پیړۍ کی داروپایی ختیځ پیژندونکو په لاس پیل شو. نیمه علمی می ځکه وویل چی دوی دخپل دغه کار له پاره کوم ټاکلی علمی میتود نه درلود بلکی زیاتره یی د سیاسی اهدافو له پاره دغه کار کاوه. " (۴۷)

دا چی زمونږ په هیواد کی په عمومی ډول د فولکلورټولونی او څیړنی کار څه وخت پیل شوی او چا دغه

۴۵_ عبدالکریم پتنګ، فولکلوري مرغلرې، پښتو ټولنه ، ۱۳۵۶ ، دهیواد مل سریزه، ۹۹ مخ.

۴۶_ فولکلور پیژندنه ، ۴۸ مخ .

۴۷_ دفولکلور مجلی یاده شوې ګڼه ، ۱۲۴ مخ .

کارته لومړی اقدام کړی، په دې ارتباط مو دمخه لږو ډېر معلومات وړاندې کړل اوس به راشو دې خبرې ته چې د علمي او ملي مقاصدو په منظور عملاً دغه کار له کومه وخته را پیل کیږي او تر مونږه رارسیږي.

" زمونږ په هیواد کې دعلمي او ملي مقاصدو په اساس دفولکلور ټولوني هلې ځلې د محمود طرزی له خوا پیل کیږي، د طرزي ددغې بلنې په اثر غلام محی الدین افغان دپښتنو مشهور متلونه راغونډ او په سراج الاخبار کې یې چاپ کړل. " (۴۸)

ددغې موضوع دلاروښانتیا په منظور به دیوه بل محقق خبرې را واخلو: " ... کله چې په پښتني سیمو کې مطبوعات رامنځ ته کیږي نو همدغه مهال د پښتنی کلتور خواخوږي مینان دخپلو ملي شتمنیو ټولولو او خپرولو ته متوجه کیږي، او په دې برخه کې ترټولو دمخه مرحوم غلام محی الدین افغان (۱۳۰۰ هـ. ش مړ) دلومړي ځل له پاره د سراج الاخبار (۱۹۱۱-۱۹۱۹) په پاڼو کې پښتو متلونه خپاره کړل، دشلمې پیړۍ په پیل کې چې کله مطبوعات په پښتونستان او افغانستان کې پراختیا مومي له هماغه مهاله د پښتني فولکلور د بیلا بیلو برخو خپرولو ته هم زیاته توجه کیږي او په دې خصوص کې دطلوع افغان ، پښتو مجلې،

۴۸ـ فولکلور پیژندنه ، ۴۸ مخ .

کابل مجلی او کابل کالنۍ ونډه ډیره درنه ده . دغو خپرونو په تفاریقو ډیرې فولکلوري پانګی خوندي کړي دي. " ([۴۹])

د پښتو فولکلور په باب داستاد حبیبی هڅو ته هم پاملرنه په کار ده نوموړي دانشمند او دپښتو زړه سواند خدمتګار استاد چی د پښتو ادبیاتو په مختلفو څانګو کی دتحقیق ور ددوی په برکتناك لاس پرانیستل شوی دی دافغانی فولکلور دغه ګټوره برخه هم دلومړي ځل له پاره ددوی په همت دطلوع افغان په پاڼو کی خپره شوه . نو موړی استاد چی کله د طلوع افغان چلوونکی (۱۳۱۰-۱۳۱۹) ونویی ددغه اخبار په پاڼو کی د پښتو فولکلور ي ټوکی چاپ کړي دي او کله چی د پښتو ټولنی مشر شو نویی په کابل مجله کی هم دفولکلوري ټوکو خپرولو ته مخه کړه . " ([۵۰])

همدغه راز د پښتنی فولکلور ټولونی او څیړنی په برخه کی دمرحوم محمد قدیر تره کی (چی زمونږ په ټولنه کی یې د لومړي فولکلوریسټ لقب ګټلی دی) اود مرحوم امین الله زمریالی هڅی هم دیادولو وړ دي. ددوی د واړو په ګډه هڅه (دپښتو متلونه) نومی اثر چی دري ژباړه هم لري او دهر متل داستعمال ځای هم په کی ښودل شوی ،راټول او په

۴۹_ فولکلوري مرغلرې، سریزه، ۱۹ مخ .

۵۰_ پورتنی اثر، ۳۰ مخ .

(۱۳۱۸ ش) کال د پښتو ټولنی له خوا د کابل په عمومی مطبعه کی چاپ او خپور شوی دی.

دپښتو فولکلور په راټولولو او خوندي کولو کی داروانباد محمد ګل نوري (۱۳۵۲ هـ. ش مړ) هڅی د زیاتی ستاینی وړ دي. نوموړي په پوره امانتداري سره د پښتنی فولکلور بیلی بیلی برخی را ټولی او له ورکیدو څخه یی ژغورلی دي. په دې اړه یو پوه لیکی:

" دپښتو د فولکلور ټولونی په برخه کی محمد ګل نوري د (ملی هنداري) په لیکلو او دځینو نورو فولکلوري موادو په راټولولو سره ستر خدمت ترسره کړ. دده دکاریوه غټه ښیګڼه داده چی په فولکلور ټولونه کی یې دامانتداري خیال ساتلی دی ، ده په دې باره کی داسی ویلی دي:

دا میانو څه لیکلی ما کیسی دي
د مینو ښی خوږې نارې پکی د ي
نه زیادت او نه کمبود می په کی کړی
د همهغه نکلچی د خولی جملی د ي
د ا قصی خلك په ډ ول ډول کړ ینه
څوك وای داسی څوك وای داسی یی نا رې دي
که څه زیات یا کم غلط درسی په سترګو
عفو غواړم ځکه دا د بل د خولی دي
محمد ګل نو ري له دغه فخر بس دی
لڅی کړي یی دپښتو خدمت ته پښې دي

ویل کیږي چې د " ملی هنداري" په دوهم چاپ کی ځینی عامیانه جملی دقلم دعفت په پلمه (اصلاح) شوي دي او اصل ته تغییر ورکړ شوی دی. دځینو (پوهانو) په نظر د تصرف یا حذفولو موضوع ډیره جدي نه ګڼل کیږي (چی یو مثال یی دحمید نیرنګ عشق او بل مثال یی دخوشحال رباعیات دي) له بده مرغه په خپله محمد ګل نوري هم نکلچیان نه دي معرفی کړي او له موضوع سره یی پوره میتودیك برخورد نه دی کړی. سره له دې دهغه وخت په شرایطو کی دده صمیمیت او دامانتداري خیال دقدر وړ دی. " (۵۱)

له دې یادونی سره باید ووایو چې په فولکلوري روایاتو ، افسانو ، متلونو او شفاهی سندرو یا دخطی نسخو په مضمون کی د (اصلاح) په نامه ګوتی وهل او تغییر راوستل غیر علمی او ناجایز کار دی. دا (اصلاح) نه بلکی فساد دی. (*)

داروابناد نوري دملی هنداري ځینی نکلونه مالوستی چی رښتیا هم که په ځینو برخو کی دنورو له لاس وهنی څخه سترګی پټی کړو (چی هغه هم دچاپ په وخت کی دقلم د (عفت) دساتنی په نامه په کی لاس وهل شوی) دغه نکلونه

۵۱ـ فولکلور پیژندنه ، ۵۰ مخ .

(*) ـ داستاد بختانی لیکلی یادښت.

دعوامو په ژبه په ډېر خوند ور ډول خوندي شوي دي. او سړی داسی فکر کوي چی ددغی کیسی په وقوع کی واقع دی.

داچی داروابناد محمدګل نوري په آثارو کی له راټولولو وروسته یعنی دچاپ په وخت کی لاس وهل شوی یو مثال یی دهغه (پښتو متلونه) نومی اثر هم کیدای چی دهغه په سریزه کی هم دې ټکی ته اشاره شوې ده او هغه داده چی په دې متلونو کی ځینی ټکی دقلم د (عفت) په نامه حذف شوي او په خپله دټولوونکی دوینا له مخی (اصلا حات) په کی راغلی دي، چی البته دې کار دغه او دې ته ورته آثارو ته سخت زیان رسولی دی.

په هر حال په دغه وخت کی دیو شمیر نورو فولکلور ټولوونکو او څیړونکو او دپښتنی فولکلور خواخوږو نومونه هم باید له یاده ونه باسو چی په خپلو هڅو سره یې زمونږ د پښتنی فولکلور له با ارزښته مرغلرو څخه ګردونه او دوړې پورته کړي او دادب مینانو او مینه والو ته یی د قیمتی غمیو په څیر ځلولی دي، لکه استاد قیام الدین خادم چی د (پښتونولی) ترسرلیك لاندې یو اثر کښلی او په (۱۳۳۱ ش) کال د پښتو ټولنی له خوا چاپ شوی دی.

همدارنګه داستاد عبدالله بختانی خدمتګار (پښتنی خویونه) نومی اثر (چی په ۱۳۳۴ کال ، پښتو ټولنی چاپ کړی دی) دیادونی وړ دی او دپښتنی فولکلور په خوندي

کولو کی د نومړو استادانو زیار دستاینی وړ دی. په دې برخه کی یو شمیر نورو څیړونکو هم هڅی کړې چی وروسته به یې یادونه وشی.

"د پښتو ټولنې (۱۳۱۶ ش) په جوړېدو سره د پښتو فولکلور ټولونې کار ته په رسمي ډول پاملرنه کیږي، چې په همدې ارتباط د پښتو ټولنې په اساسنامه کې یوه ماده هم درج شوې ده ، په دې ډول: "دپښتوادبی ، تاریخی، کلتوری او نوروقلمی او شفاهی آثارو ټولول او دهغو نشرول لکه زاړه دیوانونه ، لنډۍ ، متلونه ، افسانی، نکلونه ، فولکلور او نور. " (۵۲)

له (۱۳۱۵ ش) کال څخه تر (۱۳۵۱) کال پورې دفولکلور ټولونی او څیړنی په برخه کی زیاتی مقالی او ځینی مستقل آثار چاپ شوي دي، چی د ح.ر. په (پښتو پانګه) کی د پښتو د فولکلوري آثارو مفصل لست دمینه والو کتنی ته انتظار باسی. اما د فولکلوري معلوماتو د تحلیل او څیړنی د میتودولوژی په باره کی دننه په هیواد کی د یادونی وړ اثر نه دی لیکل شوی. دشوروي اتحاد ځینو پوهانو لکه اسلا نوف، عزیز نیالو، دوریانکوف، ګیرس، لیبدوف، عبدالحفیظ غنی

۵۲ـ دپښتو ټولنی اساسنامه ، د ۱۳۳۴ کال چاپ، دوهم فصل، څلورمه ماده .
یادونه: دغه اساسنامه د وزیرانو په عالی غونډه کی تصویب او دپاچا دفرمان په اساس منظوره شوې ده .

یوف ، عارف عثمان او صولت شاه د پښتو فولکلور په روسی ژبه معرفی کړی او تحلیلی لیکنی یې ورباندی کړې دي. " ([53])

زما دمعلوماتو له مخی په دې وروستیو وختو کی دننه په افغانستان کی هم د پښتنی فولکلور د تحلیل او معرفی په منظور ځینو لیکوالو هڅی کړې دي د بیلګی په توګه په (پښتو ځیړنی) نومی اثر کی چی په (۱۳۵۶) کال کی چاپ شوی د پښتو لنډیو په باب دارواښاد استاد مجروح مقاله، دمیرمن معصومی عصمتی مقاله او یو شمیر نورې مقالی دیادونی وړ دي. همدارنګه دسلیمان لایق له خوا دلنډیو تحلیلی څیړنه چی (پښتو لنډۍ) نومی اثر په پیل کی (د۱۳۶۴ کال چاپ) نشر شوې ده . په همدې توګه دکاندید اکادیمسین محمد ابراهیم عطایی(ملی هنداره داجتماعی څیړنو له نظره د ۱۳۶۳ کال چاپ) او دده بل اثر (د پښتو پر شفاهی داستان یوه تحلیلی څیړنه، دکلتور د دولتی کمیتی د ۱۳۷۰ کال خپرونه) یادولی شو.

په همدې ډول دکاندید اکادیمسن محمد صدیق روهی، دوست شینواري او زلمی هیواد مل هڅی هم باید له یاده ونه باسو . همدارنګه له (۱۳۷۰ کال) څخه مخکی د لنډیو یوه مجموعه کاندید اکادیمسن محمد رحیم الهام په

۵۳ـ فولکلور پیژندنه ، ۵۰-۵۱ مخونه.

تاجیکی ترجمه او دتاجکستان په جمهوریت کی خپره شوې ده.
ددغه اثر په سریزه کی یوه څېړنه هم موجوده ده.

په کوزې پښتونخوا کی هم په اردو ژبه پښتنی فولکلور معرفی او څېړل شوی دی چی دغه کار رضا همدانی او ځینو نورو لیکوالو کړی دی.

تر هغه ځایه چی ما ته معلومه ده. (دپښتو ټولنی تاریخچه) نومی رساله کی چی په (۱۳۵۶) کال د پښتو ټولنی له خوا خپره شوې ده د پښتو ټولنی له خوا د خپرو شووآثارو یو لست وړاندې شوی چی ددغی ټولنی له تاسیس (۱۳۱۶) کاله تر همدې نیټی یې څه ناځه (۲۰۰)عنوانه بیلا بیل آثار چاپ اوخپاره کړي دي، چی له دې جملی څخه یو شمیر آثار د پښتنی فولکلور په باب هم خپاره شوي چی دلته به دبیلګی په ډول دځینو نومونه یاد کړو:

۱ـ پښتو متلونه ، د۱۳۱۸ کال چاپ.
۲ـ ملی سندرې(پښتو لنډۍ)، د ۱۳۲۳ کال چاپ.
۳ـ ملی هینداره، لومړی ټوك، د۱۳۱۸ کال چاپ، دوهم ټوك د ۱۳۵۲ کال چاپ.
۴ـ پښتنی سندرې (دوه ټوکه) د۱۳۳۴ - ۳۵ کلونو چاپ.
۵ـ متلونه د ۱۳۲۷ کال چاپ.
۶ـ د پښتو متلونه د ۱۳۴۴ کال چاپ.
۷ـ پښتو نولی د ۱۳۳۱ کال چاپ.

۸ـ پښتني خو يونه د ۱۳۳۴ کال چاپ.
۹ـ پښتني دودونه د ۱۳۳۶ کال چاپ.
۱۰ـ دپښتنو دودونه د ۱۳۵۳ کال چاپ.

او داسې نور آثار چې وروسته به په ځانګړي فصل کې ددغو او دې ته ورته آثار و په باب خبرې وشي.

تر دې ځايه مو په عام ډول د کندهار او کابل دادبي انجمنونو، پښتو ټولنې او ددغو علمي مؤسسو دموقوتو خپرونو په مرسته د فولکلور ټولونې او فولکلور څېړنې د چارو دسر ته رسولو او کړو کار ونو په اړه خبرې وکړې. همدارنګه په سراج الا خبار کې د پښتو متلونو د نشر او دهيواد د منلي ژورناليست علامه محمود طرزي د بلنې په ارتباط مو لږو ډير معلومات وړاندې کړل.

اوس به په دې اړه خبرې وکړو، چې کومو علمي مرکزونو په راوروسته وختو کې د فولکلورڅيړنې او ټولونې هڅو ته دوام ورکړی او دا لاريې تعقيب کړې ده ، کله چې په (۱۳۱۶) کال کې دکندهار د پښتو انجمن او دکابل دادبي انجمن ديوځای کيدو په نتيجه کې پښتو ټولنه منځ ته راغله ، دغې ټولنې بر سيره پر نورو اړوندو موضوعګانو پښتو فولکلور څيړنې ته هم پام اړولی دی او دغه لړۍ يې په خپل علمي چوکاټ کې د(۱۳۵۷) کال تر څو مياشتو تعقيب کړې ده .

زمونږ په ګران هیواد افغانستان کی له (۱۳۱۶- ۱۳۵۱) کاله بله داسی کومه مؤسسه نه تر سترګو کیږي چی د پښتنی فولکلور څیړنی له پاره يي په ارادي توګه منظم کار تر سره کړی وي، کیدای شی چی ځینو مجلو او ورځپاڼو په ځانګړي ډول یو شمیر متفرق مواد خپاره کړي وي او همدا رنګه به دپښتنی فولکلور یو شمېر خوا خوږو پښتنو دغه کارته په ځانګړي ډول ملا وې تړلی وي.

کله چی د (۱۳۵۱) کال په وروستیو کی داطلاعاتو او کلتور وزارت په چوکاټ کی (فولکلور ټولنه) جوړیږي، چی د پښتو ټولنی په څنګ کی دغه ټولنه هم دافغانی فولکلور ټولونی او څیړنی ته مخه کوي. دغه ټولنه د (فولکلور) په نامه یوه مجله هم خپروي، چی دغه مجله وروسته د (فرهنګ خلق) او بیا د (فرهنګ مردم) په نومونو مسمی شوې ده. ددې ټولنی په باب به د هیواد دپیاوړي محقق محمد صدیق روهی خبرې (چی ددغی ټولنی لومړنی رئیس و) واورو:

" د ۱۳۵۱ کال ددلوې په میاشت کی داطلاعاتو او کلتور وزارت په تشکیل کی دفولکلور ټولنی تاسیس ومنل شو او په (۱۳۵۲) کال کی يې رسماً په کار پیل وکړ. دغی ټولنی د خپل تاسیس په لومړیو دری میاشتو کی وکولا ی شول چی د (فولکلور) په نامه مجله او د (قصه ها وافسانه

ها) او (پښتنی ملی اتڼونه او نڅاوې) په نامه دوه اثره چاپ کړي....
نوموړی خپلو خبروته په دې ارتباط داسی دوام ورکوي:
دفولکلور مجلی نوم لومړی په (فرهنگ خلق) او بیا په (فرهنگ مردم) واړول شو...." ([۵۴])
دغه مجله په هماغه وخت کی د (آمریت فرهنگ مردم و بنیاد فولکلور افغانستان) له خوا د کلتورددولتی کمیټی په چوکاټ کی په هرو دوو میاشتو کی خپریدله.
" دفرهنگ مردم مجلی دخپل تاسیس کال (۱۳۵۷) ښودلی دی او له دې څخه ښکاري چی دغه مجله (دفولکلور) دمجلی ادامه نه گڼله کیږی. سره له دې د (فرهنگ مردم) په مجلی کی داسی عبارتونه هم تر سترگو کیږی:
" درآغاز سال (۱۳۵۲) انجمن ادب و فولکلوردر چوکاټ وزارت اطلاعات و کلتور وقت تاسیس گردید، اولین شماره مجله فولکلور که اکنون به نام فرهنگ مردم یادونشر میشود درجوزا و سرطان همین سال انتشار یافت. " ([۵۵])
دغی مجلی د اطلا عاتو او کلتور وزارت په چوکاټ کی د (امریت فرهنگ مردم) داداری له خوا د (۱۳۷۰) کال

۵۴_ فولکلور پیژندنه ، ۵۱ مخ .
۵۵_ همدغه اثر، ۵۱ مخ.

تر پایه خپلو خپرونو ته دوام ورکړ چی دفولکلورپه باب یي یو شمیر زیاتی مقالی او ددې په څنګ کی یې په مستقل ډول اوله مجلی سره د ضمیمی په توګه یو شمیر فولکلوري رسالی هم نشر ته سپارلی دي. لکه دګوربزو کلتور او فولکلور ، ملی هینداره او داسی نور.

د یاد ولو وړ ده چی د (فرهنګ مردم) آمریت چی دوخت داطلاعاتو او کلتور وزارت په چوکاټ کی یې فعالیت کاوه . د (۱۳۶۴) کال دمیزان دمیاشتی په (۲۴-۲۵) نیټه یې د(شناخت فولکلور) یا (فولکلور پیژندنه) تر سرلیك لا ندې یو نړیوال سیمینار جوړ کړ. دغه نړیوال سیمینار چی د فولکلور پیژندنی په باب یي په افغانستان کی لومړی سمینار ګڼلا ی شو ، زمونږ په ګران هیواد افغانستان کی دلومړی ځل لپاره دکلتور ددولتی کمیټی له خوا د کابل پوهنتون ، دافغانستان دعلومو اکادمی او ددوستو هیوادونو په فعالی ونډې اخیستنی سره جوړ شوی دی.

دغه سیمینار ته دافغانستان دعلومو اکادمی له خوا هم یو پیغام استول شوی چی په یوه برخه کی یې راغلی دي:

" دکلتور ددولتی کمیټی دغه اقدام د قدروړ دی. چی زمونږ داولسی فرهنګ د پیژندنی او ددغو فرهنګی شتمنیو دپوهی له پاره یې دغه بین المللی سمینار جوړ کړی

دی ځکه ددغه سیمینار په نتایجو کی به دا څرګنده شی چی فولکلور څه شی دی، کوم مطالب په فولکلورکی مطالعه کیږی او فولکلوري دغه مواد باید له خلکو نه په څه ډول راټول شی...." ([56])

په دی سیمینار کې پر پیغامونو بر سیره د بیلا بیلو موضوعاتو په باب د (۱۲) په خواو شا کی مقالی ولوستل شوې چی له دې جملی څخه (۳) مقالی په پښتو ژبه وې، دغه مقالی دفرهنګ مردم مجلی د (۱۳۶۴) کال په (۳-۴) ګڼه کی له پیغامونو سره یوځای خپرې شوې دي.

دغه سیمینار بیا هم په خپل ځای د قدرړ دی او دافغانی فولکلور ټولونی او څیړنې په کار کی یې دیوې هڅی په حیث ګڼلا ی شو. خوددې په څنګ کې زمونږ یومحقق په دې ارتباط لیکی: " ... دفرهنګ مردم له خوا چی کوم سیمینار جوړ شوی و، د قدروړ دی خو عملی نتیجي یي تقریباً دنشت په حساب دي. ددغه سیمینار یو ګډون کوونکی وویل: " مونږ بالاخره پوه نه شوو چی فولکلور څه شی دی. ځکه مختلفی نظریې وویل شوې چی یو له بله یی توپیر درلود. " اوس یوه بل سیمینار ته اړتیا لیدل کیږی. " ([57])

۵۶_ دافغانستان دعلومو اکادمی پیغام . فولکلور مجله. داطلاعاتو او کلتور وزارت، ۳-۴ګڼه، ۱۳۶۴ کال.

۵۷_ فولکلور پیژندنه ، ۱۸۲ مخ .

کله چی په (۱۳۵۷) کال کې د پښتو ټولنی پر بنسټ دافغانستان دعلومو اکادیمی جوړه شوه ، ددغی اکاډیمی په چوکاټ کې د ژبو او ادبیاتو علمی او تحقیقی مرکز هم شامل و ، چی په دغه مرکز کې (دفولکلور او شفاهی ادبیاتو) دیپارتمنټ هم په فعالیت پیل وکړ. دغه دیپارتمنټ له همدغه وخته د فولکلور ټولونی او څیړنی په کار پیل وکړ او هغه کار ته یې چی پښتوټولنی پیل کړی و ، دوام ورکړ او خپل د لنډې او اوږدې مودې پلانونه یې د مرکز له پلانونو سره همغږه کړل او همدارنګه یې د تاجکستان دعلومو داکاډیمی دفولکلور له څانګی سره خپل اړیکی ټینګک کړل او حتی څینی مشترکی پروژی یې هم تر کار لاندې ونیولی چی ددغو پروژو کار تر یوه حده پر مخ ولاړ او ځنی یې لا بشپړې هم شوې.

په دغه وخت کی کابل مجلی او زیری جریدې هم دژبو او ادبیاتو په مرکز کی د پخوا په شان خپلو نشراتی هڅو ته دوام ورکاوه چی د پښتو ژبی او نړیوالو ادبیاتو او ژبپوهنی پورې داړوندو موضوع ګانو ترڅنګک یې یو شمیر فولکلوری مقالی او حتی رسالی هم په خپلو پاڼو کی خپرې کړی دي، دبیلګی په ډول:

- دودونه ، دعبدالواجد واجد لیکنه، د ۱۳۶۰ کال چاپ (زیری)

❖ ټوټکی، دعزیزالله امر خیل لیکنه، د ۱۳۶۳ کال چاپ (زیری)

ددغو دواړو خپرونو په نشراتی کړنلاروکی په ډاګه ښودل شوې وه چی باید دنورو کارونو په څنګ کی فولکلوري مواد هم خپاره کړي یعنی ددغو خپرونو په نشراتی تګلاره کی د فولکلوري څیړنو د نشر په باب ځانګړې ، مادې موجودې وې.

کابل مجلی خپلو خپرونو ته همداسی دوام ورکاوه خو د زیری جریده د (۱۳۶۵) کال په حوت کی دیو شمیر مغرضو او متعصبو په اصطلا ح (دانشمندانو) د پیشنهادونو او توطئو په اساس د شپږمی ګوتی په حیث متوقفه شوه.

دژبو او دابیاتو دمرکز دغو خپرونو ته نه یوازې دفولکلور او شفاهی ادبیاتو دځانګی علمی غړو بلکی ددغه مرکز ټولو غړو او حتی د پښتو څیړنو دبین المللی مرکز ځینو اعضاوو ، دکابل پوهنتون استادانو او نورو علاقمندانو هم فولکلوري او نورو موضوع ګانو پورې اړوندې مقالی لیکلی اوله دې لارې خپریدلی. ددغه مرکز غړو له (فولکلور) مجلې وروسته (فرهنګ مردم) مجلی سره هم همکاري کوله.

دلته دیوې بلی خبرې کول هم ضروری دې چی که څه هم کابل مجله او زیری جریده په پښتو ژبه خپریدې خو هیڅکله یې هم کارکوونکو او مسوولینو له تعصب څخه کار

نه دی اخیستی اودهیواد دنورو ژوندیو ژبو او ادبیاتو پورې اړوند مسایل یې هم په پراخه ټنډه خپاره کړی دي، لکه : ددرې ژبې، بلوڅی ژبی، نورستانی ژبی په باب په پښتو ژبه لیکلی مقالی او داسی نور.

دژبو او ادبیاتو دمرکز دفولکلوری هڅو په نتیجه کې یو شمیر آثار هم خپاره شوي چی دلته دهغو په کیفیت څه نه وایو او په خپل ځای به ورباندې خبری وکړو خو یوازی دځینو آثارو نومونه یادوو:

۱_ دودونه ، د ۱۳۶۰ کال چاپ.

۲_ ټوټکی، د ۱۳۶۳ رر رر.

۳_ لنډۍ، د ۱۳۶۴ رر رر.

۴_ پښتنی فولکلور، د۱۳۶۵ رر رر.

۵_ فولکلور پیژندنه، د۱۳۶۵ رر رر.

۶_ دفولکلور پوهنی سیمپوزیم (دمقالو مجموعه) د ۱۳۶۶ کال چاپ.

۷_ دکندهار فولکلور، د ۱۳۶۹ کال چاپ.

۸_ ټوکی ټکالی، د ۱۳۶۹ رر رر.

۹_ دمومند ونرخونه ، د ۱۳۷۰ رر رر.

۱۰_ دننګرهار نکلونه، د ۱۳۶۸ رر رر.

۱۱_ دګوربزو نکلونه، د۱۳۶۸ رر رر.

۱۲_ دپکتیا نکلونه، د۱۳۶۹ رر رر.

۱۳_ فولکلوري ګلونه ،   د ۱۳۶۰ رر رر.

او داسی نور آثار چی د ټولو یادول موضوع اوږدوي یو شیمر آثار چی نه دي خپاره شوي، قلمی یا ټایپی نسخی یې دافغانستان دعلومو اکادمی په کتابتون کی خوندي دي.

دیادولو وړ ده چی ددغه مرکز په چوکاټ کی نه یوازې دا چی د پښتنی فولکلور او ادبیاتو د پرمختګ له پاره هڅی روانی دي بلکی ددري ژبی او ادبیاتو په انستیتوت کی هم دنورو علمی –تحقیقی فعالیتونو په څنګ کی فولکلوري آثارو ته پاملرنه شوې او کیږي او همدارنګه دورونو ملیتونو انستیتوت، اوزبیکی او ترکمنی انستیتونو کی هم د فولکلور له پاره کارروان دی چی ځینی آثار یې خپاره کړي هم دي لکه:

- افسانه های فولکلوریك غرجستان ، ددرې ژبی دانستیتوت له خوا.
- افسانه های مردم نورستان ، د ورونو ملیتونو دانستیتوت له خوا.
- پشه یي- پښتو متلونه ، دزمان کلما ني اثر، د پښتو څیړنو دبین المللی مرکز له خوا چاپ شوی دی.
- نورستانی- پښتو – فارسی متلونه . قلمی.

همدارنګه د بلوڅی فولکلور په باب ځینی مقالی او آثار خپاره شوي دي. دافغانستان دعلومو اکادمی په څنګ کی

یوه بله بین المللی علمی موسسه چی مخکی یې په مستقل ډول فعالیت کاوه او اوس د افغانستان دعلومو اکادمی د یوه علمی مرکز په توګه خپل کارونه پرمخ بیایي دیادولو وړده.

دغه علمی - تحقیقی مرکز چی په (**۱۳۵۵** هـ. ش) کال کی یې تشکیل منظور او عملاً یې په کار پیل وکړ د پښتنو د ادبیاتو دیوې برخی او دپښتنو تاریخ او ځینو نورو اړوندو موضوع ګانو دروښانولو او څلولو ترڅنګ یې د پښتنی فولکلوري آثارو دخپرولو په باب هم هڅی کړی دي.

دغه فولکلور که له یوې خوا بهرنی‌ړنړی ته ورپیژندل کیده او دغه مرکز په خپله خپرونه ((پښتو مجله)) کې زیات شمیر فولکلوري نکلونه ، متلونه ، پښتو لنډی، د پښتنو دودونه ، نرخونه او داسی نور مواد په بهر نیو (دیونسکو په ژبو) ژبو ژباړلی او خپاره کړي یي دي او له دې لار ې یې د پښتنی فولکلور سره د نړیوالو داشنا کیدو او استفادې په اړه ستر خدمت ترسره کړی دی.

ددې ترڅنګ دغه مرکز یو شمیر مستقل آثار هم دفولکلور د اړوند و موضوعاتو په باب خپاره کړي دي، د بیلګی په ډول:

۱_ دپښتنی قبیلو اصطلا حی قاموس، د **۱۳۵۷** کال چاپ ، دغه اثر په انګریزی ژبه هم ترجمه او خپور شوی دی.

۲_ پشه یي- پښتو متلونه ، د **۱۳۶۲** کال چاپ.

۳ـ په لغمان کی دواده دودونه ، د ۱۳۷۰ کا ل چاپ.
۴ـ ددو دوستو هیوادونو اولسی پوهه ، د ۱۳۶۳ کال چاپ.

مخکی له دې چی دکابل پوهنتون دژبو او ادبیاتو د پوهنځی دهڅو په باره کي څه ووایم پرځان لا زمه ګڼم چی دافغانستان دعلومو اکاډیمی د ژبو او ادبیاتو دمرکز هغه هڅی یادې کړم چی د فولکلور ټولونی او څیړنی دکارونو دلا انسجام په منظوریې ترسره کړي دي.

دافغانستان دعلومو اکادمی دژبو او ادبیاتو مرکز په دې خاطر چی زمونږ فولکلور څیړونکی په تیره بیا ځوان محققین په سمه توګه او دعلمی میتود په رڼا کی له خپلو اړوندو سیمو څخه دپښتنی فولکلور او په عام ډول دافغانی فولکلور بیلا بیل اصناف راټول او له ورکیدو وژغوري، د (۱۳۶۵) کال دحوت په میاشت کی (دفولکلور پوهنی سیمپوزیم) تر سرلیك لاندې یو علمی سیمینار جوړ کړ چی په دغه علمی سیمینار کی څه نا څه (۱۰) مقالی چی د هیواد تکړه محققینو لیکلی وې، ولوستل شوې او په (۱۳۶۶) کال کی د ښاغلی زلمی هیواد مل په زیار تدوین او په ګستتنري ډول خپرې شوې.

په دغو مقالو کی د پوهانو له خوا د فولکلور ټولونې او څیړنی په باب مغتنمې مقالی لیکل شوې وې چی په سیمینار کې ولوستل شوې، که زمونږ فولکلور څیړونکی

خاصتاً ځوانان ورباندې عمل وکړي، په دې لاره کی به که خدای کول بریالیتوبونه ترلاسه کړي.

همدارنګه په (۱۳۶۵) کال کې یو بل میتودیك اثر چی په افغانستان کی دفولکلور څیړنی او ټولونی په باب تردې وړاندې داسی مشرح اثر نه و خپور شوی، د ژبو او ادبیاتو دمرکز له خوا چاپ شو. دغه اثر ښاغلی کاندید اکادیمیسن محمد صدیق روهی لیکلی چی له فولکلور څیړونکو سره ښه مرسته کولی شی. دا چی په دې ارتباط یو شمیر پوهانو خورې ورې مقالی هم لیکلې دموضوع دنه اوږ-دولو په منظوریې له یادولو څخه دلته ډډه کوو.

په همدې توګه د پښتنی فولکلور څیړنی په برخه کی دکابل پوهنتون دژبو او ادبیاتو د پوهنځی هڅی هم باید له پامه ونه غورځوو، ددغه پوهنځی استادانو دوږمی مجلی له لارې یو زیات شمیر فولکلوري مقالی خپرې کړي او هم یې یو شمیر محصلینو ته وظیفه ورکړې ده چی خپل مونوګرافونه دخپلو سیمو دفولکلور په باب ولیکی او همدارنګه ددغه پوهنځی له خوا دځینو فولکلوري آثارو دخپریدو زمینه هم برابر ه شوې ده ، چی ځینی یې دادي: دخلکو تجربی د ۱۳۵۶ کال چاپ، کرکی کږ نی او داسی نور.

په همدې ډول ددغه پوهنځی استادانو د نورو همکاریو ترڅنګ له کابل مجلی ، زیری جریدې، پښتو

مجلی، فرهنګ مردم او نورو موقوتو خپرونو سره همکاري کړې ده او په دې لاره کې يې خپلې هڅې جاري ساتلې دي.
همدارنګه دپښتني فولکلور په باب دهيواد نورو نشراتو خاصتاً د (هيواد) ورځپاڼې چې دفولکلور ځانله اختصاصي مخونه يې هم خپرول ، د جرګې مجلې او مليت هاى برادر هم ځينې فولکلوري مطالب خپاره کړي دي، البته دعامو خلکو له پاره دغه خپرونې شوي، نه په دقيقه او علمي توګه.

له دې ټولو خبرو څخه دې نتيجې ته رسيږو چې په افغانستان کې د پښتني فولکلور ټولونې په برخه کې د پښتو ټولنې او وروسته دافغانستان دعلومو اکادمۍ د ژبو او ادبياتو دمرکز دکارکوونکو هڅې دهر بل علمي او تحقيقي مرکز او ځانګړو اشخاصو په اندول زياتې دي او په دې لاره کې په پخوانيو مشرانو او ددې لارې له لا رواياتو برسيره ځينو ځوانانو او په عمر پخو ليکوالو هم اوچت ګامونه پورته کړي دي لکه:

حبيب الله رفيع، زلمی هيوادمل، علی‌محمد منګل، عزيزالله امرخيل، اروابناد محمد مومن پتوال (۱۳۷۰ هـ . ش مړ) ، ميراحمد ګوربز، نصرالله ناصر، مجاور احمد مومند ، حضرت محمد ويار، شهزاده زيارن، نورالله ولسپال، بسم الله حقمل، محمدعارف غروال، عبدالواجد واجد ، غوټۍ خاورې او نور.

په تیرو پاڼو کې مې دفولکلور ټولونې او څیړنې په باب په عمومي ډول اوپه خاصه توګه د پښتنې فولکلور ټولونې او څیړنې په باب یو لړ ناڅیز معلومات وړاندې کړل، بنایي زما دغه څیړنه به له هره حیثه بشپړه نه وي او ډیر ی نیمګړ تیاوې به ولري، ځکه چې دا څیړنه په داسې وخت کې تر سره شوې چې دویرې، ډاراوناکراري شرایط دي اوله بلې خوا د ماخذونو کمبود او دکتابخانو له منځه تګ او یاچورکیدل دا ټول هغه عوامل دي چې زما څیړنه ورڅخه بې تاثیره نه شي پاتې کیدای که څه هم ما د ماخذو دتر لا سه کولو په خاطر د ډیرو دوستانو دروازې ټکولې او ددوی له شخصي کتابخانو څخه مې استفاده کړې ده او خپل کار مې تر دې اندازې را رسولی دی. په هرحال هغه متل دی چې وایي:

" کم ما و کرم شما "

زه ددغه اثر له درنو لوستونکو څخه هیله کوم چې ما خپلو تیروتنو ته متوجه کاندي څو ددوی د ګټورو مشورو په مرسته وکولی شم په راتلونکی کی ددغه نیمګړې زیار نیمګړتیاوې تریوه حده بشپړې کړم. (*)

(*)* _ ماددغی برخی په لیکلو او بشپړولو کی برسیره پر یادو شوو ماخذونو د زیري جریدې د ۱۳۵۷ ، ۱۳۶۰، ۱۳۶۳کلونو له کالنیو ، دفولکلور پوهنی سمپوزیم د مقالو مجموعی او دژبو او ادبیاتو مرکز له خوا د یو شمیر نورو خپروشوو آثارو اوله خپلو شخصي یادښتونو څخه هم استفاده کړې ده.*

[۳]

په لره پښتونخوا کې د
پښتنی فولکلورټولونی او څیړنی هڅې

" دیو ملت وګړي هغه وخت ژوندي پاتی کیږي ، چی ژبه یې غنی تاریخ یې خوندي او ملی متاع یي زیرمه وي..." (۵۸) باید ووایم چی پښتانه دشلمی پیړۍ له پیله راپه دیخوا یو څه دې ټکی ته متوجه شوي چی باید خپلی ژبی او تاریخ ته کاروکړي خو بیا هم څنګه چی لازمه ده ، پښتو ته هغسی کارنه دی شوی، په دې اړه به زمونږ دیوه مشهور لیکوال خبرې راواخلو چی له خپلو ورونو څخه یې ګیله کړې ده .

---

* خرنګه چی ما له ۱۳۵۸ کاله را په دیخوا دژبو او ادبیاتو دمرکز په بیلا بیلو برخو کی وظیفه اجرا کړې او زیاتره رسمی سندونه او پروتوکولونه می له مخی تیر شوي (چی اوس له منځه تللی دي) نوځکه می ځینی معلومات دهماغو اسنادو په رڼا کی هم وړاندې کړې دي. (لیکوال)

۵۸ـ ولی محمد خان سیال کاکړ، مزارات، اسلا میه پریس کوټه، ۱۹۷۳، ۷ مخ.

نوموړی لیکوال خپلی خبری دخوشحال خان ختټک په دې لاندې شعر پیل کوي:

چایې پلو له مخه وانه خیست
پښتو لا هسی بکره پرته ده

رښتیا هم دا چی پخپله پښتنو ګرانی پښتو ته ، هیڅکله التفات او پاملرنه نه ده کړې- که چیرې دانصاف او عدالت له مخی قضاوت وکو، نو خبره به داسی سپینه شی، چی تر ټولو دمخه داروپا پوهانو او دلسانیاتو عالمانو په موږ پښتو زموږ مورنۍ ژبه ، ګرانه پښتو پیژندلی ده. ځینو پوهانو د پښتو ګرامر ونه لیکلی دي، او ځینو بیا زموږ دژبی ضرب الامثال او لغات راغونډ کړي دي، ځینو بیا دا زیار ایستلی دی چی دادب مینانو ته یې د پښتو ملی سندرې وړاندې کړي دي او ځینی پلټونکی داسی دي، چی هغو د پښتنو دنسل او نژاد په باب خپل عقاید ښکاره کړي دي لکه ایم آرایلفنسټون ، ایچ، جی راورټی، هینري والتربلیو، میجر لوریمر، جی، اي ګریرسن او دپښتو لوی پوهاند جیمزډ ارمسټټر.

خوپه خپله پښتانه تراوسه خپلی ژبی ته ملتفت نه دي، متاء سفانه ، نه خو په خپله کار کوي او نه یو بل لیکوال کار کولو ته پریږدي، ښکاره خبره ده چی په دې باب تر دا وخته پورې پلټنی او علمی کنجکاوي نه ده شوې، په تیره بیا د پښتو دادبیاتو فولکلوري اړخ ، درنو لیکوالو ته هر

وخت بلنه ورکوي، ځکه چی زموږ فولکلور تر اوسه پورې دخلکو په سینو کی خوندي پروت دی او زموږ دادبیاتو دغه خوند وره برخه به تر هغه پورې دخلکو په سینو کی زیرمه وي تر څو پورې چی زموږخلکوته دتمدن پلوشی نه وي رارسیدلی، په خپلو سترګو وینو چی دښار اوسیدونکو پښتنو، تریوې لویې اندازې پورې فولکلوري ورثه له لا سه ورکړې ده . دغه راز زموږ په صحرا کی هم ورځ په ورځ فولکلوري شیان له منځه ځی.... (۵۹)

که څه هم زموږ د یو شمیر محققینو په عقیده د فولکلور ټولونی کار زموږ په هیواد کی له اویا وو کلونو راپه دیخوا پیل شوی خو د غه کار تر یوه حده تیت او پرك او زیاته برخه یې دزاړه او عنعنوی میتود په رڼا کی را ټوله او خوندي شوې ده ، خو دفولکلورخیړنی کار ته زیاتره وروسته دپوهانوپام وراوښتی دی.

" دنولسمی صدۍ (*) په سر کی زموږ د ژبی او ادبیاتو دمطالعی نه د مستشر قینو مخه لکه چی بل پلو واوړیده ، خو په دې دوران کی د پښتو دور جدید آغاز شوی وو او په خپله د پښتون محقق، ادیب او اهل قلم فکر دې پلو

۵۹ـ ولی محمد خان سیال کاکړ، پښتنی فولکلور، دپښتو ادبی شپول، کوټه اسلا میه پریس، ۱۹۷۱، ۵-۶ مخونه .

(*)ـ زما په خیال ، دنونسمی صدۍ په سر کې ، به درست نه وي. ښایي دخطاط غلطی وي یا به لیکوال سهوه شوی وی درست شکل به یې دشلمی پیړی پیل وي.

راگرځیدلی وو او دنورو علمي او ادبي تخلیقاتو سره سره د پښتو دکلاسیکي نیم کلاسیکي او عوامي ادب په تحقیق او څیړنه هم کارشروع شوی و.

دپښتو متلونو په سلسله کې مولانا عبدالرحیم مرحوم او قاضي رحیم الله مرحوم دواړو د شلمي صدۍ په وړومبی سر کې د قدرولو قابل کار کړی دی خو په اصل کې ددویم جنګ عظیم دخاتمي تر وخته په بر صغیر پاکستان او هند او زمونږ د ورور ملك افغانستان په سیمه د پښتنو د معاشي او معاشرتي ژوند، ددوی دتاریخ او ادب پلو،خصوصي توجه وکړی شوه. د (پښتو متلونه) په باب وړومبی کتاب چې محمد ګل خان نوري مرتب کړی و دکابل پښتو ټولنې په (۱۳۳۷) میلادي[۶۰] کال کې چاپ کړو په دې کتاب کې د تهاربرن د متلونو د مجموعې نه خواو شاشپږ سوه متلونه

۶۰_ لومړی باید ووایم چې دغه مجموعه په (۱۳۲۷) شمسي کال کې د پښتو ټولنې له خوا چاپ شوې، نه په (۱۳۲۷) میلا دي کال کې. بله دیادولو وړ خبره داده چې دمرحوم نوري دمتلونو مجموعه لومړنۍ مجموعه نه ده بلکې تردې دمخه په (۱۳۱۸) کال کې د پښتو متلونه یوه مجموعه پښتوټولنې خپره کړې چې دمرحوم محمد قدیر تره کي اومرحوم امین الله زمریالي له خوا راټوله شوې ده. (لیکوال)

زيات دي او ددوی زياته برخه د پورتنی روه دننگرهار ، قندهاردسیمی معلومیږي..."(٦١).

زمونږ د پښتو ژبی خدمتګار اديب او فولکلور يست په دې باب چې پښتو فولکلور ته څه وخت توجه شوې (هغه هم په خپله دداخلی پوهانو خاصتاً پښتنو له خوا) داسی نظر څرګندوي:

" ... له بده مرغه زمونږ په هيواد کی د فولکلور ټولونی کار په اساسی توګه وروسته پيل شوی او ځينو خوا خوږو پښتنو دخپل شخصی ذوق له مخی ددې پنځو سوکالونو (**) په موده کی لر او بر څه کارونه کړي دي، اوس خو په ګران هيواد افغانستان کی زمونږ ډير ځوانان په دې چارو بوخت دي، په کوټه کی خو دمحترم پروفيسر سيال کاکړ د پښتنی فولکلور ټولونی چارې تر هر چا زياتی دي او دځينو نورو ښاغلوهڅی هم په دې پښتنی مرکز کی دهیرولو نه دي. اما په پيښور کی دغه جريان لږ څه سست دی يوازې دپروفيسر محمد نواز خان طا ئر هڅو ته مونږ د قدر په سترګه ګورو او درحمن ګل په مکتبه کی چی دګړنی ادب په

٦١_ محمد نواز طائر، روهی متلونه (سريزه) پښتو اکیډیمی پيښور يونيورستی حميد يه پريس ، ۱۹۷۵ ، ص، ۹.

(**)_ څرنګه چی دغه مقاله (۱۳) کاله پخوا خپره شوې نو اوس ويلی شو چی د څو شپيته کالو په موده کی.

چوکاټ کی کوم کتابونه چاپیږي، محض د تجارت له پاره دي او کوم ارزښت نه لري..." (۶۲)

زما په نظر په کوزه پښتونخوا کی لومړنی اثر چی د پښتنو یو شمیر دودونه او کړه وړه یي په خپلو پاڼوکی خوندي کړي دي، حیات افغانی دی چی لیکوال یې محمد حیات خان او اردومتن یې په (۱۸۶۸ کال) چاپ او خپور شوی دی دا هم باید ووایو چی دغه اثر په دې وروستیو کی دافغانستان دعلومو اکادمی د پښتو څیړنو دبین المللی مرکز دعلمی غړو ښاغلو عبداللطیف طالبی او فرهاد ظریفی له خوا په پښتو ژباړل شوی او په (۱۳۷۰ ش) کال کی د قومونو او قبایلو چارو وزارت له خوا په دریو ټوکونوکې چاپ او خپور شوی دی.

همدارنگه نوموړي لیکوال یو شمیر کسرونه راټول او په اردویی ترجمه کړي دي. په دې باب (دمروتو کسرونه) نومی اثر سریزوال لیکی:

" ... یوه عجیبه تاریخی حواله می په گوتو راغله ، دا حواله دکتاب حیات افغانی (تصنیف دمحمدحیات خان...) په (**۵۵۶**) مخ د (ذوق سرود) دعنوان لاندې یوه فقره ده'دی

۶۲_ زلمی هیوادمل ، اوسنی گړنی ادب او ...، دافغان یاد ، کابل پوهنتون دولتی مطبعه، ۱۳۶۰، ۱۵ مخ .

وایي چې " ما دقبایلو کسرونه راغونډ کړي او اردو کې ترجمه کړي وو، ولې چاپ مې نه کړه..." ([63])

دپښتنی فولکلور د نوروبرخو راټولولو ترڅنګ په کوزه پښتونخوا کې متلونه هم را ټول شوي دي : " ... په پخوانیو مجموعو کې بله مجموعه دروضة الا مثال ده چې دمولوي سیداحمد له خوا ټوله شوې ده او (۶۷۹) متله پکې راټول شوي، او غلام جیلانی پېښوري د (۱۸۷۵) کال د فبروری په (۱۷) نیټه کښلی دي، دپادري هیوزیادښت هم پرې کښل شوی دی. " ([64])

تردې ځایه مو د یو شمیر محققینو نظریې وکتلې چې هر یوه د پښتنی فولکلور د بیلا بیلو برخو د ټولونی او څیړنی په باب خپل نظرونه ښکاره کړي وو، اوس به راشودې خبرې ته چې په کوزه پښتونخوا کې په اساسی ډول دغه کارته کله زیاته توجه شوې او په کومو مرکزونو کې د پښتنی فولکلور مجموعې ترتیب ، تدوین او خپرې شوي دي. البته کومې څرګندونې چې زه دلته وړاندې کوم، دلاس ته راغلو آثارو په اساس به وي. ښایی زما نظر به کاملاً مطلق او کانکریټې نه وي، ځکه چې په اوسنیو شرایطو کې چې کتابخانې چور او

۶۳_ عبدالرحیم مجذوب مروت، د مروتو کسرونه(سریزه) ، پېښور یونیورسټې پښتو اکیډیمی، ۱۹۵۹ ، ص با .

۶۴_ زلمی هیواد مل، دغلام محی الدین افغان افکاراو آثار، سریزه، ۳۹ مخ .

تالا او یا سوځیدلی دي او همدارنګه شخصی کتابتونونه هم له دې چور څخه بی برخی نه دي پاتی، دکتابونو پیدا کول یو ستونزمن کار دی، خو بیا هم ما هڅه کړې چی دخپلو ملګرو او شخصی دوستانو په مرسته یو شمیر آثار ومومم. ښایي ځینی آثارله ما څخه پاتی وي چی په دې وسیله زه مخکی له مخکی خپل معذرت وړاندې کوم، که زما دغه ځیړنه نیمګړتیا وې ولري. محترم لوستونکی به دهغو په سمونه کی له ما سره مرسته وکړي.

۱_ په پیښور کی د پښتنی فولکلور ټولونی چارې:

زما دمعلوماتو له مخی په پېښور کی د پښتو داولسی سندرو لومړنۍ مجموعه (تاریخی چاربیتی) نومی اثر دی چی په (۱۹۵۳) کال په پیښور کی چاپ شوی دی. ددغی مجموعی ټولوونکی اروابناد نصرالله خان نصر دی چی د څلور تنو اولسی شاعرانو هغه چاربیتی یي راټولی کړي چی دتاریخی پیښو په باب ویل شوي دي.

دوهمه مجموعه هم دچاربیتو ده ، چی مرحوم نصر صاحب راټوله کړې او (د نوره دین چاربیتی) نوم یي پرې ایښی دی. په دې مجموعه کی د نوره دین د زیات شمیر اولسی اشعار و له جملی څخه دده د (۳۸) په شاو خوا کی چار بیتی راټولی شوې او په (۱۹۵۸) کال کی په پیښور کی خپرې شوي دي.

بل اثر چې په (۱۹۵۹) کال په پیښور کې خپور شوی (دمروتوکسرونه) نومیږي، ددغې مجموعې دکسرونو شمیر (۳۹) دی چې شاعران یې جرس، میرهوس، کنډی او نوردي.

بل اثر چې په (۱۹۷۵) کال کې له چاپه راوتلی (روهی متلونه) نومیږي دغه اثر چې لومړی ټوك ګڼل شوی (۲۷۸ + ۱۶) مخه دی، د (۵۰۰۰) په خواو شاکې پښتو متلونه په کې راټول او خپاره شوي دي.

ددې اثر په پیل کې د پښتو اکیډیمی دډایرکټر سیدخیال بخاری (ځوخبرې) اوورپسی د محمدنواز طائر سریزه راغلی ده ، چې په دې سریزه کې د پښتنی فولکلور ټولونی پرسابقه خبرې شوي او د پښتو اکیډیمی له خوا د پښتنی فولکلور دهځو یادونه شوې ده ، دروهی متلونو دغه مجموعه په بیل پوښ کې له اردو ترجمی سره هم خپره شوې ده .

یو بل اثر د (ټپې) په نوم سیداکبر صابر راټول کړی او درحمن ګل اینډ کمپنی، بك سیلرز له خوا د پیښور په حمیدیه پریس کې چاپ شوی دی.

په دې اثر کې دبیلا بیلو موضوعاتو په باب پښتو لنډۍ راټولی شوي چې د چاپ نیټه یې نه ده معلومه.

همدارنګه یو بل اثر د (ځرخ) په نامه عایشه ملك لیکلی او فضل حق شیدا پښتو کړی چې په پیښور کې چاپ شوی دی خو د چاپ نیټه یې نه ده څرګنده.

سرود کهسار دهغه اثر نوم دی چی ټولوونکی او اردو مترجم یې محمدیونس سیټهی وفا دی اوپه (۱۹۶۳ ع) کال د یونیو رسټی بك ایجنسی پیښور له خوا په حمیدیه پریس کی چاپ شوی دی.

په دی اثر کی د بیلا بیلو موضوعاتو په باب پښتو لنډۍ راټولی او په اردو ترجمه شوي دي.

همدارنګه یو شمیر نور آثار هم خپاره شوي چی تجارتی جنبه لري.دلته به دیو څو و نومونه یاد کړو.

پښتو لوګګیت ،چی ټولوونکی او اردو مترجم یې فارغ بخاري دی، په (۱۹۵۱) کال دنیا مکتبه قصه خوانی بازار پیښورله خوا چاپ شوی دی.

بل اثر چی زما لاس ته راغلی د (ټکر و شکور) نومیږي، په دې اثر کی د تندر ختهك رنګا رنګ اشعار راغلی چی په اولسی کالبو کی ویل شوي او په (۱۹۶۷) کال په قصه خوانی بازار کی چاپ شوی دی.

(ټنګ ټکور) د عبدالواجد ټیکه دار داولسی شعرونو مجموعه ده چی په قصه خوانی بازار کی چاپ او دخپریدو نیټه یې نه ده څرګنده.

دقصه خوانی بازار په نوم په لس ګونو منظومی او منثورې کیسی چاپ شوي چی محض د تجارت په منظور خپرې شوي دي.

۲ـ په کوټه او بلوچستان کې د پښتني فولکلور ټولوني هڅې:

په کوټه کې د خپرو شوو آثارو په لړ کې چې زما لاس ته راغلي ، لومړی اثر (ګل ټپې) نومېږي چې لومړی ټوك يې په (۱۹۶۱ ع) او دوهم ټوك يې په (؟) کې له چاپه راوتلی دی. ددغه اثر ټولوونکی ګل محمد خان کاکړ دی چې دالفبی په ترتيب د پښتو زرګونه لنډۍ په کې خوندی شوي دي.

له دې اثرڅخه وروسته تر هر چا دمخه د پښتو خواخوږي او زړه سواند ليکوال او دپښتنی فولکلور ټولوونکی ښاغلی پروفيسور ولی محمد خان سيال کاکړزمونږ سترګو ته درېږي.

دغه پروفيسور برسيره پر دې چې د پښتو ادبياتو ته يې په مجموع کې زيات کار کړی، د پښتنی فولکلور په باب يې هم د يادونی او ستاينی وړ کارونه ترسره کړي دي او يو زيات شمير آثار يې له کوټې څخه خپاره کړي، چې د يو څو نومونه يې دلته يادوو.

۱ـ سپيڅلی ګايونه ، د ۱۹۶۹ ع کال چاپ. مخونه: (۹۶) په دی اثر کې د الفبی په ترتيب د پښتو يو شمير متلونه راټول او خوندي شوي دي او دکوټې په اسلا ميه پريس کې چاپ شوی دی.

۲ـ پښتني فولکلور، د ۱۹۷۱ ع کال چاپ ، په دې اثر کې بيلا بيلی اولسی سندرې خوندي شوي دي.

۳_ ملی ادب (پښتو متلونه) ، د ۱۹۷۲ کال چاپ.
۴_ کاکړی، د ۱۹۷۳ ع کال د کوټې چاپ.
۵_ چغیان ، د ۱۹۷۰ کال چاپ، دا د انګیو یوه مجموعه ده.

همدارنګه مزارات، ترینو ، انګې، پښتو کیسې او دلیکوال یو لړ نور آثاریادولی شو.

بل سړی چې پښتنی فولکلور ته یې پام اړولی هغه صاحبزاده حمیدالله دېښین دی، چې لومړی اثریې د (کاکړې لنډۍ) په نوم په (۱۹۶۷ع) کال له پېښوره خپور شوی او دوهم اثر یې د (غروڅوکی) نومیږي چې په (۱۹۶۹) کال په کوټه کې خپور شوی دی.

په لومړي اثرکی کاکړې غاړې او په دوهم کی دده په اصطلاح صحرایی بدلی خوندي شوي دي. په دې لړ کی د سید عابد شاه عابد هڅی هم د هیرولو نه دي چې د پښتو (۸) مجموعې یې راټولې او په (۱۹۷۲ع) کال یې په کوټه کې خپرې کړي دي.

همدارنګه عبدالقدوس پوپل (زموږ ژواك) تر سرلیك لاندې یو اثر لیکلی چې په ۱۹۷۲ع کال له کوټې څخه خپور شوی دی.

په دې اثر کی له زانګونه تر هدیرې پورې دودونه راغلی دي. دلته بیا هم خپله خبره تکراروم چې تر هر چا محترم سیال کاکړ په دې برخه کی زیات کار کړی او خولی

یی توې کړي دي چی زه دده دغه زیار ستاینه کوم، اوږد عمر او په ژوند کی بریالیتوب ورته غواړم.

په کوزه پښتونخوا کی مو د فولکلور ټولونی په هڅو له خپل وس سره سم څه ناڅه رڼا واچوله، بده به نه وي چی دهند او کشمیر د پښتنو دکلتور او فولکلور په باب هم لنډه یادونه وکړو.

زه دخپلی څیړنی په بهیر کی تر اوسه له داسی کوم اثر سره نه یم مخامخ شوی چی دهنداو کشمیر د پښتنو دفولکلور په باب دی کومه مفصله څیړنه ولري، یواځنی اثر چی ما په هغه کی یو څه معلومات ترلاسه کړل هغه د ښاغلی زلمی هیواد مل کتاب دی چی ددې کتاب یوه برخه په هند او هندی کشمیر کی د پښتو شفاهی ادبیاتو په باب بحث ته وقف شوې ده .

نوموړی محقق په دې باب نسبتاً مفصل بحث کړی او په دغو سیمو کی یې د اوسیدونکو پښتنو پرشفاهی ادبیاتو خبرې کړي دي او زیاته کړې یې ده چی کوم پښتانه چی اوس هم پښتو وایي او په پښتو پوهیږي خپل شفاهی ادبیات لري چی ځینی بیلګی یې هم په خپل کتاب کی درج کړي دي.

پنځم څپرکی

دده په قول یو شمیر پښتو لنډۍ فرهنګ ارتضایي هم ضبط کړي دي. (۶۵) خو ما د محترم هیوادمل په لیکنه او نه بل ځای داسی معلوت تر لاس کړای شول چی ددغو پښتو دشفاهی ادبیاتو د راټولو لو اویا چاپی مجموعو ځرك دې په کی ولګیږي.

۶۵_ زلمی هیواد مل ، په هند کی د پښتو ادبیاتو دایجاد او ودې پړاوونه ، دژبو او ادبیاتو مرکز(دسرمحقق علمی رتبه ته دترفیع له پاره) ټاپپی اثر. ۱۳۶۹ ، ۴۶ مخ.

یادونه: دغه اثر په (۱۳۷۰) کال کی دآریانا مطبعی ته دچاپ له پاره لیږل شوی وه چی زیاته برخه یې له چاپه راوتلی وه خو په هیواد کی دوروستیو حوادثو له امله دغه کتاب ضایع شو. په دې وروستیو وختو کی دغه اثر په لاهور کی د (۵۰۰) نسخو په شمیر له چاپه راوتلی دی چی (۷۰۰) مخونه لري. (لیکوال)

[۱]

په عمومي ډول پښتني فولکلور

دکوم منل شوي روش په اساس ټول شوی دی؟

ترپورتني سرليك لاندې دپښتني فولکلور هغه ټولنې مجموعې او په موقوتو خپرونو کې خپرې شوې مقالې راتلای شي،(*) چې د فولکلور مختلف اصناف په کې دساحوي او کتابي څيړنې په نتيجه کې راټول او خپاره شوي دي. څرنګه چې زما سرو کار په موجوده اثر کې له ټولو شو و چاپي مجموعو سره دی نو ځکه له موقوتو نشراتو سره کوم خاص تماس نه نيسم، کيدای شي د څيړنې په بهير کې ځينې

---

*ـ زمونږ په موقوتو خپرونو کې د فولکلور په باب زياتې مقالې او حتی رسالې خپرې شوې چې شمير يې سوونو ته رسيږي له دغو خپرونو څخه ځينې دادي: پښتو مجله (دکندهار د پښتو ادبي انجمن خپرونه) کابل مجله، دزيرې جريده ، آريانا مجله، پښتو مجله (د يونسکو په ژبو د پښتو څيړنو د بين المللی مرکز خپرونه) فولکلور مجله (وروسته فرهنګ مردم) ، پلوشه ، ننګرهار مجله او د پيښور دپښتو اکيډمی پښتو مجله او داسی نورې خپرونې. (ليکوال)

عمومي اشارې ورته وشي او کنه نو دا موضوع ديوې جلا څېړنې ايجاب کوي.

زما دمعلوماتو له مخې لکه څنګه چې په نړۍ کې دفولکلور له پاره خاصه ساحه ټاکل شوې ده : يعنې کوم مواد بايد په فولکلور او کوم مواد بايد په اتنو ګرافي کې تر څېړنې لاندې ونيول شي؛ زمونږ په هيواد کې که څه هم په پښتو او دری ژبو کې يو شمير زياتې چاپي مجموعې موجودې دي او همدارنګه د فولکلور ټولونې او څېړنې په باب او په همدې ډول دفولکلور د تصنيف په اړه زمونږ پوهانو يو لړ مقالې ليکلې. چې په موقوتو او غير موقوتو خپرونوکې خپرې شوي هم دي او همدارنګه په دې ارتباط ملي او بين المللي سيمينارونه هم جوړ شوي دي خو له بده مرغه همدا اوس هم زمونږ دفولکلور ټولونې او څېړنې کار که له يوې خوا پوره ميتوديك نه دی. له بلې خوايې ساحه پراخه ګڼل شوې ده : هغه څه چې په تاريخ او اتنوګرافي کې بايد مطالعه شي، مونږ يې په فولکلور کې مطالعه کوو يا يې د فولکلور تر سرليك لاندې څېړو .

مونږ په شپيتمو کلونو کې د دوو بين المللي سيمينارونو شاهد يو چې .يو سيمينار په بين المللي سطحه داطلاعاتو او کلتور وزارت د فولکلور ټولنې په نوښت په (۱۳۶۴) کال کې د (فولکلور پيژندنه) په نامه جوړ شو ،

چی په دې سیمینار کی برسیره پر افغانی پوهانو د یو شمیر بهرنیو فولکلوریستانو مقالی هم ولوستل شوی، چی دمقالو مجموعی شمیر(۱۲) ته رسیږي. خو په تاسف سره باید ووایو چی په دې سیمینار کی یوازې یوه مقاله د فولکلور ټولونی په باب لوستل شوې ده او بس.

همدارنګه په (۱۳۶۵) کال کی دافغانستان دعلومو اکادمی دژبو او ادبیاتو دمرکز په نوښت یو بین المللی سمپوزیم جوړ شو چی د سیمپوزیم پر اساسی وینا بر سیره لسو تنو پوهانو چې د مخه یې یادونه وشوه - خپلې مقالې ولوستلې.

اوس راځو دې خبرې ته چی هغه مقالی کومې چی د فولکلور ټولنی له خوا په جوړ شوي سیمینار کی لوستل شوی او د (فرهنګ مردم) مجلی د (۱۳۶۴) کال په (۳-۴) ګڼه کی خپرې شوي. او همدا ډول دافغانستان دعلومو اکادمی له خوا د جوړ شوي سیمپوزیم مقالی هم په (۱۳۶۶) کال کی په ګستتنري ډول چاپ شوي دي. دغه مقالی به هم محترمو لوستونکو لوستی وي، له بلی خوا په (۱۳۶۵) کال کی مونږ ددرې داسی آثارو د چاپ شاهدان یو چی د فولکلور ټولونی او څیړنی په باب وړ معلومات لري، هغه آثار دادی:

۱ـ پښتنی فولکلور: (۱۳۶۵ کال دژبو او ادبیاتو دمرکز چاپ):

دغه اثر څلور برخې لري چې لومړۍ برخه يې تيوريکه او دفولکلور دتعريف، ټولونې او څېړنې په باب مواد وړاندې کوي، ددغې برخې ليکوال ښاغلی مصطفی نژدې دی.

۲ـ دادب او فولکلور په باره کې، ليکوال: سرمحقق محمدصديق روهی:

په دغې رساله کې چې دمقالو يوه مجموعه ده برسيره پرنورو مقالو د فولکلور ټولونې په باب هم مواد ترلا سه کيدای شي.

۳ـ فولکلور پيژندنه: دسرمحقق محمدصديق روهی اثر، چې په ۱۳۶۵ کال کې دژبو او ادبياتو دمرکز له خوا خپور شوی دی. دغه اثر دمقالو په شکل په کابل مجله کې هم خپور شوی دی. په دې اثر کې دفولکلور په باب هر اړخيز معلومات وړاندې شوي چې شپږ څپرکی لري او په هر څپرکی کې يې د فولکلور د بيلا بيلو موضوعاتو په باب وړ مطالب ځای کړی شوي دي، چې دفولکلور څېړونکو او ټولوونکو، خاصتاً دهغو کسانو له پاره چې په دې لاره کې نوي قدمونه ږدي؛ دمطالعې ارزښتمن مواد وړاندې کولی شي. په همدې توګه په دې لړ کې ددوست شينواري (دپښتو داولسی ادب لارې) هم يو غوره اثر دی چې دفولکلور په باب تيوريك مواد وړاندې کوي.

له پورتنی لنډې یادونی څخه زما مطلب دا وو چی مونږ هم سیمینارونه جوړ کړل او هم په دې وروستیو وختو کی دفولکلور د تیوریك اړخ په باب دزیاتو مقالو او یو شمیر مستقلو آثارو دخپر یدو شاهد یو، خو بیا هم داسی یوې نتیجی ته ونه رسیدو چی د فولکلور تر سرلیك لاندې باید کوم مواد راټول او وڅیړو ؟ او یا هم د پښتنی فولکلور د تصنیف بندي په باب تر اوسه زمونږ پوهان نه دلته او نه په کوزه پښتونخوا کی داسی یوې نتیجی ته رسیدلی چی ټولو د پښتنی فولکلور کوم پیشنهاد شوی تصنیف په یوه غږ منلی او تائید کړی وي، څوك فولکلور په لفظی ، نیم لفظی او غیر لفظی ویشی او بیا هر ښاخ ته موضوعات تقسیموي او ویش یې داسی دی:

" لفظی لکه متلونه ، پند او نصیحت، داستانونه ، افسانی، اساطیر، عوامی شعرونه او فولکلوري سندرې، نیم لفظی لکه خرافات ، لوبی، ډرامی، نڅاوې، رسوم او عادات. غیر لفظی لکه فولکلوري معماري، ښکلی هنرونه ، ښکلی صنایع ، کالی، خواړه ، اشارات ، حرکات او موزیك. (۱)

۱ـ محمدابراهیم عطایي، ایا دکلیوالی ژوند ټولی پدیدې په فولکلور کی مطالعه کیدای شي؟ دفولکلور پوهنی سیمپوزیم، دژبو او ادبیاتو مرکز ، ګستنر، ۱۳۶۶، ۲۸ مخ.

همداراز د پښتو داولسی ادبیاتو د تصنیف په باب زمونږ پوهان په یوه خوله نه دي څوك يې په یو ډول ویشي. څوك يې په بل ډول. ځینی پوهان هغه سندرې چی ویونکی يې معلوم کسان دی، دهغو شخصي مال ګڼي چی له دې ډلی محققینو څخه یو هم مرحوم سرمحقق دوست شینواری دی. نوموړی په دې عقیده و چی: " هغه سندرې چی ویونکی يې معلوم کسان دي، هغه د هغو خپل شخصی مال دی: نه داولس مال، لکه چاربیتی، لوبی ، بګتۍ او داسی نورې سندرې."

" ... دا ډول سندرې ځینی پوهان فولکلور بولی ځکه چی وزن او آهنګ، شکل او فورم، ژبه او محتوا او هنري پرداخت يې اولسی وي. ځینی يې لا شفاهی ادب یا سندرې" بولی. ځکه چی ددې ډول سندرو شاعر معلوم دی.

زه پخپله **دلوموړۍ** ډلی پوهانو تر شاو لاړ یم. ځکه چی هغه سندرې چی شاعران يې معلوم نه دي هم په لومړي سر کی (یو) ویونکی لري، هماغه يې شاعر دی. خو دهغو تخنیکی جوړښت او دویلو طرز داسی دی چی دشاعردنامه ګنجایش نه لري. دفورم له مخه ډیر لنډ دي. ځینی يي لا یوه جمله وي لکه لنډکۍ .... (۲)

۲ـ عبدالله بختانی خدمتګار ، پښتو شفاهی سندرې او دټولولو لارې چارې . دفولکلور پوهنی سیمپوزیم (دمقالو مجموعه) دژبو او ادبیاتو مرکز ګستتنر. ۱۳۶۶، ۸۲ مخ.

ددغه وروستی نظرپلویان زیات دي کوم چی ټولی هغه سندرې چی په اولسی کالبو نو کی ویل شوي(عامی دي اوکه خاصی) په اولسی ادبیاتو کی شامل ګڼی . لکه چاربیتی، لوبی، بګټی او داسی نورې سندرې.

دلته دموضوع دنه اوږدولو په منظور په دې اړه له نورو نظریاتو څخه تیریږم ؛ ځکه چی دغه موضوع دیوې جلاڅیړنی ایجاب کوي.

مونږ په افغانستان کی له (۱۳۶۴) کال نه دمخه د فولکلور ټولونی او څیړنی په باب داسی کوم مستقل اثر نه وینو چی دفولکلور د تیوریك اړخ په باب دې هر اړخیز معلومات په کی راغونډ شوي وي خو له دې څخه هم سترګی نه شو پټولی‌چی زمونږ پوهانو له خپلی وسی او دوخت له شرایطو سره سم تریوې اندازې په دغه برخه کی کار کړی دی، دساري په توګه مرحوم سرورګویا د (رهنماي فولکلور) په نامه یوه رساله لیکلی چی (۲۴) مخه ده او غالباً به په (۱۳۱۶) کال کی چاپ شوی وی. ددې رسالی په باب باید ووایو چی: دغه رساله په هغه وخت کی هم د فولکلور ټولونی له معاصرو روشونو سره پوره برابر ه نه وه او اوس خو یي زیاتی برخی د رد وړ دي او په رد کی یې ډیر څه لیکل کیداې شی. په دې اړه یو محقق لیکی:

" ... په دې لا رښوونکی کی د فولکلور لمن ډیره پراخه او وسیعه نیول شوې او حتی هغه ځیزو نه چی داساسی علومو حیثیت لري هم په کی راګډ او اخښل شوي دي چی په دې ترتیب دفولکلور لارښوونکی ددې په ځای چی یو نوي فولکلوریست ته لا رښودنه وکړي دهغه دفکري پریشانی، تشتت او دود لی سبب کیږي....

موضوعات یې داسی سره ګډ شوي چی سړی نه پوهیږي چی دا لارښوونکی فولکلور په څه ډول تصنیف بندي کوي او په څه ډول غواړي چی فولکلور وځیړل شی، مثلاً په لومړي عنوان کی د مځکی طبقی بیانوي، له هغه وروسته دآسمان هوا او دسیمو نومونه ...

... ډیر مکررات لري او یوه موضوع تر بیلو - بیلو عناوینو او په بیلو - بیلو ځایونو کی راغلی ده ... ځینی غیر فولکلوري موضوعات په کی راګډ شوي دي...." ([۳])

همدارنګه د پښتنی فولکلور ځیړنی په باب زمونږ ډیرو نورو پوهانو خورې ورې مقالی لیکلی او یو شمیر آثار یې هم خپاره کړي دي چی دفولکلوري موضوعاتو په څنګ کی یې دفولکلور د تولولو ، بیلا بیلو ژانرونو او فولکلور ځیړنی په باب هم ګټور معلومات وړاندې کړي دي. لکه:

۳ـ حبیب الله رفیع، دخلکو سندرې، دتاریخ او ادب ټولنه ، دولتی مطبعه، ۱۳۴۹ ، ۳۵-۳۶ مخونه .

اروابناد محمدگل نوري ، استاد حبيبی، محمد قدرير تره-
کی، غلام محمدتره کی محمد گلاب ننگرهاری، څیړندوی
عبدالله بختانی خدمتگار، څیړنمل محمد دين ژواك ، استاد
عبدالروف بينوا، پروفيسور سيال کاکړ، حبيب الله رفيع،
زلمی هيواد مل ، علی محمد منگل، په اوسنی وخت کي:
محمد مومن پتوال، ميراحمد گوربز، حضرت محمد وياړ
،غوټی خاوري، مجاوراحمد مومند، نصرالله ناصر او داسی
نورو څيړونکو د پښتنی فولکلور ټولولو ته ملا وې تړلی دي،
چی په همدغه فصل کی ددغو يادو شوو پوهانو او نورو
ښاغلو (چی ښايې نومونه يي له ما څخه هير شوي وي) آثار
معرفی شوي او خبرې وربانديې شوي دي. اوس به د پورتنيو
لنډو يادونو په رڼا کی په لنډ ډول په دې ټکو رڼا واچوو چی
زمونږ دفولکلور ټولی شوې مجموعی ديوه منل شوي روش او
ميتود له مخی راټولی شوي او که هر چا په خپله خوښه دا کار
تر سره کړی؛ چی دغه کار يې ياد ملی احساس په لرلو ، يايې
د حق الزحمی او يا هم په دې نيامت چی ديوه چاپی اثر خاوند
شی؛ سرته رسولی دی، دا ددوی خپل کار دی خو مونږ دلته
يوازې په دې اړه خبرې کوو چی آيا دغه مجموعی چی تر
اوسه خپرې شوي په ميتود برابرې دي که نه ؟

په افغانستان کی چی د پښتنی فولکلور کومه لومړی
چاپی مجموعه تر سترگو کيږي زما په نظر (پښتو متلونه)

نومیږي چې محمد قدیر تره کی او امین الله زمریالی راټوله کړې او هم یې دغه متلونه په دري ترجمه کړي دي. ددې متلونو د راټولو لو هیڅ منبع نه ده ښودل شوی،خوځای ځای وریانتونه په ګوته شوي دي. دغه اثر د فولکلور ټولو نی له معاصر میتود سره برابر نه دی، ځکه چې په دې اثر کی دغه لاندینی ټکی په پام کی نه دي نیول شوي: راوي، دهغه عمر. داوسیدو ځای، دثبت نیټه او داسی نور چې دفولکلور څیړنی معاصر میتود یې ایجابوی. وریسی بل اثر په همدغه کال: (ملی هینداره ، لومړی ټوك) د پښتو ټولنی له خوا خپریږي چې ټولوونکی یې اروابناد محمد ګل نوري دی؛ نوموړی دخپل کار په باب وایي:

دا میانو څه لیکلی ما قصی دي
دمینو ښی خوږې ناړې په کی دي
دا په ډیر زیار زحمت ما غونډې کړي
چې راغلی می په وچولی خولی دي
نه زیادت او نه کمبوت می په کی کړي
دهم هغه نقلچې دخولی جملی دي
دهر قوم راز معلومیږي له قصو څـنـه
دهر چا هنداره خپلې افسانی دي
که څوك نور څه اهمیت نه ورکوینه
دتفریح او ساتیري دپاره ښی دي

داقصی خلك په ډول ډول كړينه
څوك وای داسی څوك وای داسی يې ناريږ دي
كه څه زيات يا كم غلط درسی په سترګو
عفوه غواړم ځكه دا دېل دخولی دی
محمد ګل نوري له دغه فخر بس دی
لوڅی كړي يې د پښتو په خدمت پښی دي. (۴)

مونږ ته داڅرګنده ده چی اروابناد محمد ګل نوري د پښتو فولكلور په ټولو نه كی زيات زيار ګاللی او په پوره امانتداري سره يې دغه مواداراټول كړي دي، دا چی د چاپ په وخت كی ځينو بناغلو (دقلم دعفت) په نامه ورڅخه ځينی ټكی حذف كړي او پرځای يې نوريږ كلمی وراضافه كړي دا دهغو كار دی. كه چيريږ اروابناد محمد ګل نوري دخپل دغه كار تر څنګ راويان معرفی كړي وای نو دده كار به لا ارزښتمن و ، زما په خيال دده دكار عمده نقص دادی چی راويان نه معرفی كوي، دثبت نيټه نه ښيی . خاصه سيمه نه معرفی كوي....

زمونږ له مشهور فولكلوريست اروابناد محمد ګل نوري څخه ډير كلونه پخوا دخوشحال خان خټك زوی صدر خان خټك كله چی ددلی او شهۍ قصه په نظم ليكی، له يويږ خوا په يوه راوي قناعت نه كوي اوله بلی خوا راوي هم معرفی

۴_ فولكلور پيژندنه، ۱۶۹ مخ.

کوي. که څه هم په هغه وخت کې د فولکلور له پاره نه په نوره نړۍ او نه زمونږ په هیواد کی خاصې هڅې او کوښښونه، نه تر سترګو کیدل او همدارنګه دفولکلور ټولونی په باب منظم کار نه و پیل شوی، دی دخپل کار په باب وایي:

تاتی نام یو یوسفزی و حاجی خیل و ، ښه زلمی و
ما تري وکړ له پوښتنه په دارنګ: چی اې داد منه
و اقعه له مطربانو له یارانو قصه خوانو
په بل شان و مونږ ته کیږي له تا بل شان معلومیږي
ده وې ماله دې دا ستانه تحقیق وکړ ډیر ځو شانه
د میرو قوال د پوره ما ته شوې ده مز بوره
هغه ووې ، دا تحقیق ده نوره لرې له طریق ده (۵)

دا صرف یوه یادونه وه . اوس راځو دې خبرې ته چی زمونږ دفولکلور راټولی شوې چاپی مجموعی چی د همدې څېرکی په بله برخه کی معرفی شوي او پر هرې مجموعه خبرې هم شوي دي که دلته بیا یوه یوه وڅیړو او خبرې ورباندې وکړو او دلرې او برې پښتونخوا او ختیځ پوهانو کارونه جلا جلا وڅیړو له یوې خوا به زمونږ څېړنه تکراري بڼه غوره کړي او له بلې خوا به خبره ډیره اوږده شی نو په دې نیامت به ددغو مجموعو په باب داسی ووایم کومی مجموعی چی په افغانستان کی له (۱۳۱۸) کال څخه تر (۱۳۶۴) کاله

۵_ هماغه اثر، ۴۷-۴۸ مخونه .

راټولی ، چاپ او خپرې شوي دي او په پښتو نخوا کی تر دې وروستیو وختونو پورې (په پیښور او کوټه کې) یوه یې هم په بشپړ ډول د فولکلور څیړنی له معاصر میتود سره سمی نه دي راټولی شوي. دهرې مجموعی لیکوال په خپله خوښه مواد راټول کړي او یو اثر یې ترې جوړ کړی دی. له دې جملی څخه ځینو محترمو لیکوالو په خپلو مجموعو کی داخبرې هم کړي چی ګوندې مواد یې په ډیر زیار او زخمت راټول کړي خو یوه هم په بشپړ ډول نه راوي معرفی کړی او نه سیمه او نه یې ټاکلی نیټه ښودلې ده . که څه هم دځینو محترمو لیکوالو کار به د هغه د شخصی تجربی په برکت ارزښناك وي او په مسوولیت سره به یې خپل اثر یا مقالی لیکلی وي خو دا چی د فولکلور څیړنی میتود یې بشپړ نه دی مراعات کړی نو ځکه یې میتودیك نشو ګڼلا ی . په دې وروستیو وختو کی یوازې دوه مجموعی زما په نظر تر یوې اندازې د فولکلور ټولونی له معاصر میتود سره سمی راټولی شوی چی یو اثر د (ګوربز و نکلونه) او بل د (مومندو نرخونه) نومیږي. لومړی دمیراحمد ګوربز له خوا راټول شوی چی په (۱۳۶۸) کال کی د ژبو او ادبیاتو دمرکز لخوا خپور او بل د مجاور احمد مومند له خوا راټول او په (۱۳۷۰) کال کی دهمدغه مرکز له خوا خپور شوی دی. البته په دې آثارو هم خبرې کیدای شی خو په نسبی ډول له نورو آثارو څخه میتودیك دي.

په کوزه پښتونخوا کی (روهی متلونه) او دسیال کاکړ ځینی آثار تر یوه حده په میتود برابر دي. (*) بل داسی اثر زما تر نظر نه دی تیر شوی چی له معاصرو روشونو سره سم دې کار وربانديې شوی وي. ټولو په زاړه او عنعنوي روش خپل کارونه سرته رسولی دي. همدارنګه دختیځ پوهانو کارونه هم نیمه میتودیك دي ځکه هغوي هم دکوم خاص علمی میتود په رڼا کی دا کار نه دی تر سره کړی.

زما پورتنۍ خبرې ددې مانا نه لري چی خدای مه کړه زه دخپلو مشرانو او کشرانو ورونو کارونه له یوه سره ردوم او یا اهمیت نه ورکوم نه ؛ داسی نه ده: ددوی ټولو کارونه ماته د قدر وړ دي او هرچا چی د پښتو دشفاهی او تحریري ادب په باب یوګام هم اوچت کړی، زه دهغو قدر کوم او دهلو ځلو ستاینه یې کوم.

زه دهغو ټولو لیکوالو څخه بخښنه غواړم چی ما ددوی په مجموعو خبرې کړی، که څه هم زه به دومره صلاحیت ونه لرم خو د وظیفوي مسوولیت له مخی مجبور وم چی دا کار می کړی وای. زما خبرې ددې مجموعو په تخنیکی اړخ پورې اړه لري هغه هم په دې نیامت چی په راتلو

---

*ـ که څه هم محترم پروفیسور سیال کاکړ خپل زیاتره آثار په احتیاط لیکلی او ساحوي څیړنی به یې هم کړې وي، دا چی راویان او منابع یې بشپړ نه دي معرفی کړي نو ځکه یې آثار په بشپړ ډول په میتود برابر نشو ګڼلای.

نکی کی وکولی شو. خپل فولکلور له معاصرو او منل شوو روشونو سره سم راټول او خوندي کړو، نه دا چې هر څه چې په کلیوالی ژوند کی وینو د فولکلور په نامه یې ضبط کړو.

په هر حال زه په داسی حال کی چې د پښتنی فولکلور ټولوونکو او څیړونکو کارونو ته په درنه سترګه ګورم او په خپل خپل وخت دغه کارونه غنیمت ګڼم ، دوی ته په دې لاره کی زیات بریالیتوبونه غواړم . مونږ خپل فولکلور یستان ملامتو لای هم نه شو، لکه دمخه می چې اشاره وکړه دفولکلور ټولونی او څیړنی د میتودونو په باب مونږ تر دا نژدې وختونو پورې داسی مقالی او مستقل آثار نه درلودل چې زمونږ څیړونکو ورڅخه بشپړه استفاده کړې وای.

خدای دې وکړي چې په اوسنی وخت کی زمونږ فولکلور یستان دپښتنی فولکلور ټولولو ته متهی راونغاړي اوپه داسی ترتیب یې راټول او خوندي کړي چې معاصر روش یې ایجابوي، او هرڅه سره ګډوډ نه کړي او په دې ترتیب له یوې خوا تیرې نیمګړتیاوې تکمیل کړای شو، او له بلی خوا د پښتنی فولکلور هغه خورې ورې مرغلرې چې لا تراوسه دزمانی ګردونو پټی ساتلی: راټولې او دوړې او ګردونه ورڅخه وڅنډو ، دمقالو او مجموعو په بڼه یې خوندي او له ورکیدو څخه یې وژغورو ، دا ځکه چې ورځ په ورځ دنوو اکتشافاتو په منځ ته راتګ سره دانسانانو په کړو وړو کی هم

تغیر او بدلون راځی . یو شمیر دودونه او عنعنات دزمانی له غوښتنو سره سم بدلون مومی، کیسی او سندرې له یاده وځی او داسی نور.

دبیلګی په ډول مونږ دسر په سترګو وینو چی داکثرو سیمو دغم اوښادي په دود ونو او ددهقانی په رواجونو او نورو رسمونو کی په ځانګړې توګه له (۱۳۵۷) کاله را په دیخوا یو لړ دکتنی وړ بدلونو نه تر سترګو کیږي چی زمونږ ځوان څېړونکی باید دې ټکی ته پاملرنه وکړي او یوه مقایسوي څیړنه یې هم په کار ده.

[۲]

تر اوسه مونږ د پښتنی فولکلور کومی چاپی مجموعی لرو؟

کله می چی ددې اثر په دریم څپرکی کی د پښتنی فولکلور ټولونی د پیل موضوع په دریو برخو کی وڅیړله، په دې لړ کی می دختیځ پوهانو . افغانی فولکلوریستانو او دلرې پښتونخوا د فولکلور پوهانو کارونه په جلا ډول وڅیړل او په دې ارتباط می څه ناخه رڼا هم واچوله.

لومړی ما داسی پتییلی وه چی د پنځم څپرکی (ټولی شوې مجموعی) به په دې ډول سره وویشم چی د هر صنف مربوطی مجموعی به په کرونولوژیك ډول معرفی او وڅیړم ، دبیلګی په ډول د پښتو متلونو مجموعی، دپښتو لنډیو مجموعی ، دنکلونو مجموعی او داسی نور. خوکله می چی د پښتوفولکلور ټولو شو و هغو مجموعو ته نظر واچاوه کومې چی ددې رسالی د لیکلو په وخت کی زما لاس ته راغلی دي،

زیاتره دمعجون مرکب بڼه لري یعنی په یوه مجموعه کی هم منثور فولکلور او هم منظوم فولکلور لیدل کیږي لکه لنډی، متلونه، چاربیتی، دودونه او نور چی په زیاترو مجموعو کی سره ګډ راټول او خپاره شوي دي نو له دې امله به مجبور وم چی یوه مجموعه هم دمتلونو په برخه کی معرفي کړم او هم دلنډیو یا نکلونو په برخه کی. نو له دې امله دا فکر راته پیدا شو: ددې له پاره چی هم موضوع زیاته تکراري نه شی او له بلی خوا دهر چا د کار اندازه هم څرګنده شی نو ځکه می ددریم څپرکی دویش له مخی دلته هم ورته عمل تر سره کړ. هلته خو می ددوی کارونه (دختیځپو هانو، افغانی پوهانو او دکوزې پښتونخوا د پوهانو) دڅیړنی په بهیر کی وښودل. دلته به ددوی له خوا لیکل شوي او راټول شوي آثار هم په ترتیب سره معرفی او وښودل شی.

خپاره شوي آثار لومړی په لنډه توګه معرفی او بیا-ی دموضوع له ښودلو وروسته په میتود خبرې شوې دي. دغه آثار په کرونو لوژیك ډول ښودل شوي، کوم اثر چی دمخه چاپ شوی. مخکی او کوم چی وروسته خپور شوی، ورپسی معرفی شوی دی البته ددې رسالی په دې فصل کی یوازې چاپی مجموعی معرفی شوي، دقلمی مجموعو یادونه ممکن په نور وڅپرکو کی په ضمنی ډول دموضوع په ارتباط شوې

وي. داځکه چې زما کار له چاپي مجموعو سره دی، نه له خطي مجموعو سره.

په دې برخه کې لومړی دختیځپوهانو له خوا لیکل شوي آثار معرفي او څېړل شوي، ورپسې دافغاني پوهانو له خوا کښل شوي آثار معرفي شوي او پرې پسې دکوزې پښتونخوا دلیکوالو له خوا ټولې شوې مجموعې ښودل شوي دي.

په دغو مجموعو کې چې د پښتنی فولکلورکوم اصناف راغلي هغه دهرې مجموعې دمعرفي په برخه کې ښودل شوي دي. په دغو مجموعو کې چې د پښتني فولکلور کوم اصناف راغلي هغه دهرې مجموعې دمعرفي په برخه کې ښودل شوي دي.

په دې فصل کې ټولې (۱۱۵) مجموعې معرفي او ښودل شوي چې له دې جملې څخه (۱۲) دختیځ پوهانو له خوا راټولې او کښل شوي. (۶۷) مجموعې دافغاني فولکلوریستانو او ادیبانو په واسطه راټولې او خپرې شوي او (۳۶) مجموعې په کوزه پښتونخوا کې راټولې او خپرې شوي دي، چې په راتلونکو پاڼو کې دمحترمو مینه والو پام وراړوم:

دپښتنی فولکلور ټولنی شوې مجموعی
لومړی برخه
دختیځ پوهانو له خوا
دپښتنی فولکلور ټولنی شوې مجموعی
[۱]
دکابل سلطنت بیان
لومړی ټوک

لیکوال (په انګریزي ژبه) : مونټ ستيوارټ الفنستين .

پښتو ژباړونکی: پوهنوال محمد حسن کاکړ.
او څیړنیار نصرالله سوبمن.

خپروونکی: دافغانستان دعلومو اکادمی
د پښتو څیړنو بین المللی مرکز.

دخپریدو نیټه او ځای: ۱۳۵۹ش، ګوندي مطبعه.

مخونه: دمترجم سریزه ۱۰ + دلیکوال
سریزه او متن ۳۳۴ = ۳۴۴.

موضوع: په دې اثر کی د افغانستان د موقعیت ، غرونو، سیندونو ، بیلا بیلو قومونو او اوسیدونکو او ددوی د کړو وړواو دودونو په باب بحثونه راغلی دي، خوزیاتره د پښتنو په

دودونو لکه: جرګه، مرکه، رسم اورواج ، دښځو موقف ، دجامو ډول، دمینی قصی ، میلمه پالنې اودژوند په ټولو حالاتو دلیکوال له خوا رڼا اچوله شوې ده .

دغه اثر چی دالفنسټن له خوا لیکل شوی دافغانستان اولرې پښتونخواتاریخی، جغرافیایی او کلتوري موضوعات په کی رانغښتی دي. داثر په پیل کی د مترجم مقدمه، ورپسی د مؤ لف سریزه او دکتاب متن پیل شوی دی. ددې ټوك لومړی کتاب شپږ فصله او دویم کتاب یې (۹) فصله لري.

ددې اثر دځرنګوالی په باب د مترجم د سریزې په یوه برخه کی راغلی دي:

" ... دالفنسټن دکتاپ یو بل خصوصیت جامعیت دی. په دغه اثر کی هم حکومتی تفصیلات شرح شوي او هم دجامعی ټولی ډلی لکه درباري اشراف او سرداران، خانان ، زمینداران ، دهقانان، زراعتی بزګران ، اجوره کاران ، شپانه ، ښځی، کسبګر، ددوی له سلوکو، لوبو ، کورونو ، ژبو ، ثقافتونو او تاریخ سره بیان شوي دي . دافغا نستان اولسونه په قومی لحاظ هم شرح شوي دي. انسان په دغه اثر کی دخپل چاپیریال په ارتباط مطالعه شوی دی." (۱)

---

۱ ـ مونټ ستیورات الفنسټن ، دکابل سلطنت بیان ، لومړی ټوك (دریم چاپ) ، ۱۳۵۹ دمترجم سریزه ح مخ.

دالفنستن کتاب لومړی اثر دی چی افغانستان یې لویدیځی نړۍ ته وروپیژندلی دی. لیکوال په دریو کلونو کی خپل نوټونه په پونی کی تنظیم او تصنیف کړل. دا کتاب لومړی وار په (۱۸۱۵م) او وروسته په (۱۸۱۸م) کال په یوه ځانګړي جلد کی چاپ شوی دی.او دادی دریم ځل په دوو ټوکونو کی (لومړی ټوك په ۱۳۵۹، دوهم ټوك په ۱۳۶۱) د پښتو څیړنو د بین المللی مرکز له خوا خپور شوی دی. چی دافغانستان په بیلا بیلو برخو کی د څیړنی وړ مواد وړاندې کوي.

دمونټ ستوراټ الفنستن اثر به هم حتماً یو شمیر لوستونکو لوستلی وي دا اثر دخپل وخت یو غوره او جامع اثر دی او دده دغه هڅه په خپل وخت او هم داوس له پاره یو غنیمت اثر ګڼلی شو.

دا چی مونږ یې دلته دفولکلوري برخی سره کار لرو یوازې دومره ویلای شو چی دغه اثر دفولکلور څیړنی له اوسنیو موازینو سره په بشپړ ډول مطابقت نه کوي. خو دا چی اثر په اکادمیك ډول کښل شوی، دهغه ارزښت په خپل ځای دی.

دمترجم دسریزې په یوه بله برخه کی د الفنستن دکار په باب راغلی دي: " الفنستن ددغه میلان په سبب دده لیکنی د افغانستان په باب له شخصی رجحاناتو څخه خلاصی دي

او ده زیار ایستلی دی چی خپلی لیکنی د تجربی مکتب یا امپرسیزم (Empiricism) په بنا وکړي... سره له دې هم داسی باید ونه ګڼله شي چی دالفنستین ټولی لیکنی به هرو مرو دافغانانو په خوښه اوذوق وي. (۲)

۲ـ پورتنی اثر، ط مخ.

[۲]

دکابل سلطنت بیان

دویم ټوك

لیکوال: مونټ ستوارت الفنسټن. پښتو ژباړونکی: پوهنوال محمد حسن کاکړ.

خپروونکی: دافغانستان دعلومو اکادمي، دپښتو خیړنو بین المللی مرکز.

دخپریدو ځای او کال: ګوندي مطبعه، ۱۳۶۱.

مخونه : ۴۱۴

دچاپ شمیر: ۲۰۰۰ ټوکه.

موضوع: ددغه ټوك په لومړۍ برخه کی چی پنځه فصله دی، دپښتنو د بیلا بیلو قبیلو لکه : بردرانیانو ، یوسفزیو او نورو په باب په بیلا بیلو برخو کی هر اړخیز معلومات وړاندې شوي دي.

ځلورم کتاب چې (۷) فصله دی، او (ولایتونه)سرلیك وړکړل شوی دی داوز بیکو او نورو قومونو په باب هم خبرې لري.

په پنځم کتاب کی د کابل د پاچاهی په باب معلومات وړاندې شوي دي. په دې پسی لومړی ، دوهمه او دریمه ضمیمه راغلی ده .

ددې اثر پښتو ژباړه چې په دوه ټوکونو کی خپره شوې داصل په شان دفصلونو دویش په ارتباط په لومړي، دوهم او .... پنځم کتاب ویشل شوی دی. (۳)

۳ـ مونټ ستیوارت الفنستن ، دکابل سلطنت بیان ، دوهم ټوك، ۱۳۶۱.

[۳]

بنو یا زمونږ افغاني سرحد

ددې اثر ټولوونکی ، تحلیلوونکی او انګریزي مترجم (S.S.Tharburn) تاربرن دی چی په (۱۸۷۶) کال کی چاپ شوی دی. دا کتاب ټول (۴۸۰) مخونه لري چی په دریوو برخو ویشل شوی دی.

دکتاب په پیل کی یوه نقشه راغلی ، ورپسی دکتاب نوم او دمولف نوم ، دچاپ نیټه او ورپسی دلیکوال مقدمه راغلی ده چی ټوله ځلور مخه کیږي. له سریزې وروسته سمون لیك راغلی چی ورپسی دمضامینو فهرست ته ځای ورکړ شوی دی. له فهرست نه وروسته دکتاب اصلی متن پیل کیږي.

دکتاب لومړۍ برخه (۶) فصلونه لري او دوهمه برخه یې (۴) فصله لري. په دې اثر کی متلونه ، دودونه ، کیسی او نور راغلی چی په انګریزي ژبه هم ترجمه شوي دي.

ددې اثر دمتلونو یوه برخه شیرمحمد کریمی په پښتو ژبارلې چې دافغانستان دعلومو اکادمی له خوا چاپ شوې هم ده او دمتلونو شمیر یې (۱۲۳۲) ته رسیږي. (۴)

۴_ نصرالله ناصر، د پښتنی فولکلور د ترجمو تاریخی سیر (دمحقق دعلمی رتبی له پاره ، ټایپی اثر) ، دژبو او ادبیاتو مرکز، ۱۳۶۶، ۵۲-۵۸ مخونه .

[۴]

دپښتونخوا دشعرهاروبهار

ټولوونکی: جیمزډارمستتر(۱۸۴۹-۱۸۹۴م)

خپروونکی : پښتو ټولنه .

دخپر یدو ځای: دښوونی او روزنی مطبعه.

دخپریدو نیټه: ۱۳۵۶

مخونه: اصلی متن: ۲۸۸

موضوع: دغه اثر دچار بیتو ، غزلو، متلونو ، قصو ، کیسیو (چیستانونو) یوه مجموعه ده چی له پښتنو سیمو څخه دډار- مستتر فرانسوي له خواراټوله او ترتیب شوې ده .

دغه اثر دلومړي ځل لپاره په (۱۸۸۸م) کال کی چاپ او خپور شوی دی. دغه چاپ چی مونږ دهغه له مخی دغه اثر معرفی کوو، د (۱۳۵۶) کال چاپ دی. ددې چاپ په پیل کی : لومړی خبرې؛ دمحمد صدیق روهی له خوا ، د جیمز ډار مستتر پیژند ګلوي؛ ددکتور روان فرهادې له خوا

(پښتو کوونکی حبيب الله رفيع) او توضيحات د پوهاند عبدالحی حبيبی له خوا ليکل شوي دي.

دکتاب په لومړۍ برخه کی دډار مستتر له خوا د پښتو د تحريري او شفاهی ادب په باب معلومات وړاندې شوي او په ضمن کی د ځينو شاعرانو لنډه معرفی هم شوې ده ، دکومو دشعرونو نمونی چی په هارو بهار کی راوړل شوي دي.

له دې وروسته دکتاب اصلی متن پيل کيږي، په سر پاڼه کی يې ليکل شوي دي: " د پښتنخوا دشعر هارو بهار يوه مجموعه د غزلو او چار بيتو دمتلو او قصو دمصراعو او سندرو چه د پيښور په ښهر او دايبټ آباد په چاو نړۍ کښې د فرانسس سرکار په حکم وفرمايش سنه ۱۳۰۳ هجري جم ډار مستترصاحب جوړه کړه ..."

دکتاب داصلی متن په پای کی تشريحات راغلی چی ليکونکی يې ډارمستتر او پښتو ژباړونکی يې پوهاند ډاکتر سيد بها ء و الدين مجروح دی. په دې اثر کی له چار بيتو او غزلو برسيره (۶۰) متلونه او (۸۸) لنډۍ هم راغلی دي چی دواړه مسلسله نو مره هم لري. همدارنګه هغه بيتونه چی د مړينی په وخت يا په مړو دافسوس په صورت کی ويل کيږي هم راغلی او په همدې توګه دالله هو سندرو ته هم ځای ورکړل شوی دی.

ډارمستتر دخپل کارد میتود په باره کی داسی لیکی:
" زه د (۱۸۸۶) کال له اپریل څخه په پیښور کی وم او ځینی سندرې هلته راټولی شوې دې. نوې سندرې می په ایبټ آباد کی راغونډې کړي او هلته د پورتنی کال له می تر سپتامبر پورې وم.
په پیښور کی پیرمحمد علی چی د پیښور د سپیدډیرۍ او سیدونکی دی له ما سره مرسته کړې ده ، په ایبټ آباد کی مولوي محمد اسمعیل خان زیاته مرسته وکړه او ددې مجموعی زیاته برخه هغه راټوله کړې ده .
زمونږ دراغونډ ولو کار اکثره په دې ډول وچی سندرغاړی به یې راوست خپله سندره به یې ویله، بیا به یې خپله سندره په ژبه دیکتی کوله او منشی به هغه لیکله وروسته به منشی، سندرغاړي او مادرې وارو په ګډه سره ، لیکل شوی متن تر غور لاندې نیوه.
په دې سندرو کی دافغانستان دخلکو ژوند او وروستیو پیښو ته ځای په ځای نغوتی شوي دي ددې اشارو په باب به می له دوی څخه پوښتنی کولی چی هغه می د ترجمی په پایلیکونو کی لیکلی دي. یو شمیر اولسی سندرې می په یوه قلمی مجموعه کی وموندلی او دا دپولیسو یو باسواده کمیشنر چی عنوان الدین نومیده دفقید رابنسن دمطالعی له پاره لیکلی وې...." (۵)

۵ـ جیمز ډار مستتر، د پښتو نخوا د شعرهاروبهار، پښتو ټولنه، دریم چاپ، ۱۳۵۶. ۲۵-۲۶ مخونه.

دکتور روان فرهادي ددې اثر په باب لیکي: " دده مهم کتاب"د پښتو نخوا د شعر هاروبهار" دی چی له فرانسوي ترجمې سره د شان پو یولیر- دي-ز- افغان) په نامه وړاندې شوی دی، چی پښتو متن، فرانسوي ترجمه او فرانسوي شرح په کی دي. " (۶)

دغه اثر که څه هم په اکادمیك ډول لیکل شوی او میتود پکی تریوه حده مراعات شوی خو بیا هم یې په مکمل ډول دفولکلور له معاصر میتود سره برابر نه شو ګڼلی . ځکه چی راویان نه دي معرفی شوي یوازې دهغو کسانو نومونه اخیستل شوي چی له ده سره یې دموادو په ټولولو کی مرسته کړې ده . دلته زه مجبور یم چی په دغه او دغسی نورو آثارو بحث وکړم ځکه چی په رساله کی راغلی او باید راشی خو دا ددې مانا نه لري چی زه دسل کاله پخوا اثر د او سنیو میتودونو په تله تلم.

په هر حال دا چی په هغه وخت کی دفولکلور ټولونی او څیړنی لا دومره عمومیت نه وو پیدا کړی او دا کارنوی غوندې ښکاریده ، په دی برخه کی دفرانسوي لیکوال ډارمستتر هڅی د یادونی وړ دي او که سړی فکر وکړي نظر نورو خیبځ پوهانو ته دده کار تر یوې اندازې پاك او دقت په کی لیدل کیږي.

۶ـ پورتنی اثر، دروان فرهادي توضیحات ، ۶ مخ .

[۵]

نکلونه

ټولونه ، تنظیم او انګلیسی ژباړه : دسی. ای. بایل.

بایل برتانوي پوځی کرنیل و چی په پیښور ، کوهاټ ، وزیرستان او ځینو نورو سیمو کی یې رسمی وظیفه اجرا کوله او دافغانی قبیلو او قومونو سره له ډیر نژدې څخه اشنا و... دغه سړي سره له دې چی عسکري مسلك درلود لیکن په سیاسی لحاظ ډیر بیدار او ځیرك او د افغانانو د کلتور او ادب سره یې ښه علاقه لرله او په دې باب یې پوره مطالعه درلوده لکه چی د قبیلو د معرفی او پیژندګلوي څخه ددوی دمطالعی او بلدیت اندازه په ښه توګه څرګندیږي.

په دې اثر کی چی بایل ترجمه کړی. د پښتو یو شمیر غوره متلونه پکی راغلی دي. په لومړي فصل کی په لنډه خو ژوره توګه دافغانانو تاریخ بیانیږي.

لکه څنګه چی بایل دکتاب په دوهم چاپ کی یادونه کړې ده ، د ده دغه اثر (پښتو نکلونه) خان بهادر احمد خان

(ښايي مطلب يې د پښتو پياوړی نثر ليکونکی او پوخ ليکوال منشی احمد جان وي) کتلی او له ده سره يې د دې اثر په ترتيب او تنظيم او د پروف په لوستلو کی مرسته کړې ده . په بله برخه کی د پښتنو په تنظيمو نو رڼا اچوي او دپښتنو لی ترعنوان لا ندې په (ننواتی، ميلمستيا، حجره ، بدل) غږيږي.

دبايل د (پښتو نکلونه) نومی اثر له پايليك څخه څرگندېږي چی ده دمنشی احمد جان مشهور کتاب (دقصه خوانی گپ) هم په انگليسی ترجمه کړی دی خو تر اوسه ددغه کتاب کومه نسخه لا س ته نه ده راغلی.

سی. ای. بايل لومړی هر متل په انگليسی ترجمه کړی او بيا يې شرحه ورته ليکلی ده ، دغه نسخه چی زموږ په لاس کی ده په ۱۹۳۸ م کی په پيښور کی دفقير چند مهر له خوا ددويم ځل له پاره چاپ شوې ده.

ده دنکلونو په انتساب کی له خپل ذوق څخه کار اخيستی دی. دغه اثر چی لومړی ځل په (۱۹۲۶ع) کی چاپ شوی، دده دوينا له مخی پکی (۳۲۳) نکلونه راغلی دي. هر متل او نقل لومړی په لا تينی تورو ليکل شوی او بيا يی انگريزي ترجمه راغلی ده . (۷) څرنگه چی دغه اثر په خپله مانه دی ليدلی نو ځکه يې په ميتود څه نشم ويلی.

۷ـ دپښتنی فولکلور دترجمو تاريخی سير، ۶۰-۶۱ مخونه.

[۶]

دقصو مجموعه

داهغه مجموعه ده چې میجرف.ګ ملیسیون په (۱۹۱۲) کال په کلکته کې چاپ کړې ده. (۸)

[۷]

دپښتو متلونه او محاورې

ټولوونکی او روسی مترجمین: ویسوڅکی، ګاوریلین، جویکوف.

ـ دخپریدو ځای: تاشکند.

ـ دخپریدو نیټه: ۱۹۵۰ (۹)

۸ـ م.ګ. اسلانوف، پښتو فولکلور او په شوروي اتحاد کې یې ژوره مطالعه (ژباړونکی: معتمد)، دفولکلور پوهنې سیمپوزیم (دمقالو مجموعه)، دژبو او ادبیاتو مرکز، ۱۳۶۶، ۶۶ مخ.

۹ـ محمد اکبر معتمد، ژبه او د پښتو متلونو خصوصیات، کابل مجله، پښتو ټولنه، ۱۳۵۴. ۵ګڼه.

[۸]

دپښتو متلونو او محاورو مجموعه

ټولوونکی او روسی ژباړونکی: لیبیدیف، لود میلا یا ځیوخ.

دخپریدو نیټه: ۱۹۶۰ ع (۱۰)

[۹]

افغانی (پښتو) حکایې او افسانی

ټولوونکی او روسی مترجمین: ای.س.براګینسکی. ي.م . بلینسکی، س.ي. نیکولودوف، ا.د.اولدیروګی، ای. ؤپو میرانځو، و.ل. ، ریفیتن ، س. ا. توکاروف.

---

۱۰ ــ دپښتنی فولکلور د ترجمو تاریخی سیر ، ۱۱۵ مخ .

موضوع دا اثر دوې برخې لري. په لومړۍ برخه کې یې جادو ګري. افساني او اسطورې او په دوهمه برخه کې دژوندانه په باب افسانې راغلې دي. ددې اثر افسانې له لاندنیو آثارو څخه راټولې شوي دي: ملي هنداره ، پښتنې سندرې، دبایل اثر، دمالیون اثر، کلید افغاني، هغه دغه (دمنشي احمد جان د پېښور د پښتو اکیډیمې پښتو مجله.

دغه اثرچې ټول (۲۷۹) مخه او په مسکو کې چاپ شوی تر زیاتې اندازې په میتود برابر دی ځکه چې ماخذونه یې ښودل شوي دي. خو دا خبره هم د یادولو وړ ده چې ټول مواد یې فولکلوري نه دي.(۱۱)

[۱۰]

سپوږمیه کړنګ وهه راخیژه

مرتب او انګریزي مترجم: جینز انولډ سن Jens Enevoldsen .

خپروونکی: یونیورسټي بك ایجنسي پېښور.

دخپریدو کال: ۱۹۶۹ ع.

دخپریدو ځای: پېښور.

مخونه : ۹۲.

۱۱_ دپښتنې فولکلور دترجمو تاریخي سیر، ۱۳۶۶، ۱۲۴ مخ .

موضوع: دغه اثر دوه برخی لري، په لومړۍ برخه کی سل غوره متلونه راټول او په انګریزي ترجمه شوي دي، په دې ترتیب چی دکتاب په لومړي مخ کی پښتو متلونه او په مخامخ، مخ کی دهغو انګریزي ترجمه راغلی ده .

دکتاب په دوهمه برخه کی د پښتو سل غوره ټپی (لنډۍ) راغلی چی دا هم د متلونو په څیر ترجمه شوي یعنی په یوه مخ کی پښتو لنډۍ او په بل مخ کی د هغو لنډیو ترجمه راغلی ده . درسالی په پیل کی دا نولډ سن یوه انګریزي ترجمه هم راغلی ده . ([12])

ویل کیږي چی د ختیځ پوهانو له جملی څخه وروستی پوه جنزانولډ سن دی چی دغی سیمې ته راغلی او د پښتو فولکلور سره یی تماس نیولی دی. (*)

۱۲ـ پورتنی اثر، ۶۶ مخ .

*ـ باید یادونه وکړم چی په دغه اثر کی راغلی لنډۍ او متلونه دځانګړي مجموعی په بڼه په ډنمارکی ژبه هم ترجمه شوي دي (لیکوال)

[۱۱]

دوصال او هجران سندرې

په دې مجموعه کې د پښتو یو شمیر عشقي سندرې راټولې او په مسکو کې چاپ شوې ده.(۱۳)

[۱۲]

دپښتنو تاریخي سندرې

دپورتني اثر لیکوال فیود ورو ویچ ګیرس(۱۹۹۴ ع مړ) دی چې په (۱۹۸۴ ع) کال کې چاپ شوی دی. په دې لړ کې هغه ټولې تاریخي سندرې چې د پښتو نخوا د شعر هارو بهار، توربریښ او ځینو نورو منابعو کې چاپ شوي، دښاغلي ګیرس له خوا په روسی نظم ترجمه او دنومړي له خوا

۱۳ـ داستاد بختاني لیکلي یادداشت.

ورباندې تبصرې ليکل شوي دي. په خارجی ژبو دا د پښتو شفاهی سندرو يوه غوره ترجمه او په دې باب ګټوره څېړنه ده . ([14])

په دې اثر کی د ټولو پښتنو عمومی سندرې لکه لنډۍ، چاربيتی، نيمکۍ، بګټۍ او ځينی هغه تاريخی سندرې چی په ځينو محدودو سيمو کی ويل کيږي لکه د مروتو کسرونه ، دهوتکو نارې، دکاکړو غاړې (کاکړۍ) او نورې راوړي دي. په دې اثر کی راغلی پښتو سندرې هره يوه بشپړه ترجمه او تبصره پرې شوې ده . ([15])

۱۴_ داستاد بختانی ليکلی يادداشت.

۱۵_ سرمحقق محمد اکبر معتمد ، دپښتنو تاريخی سندرې، کابل (مجله) ۱۱-۱۲ ګڼه، ۱۳۶۳ ، ۷۷ مخ.

دوهمه برخه

په افغانستان کی دپښتنی فولکلور ټولی شوې چاپی مجموعی

[۱]

پښتو متلونه

ليکو نکي: محمد قدير تره کی او امين الله زمرياليٰ.

خپروونکې :   پښتو ټولنه .

دخپريدو ځای: دکابل عمومی مطبعه.

مخونه :   ۱۲۷.

موضوع: په دې مجموعه کی د پښتو (۲۳۱) متلونه راټول او خپاره شوي دي. په مجموعه کی د رديف مراعات شوی او متلونه دالفبی په ترتيب راغلی چی د (آ) په توري پيل او په (ي) پای ته رسيږي.

دمجموعی لومړی متل: (آشه ښه ده که ګله، مه یوه وینی مه بله) او وروستی متل یې: (یو په نس بل په وس) دی.

په مجموعه کی لومړی پښتو متل راغلی ، وروسی یې داستعمال موارد ښودل شوي او پرې پسی د متل دري ترجمه او په دري یې د استعمال په مورد خبرې شوي دي.

ددې مجموعی له لوستلو څخه سړی داسی کومه نتیجه نشی ترلاسه کولی چی دا مجموعه له لیکلو آثارو څخه را ټوله شوې او که دساحوي څیړنی په نتیجه کی رامنځ ته شوې ده . دمجموعی لیکونکی د خپل کار په باب په سریزه کی لیکی: " ... څرنګه چی دداسی آثارو ترتیب او پوره والی په یوه پلا ناممکن او مشکل دی نو ځکه تر هغه ځایه چه وس او دلاسه موکیده همدا متلونه مو په ترتیب درديف سره له فارسی ترجمی او تفسیره داستفادې دپاره په دې کچنۍ (کوچنۍ) مجموعه کی طبع او نشر کړل. " ([1])

زما په نظر دا په افغانستان کی دمتلونو لومړۍ چاپی مجموعه ده . ښایی چی یو زیات شمیر متلونه له ساحی څخه راټول شوي وي. خو داچی سیمه، وخت او راویان نه دي ښودل شوي نو ځکه دغه اثر ددې وخت له میتود سره سم نه دی. او دهغه وخت یو غنیمت کار دی چې داولیت مزیت لري.

۱ـ محمد قدیر تره کی او امین الله زمریالی. پشتو متلونه ،پښتو ټولنه، دکابل عمومی مطبعه، ۱۳۱۸ ، سریزه ج مخ.

[۲]

ملی هنداره

لومړی ټوک

ټولوونکی : محمد ګل نوري.

خپروونکی: پښتو ټولنه .

دخپریدو کال: ۱۳۱۸ ش.

کچه: ۱۷× ۲۵ سم.

مخونه : ۱۷۰.

موضوع: دملی هنداري په دې ټوك کی د پښتو دغه مشهورې فولکلوري کیسی راغلی دي: ښادي او بیبو، مرد او نامرد. فتح خان بړیځی، مومن خان - شیرینو ، زبزبانه ښاپیری، جلات خان او شمایله، موسی خان او ګل مکۍ.

دغه کیسی که څه هم اروانباد محمد ګل نوري په ډیر زیار راټولی کړي خو متاسفانه چی راویان يې نه دي معرفی کړي، همدارنګه سیمه او دثبت نیټه هم مشخصه نه ده ؛ نوځکه دغه اثر کار دفولکلور ټولونی له اوسنی میتود سره برابر نشو ګڼلی.(۲)

۲_ محمدګل نوري. ملی هنداره (لومړی ټوك) ، پښتو ټولنه، ۱۳۱۸.

[۳]

ملی سندرې

لیکونکی: .محمدګل نوري.

خپرونکی : پښتو ټولنه .

دخپریدو کال او ځای: ۱۳۲۳ ، دکابل عمومي مطبعه.

کچه: ۱۹×۲۴ سم

مخونه : ۱۷۶.

موضوع: دپښتو لنډۍ ، بابولالې، داتڼ نارې داستاد نوري له خوا په کې راټولې شوي چې د لنډیو شمیر یې (۳۰۰۰) ،داتڼ دنارو شمیر یې (۱۰۳) او دبابو لا لو شمیر یې (۱۱۲) دی. وروسته ددې کتاب په بنسټ پښتنی سندرې لومړی ټوک د زیاتو مخونو او زیات شمیر لنډیو په لرلو سره خپور شو. ([۳])

۳ـ حبیب الله رفیع، پښتو پانګه (لومړی ټوک) ، پښتو ټولنه، دولتي مطبعه، ۱۳۵۴ ، ۷۷ مخ.

پورتنی اثر ما له زیاتو هڅو سره سره تر لاسه نه کړای شو نو ځکه می دیوه بل اثر نه په استفاده معرفی کړ، په دې اساس یې دلیکلو په میتود څه نه وایم.

[۴]

ملی هنداره

(دوهم ټوك)

ټولوونکی : محمد ګل نوري.

خپروونکی: پښتو ټولنه.

دخپریدو ځای او نیټه: دکابل عمومی مطبعه. ۱۳۲۵.

مخونه : ۸۲

کچه: ۱۸×۲۷.

موضوع: دملی هندارې په دې ټوك کی د پښتو دا لاندې فولکلوري کیسی راغلی دي: طالب جان یا ملا عباس او ګلبشره ، قطب خان او نازو ، ظریف خان او مابۍ. دلی او شهو، خشکیاراوشاترینه ، آدم خان او درخانۍ ، قلندرجان او میراجان.

دملی هندارې په دې دواړو ټوکو نو کی د کندهار لهجه په پام کی نیول شوې او کیسی زیاتره په محلی لهجه

لیکل شوي دي، خو بیا هم داسی ښکاري چی له راټولو لو وروسته د (اصلاح) په نامه نورو په کی لاس وهنه کړې ده ، دملی هنداري ددې برخی میتود هم نیمګړی دی. (۴)

[۵]

متلونه

ټولوونکی : محمدګل نوري.
خپروونکی: پښتو ټولنه .
دخپریدو ځای: دکابل عمومی مطبعه
مخونه : ۱۵۶.
کچه: ۱۲×۱۷ سم.

موضوع: په دې رساله کی دردیف په اساس د پښتو (۱۹۱۰) متلونه راغلی دي. متلونه برسیره پردې چی د ردیف مراعات په کی شوی، پر له پسی نومره هم لري.

اروانباد محمدګل نوري په خپله سریزه کی یادونه کړې او زیاته کړې یې ده چی دغه متلونه دده دزیاتو کلونو

۴_ محمدګل نوري، ملی هنداره(دوهم ټوك) ،پښتو ټولنه، دکابل عمومی مطبعه، ۱۳۲۵.(*)

*_ ددې اثر په معرفی کی (دحبیب الله رفیع د پښتو پانګی) دوهم ټوك له ۷۶۱ مخ څخه هم استفاده شوې ده.

دزيار او زحمت نتيجه ده چې له خلکو څخه يې اوريدلي او بيا يې ليکلي اوبالا خره يې دچاپ له پاره پښتو ټولنې ته سپارلي دي.

ارواښاد نوري د پښتنې فولکلور ټولوونکو په مخکښانو کې حسابيږي او په دې برخه کې دنوموړي کارونه دزياتې ستاينې وړ دي. دا چې په هغه وخت کې ددغسې مواد و دراټولو په باب له کوم خاص او علمي ميتود سره نه يوازې داچې محمد ګل نوري، پوره نه وبلد؛ زموږ دهغه وخت نور فولکلور څيړونکي هم ددغې ستونزې سره مخامخ وو او حتی زياتره اوسنې فولکلور څيړونکي چې خپل آثار ليکي او ي يې ليکلي دي په دې لاره کې نورو ته د فولکلور ټولونې لارې چارې ښيې مګر متاسفانه چې خپلې ليکنې يې په ميتود برابرې نه دي. په دې اړه هغه متل را يادېږي چې وايي: " چې ملا څه وايې منه يې، چې کوي يې مه يې کوه . "

په هرحال که څه هم دمرحوم نوري ټولونې به د ننني ميتود ونو سره په بشپړ ډول برابر ې نه وي او دا کا رهم له دې څخه نشئت کوي چې دی راويان نه معرفي کوي. خو دا چې دی په امانت داري مشهور دی نو دده دغه سرته رسيدلي کار- ونه بيا هم دزيات ارزښت وړ دي.

دلته يوه بله خبره هم ديادونې وړ ده او هغه دا چې په دې اثر کې ځينې ټکي د (قلم دعفت) په نامه حذف شوي او

په خپله د ټولوونکی دوینا له مخی ځینی اصلاحات په کی راغلی دي، چی دغه کار داثرارزښت زیانمن کړی دی. کاشکی داکار نه وای شوی او دلاس وهنی پرځای دکتاب دچاپ په وخت کی هغه متلونه چی چاپ یې ښه نه ګڼل کیده؛ له چاپ څخه حذف او په قلمی مجموعه کی خوندي پاتی شوی وای.

دلته زه له نور تفصیل څخه تیریږم ځکه دمیتود او دموادو دراټولولو په باره کی ترجلا سرلیك لاندې بحث شوی دی. (۵)

[۶]

پښتو قصی

(کیسی)

لیکونکی: صدیق الله رښتین اوغلام رحمن جرار.
خپروونکی: پښتو ټولنه.
مخونه : ۱۶۴.
دچاپ شمېر: ؟

۵ـ محمدګل نوري، متلونه ، پښتو ټولنه ، دولتی مطبعه، کابل، ۱۳۲۷ .

موضوع: په دې رساله کی د پښتو یو شمیر فولکلوري لنډې لنډې کیسی، ټوکی، وشتی، ټکونه او اړونه راټول شوي دي. همدارنګه پکی یو څو قصی له عربی نه ژباړل شوي دي.

ددې مجموعی دراټولولو په باب په رساله کی داسی څه نه ترسترګو کیږي چی لوستونکی وپوهیږي چی دا فولکلور ي مواد له کومه شوي او یا د کومی مشخصې سیمی څخه راټول شوي دي او څه وخت دا کار شوی دی. او داسی نورې پوښتنی چی په رساله کی ورته ځواب نه پیدا کیږي، نو ځکه ویلی شوچی دغه مجموعه له معاصر میتود سره سمه نه ده راټوله شوې. (۶)

زه په خپل وارډوي کارته په درنه سترګه ګورم او دفولکلور خیړونکو دمطالعی له پاره یې ګټور ګڼم.

[۷]

پښتونولی

لیکونکی: قیام الدین خادم.

خپروونکی: پښتو ټولنه .

۶_صدیق الله رښتین اوغلام رحمن جرار، پښتو قصی، پښتو ټولنه دکابل عمومی مطبعه، ۱۳۳۱.

دخپریدو ځای: دکابل عمومی مطبعه.
دچاپ نیټه: ۱۳۳۱.
مخونه: ۲۰۴.
کچه: ۱۳×۱۷ سم.

موضوع: په دې ښکلې مجموعه کې څه ناڅه (۵۵) بیلا بیلې اصطلاح ګانې چې د پښتنو کړه وړه تمثیلوي: راغلي دي لکه " پښتو نولی، برمته، ننواتی، دمشرانو منښت، بدل اخیستل، جرګه، روغه او داسې نور..."

لیکوال دځینو اصطلاحاتو دوضاحت په منظور د یو شمیر شاعرانو شعرونه، پښتو لنډۍ، پښتو متلونه، او لنډې فولکلوری ټوټې په خپله لیکنه کې داستناد په ډول کارولی دي.

نوموړي دخپل کار دپلان په باب څه نه دي ویلي خو په متن کې چې دکومو لیکلو منابعو څخه استفاده شوې، دهغو نومونه یې ذکر کړي دي.

داستاد رښتین له سریزې څخه داسې ښکاري چې دغه اثر لومړی په کابل مجله او بیا په مستقل ډول خپور شوی دی. دغه اثر دوه بابه لري: په لومړي باب کې: اخلاق، عادات او نورې اړوندې موضوع ګانې، او په دوهم باب کې د پښتنو حقوقی اوجزایي لیارې تشریح شوي دي.

ددې اثر په ليکلو کی به خامخا د کتبی منابعو ترڅنګ له شفاهی منابعو څخه هم استفاده شوې وي، خو متاسفانه چی شفاهی منابع نه دي معرفی شوي، نو ځکه يې په بشپړ ډول په معاصرميتود برابر نه شو ګڼلی. (۷)

دغه اثر فولکلور څيړونکو ته په خپله ساحه کی وړ مواد وړاندې کوي.

[۸]

پښتنی خويونه

ليکونکی: عبدالله بختانی.

خپروونکی: دنشريا تو مديريت.

دخپريدوکال او ځای: ۱۳۳۴، عقرب، دکابل عمومی مطبعه.

کچه: ۱۶×۲۰ سم

مخونه: ۷۹ .

دچاپ شمير: ۵۰۰ ټوکه.

موضوع: په دې رساله کی د پښتنو دکړو وړو په رابطه دغه عناوين تر سترګو کيږي: " پښتو ، پښتو ويل، پښتو کول،

۷_ قيام الدين خادم، پښتو نولی، پښتو ټولنه، دکابل عمومی مطبعه ،۱۳۳۱.

پښتونواله . ننګ اوغیرت، توره او میړانه ، دقا م او تېر مینه دمینی مینه ، **دمیلمه قدر، رښتیا ویل**، په ځان ویسا، ښه ځوانی ، **سړیتوب** ، **دینداري**، دآزادۍ مینه ، **عفت**، وفاداري، ایثار زیار ایستل" او داسی نور.

په دې اثر کی د پښتنو حقیقی څیره له ورایه ځلیږي او استاد دیوه پښتون په حیث پرې پوره رڼا اچولی ده . چی دمطالعینو له پاره وړ مواد وړاندې کوي.

دغه رساله چی استاد دځوانۍ په دوران کی کښلی ده ؛ ښاغلی محمد دین ژواك پرې خپل نظرښکاره کړی چی په یوه برخه کی یې لولو: " ... راغلو دې خبرې ته چی ده داکتاب څرنګه ولیکه په دې خصوص کی زه وایم چه ده په خپل کتاب کی پښتون دیوه انسان په حیث ښودلی او پښتونو لی یې په هغه انسانیت سره چی ذاتاً ورباندې دانسانیت مصداق کیدای شی وښودله نه په بل رنګك..." (۸)

دغه اثر په خپله نوعه کی یو باارزښته اثر ګڼلی شو او په دې برخه کی دښاغلی لیکونکی زیار ته دقدر په سترګه ګورو. ددې رسالی دلیکلو په اړه خپله لیکوال یوځای لیکلی دي:

۸ـ عبدالله بختانی ، پښتنی خویونه، دنشریاتو مدیریت، دکابل عمومی مطبعه ۱۳۳۴ ، ب مخ.

" ځرنګه چې دا مقالې د پښتنو دضمير هنداره او ددوی دعالي فطرت انعکاس او دپاك ثقافت ممثلې وې نو ډيرو لوستونکو له مانه وغوښتل چې دې مقالو ته کتابي شکل ورکړم . ددغه معقول او ضروري خواهش په اساس دغه مجموعه مې مرتبه کړه .

... ددې کتاب ماخذ د پښتنو حجرې او ديرې او ددوی دژوندانه فکري مظاهر ، ملي ادب او متلونه . دپخوا نيو ملي شاعرانو شعرونه دي ، نه دکوم داخلي ياخارجي سړي کوم کتاب ځکه چې ديو قوم دپيژند لو او معرفي کولو دپاره همدغه شيان داستناد وړ دي. د پخوانيو شاعرانو اکثر شعرونه دمولا نا خادم له (روهي ګلونه) څخه اخيستل شوي دي.

دقام دافکارو داعماقونه مې دا مرغلرې ايستلې دي او هيله لرم چې پښتنې جامعه به په درانه نظرورته وګوري او نور ليکوال زما نواقص تکميل کړي. " (۹)

په دې لاره کې داستاد له پاره دلوی خدای (ج) له دربار څخه دزيات عمر غوښتنه کوو څو دده له نورو مفيدو ليکنو څخه هم فيض واخلو. زه يوازې د شکلياتو په ارتباط

۹_ همدغه اثر . ه . و مخونه . (*)

* _ ددې رسالې مقالې لومړې په زيري جريده کې خپرې شوې، چې وروسته دلوستونکو دغوښتنې له مخې د مجموعې په ډول چاپ او خپرې شوې دی. (ليکوال)

عرض کوم چې دفولکلور ټولونې له اوسنی معاصر میتود سره پوره سمون نه لري. مګر فولکلور څېړونکو او پلټونکو ته دتوجه وړ مواد وړاندې کوي.

[۹]

پښتنې سندرې
(لومړۍ برخه)

مهتمم: محمد دین ژواك.
خپروونکی: پښتو ټولنه.
دخپریدو کال: ۱۳۳۴.
دخپریدو ځای: دکابل عمومي مطبعه.
شمیر: ۲۵۰۰ ټوکه.

موضوع: دپښتنې سندرو په دې ټوك کی دپښتو عامی سندرې لکه: " داتڼ نارې، لنډۍ ، دکاکړو غاړې او دشین خالو نارې" راغلی دي، چی دهرې برخی په باب په خپل خپل ځای لنډې لنډې ځرګندونی هم شوي دي. دغه مجموعه د پښتنې فولکلور دڅېړنی په برخه کی وړ مواد لري.

دمجموعی دپاکنویس او ردیف بندي چارې: حفیظ الله ، زین الله حلیم او عبدالصمد تر سره کړي دي.

ددې مجموعې مشخص ټولوونکی او سیمه نه ده معلومه او نه پکی دفولکلور څیړنی د میتود څرك لګیږي، خو دومره ویلی شم چی دغه مجموعه د پښتو ټولنی د نورو هڅو ترڅنګ یوه دیادونی وړ هڅه ده ، چی ددغی ټولنی دادبیاتو دڅانګی دغړو په همت ددغی مجموعې د ترتیب او چاپ چارې ترسره شوي دي. دمجموعې په پیل کی لنډۍ راغلی چی شمیر یې (۷۰۰۰) (۱۰) ته رسیږي، وروسی په ترتیب سره نورې سندرې راغلی دي. (۱۱)

[۱۰]

پښتنی سندرې

(دوهمه برخه)

مهتمم: محمد حسن ضمیر ساپی

خپروونکی : پښتو ټولنه، دادبیاتو څانګه.

دخپریدو نیټه : **۱۳۳۵** .

۱۰_ دښاغلی حبیب الله رفیع د (پښتو پانګه) نومی اثر د (لومړي ټوك) په (۴۵) مخ کی د لنډۍ یو شمیر له (۸۰۰۰) زیات ښودل شوی دی.

۱۱- پښتنی سندرې (لومړۍ برخه) ، پښتو ټولنه، دکابل عمومی مطبعه، ۱۳۳۴.

دخپریدو ځای: دکابل عمومی مطبعه.
دچاپ شمیر: ۱۰۰۰ ټوکه.
مخونه: ۲۰۶.

موضوع: په دې برخه کی د پښتو خاصی سندرې لکه (چاربیتی، غزلی، رباعی، لوبی، بګتۍ، قصی، داستانونه، نیمکۍ او سرونه) راغلی دي. دا هغه سندرې دي چی ویونکی یې زیاتره معلوم شاعران دي او په اولسی قالبونو کی ویل شوي دي.

په دې مجموعه کی هم دلومړۍ مجموعی په څیر دسندرو دهر ډول څخه دمخه یو څه مقدماتی معلومات وړاندې شوې دي، چی ورپسی سندرې راغلی دي. دپښتنی سندرې دغه برخه له لیکلو او شفاهی منابعو څخه دغو ښاغلو بشپړه کړې ده:

محمد دین ژواك، حفیظ الله، شاه ولی، عبدالمنان دردمند، ملنګ جان چمتو، بهسود وال، عبدالصمد او عبدالقدیر. (۱۲)

دغه ټوك شپږ برخی لري چی په ترتیب سره پکی: (۱۰۰) چاربیتی، (۸۴) غزلی، (۲۹) رباعي، (۱۷) بګتۍ، (۷) قصی او داستانونه، (۷۳) داتڼ سرونه، (۲۱۰) عادي

۱۲ ـ پښتنی سندرې (دوهمه برخه)، پښتو ټولنه، دکابل عمومی مطبعه، ۱۳۳۵.

نیمکې او سرونه راغلي دي چې ټولې سندرې یې (۵۲۰) ته رسیږي.

دغه اثر هم له معاصر میتود سره برابر نه دی ځکه چې منابع یې نه دي په ګوته شوي. (۱۳) مګر داولسی سندرو د متنونو د ضبطولو او دهغو دآهنګونو د خوندي کولو له امله زیات ارزښت لري.

[۱۱]

پښتني دودونه

ټولوونکی: ګلاب ننګرهاری، عبدالخالق واسعی، محمد ابراهیم ثابت او محمد عالم اتمان.

خپروونکی: پښتو ټولنه، دادبیاتو څانګه.

دچاپ کال اوځای: (۱۳۳۶) ش کال، دکابل عمومی مطبعه.

کچه: ۱۶×۲۰ سم.

مخونه: متن: ۲۰۱.

موضوع: په دې اثر کې دهیواد دڅلورو ولایتو نو (غزني اودهغه شاوخوا، پکتیا (جنوبی)، دکندهار او ننګرهار) د اوسیدونکو پښتنو دودونه او کړه وړه بیان شوي دي.

۱۳ــ همدغه اثر، دسریزې ض مخ.

دغه اثر د پښتني دودونو یو عمومي تصویر را ښیي.
چې د کوژدې واده ، سنتې، دمړینې او داسې نور، دودونه پکې راغلي دي.

په دې اثر کې دهرې سیمې دودونه تشریح شوي او څه ناڅه تفصیل هم ورکړل شوی دی. ددې اثر په پیل کې داستاد الفت یادونه او وروسته دادبیاتو دڅانګې د کفیل ښاغلي محمد حسن ساپي سریزه راغلې ده .

دا چې دا اثر په دې اړه لومړنی اثر دی او لیکوالویي هم دخپل کار په اړه خپل معذرت وړاندې کړی. نو ځکه زه هم زیات بحث ورباندې نه کوم خو په لنډ ډول باید ووایم چې دپښتني دودونو دغه ګل غنچه د پښتو فولکلور دخیړونکو لپاره دتحقیق وړ مواد وړاندې کوي ددې په څنګ کې باید زیاته کړم چې دغه اثر د فولکلور ټولوني له میتود سره سم نه دی را ټول شوی. (۱۴)

۱۴_ ګلاب ننګرهاري، عبدالخالق واسعی، محمدابراهیم ثابت او نور، پښتني دودونه ، پښتو ټولنه، دکابل عمومي مطبعه، ۱۳۳۶.

[۱۲]

لنډۍ

چاپ کوونکی اوفارسی مترجم: عبدالروف بینوا.

انګریزي مترجم: محمدابراهیم "شریفی".

خپروونکی : راډیو افغانستان.

دخپریدو نیټه: ۱۳۳۷ ش = ۱۹۵۸ ع.

دخپریدو ځای: دملی دفاع وزارت مطبعه.

مخونه : ۱۷۶ + ۳ = ۱۷۹ .

موضوع: په دې رساله کی د پښتو یو شمیر لنډۍ راټولی شوي چی په دري او انګریزي ژبو ژباړل شوې دي.

ددې رسالې په پیل کې د استاد بینوا سریزه راغلی چې په دري او انګریزي ژبو ژباړل شوی‌دی.

په دې سریزه کې دلنډیو په باب لا زم معلومات وړاندې شوي دي. دغه مجموعه په مصور ډول خپره شوې چی ددغو موضوع ګانو په باب لنډۍ په کی راټولی شوي دي.

ګلونه، توره ، سپوږمۍ، پردیسی، ګودر. مرور. خندا، خولګۍ، راز راز ... مونږ په داسی حال کی چی دارواښاد استاد بینوا دنورو ادبی خدماتو په څنګ کی ددې ستر خدم ستاینه هم کوو چی دپښتو اصیل فولکلوریی دنورو ژبو ویونکوته ورپیژندلی دی او دغه مجموعه یې ترتیب او

تدوین کړې ده ، خو په ضمن کی باید ددې خبرې یادونه هم وکړو چی ددغو لنډیو ماخذ او منبع نه دي ښودل شوي، چی له کومه ځایه راټولې شوي نو په همدې توسن دغه اثر دفولکلور ټولونی له میتود سره برابر نه شو ګڼلی. (۱۵)

[۱۳]

دژوند سندره

لیکونکی: صدیق الله رښتین.

خپرونکی : راډیو افغانستان.

دخپریدو کال: ۱۳۲۸ کب،دولتی مطبعه، لومړی ځل ۱۰۰۰ ټوکه.

کچه: ۱۶× ۲۴ سم.

مخونه : ۱۱۸ .

موضوع: دساز په شاو خوا کی یوه څیړنه ، او د پښتو دساز دآلا تو معرفی او دپښتنی ټنګ ټکور په باب تبصرې او بحثونه. (۱۶)

۱۵_ عبدالروف بینوا، لنډی، (چاپ کوونکی او فارسي مترجم) ، راډیو افغانستان، عسکري مطبعه، ۱۳۳۷ ش = ۱۹۵۸ ع.

۱۶_ حبیب الله رفیع، پښتو پانګه، لومړی ټوك، پښتو ټولنه، دولتی مطبعه، ۱۳۵۴ ، ۱۴۵ مخ.

[۱۴]

هلمند

(دکلتور په ساحه کی)

لیکونکی : محمد ابراهیم عطایی.

خپروونکی : داطلاعات او کلتور وزارت، دآثارو او هنر د تشویق لوی مدیریت.

دخپریدو کال: ۱۳۴۴. دولتی مطبعه.

کچه: ۱۵× ۲۱ سم.

مخونه : ۱۰۵ .

موضوع: په دې رساله کی دهلمند په باب عمومی معلومات وړاندې شوي او مخصوصاً دهلمند په کلتوري اړخ زیات زور اچول شوی دی او ددې سیمی دخلکو کره وره، افسانی. روایات او دژوند نور اړخونه په ښه توګه څېړل شوي دي. (۱۷)

یادونه : کوم آثار چی ما په خپله نه دي لیدلی او دنورو ماخذو په مرسته می معرفی کړي، دهغو په میتود می خبرې

۱۷ـ پورتنی اثر ۳-۲-۳۰۲ مخونه.

نه دي کړي. دغه ډول آثار زياتره دښاغلی رفيع له پښتو پانګی نه په استفاده معرفی شوي دي.

[۱۵]

پښتو متلونه

مهتمم: محمد دين ژواك.
خپروونکی: پښتو ټولنه
دخپريدو کال او ځای: ۱۳۴۴ ، د کابل عموي مطبعه.
مخونه : ۱۷۳ .
دچاپ شمير: ۲۰۰۰ ټوکه.

موضوع: په دې مجموعه کی د پښتو يو شمير متلونه په رديفو ار ډول راغلی چی د (الف) په توري پيل او په (ي) پای ته رسيږي. ددغو متلونو شمير (۲۲۷۰) ته رسيږي.

دمتلونو په دې مجموعه کی دمرحوم نوري د (متلونه) نومی مجموعی څخه چی په (۱۳۲۷) کال خپره شوې ؛ هم استفاده شوې ده . په دې مجموعه کې يو شمير نور متلونه هم ورزيات شوي دي او بيا چاپ ته تياره شوې ده.

ددې مجموعې دځرنګوالي په باب استاد ربنتین داسې لیکلي دي: " د پښتو متلونو لومړۍ (۱۸) مجموعه په (۱۳۲۷) کال کې دچاپ میدان ته راووتله چې ښاغلي محمد ګل نوري ټوله کړې وه، مګر په دغه مجموعه کې له ادبي چوکاټ نه وتلي ناسپیڅلي متلونه هم راغلي وو او ځینې لفظي کمزورۍ هم په کې ډیرې وې نو د پښتو ټولنې دادبیاتو څانګې ددغو متلونو پوره سمون او سپیڅلتیا ته ملا وتړ له، نوي متلونه یې هم را ټول کړل او په نوي شکل یې دچاپ له پاره تیار کړل. (۱۹)

که څه هم زما د ترلاس لاندې رسالې په یوه جلا برخه کې دفولکلور ټولونې د میتود په باب هر اړخیز ې خبرې شوي خو بیا هم دلته دموضوع په ارتباط یوه لنډه یادونه کوم او هغه دا چې په فولکلور کې لاس وهنه جایز نه ده او نه باید ځوك ځانته داحق ورکړي چې فولکلور (سوچه) کاندي ځکه چې دا داولس مال دی،نه دیوه سړي. دا خبره سمه ده چې په

۱۸_ زما دمعلوماتو له مخې په افغانستان کې د پښتو متلونو لومړۍ چاپي مجموعه دمحمد قدیر تره کي او امین الله زمریالی له خوا راټوله شوې چې متلونه یې پښتو شرحه، دري ترجمه او شرحه لري (داستعمال موارد یې هم ښودل شوي دي) دغه مجموعه په ۱۳۱۸ ش کال په کابل کې خپره شوې چې په همدې رساله کې هم معرفي شوې ده. (دلیکوال یادښت.)

۱۹_ پښتو متلونه ،مهتمم محمد دین ژواك، پښتو ټولنه ، دکابل عمومي مطبعه، ۱۳۴۴، سریزه، د مخ.

متلونو او نورو فولکلوري مسایلو کی به رکیك الفاظ موجود وي، کیدای شي چی هغه په خپل اصلی شکل راټول او په آرشیف کی یې خوندې وساتو او له چاپ څخه یې ډ ډه وکړو. فولکلور څیړونکی کولی شي چی دیوې موء سسی له آرشیف نه هم ګټه واخلی.

کله که په فولکلور کی لاس ووهل شو او یا په اصطلاح (سپیڅلی) شو؛ نو هغه بیا داولس مال نه دی بلکی دشخص مال ګڼل کیږي. دبیلګی په ډول دیوه متل اصلی شکل ښایی داسی وي: (یوه ژرنده ښځه او بل یې کونه ښځه).

دا متل په دې مجموعه کی داسی راغلی دی: " یوه ژرنده ښځه بل یې لکۍ ښځه " ([20]) مګر له بلی خوا له سپیڅلتیا او اصلا حاتو سره سره داسی متلونه هم په کی لیدای شو: (ویی واهه په سر وی چاو دې خوټی) ([21])

په هرحال ننني فولکلور پوهان حتی کنځلی هم دفولکلور جز ګڼي، کنځلی خو کنځلی دي؛ هغه به څنګه سپیڅلی کړو؟ په لنډ ډول باید ووایم چی دا اثر د میتود له امله نیمګړی دی. (*)

۲۰_ همدغه اثر، ۱۷۲ مخ .

۲۱_ پورتنی اثر، ۱۶۴ مخ .

*_ زه چی هر چیرې د میتود کلمه ذکر کوم (البته دیوه ځانګړي اثر په ارتباط) هدف می د فولکلور څیړنی معاصر میتود دی. (لیکوال)

[۱۶]

تور برېښ

ټولونه، مقدمه او اهتمام: عبدالله بختانی.

خپروونکی : پښتو ټولنه .

دخپرېدو کال اوځای: ۱۳۴۷ ، دولتی مطبعه.

مخونه : ۱۴۸.

کچه : ۱۳×۱۷ سم.

شمیر: ۱۰۰۰ ټوکه .

موضوع:په دې اثر کی د پښتو داولسی ادب دیو شمیر شاعرانو استعمار ضد چاربیتی چی تاریخی ارزښت لري، راټولی شوي دي.

ددې اثر په تدوین او لیکلو کی له دوه ډوله ماخذو څخه کار اخیستل شوی دی: (۱) لیکلی او چاپی آثار (۲) اشخاص.

په کتاب کی دواړه ډوله ماخذونه ښودل شوي دي. محترم لیکوال؛ دکونړ ، لغمان او ننګرهار په سیمو کی ګرځیدلی او دغه مواد یې له هغو کسانو څخه چی یا خو په خپله شاعران وو او یایې دنورو شاعرانو شعرونه په یادو ، راټول کړي دي.

دمجموعی محترم ټولوونکی دخپل کار د میتود په باب لیکی: " ددې مجموعی سندرې یو څه د لیکلو منابعو نه اخیستل شوي او یوڅه یې دخلکو دخولونه اوریدل شوي دي. دهرې سندرې په اخر کی اول د شاعر نوم او بیا دسندرې ماخذ ښودل شوی دی. ماخذ کله کتاب او مجله او کله اشخاص وي. " (۲۲)

دمجموعی په ځینو برخو کی نا اشنا لغات په لمن لیکونو کی حل شوي دي. دغه اثر ترزیاتی اندازې له میتود سره سم دی. (۲۳)

[۱۷]

خوږې نغمی

ویونکی:	مرحوم ملنګ جان.
ټولونه ، ترتیب او مقدمه:	دعبدالله بختانی .
خپروونکی:	پښتو ټولنه .
دخپریدوځای:	دولتی مطبعه، دوهم چاپ.
دچاپ نیټه:	۱۳۴۸.

۲۲_ عبدالله بختانی ، توربریښ، پښتو ټولنه، دولتی مطبعه، ۱۳۴۷، سریزه، ۴ مخ.

۲۳_ همدغه اثر.

مخونه : متن: ۳۳۴ + مقدمه ۱۵= ۳۴۹.

کچه: ۲۴× ۱۷ سم.

موضوع: دغه اثر دمرحوم ملنګ جان دراز راز اولسي شعرونو یوه رنګینه ګیډۍ ده،چې لومړی ځل په (۱۳۳۵ ش) او دوهم ځل په (۱۳۴۸) کال د پښتو ټولنې له خوا چاپ او خپور شوی دی.

دمرحوم ملنګ جان دشعرونو دغه مجموعه په عمومی ډول په دریوو عمده برخو ویشل شوې، په دې ډول:

لومړۍ برخه:

په دې برخه کی ددغو موضوع ګانو په باب سندرې (دهیواد مینه ، دخپلواکۍ سندرې، دیووالی پیغام . توره. میړانه . پښتو) راغلی دي، چی دکتاب له (۳- ۲۰۴) مخه دوام مومی په دې برخه کی دغه لاندې ډول ډول سندرې راغلی دي:

۱_ چاربیتی، له ۳-۶۴مخه.

۲_ لوبی، له ۶۵-۱۳۴ مخه.

۳_ بګتۍ، له ۱۳۵-۱۴۰ مخه.

۴_ غزلونه ، له ۱۴۱-۲۰۲ مخه.

۵_ مقامونه ، له ۲۰۳-۲۰۴ مخه.

دوهمه برخه:

اخلاقی، اجتماعی، انتباهي او انتقادي شعرونه. له (۲۰۵-۲۶۸) مخه.

۱_ چاربیتی، له ۲۰۵-۲۵۲مخه.
۲_ مقامونه، له ۲۵۳-۲۵۸مخه.
۳- غزلونه ، له ۲۵۹-۲۶۸ مخه.

دریمه برخه :

دعشق سندرې،دمینی سوزوساز، ددردمند زړه چیغی او هنګامی. له (۲۶۹-۳۲۵) مخه.

۱_غزلونه، له ۲۶۹- ۳۰۰ مخه.
۲_ مقامونه ، له ۳۰۱-۳۰۴ مخه.
۳_لوبی، له ۳۰۵-۳۱۴ مخه.
۴_ چاربیتی، له ۳۱۵ – ۳۱۸ مخه .
۵_بګتی، له ۳۱۹- ۳۲۰ مخه .

دمجموعی له(۳۲۱- ۳۲۴) مخه دمرحوم ملنګ جان په یاد دمرحوم ملك الشعرا ء بیتات، دمحترم عبدالله بختانی ، مرحوم عبدالباقی قایل زاده شعرونه راغلی دي.

دملنګ جان دشعر ونو دمجموعی د دوهم چاپ په پیل کی داستاد رښتین یادونه ، وریسی دمجموعی دټولوونکی او مدون سریزه، پرې پسی په نعت شریف دمرحوم ملنګ جان شعرونه پیل کیږي دمجموعی په پای کی فهرست

اوله فهرست نه مخکی دمرحوم ملنګ جان په یاد ویل شوي شعرونه راغلی دي.

په سریزه کی دملنګ جان دزوکړې، دژوند د حالاتو ، دشاعري شهرت ، رسمی خدمت ، لیك لوست، وفات او دده دشاعري او شعرونو په باب داستاد بختانی له خوا هر اړخیز معلومات وړاندې شوي دي. ددغی مجموعی د ټولو لو او چاپ په باب به په خپله دمحترم بختانی صاحب له لیکنی څخه ځینی برخی راواخلو:

"کوم وخت چه زما دملنګ جان او دده له شعرونو سره اشنایی پیدا شوه نو زما دا آرزو وه چه کشکی ټول آثار یې مرتب او چاپ شوي وای. کله چه زه په کابل کی د (زیري) مدیروم (۱۳۳۱-۱۳۳۴ه ش) او په دغه وخت کښې ملنګ جان هم کابل ته راغی نو زما تماس ورسره زیات شو او پخوانۍ آرزو لا پخه شوه تر څو چه مونږ یې دعمل صحنی ته راکش کړو.

ډیرو علاقه مندانو هم دغه کار له مانه وغوښت او ښاغلی پوهاند صدیق الله رښتین (چه په هغه وخت کی د پښتو ټولنی عمومی مدیر و) څو ځله راته وویل.

د (۱۳۳۱- ه ش کال) په اواخرو کی می په دغه کار پیل وکړ او یو نیم کال کار می په کی وکړ، په خپله دملنګ جان په مرسته دده داشعارو (۱۵۴) پارچی راټولی شوې. څه

سندرې دده یادې وې. څه مسودې ورسره وې او څه موده دشاګردانو د خولو نه واخیستلی هغه شعرونه مرتب شول او دخوږې نغمی نوم ورباندې کیښودل شو... په ۱۳۳۳ ه ش کال د مطبوعاتو دمستقل ریاست له خوا دمرحوم ملنګ جان دغه کتاب ته (درحمان بابا جایزه) ورکړی شوه. په (۱۳۳۴ ه .ش) کال کی پښتو ټولنی دغه کتاب دمطبوعاتو دمستقل ریاست د نشراتو له لوی مدیریت څخه وغوښت ... څو چی د ۱۳۳۵ ه .ش کال دزمري په میاشت کی کتاب له چاپه ووت. (۲۴)

ددې مجموعی دوهم چاپ ته په داسی وخت کی اقدام وشو چی مرحوم ملنګ جان له دې فانی نړۍ څخه دتل له پاره سترګی پټی کړې وې، نو دده دشاګردانو (چی په کتاب کی یی نومونه راغلی) او رحیم جان جوهر په مرسته (۱۳۰) پارچی نوي شعرونه راټول او په دوهم چاپ ورزیات شول چی په (۱۳۴۸) کال کی له چاپه راووت.

دمرحوم ملنګ جان دغه خوږې نغمی نه یوازې دفولکلور دمینه والو بلکی دهر هیوادپال افغان له پاره د کتنی او استفادې وړ مواد وړاندې کولی شی. ددغی مجموعی د ترتیب او تدوین په چارو کی دمحترم استاد

۲۴ــ عبدالله بختانی ، (ټولوونکی او مدون) دملنګ جان خوږې نغمی، پښتو ټولنه، دولتی مطبعه، ۱۳۴۸م ځ .

بختانی صاحب زیار دزیاتی ستاینی او یادونی وړ دی، چی ددغسی یوه ملی او په هیواد مین شاعر شعرونه يې له ورکیدو ژغورلی او دخلکو خدمت ته يې د یوې مجموعی په بڼه وړاندې کړي دي.

دلته به زه دمرحوم ملنګ جان دشعرونو په باب یو څو ټکی نور هم عرض کړم ښايي چی له موضوع سره به بی ارتباطه نه وي. کله چی زه دزيري جريدې مسوول وم (۱۳۶۲ -۱۳۶۵) ما ته ځوان لیکوال، شاعر او زما شخصی دوست سید محی الدین صادقمل یو شمیر شعرونه راوړل او ویی ویل چی دا دملنګ جان دي. ما نو موږي شعرونه فاضل استاد پوهاند عبدالشکور رشاد ته وسپارل. محترم استاد په ځان زحمت ومانه او دغه شعرونه يې کره کړل چی یو شمیر يې دا سماري ملنګ جان او یو شمیر نور يې د بهسود وال ملنګ جان وګڼل. ما د (ورکی نغمی) په نامه ددغو شعرونو زیاته برخه د زيري جريدې په بيلا بيلو ګڼو کی نشر ته وسپارله چی د نشر شوو پارچو شمیر له (۲۰) څخه اوړي.

کوم شعرونه چی دا سماري ملنګ جان ګڼل شوي وو. هغه می نشر نه کړل او له ځان سره می وساتل چی وروسته عاشق الله فریاد راڅخه واخیستل. (*)

---

*ـ دلیکوال شخصی یادښت.

[۱۸]

دهوتکو نارې

لیکونکی او ټولوونکی: حبیب الله رفیع.
خپروونکی: پښتون کتاب فروشي.
دخپریدو کال او ځای: ۱۳۴۹، دولتی مطبعه.
مخونه : ۴۳
کچه: ۱۰×۱۶ سم.

موضوع: په دې رساله کی دهوتکیانو په دورې پورې مربوطی تاریخی، ادبی او فولکلوري نارې راټولی شوي دي. لیکوال درسالی په پیل کی د هوتکو دنارو د پیدایښت او نورو اړوندو موضوع ګانو په باب لازمی څرګندونی کړي دي. همدارنګه يې ددغو نارو د تاریخی ارزښت په ارتباط وړ مواد راغونډ کړي دي.

ددې رسالی مواد لومړی په آریانا مجله (*) کی نشر او وروسته يې دځانګړي اثر په توګه دچاپ جامه اغوستی ده . ددغه اثر راټولول . چاپ او خپرول یو ګټور کار دی ځکه چی

---

* _ آریانا مجله اوس دافغانستان دعلومو اکادیمی دټولنیزو علومو دمرکز نشراتی اورګان دی، چی په هرو دریو میاشتو کی یوځل خپريږي.

په دې رساله کې زموږ د شفاهي ادب دسترې خزانې ځینې مرغلرې خوندي او له ورکیدو ژغورل شوي دي.

له دې سره سره کومه خبره چې ضمناً یې یادونه ضروي ده ، هغه داده چې محترم لیکوال دخپل کار د میتود په باب څه نه دي ویلي ماخذ او منابع یې هم نه دي ښودلي نو ځکه دغه اثر له معاصر میتود سره برابر نه شو ګڼلی.(۲۵)

[۱۹]

دخلکو سندرې

لیکوال : حبیب الله رفیع.

خپروونکی: دافغانستان اکادمي، دتاریخ او ادب ټولنه.

دخپریدو نیټه اوځای: ۱۳۴۹ش ، دولتي مطبعه.

مخونه : ۳۲۲.

کچه: ۱۴×۲۰

موضوع: په دې اثر کې د پښتو داولسي ادب دغه لا ندیني سندرې راغلي دي:

۲۵ـ حبیب الله رفیع، دهوتکو نارې،دولتي مطبعه، کابل، ۱۳۴۹ ش.

" دمیندو سندرې ، دماشومانو سندرې، دوړو مشاعرې، کیسی، دلویانو سندرې، محلی پارچی، داتڼ نارې، بابو لالی، لنډۍ، فالونه ، سروکی، منظوم متلونه، دهوتکو نارې، دمروتو کسرونه ، ساندې، غړونه ، مقامونه ، چاربیتی ، بدلی ، بګتۍ، لوبی، او داسی نورې سندرې. په دې اثر کی دهمدغو سندرو معرفی شوې او نمونی یې ورسره راوړل شوي دي.

ددې اثر په پیل کی فهرست،وروسی تر (۴۴) مخه دفولکلور په باب یو لړ تحقیقی مطالب راغلی چی په ضمن کی د (رهنمای فولکلور*) درسالی پښتو ترجمه هم په همدې برخه کی راغلی ده.

دمجموعی په (۴۵) مخ کی اصلی مطلب (سندرې) پیل کیږي چی دغه سندرې په دوو برخو ویشل شوي دي.

لومړۍ برخه :

عمومی سندرې(هغه سندرې چی شاعر او ویونکی یې معلوم نه وي.)

دوهمه برخه :

خصوصی سندرې(یعنی هغه سندرې چی معین شاعر او ویونکی ته منسوب وي.) په دې اثر کی که څه هم دراغلو

* ـ درهنمای فولکلور لیکوال مرحوم سرور ګویا دی چی ټول اثر (۲۴) مخه او غالباً به په (۱۳۱۶) کال کی دکابل دادبی انجمن له خوا چاپ شوی وي. (لیکوال)

سندرو په باب زيات تيوريکي معلومات وړاندې شوي خو سره له دې هم زمونږ داولسی سندرو يوه زياته برخه په کی خوندي شوې ده چې دفولکلور له مينه والو او څېړونکو سره مرسته کولی شی او هم د څېړنی وړ مواد په لاس ورکولی شی.

ښاغلی حبيب الله رفيع دخپل کار په باب وايي:

" زما ددې اثر اکثره مطالب زما په خپلو هڅو او پلټنو پورې اړه لري خو بيا هم په ځينو برخو کی می له يو لړ آثارو څخه په مستقيم او غير مستقيم ډول استفاده کړې ده. " (۲۶)

ليکوال په لمن ليکونو کی ځينی لغات او سيمه ايزې کلمی هم توضيح کړي دي. دمحترم ليکوال دغه اثر دزيات ارزښت وړ دی خو کاشکی نومو ړي دهغو موادو دراټولولو منابع هم په بشپړ ډول ښودلی وای چی ده له ساحی او دخلکو له خولو څخه راټول کړي دي او نور لا زم ټکی يې په مجموعه کی چی دفولکلور څېړنی معاصر ميتود يې ايجابوي درج کړي وای نو ددې اثر ارزښت به يې لا دروند کړای وای. که څه هم ليکوال داثر په پای کی دليکلو آثارو په ښودنه برسيره ديو شمير نارينه و او ميرمنو پوره يا مخفف نومونه چی له ده سره يې مرسته کړې ، ذکر کړي دي، خو يوازې دنوم ذکر کافی نه

۲۶_ حبيب الله رفيع، دخلکو سندرې، دتاريخ او ادب ټولنه ، دولتی مطبعه، ۱۳۴۹، ۲۸۴ مخ.

ګڼل کیږي. نو ځکه باید ووایو چې دغه اثر په بشپړ ډول له میتود سره برابر نه دی.

دا چې دا اثر ډېر ښه لیکل شوی، ښه مواد په کې دي، له دې څخه څوك سترګې نه شي پټولی، له دې څخه هم سړی پټې سترګې نشي پاتې کیدی چې په اوسنی میتود یې برابر وګڼي. زمونږ او نورو لوستونکو په وړاندې د اثر ارزښت پر ځای دی.

[۲۰]

دخندا پلوشې

لیکونکی، پښتو کوونکی. مصحح، مهتمم او ناشر: محمد ناصر نصرت.

دخپریدو نیټه اوځای: ۱۳۴۹ ، دولتی مطبعه.

کچه: ۱۴×۲۰ .

مخونه: ۱۴۹ .

موضوع: دټوکو ټکالو او لنډو خندوونکو کیسو مجموعه ده چې ښاغلی نصرت له کتابونو او اجتماع څخه راغونډې کړې دي او دفولکلوري څېړنو په برخه کی استفاده ترې کیدی شي. (۲۷)

۲۷_ حبیب الله رفیع، پښتو پانګه، لومړی ټوك ، پښتو ټولنه ، دولتی مطبعه، ۱۳۵۴، ۳۴-۱۲۳ مخونه .

[۲۱]

کندهار

(لومړی او دوهم ټوك)

مؤلف : محمد ولی زلمی.

خپروونکی : دزوري دانتشا راتو مؤسسه.

دخپریدو کال او ځای: د ۱۳۵۱ کال عقرب، دولتی مطبعه.

مخونه : لومړی ټوك: ۲۸۷+ ۲. دوهم ټوك: ۱۴۸ مخه.

کچه: ۲۱+ ۱۴ سم

موضوع: دکندهار تاریخ ، کلتور او جغرافیه. په دې اثر کی چی دواړه ټوکونه یي په یوه پوښ کی راغلی دي. دلوی کندهار د بیلا بیلو سیمو لکه فراه ، هلمند، روزګان ، کندهار، زابل، کتواز، کوټې، دیره اسمعیل خان دیرهٔ غازي خان تاریخي، کلتوري او جغرافیایی حالات څیړل شوي دي او دغه یادې شوې سیمی دلوی کندهار ولکی ګڼل شوي دي.

لیکوال دخپل کار میتود داسی بیانوي: " ... ما دلسو کلونو راهیسی هلی ځلی کولی کتابونه می لټول، بیلا بیل

مدارك او آثار مي پيدا كول او هغه مي ځيړل چه په نتيجه كي دادي د (كندهار) په نامه يو اثر ځني جوړ سو....

دلته ما دكندهار په نامه ټولي هغه سيمي راوستلي دي چي لږ او ډير په كندهاري لهجه او ګايه خبرې كوي او يا كړه وړه يې نسبت نورو افغانانو ته كندهاريانو ته ورته وي. " (۲۸)

ددغه اثر په لومړي ټوك كي ديادوشوو سيمو په عمومي كلتوري مسايلو ، دواده او كوژدې په دودونو ، لوبو، فالونو او دكوچنيانو په سندرو خبرې شويدي.

په دوهم ټوك كي دهلمند او نورو په باب عمومي خبرې شوي او له فولكلوري مسايلو سره يي لږ تماس نيولى دى. دغه اثر له كتبي منابعو ځخه په استفاده ليكل شوى دى چي ليكوال ماء خذونه په ګوته كړي دي. نو ځكه يې تر زياتي اندازې په ميتود برابر ګڼلى شو.

۲۸ـ محمد ولي خلمي، كندهار(لومړى او دوهم ټوك) ، دزوري دانتشاراتو موٴسسه، دولتي مطبعه، ۱۳۵۱ ، سريزه، اول مخ.

[۲۲]

ملی هنداره

(دریم ټوک)

مؤلف : محمد ګل نوري.

خپروونکی: داحمد شاه بابا دکتاب چاپولو مؤ سسه.

دخپریدو نیټه اوځای: ۱۳۵۲* هـ ق ، دکندهار دولتی مطبعه.

مخونه: ۲۰۴ .

کچه : ۲۰×۱۶ .

موضوع: داستاد نوري دیو شمیر نورو کوچنیو فولکلوري راغونډ و شویو کیسو مجموعه ده چی دده تر مړینی څو شپی مخکی خپره شوې . دده سوانح هم دښاغلی عطایي په قلم پکی لیکله شوې او دا د ملی هندارې د سلسلی دریم ټوک دی. (*)

---

*ـ څرنګه چی اروانباد استاد نوري په (۱۳۵۲ ش) کال وفات شوی، دغه نیټه به هم هـ . ش. وي نه هجري قمري او دابنایی چاپی تیروتنه وي. (لیکوال)

*ـ حبیب الله رفیع، پښتو پانګه (دوهم ټوک) ، پښتو ټولنه، ۱۳۵۶ ، ۷۶۳ مخ .

[۲۳]

پښتنی ملی اتڼونه او نڅاوې

لیکونکی : غلام محی الدین ملگری.
خپروونکی: دفولکلور او ادب ټولنه.
دخپریدو کال اوځای: ۱۳۵۲ ، دولتی مطبعه.
کچه: ۱۶×۲۲.
موضوع: دپښتنی اتڼونو ډولونه په کی ښودل شوي، او دپښتنو دهرې سیمی اتڼ په کی تشریح شوی او ځای په ځای داتڼونو او نڅاوو عکسونه هم لري. (۲۹)

[۲۴]

دپښتنو دودونه

لیکونکی: غلام محمد تره کی.
خپروونکی: دفولکلور او ادب مدیریت.
دخپریدو کال او ځای: ۱۳۵۳، دولتی مطبعه، ۱۰۰۰ ټوکه.

۲۹- حبیب الله رفیع، پښتو پانگه (لومړی ټوك)، پښتو ټولنه، دولتی مطبعه، ۱۳۵۴، ۴۷ مخ.

کچه: ۱۶× ۲۲ سم .

مخونه : ۹+۲۳۴ = ۳۴۳ .

موضوع: دمقر دسیمی دپښتنو یو شمیر دودونه ، رواجونه . فولکلوري تجربی ، اولسی سندرې، اولسی لوبی او نور په کی څیړل شوي دي. (۳۰)

[۲۵]

امثال او حکم

ټولوونکی: عنایت الله شهرانی.

خپروونکی: داطلاعاتو او کلتور وزارت د بیهقی کتاب خپرولو مؤسسه.

دخپریدو کال او ځای : ۱۳۵۴ " د پښتو څیړنو دبین المللی سیمینار په ویاړ" دولتی مطبعه.

موضوع: پښتو متلونه دالفبی په ترتیب د پښتو متلونو له خپرو شویو مجموعو او دخلکو له خولو په کی راټول شوي دي. (۳۱)

---

۳۰ - پورتنی اثر، ۴۳۰ مخ

۳۱ _ حبیب الله رفیع، پښتو پانګه(لومړی ټوك) پښتو ټولنه ، دولتی مطبعه ۱۳۵۴، ۳۳۱ مخ .

[۲۶]

فولکلوري ګېډۍ

لیکونکی: علی محمد سوبمن.

خپروونکی: پښتو ټولنه.

دخپریدو کال: ۱۳۵۵.

دخپریدو ځای: دولتی مطبعه.

مخونه: سریزه ۳۰، متن ۲۰۰ = ۲۳۰.

کچه: ۱۶×۲۱

شمیر: ۱۰۰۰ ټوکه.

موضوع: دغه اثر درې څپرکی لري چی په لومړي څپرکی کې یې کرکی، کړنی او انګېرنی؛ په دوهم څپرکی کی دودونه او په دریم څپرکی کی کیسې راغلی دي.

ددې اثر دلیکلو ژبه معیاري نه بلکی سیمه ایزه لهجه ده خو ځای ځای په لیندیو کی دځینو کلمو معیاري بڼه هم لیکل شوې ده.

سره له دې چی ښاغلی لیکوال دخپلی سریزې په (۲۱) مخ کی دې خبرې ته اشاره کوي چی ګنی مواد یې د منګلو له کلیو او بانډو څخه راټول کړي دي؛ دا به هم مونږ له محترم لیکوال سره ومنو خو دا پوښتنه به هم بیمورده نه وي

چې ووایو لیکوال : کله ؟ له چانه ؟ او له کومې ټاکلې جغرافیایي سیمې څخه مواد راټول کړي دي.

څرنګه چې په دې اثر کې پورتنیو او دې ته ورته پوښتنو ته ځواب نه شي پیدا کیدای نو ځکه ویلای شو چې په میتودبرابر نه دی. دا چې دامواد څومره ارزښت لري دا بیله خبره ده. په دې اثر کې دفولکلور د پورتنیو مواد و په باب لوستونکې کولی شي له دې اثر څخه استفاده وکړي. (۳۲)

[۲۷]

فولکلوري مرغلرې

ټولوونکی : عبدالکریم پتنګ.

خپروونکی : پښتو ټولنه ، دزیرې جریدې مدیریت (دجریدې د څلویښتمې کالیزې په مناسبت)

دخپریدو کال: ۱۳۵۶ .

دخپریدو ځای: دولتي مطبعه.

دچاپ شمیر: ۱۰۰۰ نسخې.

مخونه : ۸۰+۳۶ = ۱۱۶ .

۳۲_ علی محمد سوبمن، فولکلوري ګیډۍ ، پښتو ټولنه ، دولتي مطبعه، ۱۳۵۵.

موضوع: دغه رساله دوه برخی لري، په لومړۍ برخه کی یې کرکی او کرېنی راغلی چی شمیر یی (۴۰) ته رسیږي او په دوهمه برخه کی یی ټوکو ټکالو ته ځای ورکړ شوی چی په رساله کی دراغلو ټوکو شمیر (۸۰) ته رسیږي.

په دې رساله باندې زلمی هیواد مل یوه اوږده سریزه هم لیکلی ده. درسالی لیکوال د (سرخبرې) تر سر لیک لاندې په یوه برخه کی دخپل کار میتود ته داسی اشاره کړې ده: "کله چی... خپل کلی او اولس ته تللی یم هلته می له خلکو څخه د دارو بوټو کلیوالی دارو درملو، کرکو کرېنو، اولسی عقیدو او نورو دغه ډول شیانو په باب پوښتنی کړي او همدارنګه می داتڼ دډولونو دماشومان. لویانو او میندو سندرو، ټوکو، متلونو، دمتلونو دکیسو او دشفاهی ادبیاتو د نورو څانګو په ټولولو زیاتی ستونزې پرځان منلی دي او څه مواد می چې په دغو برخو کې په لاس راغلی هغه مې په اصله بڼه خوندي کړي دي..." (۳۳)

داچی محترم لیکوال هر ډول ستونزې پرځان منلی او مواد یې له بیلا بیلو سیمو څخه راټول کړي. مونږ به ورسره داخبره ومنو او په دې لاره کی دده زیار د قدر وړ ګڼو خو دفولکلور څیړنی د میتودو نو له مخی باید د موادو د ثبت

۳۳_ عبدالکریم پتنګ، فولکلوري مرغلرې، پښتو ټولنه، دولتی مطبعه، ۱۳۵۶، یوولسم-دولسم مخونه.

نیته . راوي، سیمه او داسی نور لازم ملحوظات له پامه ونه غورځول شی. څرنګه چی محترم لیکوال دخپلی ادعا دثبوت له پاره په اثر کی دغه ملحوظات نه دي مراعات کړي نو له همدې امله دغه اثر د فولکلور څیړنی له معاصر میتود سره برابر نه شو ګڼلی . دا چی دده زیار او دغه مواد څومره ارزښت لري دا بیله خبره ده .

بله دیادولو وړ خبره داده چی مواد لکه څنګه چی محترم لیکوال ادعا کړې په اصلی بڼه نه دي خپاره شوي ځکه چی رساله په سیمه ایزه لهجه نه بلکی په معیاري لهجه خپره شوې یعنی مواد زیاتره په معیاري لهجه ترتیب او لیکل شوي دي، نه دسیمی په لهجه.

زما په نظر ښایی لیکوال دخپل کارځینی برخی د مشاهدې او اوریدلو له لارې ترسره کړي وي او دغه مواد یی سره اوډلی وي. (۳۴)

[۲۸]

اولسی پوهه

لیکوال : علی محمد سوبمن .

خپروونکی: داطلاعاتو او کلتور وزارت، دکلتور او هنر ریاست، دفولکلور او ادب آمریت.

۳۴ـ پورتنی اثر، بیلا بیلی برخی.

دخپریدو ځای: دولتی مطبعه، ۵۰۰ ټوکه.
دخپریدو نیټه: ۱۳۵۶ هـ.ش.
مخونه: ۱۴+۷=۱۴۷.
کچه: ۱۷×۲۴
موضوع: په دې اثر کی د " اربکی، دودونو، جامو، وخت پیژندلو " او داسی نورو فولکلوري موضوعاتو په باب معلومات راټول شوي دي.

ددې اثر په پیل کی دوخت داطلاعاتو اوکلتور دوزیر یادونه، وریسی فهرست، وریسی دفولکلور او ادب د آمریت سریزه، له دې وروسته د (څو خبرې) تر سرلیك لاندې د لیکوال سریزه راغلی ده.

په سریزه کی لیکوال دفولکلور داهمیت او دفولکلوري موادو دراټولولواو ګټو په باب غږیدلی خو داسی څه په کی ما تر لا سه نه کړای شول چی له هغه څخه زه دلیکوال په هدف وپوهیږم چی دغه مواد یې څه ډول راټول کړي او ماء خذونه یی کوم دي؟

په دې خوپوهیدل اسانه دي چی دمنګلو او دهغه دشاو خوا سیمو دودونه او ... به یی راټول کړي وي، خو دا چی کومه منبع او ماء خذ یا راوي او دثبت نیټه یی نه دي ښوولی نو ځکه ویلی شو چی دغه اثر دفولکلورټولونی له ځانګړي میتودسره سم نه دی.

خود دې په څنګ کې باید ووایو چې محترم سوبمن صاحب د پښتنی فولکلور د بیلا بیلو برخو په راټولولو کې چې ددوی په خاصې سیمې پورې اړه لري، ډیر زیار ګاللی او دده ځینی مجموعې چې په دې اثر کې معرفی شوي زمونږ د ادعا ثبوت کیدای شی، دده دغه اثر هم دفولکلور څیړونکو له پاره خام مواد په لاس ورکولی شی. (۳۵)

[۲۹]

دخلکو تجربې

لیکوال: عبدالکریم پتنګ.

خپروونکی: کابل پوهنتون ، دادبیاتو او بشري علومو پوهنځی.

دخپریدو ځای: دپوهنتون مطبعه.

دچاپ نیټه: ۱۳۵۶.

مخونه : ۳۸+۴۶ = ۸۴

موضوع: په دې اثر کې د ناروغیو د کلیوالی علاج او دارو، درملو په باب بحثونه راغلی دي لکه د شري، کوي ، نس ناستی لویی تبې او داسی نورو.

۳۵_ علی محمد سوبمن، اولسی پوهه، داطلاعاتو او کلتور وزارت، دولتی مطبعه، ۱۳۵۶.

(۳۸) ددې اثر په پیل کې دزلمی هیواد مل له خوا یوه مخیزه سریزه لیکل شوې چې په دې سریزه کې دخلکو د تجربو په باب عمومي معلومات وړاندې شوي او خاصتاً دکلیوالی دارو درملو په باب یو مفصل تاریخي بحث راغلی، چې دلرغوني طب په باب د پښتو دکلا سیك ادب د طب او حکمت آثار هم په کې په لنډه توګه معرفي شوي دي.

دکتاب په پیل کې له نظر یو وروسته د (سرخبرې) ترسرلیك لاندې لیکوال ددغو موادو دراټولولو او دخپل کار د څرنګوالی په باب بحث کړی او داسې یې ښودلې ده چې دغه مواد یې د ساحوي ریسرچ په ترڅ کې راټول او ترتیب کړي دي، خو په دې اړوند په رساله کې کوم سند نه تر سترګو کیږي یعنی دا چې نه راویان معرفي شوي او نه دفولکلور ټولونی نور مشخصات ښودل شوي، نو له دې امله ویلی شو چې دغه اثردفولکلور ټولونی له میتود سره برابر نه دی. (۳۶)

۳۶ــ عبدالکریم پتنګ ، دخلکو تجربې، دادبیاتو او بشري علومو پوهنځی، ۱۳۵۶.

[۳۰]

ګړنی ادب

لیکوال: عبدالکریم پتنګ.

خپروونکی: دښوونی او روزنی وزارت.

دخپرویدو نیټه : ۱۳۵۷.

موضوع: په دې رساله کی د خوست دمرکز او شاو خوا سیمو دو دونه راټول او خوندي شوي. (۳۷)

یادونه :

څرنګه چی ما له زیاتو هڅو سره سره ونه شو کولی، دغه اثر ترلا سه کړم، نو ځکه می ناچاره په همدغی لنډې معرفی بسنه وکړه ،چی " د تنیو کلتور او فولکلور" نومی اثرکی شوې وه. دا چی ما په خپله اثر نه دی لیدلی، له دې امله یې د میتود په باب هم څه ویل ناممکنه خبره ده .

۳۷_ بسم الله حقمل، د تنیو کلتور او فولکلور، دقومونو او قبایلو چارو وزارت، دولتی مطبعه، ۱۳۶۶ ، ۲ مخ .

[۳۱]

دپښتنی قبیلو اصطلاحی قاموس

(حقوقی، جزایی، تعاملی)

لیکوال : محمدابراهیم عطایی.

خپروونکی: دافغانستات دعلومو اکادمی، دپښتو څیړنو بین المللی مرکز.

دخپریدو ځای: دولتی مطبعه.

دخپریدو نیټه: ۱۳۵۷.

مخونه : ۳۴۱.

موضوع: په دې اثر کی په پښتنو قبیلو پورې مربوط بیلا بیل اصطلاحات راټول او تشریح شوي دي لکه: بدل، نرخ، اربکی، جرګه، مرکه، ننواتی، پښتونولی، تور، سپین، بدرګه، مچلګه او داسی نور.

دغه قاموس چی په ردیفوار ډول لیکل شوی، د (آ) په توري پیل او په (ی) پای ته رسیږي. دقاموس ردیفونه په دې ډول دي:

الف، ب، پ،ت، ټ، ج، چ، څ، خ،د، ډ ،ر،ړ، ز،ژ،ږ، س، ض،غ،ق،ك،ګ،م، ن،و،ه ،ي، چی ټول (۲۷) توري کیږي.

دقاموس لومړی اصطلاح (آر) او وروستی اصطلاح یی (یرغمال) دی. لیکوال د خپل کار د طریقی د بیانولو په ترخ کی یوځای لیکلی دي:

" هغه اصطلاحات چی په دې قاموس کی د الف و با په ردیف سره راوړل شوي دي د پښتني قبیلوي روابطوپه حقوقی ساحه کی مروج دي او په عامه اصطلاح دجرګی د سیستم سره اړه لري.

ددغه قاموس د ټولو تعاملی اصطلاحاتو په راټولو نه کی ما تر خپل توان پورې تر یو خاص ترتیب لاندې زیار ایستلی دی. هغه کلمات چی می د نورو لیکوالو په تحقیقی مقالو کی لیدلی او را اخیستی می دي نو یوځل می بیا په سیمه کی د باصلاحیته سپین ږیرو سره تر مشورې لا ندې اینبی کله چی پوره راته کره شوې ده نو بیا می قاموس ته داخل کړي دي. یو شمیر نور اصطلاحات چی می په قبیلوي نرخ کی له پوهو کسانو څخه اوریدلی دي نو دیوه سړي پرخوله می قناعت نه دی کړی، بلکی د بیلو بیلو کسانو سره می هغه تر مقایسی لاندې نیولی دي او چی ښه راته کره شوي دي نو بیا می په لست کی نیولی دي.

ښایی زما دا کار به هغسی چی ددې ډول تحقیقی کار طریقه ده انجام شوی نه وي، ددې علت دوخت او وسایلو محدودیت دی ، خو بیا هم داخبره دیادولو وړ بولم چی په

پښتنی ټولنه کی دمدنی انکشاف چټکی د قبیلوي مؤ سساتو د چټکی محوې زمینه برابروي... زما ډیره لویه آرزو داده چی دا کار یوه مقدمه وګڼل شی او د امکاناتو په چوکاټ کې د نوروځوانو څېړونکو پوهانو له خوا پسې تعقیب شئ. " (۳۸)

په داسی حال کی چی دهیواد د مشهور لیکوال او فولکلور یسټ محترم محمد ابراهیم عطایی دغه زیار ته په درنه سترګه ګورم خو په ضمن کی د فولکلور د یو مبتدي شاګرد په توګه د څو ټکو یادونه کوم:

پورتنی اثر لکه څنګه چی د هغه محترم ټولوونکی هم ورته اشاره کړې، دفولکلور ټولونی له موازینو سره په بشپړ ډول برابر نه دی راټول شوی، که څه هم په اثر کی دځینو اصطلاحاتو له پاره په لمن لیکونو کی یا ماٰ خذ یا دشخص نوم کښل شوی خو دا کار دګوتو په شمار اصطلاحاتو په ارتباط ترسره شوی دی. د اثر د میتود په باب نور څه نه وایم ځکه چی د لیکوال له خپلو خبرو څخه لوستونکی یوه نتیجه ترلاسه کولی شی، خو داخبره هم باید وکړم چی دغه اثر د فولکلور د مینه والو له پاره دمطالعی وړ مواد وړاندې کولی شی.

۳۸ـ محمد ابراهیم عطایی، د پښتنی قبیلو اصطلاحی قاموس ، د پښتو څېړنو بین المللی مرکز، دولتی مطبعه، ۱۳۵۷ ، سریزه ، ج مخ.

[۳۲]

دمتلونو کیسی

لیکوال: خیرنیار نصرالله (سوبمن)*

خپروونکی: دافغانستان دعلومو اکادیمی ، دژبو او ادبیاتو انستیتوت.

دخپریدو ځای: دولتی مطبعه، ۷۰۰ ټوکه .

دخپریدو نیټه: ۱۳۵۷.

کچه: ۱۵×۲۱ .

مخونه : ۲۵ .

موضوع: په دې وړوکی رساله کی د (۱۱) پښتو متلونو کیسی لیکل شوي دي، چی لومړی متل راغلی او بیا دهغه مربوطه کیسه ترې لاندې کښل شوې ده .

څرنګه چی محترم لیکوال نه د متلونو او نه دکیسو دراټولولو کومه منبع په ګوته کړې ده ، نو ځکه یې دغه رساله په میتود برابر ه نه شو ګڼلی، خو دده زیار د پښتنی فولکلور د غنا په برخه کی دقدر وړ دی. خدای دې وکړي چی په راتلو-

*_ څرنګه چی ددی اثر دلیکوال اوسنی تخلص (سوبمن) دی او پخوایې دا تخلص نه درلود نو ځکه په لیندیو کی نیول شوی دی.

نکی کی؛ د فولکلوري میتود ونو په مراعا ت کولو سره دغسی او دې ته ورته مواد له ټولنی څخه راټول او دچاپ په ګاڼه یی سینګار کړي. (۳۹)

" دخلکو د سپین ږیرو له خوا په جرګو مرکو کی هر وخت یوه کیسه بیانیږي بیا پرې متل ویل کیږي او داښیی چی دغه متل ددغی کیسی د پیښیدو وروسته رواج شوی دی. دا د پښتنی فولکلور یوه ډیره مهمه برخه ده . ددې برخی راټولول خورا ارزښت او اهمیت لري. ښایی چی دفولکلور ټولو نی مؤسسی او ځوان څیړونکی ورته توجه وکړي. " *

[۳۳]

دماشومانو فولکلور

لیکوال: علی محمد سوبمن.

خپروونکی: دافغانستان دعلومو اکادیمی ، دژبو او ادبیاتو انستیتوت ، پښتو ټولنه .

دخپریدو ځای: دولتی مطبعه، ۷۰۰ ټوکه.

دخپریدو نیټه: ۱۳۵۷ .

۳۹_ نصرالله (سوبمن) ، دمتلونو کیسی(د زیري کالنۍ) ، دژبو او ادبیاتو مرکز دولتی مطبعه، ۱۳۵۷ .

*_ داستاد بختانی لیکلی یادښت.

کچه: ۱۵×۲۱

مخونه :   ۵۴ .

موضوع: په دې رساله کې دماشومانو فولکلوري نکلونه ، په لوبو کې د ډلو ټاکل او نور مواد راټول شوي، چې دماشومانو د فولکلور دڅېړونکو له پاره یو لړپه زړه پورې مواد وړاندې کوي.

دغه رساله په پیل کې یوه سریزه هم لري چې لیکوال دخپل دغه کار په باب هم خبرې پکې کړي دي. نوموړی وایي چې دغه مواد یې د منګلو د سیمې دهلکانو دخولې څخه راټول کړي؛ کله به چې هغوي په لوبو بوخت و، نو ده په همدغه وخت کې دا مواد سره راغونډه کړي دي.

زه په داسې حال کې چې دمحترم لیکوال زیار ستایم او دفولکلور د دغې برخې دمینه والو د مطالعې له پاره دغه مواد غنیمت ګڼم، خو ددې په څنګ کې داهم زیاتوم چې محترم لیکوال باید مشخص کلي، دهلکانو نومونه، عمر او نور مشخصات ښودلي وای دا چې دکمرې ارمان یې کړی چې ورسره نه وه ، قلم خو ورسره و! نو له همدې امله دغه رساله په بشړه توګه له میتود سره برابره نه شو ګڼلی ځکه چې منابع یې نه دي معرفي کړي او یوازې په خپلو مشاهداتویې بسنه کړې ده . (۴۰)

۴۰_ علي محمد منګل، دماشومانوفولکلور(د زیري کالنۍ) دژبو او ادبیاتو انستیتوت، ۱۳۵۷.

[۳۴]

فولکلور

لیکوال: ‌‌ خیړنیار محمد اسلم قربانخیل .

خپروونکی: ‌‌ دافغانستان دعلومو اکادمی. دژبو او ادبیاتو انستیتوت ، پښتو ټولنه.

دخپریدو ځای: دولتی مطبعه، ۷۰۰ ټوکه .

دخپریدو نیټه: ۱۳۵۷ .

مخونه : ‌‌ ۵۸ .

کچه : ‌‌ ۱۵× ۲۱ سم.

موضوع: په دې رساله کی داندړ و دقوم یو شمیر دودونه لکه: دزوی زوکړه ، په سفر تلل ، دواده دودونه ، دمړي دودونه راټول شوي دي. ددې رسالی په پیل کی یوه لنډه غونډې سریزه هم راغلیده، چی په وروستۍ برخه کی یې داسی لولو: " ... څرنګه چی داندړ و قوم ډیر لوی قوم دی او په ډیره وسیع منطقه کی په تیت او شندلی ډول سره ژوند کوي نو ښایی چی ما به دهغوي دودونه لکه څرنګه چی لازمه ده په هغه ترتیب سره نه وي راټول کړي نو زه هیله کوم چی په راتلونکی وخت کی به داندړو حساس زلمیان او لیکوالا ن

داکار په ډیره ښه توګه ترسره کړي او زما نیمګړ تیاوې چې په دې لیکنه کې موجو دې دي په ښه توګه کره او صحیح کاندي. " (۴۱)

په سریزه کې له دغوټکو پرته لیکوال دخپل کار دمیتود په باب نو رڅه نه دي ویلی نو له دې څخه سړی پوهیدای شی چې ښایی دا دودونه لیکوال دخپل ذهن په مرسته لیکلی وي. دا چې د فولکلور ټولونی او سنی روشونه پکی نه دي مراعات شوي نو ځکه یی په میتود برابر نه شو ګڼلای.

[۳۵]

لنډۍ

انتخاب او دري ترجمه :دعبدالروف بینوا.
انګریزي ترجمه : دسعدالدین شپون.
خپروونکی: دافغانستان دعلومو اکادمی، دپښتو څیړنو بین المللی مرکز.
دخپریدو ځای: دولتی مطبعه .
دچاپ شمیر: ۷۰۰ ټوکه .

۴۱_ محمد اسلم قربانخیل، فولکلور، (د زیري کالنۍ) دژبو او ادبیاتو انستیتوت، دولتی مطبعه، ۱۳۵۷، ۳۶۵ مخ.

دخپریدو کال: ۱۳۵۸ هـ.ش (۱۹۷۹ م).
کچه: ۱۸×۱۳
مخونه: ۱۲۲.

موضوع: په دې رساله کې یو شمیر انتخابی لنډۍ راټولې شوي، چې په دري او انگریزي هم ترجمه شوي دي. په رساله کې لومړۍ پښتو لنډۍ، ورپسې یې دري او پرې پسې دهمدغې لنډۍ انگریزي ترجمه راغلې ده.

درسالې په پیل کې د پښتو څېړنو دبین المللی مرکز درئیس خبرې راغلې او نوره کومه یادونه، نه لري.

دغه لنډۍ چې د بیلا بیلو موضوعاتو (گلونه، توره، سپوږمۍ، دیدار، پت، عزت، تومت او ...) په باب راغلې، ددغو چانړ شوو لنډیو ماء خذ او منبع نه ده په گوته شوې، چې آیا دغه لنډۍ له مجموعو څخه چانړ او راټولې شوي او که له اشخاصو څخه، په همدې توسن دغه اثر ته یو میتودیك اثر نه شو ویلی. ([42])

دلته باید دیوې بلې خبرې یادونه هم وکړو هغه دا چې دلنډیو کومه مجموعه چې په ۱۳۳۷ کال کې خپره شوې، ددې مجموعې لنډۍ زیاتره هماغه لنډۍ دي خو یوازې انگریزي مترجم یې بل سړی دی.

۴۲_ عبدالروف بینوا، لنډۍ (انتخاب او دري ژباړه)، د پښتو څېړنو بین_ المللی مرکز، دولتی مطبعه، ۱۳۵۸.

[۳۶]

پښتو متلونه

چاپ او دري ژباړه : دعبدالروف بینوا

انګریزي ژباړه : د ع. شینواري.

خپروونکی : د پښتو څېړنو بین المللی مرکز.

دخپریدو ځای: دولتی مطبعه.

دخپریدو کال: ۱۳۵۸.

دچاپ شمیر: ؟

کچه: ۲۰×۱۴ .

مخونه : ۴۵۳

موضوع: په دې اثر کی د پښتو (۴۵۰) متلونه راټول شوي، چی په دري او انګریزي ژبو هم ژباړل شوي دي. په متلونو کی دالفبی ترتیب په نظر کی نیول شوی او همدارنګه پر لیسی نومره هم ورکړه شوې ده .

متلونه ، نه یوازې په دري او انګریزي ترجمه شوي بلکی داستعمال موارد یی هم ښودل شوي دي. ددې مجموعی په پیل کی دهغه وخت له عنعنی سره سم د پښتو څېړنو دبین المللی مرکز یادونه د سریزې پرځای خپره شوې ده .

ددغه اثر دمتلونو دراټولولو په باب په کتاب کی څه نه دي ويل شوي او نه کوم داسی ماءخذ او منبع ښودل شوې چی دغه متلونه ورڅخه راټول شوي دي. نو ځکه يی ميتود- يك اثر نه شو ګڼلی، خو دا خبره هم بايد وکړو چی د فولکلور د مينه والو : خاصتاً ددري او انګريزي ژبو دويونکو له پاره داستفادې وړ اثر ګڼل کيدای شی. (۴۳)

[۳۷]

دغرونو څوکې

ليکوال: عبدالکريم پتنګ.

خپروونکی: دکابل پوهنتون ، دژبو او ادبياتو پوهنځی.

دچاپ ځاي: دلوړو اومسلکی تحصيلا تو مطبعه.

دچاپ نيټه: ۱۳۵۹.

مخونه : دسريزې په شمول(۹۴)

کچه: ۱۶×۲۰ .

موضوع: په دې رساله کی د پکتيا د شاو خوا سيمو يو شمير فولکلوري مواد (دواده سندرې. فالونه ، داتڼ

۴۳_ عبدالروف بينوا، پښتو متلونه (چاڼ او دري ژباړه) ، د پښتو ټولنې بين المللی مرکز، دولتی مطبعه، ۱۳۵۸.

ناري، کيسی، دماشومانو سوال - ځواب، ګاڼی او جامی) څیړل شوي دي.

لیکوال لومړی ددغه هر یو فورم په باب خبرې کړي او بیایی دموضوع مثالونه وړاندې کړي دي. ددې اثر په پیل کی له تقریظونو وروسته دښاغلی زلمی هیواد مل سریزه راغلی چی درسالی (۶۱) مخه یی نیولی دي او په رساله کی دراغلو مواد و په باره کی مفصل او ممتع معلومات په کی دي.

دکتاب محترم لیکوال چی په کومو برخو کی له لیکلو آثارو څخه استفاده کړې ده ، ځای په ځای یی دغه ماٴخذ ونه ښودلی دي. هغه مواد چی لیکوال له خپلی سیمی څخه راټول کړي دهغو ویونکی او خاصه سیمه یی لکه څنګه چی دفولکلور ټولونی نړیوال معاصر میتود حکم کوي په بشپړ ډول نه دي معرفی کړي او هم یی موضوعات سم نه دي سره ویشلی. ددې له پاره چی خبره سپینه شی، دلیکوال دسریزې هغه برخه چی دخپل کار طریقی ته یی په کی اشاره کړې ، را اخلم: " ددې مجموعی زیاتره مواد می دخپلی سیمی دخلکو له خولو لیکلی ، کوم تصرف می نه دی په کی کړی او په خپل اصلی شکل می ضبط کړي دي. په آخر کی دیوې خبرې کول ضروري دي او هغه دا ده چی : ددې کتاب یوه برخه می دخپلی محترمی ترور میرمن شافعی او محترمی ترورزی میرمن نعمت بی بی له خولی لیکلی ده ...." ([44])

۴۴_ عبدالکریم پتنګ، دغرونو څوکی ، دژبو او ادبیاتو پوهنځی، ۱۳۵۹، سریزه ۱-۲ مخونه.

ښایی لیکوال نورې برخې هم دیو شمیر سیمه والو له خولو لیکلې وي خو دهغوي یې کومه یادونه نه ده کړې ، له بلې خوا یاد شوي راویان هم په بشپړه توګه نه دي معرفي شوي. نو له همدې امله ویلی شو چې ددغه اثر میتود نیمګړی دی. خو دا باید ووایو چې دفولکلور څېړونکو داستفادې وړ مواد په کې شته دي.

[۳۸]

غرنۍ سندرې

لیکوال: څېړنمل محمد عارف غروال.
خپروونکی: دافغانستان دعلومو اکادمي، دژبو او ادبیاتو انستیتوت.
دچاپ نیټه: ۱۳۶۰ ، دولتي مطبعه.
دچاپ شمیر: ۵۰۰ ټوکه .
مخونه : ۲۰۰.

موضوع: په دې اثر کې دپکتیا د سیمې یو شمیر اولسي سندرې لکه: لنډۍ ، سروکي او بیتونه ، داتڼ دمیدان بیتونه، ښځینه اولسي ادبیات او داسې نور راغلي دي.

په دې اثر باندې ښاغلي حبیب الله رفیع یوه مفصله سریزه لیکلې ده چې نه یوازې ددې اثر په باب یې خبرې په کې

کړي بلکې د پښتني فولکلور دلرغونتوب په باب یې هم مفصل معلومات وړاندې کړي دي. ورپسې دښاغلی زلمی هیواد مل لیکنه راغلې ده . دا اثر په حقیقت کې دوه برخې لري: لومړۍ برخه یې څېړنه ده او دوهمه برخه یې راټولو نه . محترم لیکوال دخپل کار دمیتود په باب لیکي چې مواد یې د پکتیا دسیمې له سپین ږیرو او سپین سرو ښځو او هنرمندانو څخه راټول کړي خو دایي نه دي ویلي چې له کومو سپین ږیرو او سپین سرو او کومو هنرمندانو څخه یې کومې کومې سندرې راټولې کړي. خو یوازې دومره یې ویلي چې دغه مواد یې په (۱۳۵۴) کال کې راټول کړي دي. دکتاب له کتنې څخه دې نتیجې ته رسیږو چې دغه اثر له اوسنی فولکلوري میتود سره برابر نه دی. (۴۵)

[۳۹]

فولکلوري ګلونه

لیکوال : ځیړنمل علی محمد منګل.

خپروونکی: دافغانستان دعلومو اکادمی ، دژبو او ادبیاتو مرکز.

۴۵_ محمدعارف غروال، غزنی سندرې، دژبو او ادبیاتو انستیتوت، دولتی مطبعه ، ۱۳۶۰.

دخپریدو ځای: دولتی مطبعه.
دخپریدو نیټه: ۱۳۶۰ هـ.ش.
دچاپ شمیر: ۵۰۰ ټوکه .
مخونه : ۴۰+ ۲۶۰ = ۳۰۰ .
موضوع: دغه اثر اووه برخی لري:
په لومړۍ برخه کی سریزه او نظر یی راغلی دي.
په دوهمه برخه کی: پسول اوګانه .
په دریمه برخه کی؛ پریکړې او نرخونه .
په څلورمه برخه کی؛ دجنګ دوخت اصطلاحات.
په پنځمه برخه کی : لوبی (مستیۍ) .
په شپږمه برخه کی : دلوبو دوخت اړوند اصطلاحات.
په اوومه برخه کی ؛ دماشومانو فولکلور ته ځای ورکړل شوی دی.

په دې اثر کی برسیره پر دې چی یو شمیر فولکلوري موضوعات راټول او خوندي شوي دي، په سریزه کی یی دفولکلور ټولولو په سابقه او دفولکلور ټولونی او څیړنی دکار په طریقه هم خبري شوي دي او حتی دفولکلور ټولو نی میتود ونه یی هم تشریح کړي دي. خو دابايد ووایم چی محترم لیکوال دخپل کار میتود نه دی تشریح کړی او هغه منابع چی دغه فولکلوري مواد ورڅخه راټول شوي. هم نه دي معرفی شوي نو ځکه یی په میتود برابر نه نشو ګڼلا ی. کنه

نو دغه اثر چې د پښتني فولکلور بیلا بیلی برخې په کې خوندي شوي، یو غنیمت اثر دی او دلیکوال دزیار او هڅوپه ستاینه برسیره په دې لا ره کې تر پخوا لا زیات دهغه بریالیتوبونه غواړم خو خدای دې وکړي چې زمونږ محترم ورور په خپلو نورو آثارو کې دفولکلور ټولونې میتود له یاده ونه باسي . مونږ باید زیاتره ددې زمانې له هغو محترمو څیړونکو او پوهانو څخه ګیله وکړو چې په میتود پوهیږي خو مراعات یې نه کوي. ([۴۶])

[۴۰]

زرینی څانګې

لیکوال: حبیب الله رفیع.

خپروونکی : دافغانستان دعلومو اکادیمی، دژبو او ادبیاتو علمی او تحقیقی مرکز، پښتو ټولنه.

دخپریدو نیټه: ۱۳۶۰ .

دخپریدو ځای: دولتی مطبعه.

شمیر: ۱۰۰۰ ټوکه.

کچه: ۱۶×۲۳ .

۴۶ـ علی محمد منګل، فولکلوري ګلونه، دافغانستان دعلومو اکادمی، دژبو او ادبیاتو مرکز، دولتی مطبعه ، ۱۳۶۰.

مخونه :   ۱۱۶.

موضوع:دغه رساله چې منظومه برخه یې(۶) فصلونه لري او دزیري کالنۍ په (۲۲۱) مخ کې پیل او په (۲۸۹) مخ کې پای ته رسیږي، دمجموعې ددغې برخې په نورو فصلونو دلته خبرې نه کوو خو یوازې په (۲) فصل چې فولکلوري مواد پکې خوندي شوي دي؛ خبرې کوو:

ددغه فصل سرلیك دی (اولسی سندرې) . په دې برخه کې لومړۍ په عامو سندرو (دمیندو سندرې،دماشومانو سندرې، دوړو مشاعرې سندریزې کیسې، دلویانو سندرې، محلی پارچې یا اولسی ننداري ، داتڼ نارې، دواده سندرې او ...) خبرې شوي دي او مثالونه یې هم وړاندې شوي دي.

ددې څپرکی په دوهمه برخه کې په خاصو سندرو (رباعی، بدلی، کسر، بګتۍ ، لوبی، داستانونه، دمروتو کسرونه او داسې نورو ...) بحث شوی او دځینو مثالونه هم راوړل شوي دي.

دمجموعې دوهمه برخه چې په (۲۹۰) مخ کې پیل او په (۳۲۶) مخ کې پای ته رسیږي(۳) څپرکی لري چې دوهم څپرکی یې اولسی نثرونو ته وقف شوی دی. په دې څپرکی کې د متلونو ، تکیه کلا مونو او نورو دې ته ورته فولکلوري مسایلو په باب خبرې شوي او مثالونه یې هم ورسره مله دي.

دغه رساله دکالنۍ پر عمومي نومره برسیره خپله پرله پسې نومره هم لري چې ټوله (۱۱۶) مخه کیږي. دا هم باید ووایم چې دغه رساله په ځانګړي پوښ کې هم ترتیب شوې ده. ([۴۷])

ددې رسالې په (۱۱۶) مخ کې د (پاییزه) تر سرلیك لاندې دما ء خذونو دنه ښودلو په اړه لیکوال خپل معذرت وړاندې کړی دی لکه چې وایي:

" ... دهمدې لنډیز له امله دلته نشو کولی چې ددې رسالې ګڼې اخځ لیك وړاندې کړو ، ځکه هره برخه یې دځوکتابونو داوږدو اوږدو بحثونو لنډیز دی او که نوملیك یې راوړو نو بیا به تر نیالمسې لویه شي...." ([۴۸])

مونږ دهر کتاب ظواهر او شکلیات ګورو، دلیکوال له زړه څه خبر یو چې هغه مواد له کومه کړي؟ په هر حال دغه رساله دا وسنیو روښونو سره برابره نه شو ګڼلی خو دلیکوال زیار دستاینې وړ دی اوځیرونکي کولی شي ورځخه داستفادې وړ مواد ترلاسه کړي.

۴۷_ حبیب الله رفیع، زریني ځانګي، دژبو او ادبیاتو علمي او تحقیقي مرکز. دولتي مطبعه، ۱۳۶۰.

۴۸_ پورتنی اثر، ۱۱۶ مخ.

[۴۱]

پښتانه کوچیان

(لومړی ټوك)

لیکوال: د پښتو څیړنو بین المللی مرکز، دریسرچ مدیریت له خوا.

خپروونکی: دپښتو څیړنو بین المللی مرکز.

دخپریدوکال: ۱۳۶۰.

دخپریدو ځای: دولتی مطبعه.

دچاپ شمیر: ۱۰۰۰ ټوکه .

مخونه : ۲۰۱ .

موضوع: په دې اثر کی د کوچیانو ډولونه ، نفوس، داوسیدو ځایونه ، دښځو دریځ ، میلمه پالنه ، جرګی او پریکړې، یو شمیر عقیدې او ټوټکی، خیښی کول، دمړي دودونه، دواده دودونه او داسی نورې برخی روښانه شوي دي، چی دفولکلور مینه وال کولی شی ددی اثر په مرسته دکوچیانو د ژوند او کړو وړو په باب دعلاقی وړ مواد ترلاسه کړي.

ددې کتاب زیاته برخه له چاپی آثارو څخه په استفاده ترتیب شوې او لږه برخه یی له ساحوي ریسرچ څخه بر خورداره ده .

دکتاب په پیل کی د مرحوم دوست شینواري سریزه، ورپسی متن او په پای کی هغه ماٴ خذ ونه ښودل شوي چی ددې اثر په لیکلو کی ورڅخه استفاده شوې ده خو دساحوي څیړنی په باب کومی منبع او شخص ته اشاره نه ده شوې، چی دغه مواد دکومی سیمی له کوچیانو څخه راټول شوي دي.

دسریزې لیکوال ددې اثر په باب یو ځای لیکلی دي: " دغه څیړنه په عمده ډول په دوو برخو ویشله شوې ده ، په لومړۍ برخه کی زموږ دڅیړنی درنده ونډه له هغو معلوماتو څخه جوړه ده چی له کورنیو او بهرنیو لیکلو آثارو څخه راغونډ شوي دي، لږ برخه یی زموږ ساحوي څیړنی ته ورکړه شوې ده . " (۴۹)

ددې سریزې په پای کی راغلی دي: " په پای کی دملګري نعمت الله اندړ څخه دزړه له کومی مننه کوم چی ددغه لومړي ټوك دموادو په راټولولو کی یی ماسره مرسته کړې ده ." (۵۰)

ددې اثر هغه برخه چی په ساحوي څیړنی پورې مربوطه ده او مواد یی په فولکلور کی مطالعه کیدای شی د فولکلور ټولونی له میتود سره برابره نه ده راټوله شوې نو

۴۹_ پښتانه کوچیان، دپښتو څیړنو بین المللی مرکز دریسرچ مدیریت، دولتی مطبعه ۱۳۶۰، سریزه، ب مخ.
۵۰_ هماغه اثر، سریزه، ج ، مخ.

ځکه ویلی شو چی دغه برخه میتود نه لري یعنی دغه اثر په بشپړ ډول له میتود سره برابر نه دی.

[۴۲]

دغلام محی الدین افغان افکار اوآثار

دسریزې لیکوال او مدون : زلمی هیواد مل.

خپروونکی: کابل پوهنتون ، دژبو او ادبیاتو پوهنځی.

دخپریدو نیټه: ۱۳۶۰ .

دچاپ شمیر: ۱۰۰۰ ټوکه .

موضوع: دغه اثر بیلا بیلی برخی لري چی دلته به پرې بحث وشی خو په لنډ ډول که ووایو په دې اثر کی په سراج الاخبار کی د پښتو ونډه . دغلام محی الدین افغان په افکارو او آثارو بحث او بالا خره دده له خوا د راټولو شوو متلونو خپریدل ، تر بحث لاندې نیول شوي دي.

درسالی په پیل کی ددوکتور مجاور احمد زیار یادښت، ورپسی دهمدغه لیکوال له خوا (په سراج الا خبار کی د پښتو ونډه) موضوع خیړل شوې ده . ورپسی دزلمی هیواد مل سریزه او دغلام محی الدین افغان دمنظومو، منثورو او فولکلوري آثارو په باره کی بحث شوی دی. دکتاب

په وروستۍ برخه کې د (پښتني فولکلور) سرليك راغلی دی چې دغلام محی الدين افغان له خوا راټول شوي (۱۰۴) متله په کې خپاره شوي دي.

دغه متلونه دسراج الا خبار د ۶ کال د ۱۴ گڼې په (۸-۹) مخونو کې (د پښتو مشهوره متلونه) ترسرليك لا ندې خپاره شوي دي.

دمتلونو په دغه شمير کې يوشمير اصطلاحات هم دمتل په نامه خوندي شوي دي. په دې رساله کې دمتلونو منبع سراج الا خبار ښودل شوی، مرتب او مدون يې ښاغلی هيواد مل دی. چې رساله يې ميتود برابره ښکاري. خو په خپله مرحوم افغان دمتلونو منبع نه ده ښودلې چې له چا او کومې سيمې څخه يې راټول کړي دي. (۵۱)

[۴۳]

دپښتو ځانتنی ادب او موسيقی

ليکوال: غلام جيلانی جلالی.

مدون او دسريزی ليکوال: زلمی هيواد مل.

۵۱_ زلمی هيوادمل (مدون او دسريزې ليکونکی) ، دغلام محی الدين افغان افکار او آثار کابل پوهنتون، ۱۳۶۰.

خپروونکی: دافغانستان دعلومو اکادمی، دژبو او ادبیاتو مرکز.
دخپریدوځای: دښوونی او روزنی مطبعه.
دخپریدو کال: ۱۳۶۰.
دچاپ شمیر: ۱۰۰۰ ټوکه.
مخونه: ۱۰۱.

موضوع: په دې رساله کی مرحوم غلام جیلانی جلالی په پښتو موسیقی لړو ډیر غږیدلی او په دې ارتباط یی د پښتو په فولکلوري سندرو خبرې کړي دي او ځینی بیلګی یی‌هم په خپلی دغی مجموعه کی خوندي کړي دي.

نوموړي د پښتو فولکلوري سندرې په دې ډول ویشلی دي:
۱ـ لنډی ۲ ـ سندرې یا ټکی ۳ـ دګډه اتڼ بدلې ۴ ـ دورو اتڼ بدلی، ۵ـ دغښتلی اتڼ بدلی، ۶ ـ دګړندي اتڼ بدلی، ۷ـ دخرخبانو بدلی، ۸ـ د پلیو و رابانو بدلی، ۹ـ د سپرو ورابانو بدلی ۱۰ـ غزل یا سپرې بدلی ۱۱ـ چهاربیتی یا څلور ټوټی ۱۲ ـ نه ټوټی یا متسع اشعار ۱۳ـ د مجلس بدلی ۱۴ـ دنقلوبدلی ۱۵ـ دناوې درااېستلو بدلی ۱۶ـ دناوې د سپریدلو بدلی ۱۷ـ دلوګریو بدلی ۱۸ـ دکوچنیانو للو للو.

زه ددغه ویش په باب څه نه وایم ځکه چی ښاغلی زلمی هیوادمل په خپله مفصله سریزه کی ورته اشاره کړې او له بلی خوا زما د بحث موضوع نه ده خو یوازې دومره باید ووایم چی دمرحوم استاد کار او زیار په دې برخه کی دزیات ارزښت وړ دی او دپښتو ادبیاتو خاصتاً پښتنی فولکلور دغنا په منظور دده دغه رساله غنیمت گڼل کیږي خو ددې په څنگ کی دا یادونه هم کوم چی په رساله کی دهیڅ ډول مآ خذو یادونه ، نه ده شوې نوځکه یی له میتود سره برابره نه شو گڼلی. (۵۲)

[۴۴]

دودونه

لیکوال: عبدالواجد واجد.

خپروونکی: دافغانستان دعلومو اکادمی دژبو او ادبیاتو مرکز، دزیري جریدې مدیریت.

دخپریدو نیټه: ۱۳۶۰ دولتی مطبعه.

مخونه : ۳۱ .

دچاپ شمیر: ۱۰۰۰ ټوکه.

۵۲_ غلام جیلانی جلالی، دپښتو ځانتنی ادب او موسیقی، (مدون زلمی هیواد مل) دژبو او ادبیاتو مرکز، دولتی مطبعه، ۱۳۶۰.

موضوع: دغه رساله څلور فصله لري چې په لومړي فصل کې دماشوم له زوکړې تر ځوانۍ دودونه، په دوهم فصل کې دواده او کوژدې دودونه ، په دریم فصل کې د مړي دودونه او په څلورم فصل کې خواره واره دودونه راغلي دي.

دغه دودونه د ننګرهار ولا یت د کامې او نورو شاوخاو سیمو څخه راټول شوي دي. لیکوال په خپله سریزه کې یادونه کړې ، چې دغه مختلف دودونه یې دخلکو له خولو څخه راټول کړي دي. خو په تاسف سره باید ووایم چې د یوه راوي نوم یې هم نه دی اخیستی دهغه مشخصات خو لاڅه کوئ. نو ځکه باید ووایو چې دلیکوال هڅوته په درنه سترګه ګورو خو د دې په څنګ کې باید دا خبره هم له یاده ونه باسوچې ددغه اثرمواد دفولکلور څیړنې او ټولونې له نوو میتودونو سره سم نه دي راټول شوي. دغه رساله هم په مستقل ډول (په بیله پشتې کې) او هم دزیری جریدې د (۱۳۶۰) کال له کالنې سره یوځای خپره شوې ده . (۵۳)

۵۳ـ عبدالواجد واجد ، دودونه، دژبو او ادبیاتو مرکز، دولتی مطبعه، ۱۳۶۰.

[۴۵]

اولسي سندرې

(لومړی ټوك)

ټولوونکی او لیکوال: زلمی هیوادمل.

خپروونکی: دافغانستان دعلومو اکادمی، دژبو او ادبیاتو مرکز.

دخپریدو ځای: ګوندي مطبعه.

دخپریدو نیټه: ۱۳۶۱ .

مخونه: ۳۴۸ = ۳۲۹+۱۹ .

کچه: ۱۴ × ۲۱ سم .

موضوع: په دې اثر کی د (۱۴۰) تنو اولسی شاعرانو له لنډې پیژندنی سره د هغو (۲۲۰) اولسی سندرې راغلی دي.

دکتاب په پیل کی داستاد حبیبی نظر ، ورپسی داستاد میرحسین شاه او ښاغلی حبیب الله رفیع نظر یی راغلی دي.

دښاغلی رفیع لیکنه چی (۱۵) مخه ده د پښتو داولسی سندرو دخصوصیاتو، لرغونتوب او نورو اړوند و موضوع ګانو په باب داستفادې وړ معلومات لري.

په دې پسې دليکوال سريزه راغلې چې پکې ددې سندرو دلرغونتوب، خصوصياتو، شکل او مضمون، ددغو سندرو اړيکې له موسيقي سره، او نورو موضوع ګانو په باب خبرې شوي په (٣١) مخ کې داولسي شاعرانو معرفي پيل شوې چې مسلسله نو مره هم لري.

په دې پسې داولسي سندرو د ټولولو هڅې ، موضوع ځيړل شوې او په دې لړ کې دپخوانيو هڅو يادونه شوې او ځينو تيرو تنو ته ګوته هم نيول شوې ده .

دمجموعې ليکوال دخپل کاردميتود په باب ليکي:

" ... کله چې پوهنځي ته راغلم او په پوهنځي کې مې ددغو سندرو په ارزښت ځه ولوستل نو زما هڅه له ١٣٥٠ ش کاله را په دې خوا ددغې موضوع پر لوري زياته شوه، د پښتو نخوا دمختلفو سيمو اولسي سندر غاړي او ذوقيان مې چې چيرې پيدا کول له هغوي څخه به مې دغه ډول سندرې ليکلې، په کومه موقوته نشريه او يا خطي کتاب کې به چې پر دغه ډول سندرو پيښ شوم سملاسي به مې يادداشت کړې، او ددغه ډول سندرو د ټولولو له پاره مې د پښتو نخوا ډيرو سيمو ته سفرونه وکړل... اوومې کولای شول چې تر (١٣٦٠) ش کاله پورې ددغو سندرو کابو پنځه سوه نمونې را پيدا او ټولې کړم.

البته ددغو پنځو سو و سندرو راوړل په يوه مجموعه کې ګران کار و نو ځکه مې په دوو ټوکو نو وويشلې...

ما زیار ایستلی چی زما ددې مجموعی سندرې په بل کتاب کی نه وي ضبط شوي. څنګه چی دموقوتو نشراتو ضبطونه ډیر پاینښتی نه دي نو ما هم له دغه ډول نشراتو څخه په دې مجموعه کی استفاده کړې خو خپلی ټولی کړې سندرې می داولسی سندرو له مجموعو او هم له هغو کتابو سره چی دغه ډول سندرې لري مقابله کړي دي. تکراري چاپ شوې سندرې می ځینی ایستلی دي خو بیا هم انسان له سهوې او خطا خالی نه دی ښایی زه دمقدمی او تعلیقاتو په برخه کی سهوه شوی وم، او یا...." (۵۴)

دمحترم هیواد مل صاحب زیار دزیاتی ستاینی وړ دی، دده په قلم دې برکت شی. دغه اثر د پښتو داولسی ادب دمینه والو له پاره دڅېړنی لازم مواد په لاس ورکولی شی، او دده له خبرو څخه داپه ډاګه کیږي چی نوموړي دغه سندرې زیاتره دساحوي ریسرچ په نتیجه کی راټولی کړي دي د (ماخذونه) تر سرلیك لاندې یوه یادونه لري چی په هغی کی راغلی دي: " که څه هم دکتاب دمتن زیاتره برخه د خلکو له خولو لیکل شوې او دځینو راویانو یادونه می هم ځای،ځای کړې، خو ځینی سندرې چی له خطی کتابو او یا غیر موقوتو نشراتو اخیستل شوي او یا هم د مقدمی ، څرګندونو او

۵۴_ زلمی هیوادمل ، اولسی سندرې(لومړی ټوك) ، دژبو او ادبیاتو مرکز، ګوندي مطبعه، ۱۳۶۱ ، ۵۷-۵۸ مخونه .

لغتنامی په برخه کی دکومو کتابونو څخه استفاده شوې، دهر کتاب او ماء خذنوم له ټولو خصوصیاتوسره... په لمن لیکونو کی ښودل شوی، دی...." (55)

دکتاب په (۳۰۱) مخ کی څرګند ونی اوپه (۳۱۸) مخ کی ویی پانګه راغلی ده. دا چی محترم لیکوال راویان بشپړ نه دي معرفی کړي نوځکه دغه اثر په کامله توګه له میتود سره برابر نشو ګڼلی.

[۴۶]

ترکمنی مرغلرې
(ترکمنی متلونه)

ټولوونکی: پیغمبرقل دوغن.

په پښتو او دري اړوونکی: محمد ګیلدي دردلی.

خپروونکی: دافغانستان دعلومو اکادمی، دپښتو څېړنو بین المللی مرکز.

دخپریدو نیټه اوځای: ۱۳۶۲ ه .ش ، دولتی مطبعه، (۱۰۰۰) ټوکه.

کچه: ۱۷×۲۳ سم .

۵۵_ پورتنی اثر، ۳۲۳ مخ .

مخونه : ۱۹۵ .

موضوع:په دې اثر کی د ترکمنی ژبی یو شمیر متلونه راټول شوي چی دالفبی په ترتیب ردیف وار راغلی خو دمتلونو دقیق شمیر نه دی معلوم. په دې مجموعه کی لومړی ترکمنی متل، وروسی دهغه معادل پښتو متل او که معادل یی نه دی پیدا شوی نو دهغه تحت اللفظی ترجمه شوې او یا دهغه نژدې او ورته متلونه په لیند کیو(قوسینو) کې وړاندې شوي دي. په دې پسی دهماغه متل دري ترجمه یا یی معادل متل راوړل شوی دی. دا دترکمنی متلونو لومړنۍ مجموعه ده چی پښتانه او تاجکان ورسره په دغه ډول اشنا کیږي.

ددې مجموعی پښتو متلونه له امثال او حکم (په پښتو او دري ژبو) ، پښتو متلونه (د پیښور چاپ) څخه را اخیستل شوي دي. ددغو ماء خذونو یادونه ښاغلی ډاکتر عارف عثمان کړې ده . دمجموعی ټولوونکی دکتاب په کومه بله برخه کی دماء خذونو یادونه نه ده کړې.

دغه مجموعه د ددو ژبو فولکلور او په خاص ډول دمتلونو د مقایسی له پاره څیړونکو او پلټونکو ته دمطالعی وړ مواد په لاس ورکولی شی. دغه اثر تر یو۵حده په میتود برابر دی. (۵۶)

۵۶ـ پیغمبر قل دوغن(ټولوونکی) ، ترکمنی مرغلرې، دپښتو څیړنو بین ـ المللی مرکز، دولتی مطبعه، ۱۳۶۲.

[۴۷]

ټوټکي

لیکوال: عزیزالله امرخیل.

خپروونکی: دافغانستان دعلومو اکادمی، دژبو او ادبیاتو مرکز، دزیری جریدې مدیریت.

دخپریدو نیټه: ۱۳۶۳ - دولتی مطبعه.

مخونه: ۴۵ .

موضوع: په دې ورکوټی رساله کی دمیدان دسیمی یو شمیر ټوټکی راټولی او خپرې شوي دي، چی دفولکلور دمینه والو داستفادې وړ خام مواد لري.

دغه ټوټکی دزیری جریدې د ۱۳۶۰، ۱۳۶۱ او ۱۳۶۳ کلونو په ګڼو کی هم پرله پسې خپرې شوي دي، چی وروسته بیا تدوین او دزیري جریدې د (۱۳۶۳) کال په کالنۍ کی خپرې شوي. دغه ټوټکی هم له کالنۍ سره یوځای او هم دځانګړې رسالی په ډول ترتیب شوي دي.

څرنګه چی ددغو ټوټکو په پیل کی کومه یادونه او سریزه نشته او دا هم نه ده معلومه چی دا ټوټکی محترم لیکوال له کومه کړي او له چا څخه یی راټولی کړي دي نو

ځکه دغه رساله که له یوې خوا میتود نه لري او له بلی خوا لیکوال دهرې ټوټکی په پای کی تبصره کړې اوخپل نظریی پکی داخل کړی دی چی دا کار هم دفولکلور ټولونی له اصولو سره سم نه ښکاري. (۵۷)

دلته باید دا یادونه هم وکړوچی کله دا ټوټکی په زیري جریده کی خپریدلی هلته هم دلیکوال دکار او میتود په باب څه نه وو خپاره شوي او نه راویان او نه دټوټکو کومه بله منبع ښودل شوې وه، داخو زما دسترګو لیدلی حال ؤ ځکه چی په دغه وخت کی د زیری جریدې دچلو لو مسوولیت ماته سپارل شوی و.

[۴۸]

دسردروتوتیان

لیکوال : سیدمحی الدین صادقمل.

خپروونکی: دژبو او ادبیاتو مرکز، دزیري جریدې مدیریت.

دخپریدو کال: ۱۳۶۳.

دخپریدوځای: دولتی مطبعه.

مخونه: ۶۴ - په کا لنۍ کی له (۲۳۳- ۲۹۶) مخه.

۵۷_ عزیز الله امر خیل، ټوټکی، دژبو او ادبیاتو مرکز، دولتی مطبعه ۱۳۶۳.

کچه: ۱۶× ۲۲.

موضوع: په دې رساله کې د پښتو (۱۸) تنه اولسي شاعران دهغو دکلام له نمونو سره معرفي شوي چې دپښتو ادب خاصتاً اولسي ادب دڅېړونکو له پاره دمطالعې وړ مواد وړاندې کولی شي.

ددغې مجموعې شاعران زیاتره نالوستي کسان دي چې دشعرونو نمونې یې هم زیاتره بګټۍ، لوبې، چاربیتي او بدلې دي.

دټولوونکي دوینا له مخې ده دغه سندرې له سندرغاړو او شوقیانو څخه راټولې کړې دي. دا چې ګران صادقمل دیادو شوو اولسي شاعرانو شعرونه راټول او په دې مجموعه کې یې خوندي کړي دي او دپښتو داولسي ادب پانګه یې تقویه او دغه مجموعه یې دخلکو خدمت ته وړاندې کړې ده ، دده دا هڅه او هاند دقدر وړ دي. خو کاشکې یې دسندرغاړو او شوقیانو نومونه هم یاد کړي وای او لږ ترلږه یې ددوی لنډ شهرت ذکر کړای وای.

محترم لیکوال یوازې دسید پاچا شعرونه دهغه دشعرونو له مجموعې څخه چې دنومړي له خپلوانو سره موجوده وه ، رانقل کړي دي. (۵۸)

۵۸ـ سید محی الدین صادقمل، دسرد روتوتیان ، دزیري جریدې مدیریت ۱۳۶۳. *

*ـ دغه اثر دزیري په کا لنۍ کې هم راغلی او په جلا پښتې کې هم خپور شوی دی.

له پورتنی لنډې یادونی څخه دې نتیجی ته رسیږو چی ددې رسالی میتود بشپړ نه دی ځکه چې په یوه منبع یې بسنه کړې ده .

[۴۹]

دګوربزو کلتور او فولکلور

لیکوال: میراحمد ګوربز.

خپروونکی: دفولکلور ټولنه ، دفرهنګ مردم خاصه ګڼه ، ۱۳۶۳ کال.

دخپریدو ځای: دولتی مطبعه .

مخونه : ۱۸۹ .

کچه: ۱۳×۲۳ .

موضوع: دګوربز و دسیمې دواده دودونه، دمړي دودونه، اولسی دارو درمل کړنی، لوبی، دماشومانو لوبی. اولسی او فولکلوري کیسی په کی راټولی او خوندي شوي دي.

په دې اثر کی نکلونه له راویانو څخه ثبت شوي(البته دلیکوال په قول) او دودونه یی د خپل ذهن په مرسته لیکلی دي. دپورته یادونو په رڼا کی ویلی شو چی دغه اثر په بشپړ ډول له میتود سره برابر نه دی. ([۵۹])

۵۹_ میراحمد ګوربز، دګوربزو کلتور او فولکلور ، فرهنګ مردم (خاصه ګڼه فولکلور ټولنه ، ۱۳۶۳ ، ۵ګڼه.

[۵۰]

د دوو دوستو هیوادونو
اولسی پوهه

ټولوونکی او روسی ژباړونکی: سرمحقق م.معتمد شینواري،
او تمارا میوندي.

خپروونکی : دافغانستان دعلومو اکادمی،
دپښتو څیړنو بین المللی مرکز.

دخپریدو نیټه: ۱۳۶۳ ش ، ۱۹۸۴ ع .

دخپریدو ځای: دولتی مطبعه.

مخونه : ۵۸۰ .

کچه: ۱۵×۲۳

موضوع: په دې مجموعه کی د پښتو (۵۷۸) متلونه راټول او په روسی ترجمه شوي دي. ددې مجموعی د متلونو په باب دښاغلی سرمحقق معتمد په سریزه کی داسی راغلی دي:

"... اول پښتو متل راوړل شوی او بیا په روسی ژبه ترجمه شوی دی، وروسی ددغه متل مفهوم په روسی ژبه تشریح شوی او داستعمال ځای یی ښودل شوی دی او په

دریمه درجه کې کوښښ شوی چې انډول روسی متل ورته پیدا شی. کله داسی هم شوي دي چې ځینو پښتو متلونو ته هیڅ انډول په روسی ژبه نه دی پیدا شوی او کله بیا دیوه له پاره څو انډول متلونه پیدا شوي او راوړل شوي دي....."(۶۰)

پښتو متلونه محترم معتمد انتخاب او په روسی ترجمه کړي دي، تمارا میوندي دده روسی لیکنه ایډیټ کړې او هم یې په روسی ژبه کې معادل متل ورته پیدا کړی دی.

ددې اثر پښتو متلونه زیاتره له (پښتو متلونه) نومې اثر څخه چې په (۱۳۴۴) کال پښتو ټولنې چاپ کړی را اخیستل شوي دي او څه د عبدالروف بینوا د (پښتو متلونه) نومي اثر څخه چې په (۱۳۵۸) کال چاپ شوی انتخاب شوي دي.

په دې اثر کې چې له کومو ماء خذونو څخه استفاده شوې دپښتو او روسی دواړو ژبو ما ء خذونه ښودل شوي دي. دغه اثر دروسی ژبې د ویونکو له پاره داستفادې وړ مواد وړاندې کولی شي.

۶۰_ محمد اکبر معتمداو تمارا میوندي، ددوو دوستو هیوادونو اولسی پوهه د پښتو خیړنو بین المللی مرکز. دولتی مطبعه، ۱۳۶۳، سریزه، (۵۷۹) مخ.

[۵۱]

دپښتنو
ځینی فولکلوري روایات

لیکوال: علی محمد منګل.

خپروونکی: دکلتور دولتی کمیټه، دکلتور ریاست، دفرهنګ مردم آمریت.

دخپریدو ځای: دکلتور دولتی کمیټه (ګستتنر) (داشرف خان هجری ددرې سوم تلین په مناسبت)

دخپریدو نیټه: ۱۳۶۴ .

مخونه : ۱۰۴+۳ = ۱۰۷ .

کچه: ۲۱×۳۳ .

موضوع: په دې رساله کی چی د پښتنو د منګلو دسیمی کوم فولکلوري مواد راټول شوي ددغو موضوګانو په باب دي: ټوټکی، کرکی کړنی، څلویښتی، خوب لیدل او مانایی او درسالی په پای کې د(فولکلور یك هنر) په باب خبرې شوي دي.

دکتاب په پیل کی دخلکو دفرهنګ دآمرسریزه، وروسی دلیکوال یادونه او وروسی متن پیل کیږي. مخکی له دې چې ددې اثر په باب نورې خبرې وکړم، دلته دګران هیواد

او خاصتاً د پښتو ژبې دخوا خوږي ليکوال محترم ورور علي محمد منګل له اثر څخه دده دخبرو ځيني برخې رااخلم:

"دهغې علاقې له مخې چې د پښتون ټبر له دراندہ او پاخه فولکلور سره يې لرم هڅه کړې دې ته تړې يم چې زموږ دځنډن تاريخي هيواد دتوريالي ولس دغه فرهنګي او کلتوري ميراث له هر ګوټ نه په سوچه او آره بڼه سره را ټول کړای شي. ....." (٦١)

" په دغه وړه (کوچنۍ) مجموعه کې چې پورته په لنډ ډول اشاره ورته وشوه دمنګلو د فولکلوري روايا تو څو څرګند اړخونه راوړل شوي. د بنده په وس چې څه پوره وو هغه مې د پښتون ولس د کلتوري او فرهنګي ميني په خاطر د فولکلور مينانو ته وړاندې کړل کره کول او بشپړول يې دنورو ځوانانو کار دی...." (٦٢)

په درنښت

علي محمد منګل

٣ر١٢ر٦١

له پورتنۍ نيټې څخه ښکاري چې دغه اثر په (١٣٦١) کال ليکل شوی او درې کاله وروسته په (١٣٦۴) کال کې چاپ او خپور شوی دی.

٦١_ علي محمد منګل، د پښتنو ځيني فولکلوري روايات ، دکلتور دولتي کميټه (ګستتنر) ١٣٦۴ ، سريزه، لومړی مخ .

٦٢_ پورتنی اثر، سريزه، دويم مخ .

لکه چی ما دخپلی دې نیمګړې رسالی په ډیرو
ځایوکی دا خبره کړې او دلته یی بیا هم تکراروم چی زمونږ د
پخوا نیو او اوسنیو فولکلوریستانو او دفولکلور ټولونی
دمینه وال هڅی مشکورې دي او مونږ ددوي دغه هڅی
دیادونی او ستاینی وړ ګڼو. داځکه چی ورځ په ورځ نوي
اکتشافات رامنځ ته کیږي، ساینس او تکنالوژي پرمخ ځی،
زمونږ په کلو او بانډو کی هم هغه پخوانی دودونه او کړه وړه
ورځ په ورځ بدلون مومی. یو شمیر زړې پدیدې خپل ځایونه
نو و پدیدو ته پریږدی، همدا زمونږ په یادښت دواده او کوژدې
په دودونو کی (خصوصاً له (۱۳۵۷) کال نه را په دیخوا یو
لړ دکتنی وړ بدلونونه رامنځ ته شوي. چی دغه موضوع دیوې
ځانګړې څیړنی ایجاب کوي: نو له همدې امله او دیو شمیر
نورو دلایلو پراساس زمونږ دورونو کوششونه مونږ ته دقدر
وړ دي. خو ددې په څنګ کی باید دراتلو نکو څیړنو په خاطر
ځینی یادونی وکړو هغه دا چی زمونږ ورونه فولکلوري مواد
راټولوي ، زیار باسی .ځان په تکلیفوي خو ددې په څنګ کی
که دا کار هم باید وکړي یا یی کړی وای چی دفولکلور
ټولونی میتود یی په خپلو کارونو کی له نظره نه وای
غورځولی، ددوی کارونه به لاارزښتمن وای.

په هر حال دښاغلی منګل اثر هم (سره له دې چی
ښایی مواد به یی یوازې دخپل ذهن محصول نه وي بلکی له

خلکو څخه به یی راټول کړي وي) له همدې امله چی دفولکلور ټولونی اصول یی نه دي ذکر کړي. له میتود سره برابر نه شوګڼلی.

[۵۲]

لنډۍ

ټولوونکی او تدوینوونکی: دفولکلور او شفاهی ادبیاتو دډیپارتمنټ غړي.

خپروونکی : دافغانستان دعلومو اکادمی. دژبو او ادبیاتو مرکز.

دخپریدوځای : **دولتی مطبعه.**

دخپریدو کال: **۱۳۶۴.**

دچاپ شمیر: ؟

مخونه : **۶۰+ ۴۹۴ = ۵۵۴ .**

موضوع: دالفبی په ترتیب له لیکلو او نالیکلو منابعو څخه د پښتو (۱۱۸۵۸) لنډۍ راټولی او په دې مجموعه کی خوندي شوي دي.

دپښتو لنډیو دغه مجموعه چی دیو شمیر څیړونکو دګډ کار او زیار په نتیجه کی منځ ته راغلی ، په پیل کی یی د ډیپارتمنټ دمدیر شهزاده زیارن سریزه او ورپسی د سلیمان

لایق* تحلیلی څېړنه راغلی ده چې په دې پسې د مجموعې اصلي متن (لنډۍ) راغلی دي.

لکه چې مخکې مې اشاره وکړه ، دغه مجموعه دیوې مشترکې او رسمي پروژې په لړ کې دڅو تنو څېړونکو او پوهانو دګډو هڅو په نتیجه کې چاپ ته تیاره شوې ده ، چې ددغو پوهانو ترمنځ ردیفونه ویشل شوي او په دې حساب د پروژې هر یوه کار کوونکي خپله ونډه ترسره کړې ده . البته چاڼ او مقابله یې په مشترك ډول ترسره شوي دي.

دمجموعې دسریز وال په قول په دې مجموعه کې یوازې هغه لنډۍ راغلې چې ویونکي یې نه دي معلوم او په شخص پورې اړه نه لري، بلکې په اولس پورې مربوطې دي.

دمجموعې راټولوونکي دغه محترم پوهان دي:

- ✓ معاون محقق شهزاده زیارن.
- ✓ معاون سرمحقق محمد مومن پتوال.
- ✓ معاون سرمحقق محمد اسمعیل سړبن.
- ✓ معاون محقق میراحمد ګوربز.
- ✓ معاون محقق مجاور احمد مومند.
- ✓ معاون محقق حضرت محمد ویاړ.

---

* ـ ښاغلي کاندید اکادیمسین محمدصدیق روهي په خپل اثر فولکلور پېژندنه کې دغه لیکنه یوه ابتکاري لیکنه ګڼلې ده.

لکه چې مخکې مې وویل په مجموعه کې دهر غړي ونډه دردیفونو په حساب ښودل شوې ده ، چې د پورتنیو پوهانو له جملې څخه یوازې مجاور احمد مومند دننګرهار سیمې ته لیږل شوی او (۱۰۰۰) نوې لنډۍ یې له ساحې څخه راټولې کړي دي، نورې لنډۍ له قلمي او چاپي مجموعو څخه راټولې او چاڼ شوي دي. له یو شمیر چاپي نسخو څخه دځینو ملحوظاتو له امله صرف نظر شوی دی او استفاده ترې نه ده شوې.

دغه مجموعه برسیره پر دې چې (۱۰۰۰) لنډۍ پکې له ساحې څخه راټولې شوي، د (۲۱) چاپي او قلمي نسخو د پلټنې په نتیجه کې تیاره شوې ده چې ماء خذونه یې ښودل شوي دي.

ددې کار دتر سره کولو له پاره د (پښتنې سندرې، لومړی ټوك، د ۱۳۳۴ کال چاپ) داصل په توګه منلې شوی او دې کار همداسې دوام پیدا کړی څو مجموعه بشپړه شوې ده .

دپښتو لنډیو دغه مجموعه چې نسبت پخوانیو مجموعو ته لویه اوغني ده اونسبتاً ډیرې لنډۍ په کې ذخیره شوي دي، زه یې په هغې برخه چې له چاپي او قلمي آثارو څخه رانقل شوې نور څه ویل نه غواړم خو یوازې دمحترم مومند صاحب دکار په باب باید ووایم چې میتود نه لري،

ځکه چې نه يې دراتهولولو نيټه ، نه مشخصه سيمه ، نه اشخاص او نه نورضروري مشخصات ښودل شوي. (۶۳) داخبره دې په خپله هم کوي چې ننګرهار ته دهمدغه مشخص کار له پاره تللی دی خو متاسفانه راويان نه معرفي کوي.

[۵۳]

پښتني فولکلور

خپرونکی: دافغانستان دعلومو اکادمی، دژبو او ادبياتو مرکز،دفولکلور او شفاهی ادب مديريت.

دخپريدو نيټه: ۱۳۶۵ ش.

دخپريدوځای: دولتی مطبعه.

مخونه : ۲۵۰ .

دغه پوهان يې ليکوال او تدوينوونکی دي:

۱ـ دسرخيړونکی مرستيال مصطفی نږدې ،نوموړي دفولکلور او کلتور په باب ښايسته مفصله خيړنه کړې ده چې دکتاب په پيل کی خپره شوې ده .

۲ـ دسرخيړونکی مرستيال محمد اسمعيل سړبن ، چې د کليوالی طب د سابقی اوپه فولکلور کی ددغی موضوع

۶۳ـ شهزاده زيارن، محمد مومن پتوال. محمد اسمعيل سړبن او نور ، لنډۍ، د افغانستان دعلومو اکادمی دژبو او ادبياتو مرکز، ۱۳۶۴ .

دشاملولو یانه شاملو لو په باب مقدماتی خبرې پکی شوي دي. او همدارنګه د (۳۵) په شاو خوا کی دکلیوالی دارو درملواړوند اصطلاحات یی تشریح کړي دي.

۳_ ځیړونکی حضرت محمد ویاړ؛ نوموړي د (۹۵) په شاو خوا کی کرکی او کړنی راټولی کړي او په دې اثر کی یی له یوې لنډې سریزې سره خوندي کړي دي.

۴_ دسرځیړونکی مرستیال محمد مومن پتوال؛ ارواښاد پتوال صاحب داولسی لوبو په باب څېړنه کړې، چی په پیل کی یی سریزه راغلی ده . په دغی سریزه کی برسیره پردې چی د لوبو په تاریخچه باندې یی لنډه رڼا اچولی ، دخپل کار د میتود په باب یی هم خبرې کړي دي. له دې وروسته اصلی متن پیل کیږي چی په دوو څپرکو کی خلا صه شوی دی.

لومړی څپرکی: د ډیرو لوبی ؛ دغه لوبی بیا په خپل منځ کی په بیلا بیلو برخو ویشل شوي چی شمیر یی (۵۲) ته رسیږي.

دوهم څپرکی: د لږ و لوبی ؛چی شمیر یې (۳۰) ته رسیږي دا برخه هم په خپل منځ کی په وړو وړو سر لیکونو ویشل کیږي نو موړی لوبی په دې لاندې برخو ویشی.

دډیرو لوبی ، دلږ و لوبی، ددوبی او پسرلی لوبی،دمنی او ژمی لوبی ، دلویانو لوبی ،دوړو هلکانو لوبی، دهلکانو لوبی ، دنجونو لوبی، دناستی لوبی، دولا ړې لوبی، دپسرلی

لوبې، بې پسرلی لوبې، دځغاستې لوبې، بې ځغا ستې لوبې. (۶۴)

اروانباد پتوال دخپل کار په باب داسې لیکلي‌دي: " ددغو اولسي لوبو ځینې برخې ما دخپلو ملګرو په مرسته او همکارۍ راټولې کړې او لیکلې دي..." (۶۵)

دکتاب لیکوال خپلو خبرو ته دوام ورکوي: " ... دا دی اوس زه د خپل اولس دخپل ځای دلوبو په لیکلو پیل کوم په هماغه ترتیب سره یې لیکم لکه څنګه چې زموږ په ځای کې پخوا کیدې او لږ ډیرې اوس هم کیږي.

نوموړی زیاتوي: هغه کسان چې له ماسره یې دلوبو په سمون کې مرسته کړې ده ، دادي:

۱_ سیف الرحمن پتنګ. ۲_ ډاکتر دولت محمد لودین.

۳_ عبدالقیوم نورزی. ۴_ خیر محمد شینواری.

۵_ نصرالله زرمتی. ۶_ نورالله ولسپال.

۷_ ډاکتر پالوال. (۶۶)

۶۴_ مصطفی نږدې، محمد مومن پتوال، حضرت محمد ویاړ او نور، پښتنی فولکلور، دافغانستان دعلومو اکادمی دژبو او ادبیاتو مرکز، دولتی مطبعه، ۱۳۶۵ ، ۸۸ مخ .

۶۵_ پورتنی اثر، ۸۴ مخ .

۶۶_ همدغه اثر، ۸۹ مخ .

۱ـ دکومو کسانو په مرسته چې دالوبې راټولې شوي یا سمې شوي د کومې سیمې دي؟

۲ـ دا لوبې څه وخت راټولې شوي؟

۳ـ کومو کسانو چې له ده سره دلوبو په سمون کې مرسته کړې ټول دننګرهار نه دي نو دلته دا پوښتنه هم پیدا کیږي چې دا لوبې به هم لکه څنګه چې لیکوال ادعا کړې ټولې د ننګرهار مربوطې نه وي. په هر حال دغه برخه هم میتود نه لري.

بله دیادولو وړ خبره داده چې ځینې لوبې له ورایه ښکاري چې په ننګرهار کې نشته لکه وزلوبه (بز کشی) مګر لیکوال وایې چې دغه لوبه زمونږ داولس یوه لرغونې لوبه ده ... او په اوس وختو کې یې د پخوا نه زیات پرمختګ کړی دی اولږ وړاندې هم یادونه وشوه چې لیکوال وایي: " دخپل اولس دخپل ځای د لوبو په لیکلو پیل کوم ، چې له یوې خوا سیمه مشخصه کیږي او بیا د هیواد د نورو سیمو مروجې لوبې ذکر کوي. (۶۷)

همدارنګه دمحترم سړین کار هم له میتود سره سم نه دی او دخپل کار په باب نوموړي هیڅ هم نه دي ویلې او نه یې مآ خذ ښودلې دي.

۶۷ـ پښتنې فولکلور، ۱۲۸ مخ .

دلته د په مجموعه کې دراغلو کرکو او کړنو په باب هم یوه یادونه ضروري ده ، هغه داده چې محترم لیکوال پوره (۴۰) کرکی او کړنی دمحترم پتنګ له (فولکلوري مرغلرې، د پښتو ټولنی د ۱۳۵۶ کال چاپ) څخه ټکی پرټکی په هماغه ډول لکه څنګه چې په هغې رساله کی راغلی مسلسلی رانقل کړي او په دې باب یې ماء خذ نه دی ښودلی او نه یی په سریزه کی کومه یادونه کړې ده . پاتی برخه یی ښایی له سیمی څخه راټولې کړي وي خو متاء سفانه لیکوال دخپل کار په باب څه نه دي ویلی په دې اساس ویلا ی شو چې دغه برخه هم له میتود سره برابره نه ده .

ددې له پاره چې دا ثابته کړو چې یو شمیر کرکی او کړنی اوانګېرنې له بل اثر څخه رانقل شوي ا و لیکوال ماء خذ نه دی ښودلی د بیلګی په ډول د (ساغوښتل) انګیرنه سره پرتله کوو:

ساغوښتل:

((په کلیواو بانډو کی ځینی داسی انګیرنی هم په خلکو کی شته ، چې دهغو له مخی کوچنیو زده کوونکو ته وایی چې تاسی رسمونه مه باسئ! ځکه دغه رسمونه بیا په بله دنیا کی له تاسونه سا غواړي، یوه رسم ته به خپله ساورکړئ. بل رسم ته به څه کوئ نه (نو) په دې توګه واړه ماشومان

درسم له کولو نه منع کوي، دغه انګیرنه اوس اوس له منځه تللې ده .))

(فولکلوري مرغلرې، ۸ مخ)

ساغوښتل:

((په کلیو او بانډو کې ځینې داسې انګیرنې هم شته چې دهغو له مخې کوچنیو زده کوونکو ته وایي چې تاسو رسمونه مه باسئ . ځکه دغه رسمونه بیا په بله دنیا کې له تاسو نه ساغواړي، یوه رسم ته به خپله ساورکړئ بل رسم ته به څه کوئ؟ نو په دې توګه واړه ماشومان له رسم څخه منع کوي.)) (۶۸)

[۵۴]

دښادۍ بدلې

لیکوال: احسان الله آرینزی.

خپروونکی: دافغانستان دعلومو اکادمی دژبو او ادبیاتو مرکز.

دخپریدو ځای: دافغانستان دعلومو اکادمی دنشراتو ریاست (ګستتنر)

دخپرویدو نیټه: ۱۳۶۶ .

۶۸ــ پښتني فولکلور، ۶۰ مخ .

موضوع: په دې اثر کې دوردګو اونورو څېرمه سيمو دښادۍ بدلې راټولې او خوندي شوي دي. دغه اثر سريزه او يوڅه څېړنيزه برخه هم لري. (۶۹).

يادونه :

کله چې دغه اثر د ګستتنر په ډول خپور شو او شمير يې هم لږو ، ما يو ټوك دنشراتو رياست څخه تر لاسه کړی و، هغه يو ټوك چې زما په دفتر کې و او نور پاتې ټوکونه چې په تحويلخانه کې پراته وو، په هيواد کې دوروستيو حوادثو د پيښيدو له امله تري تم شول. ښايي له ښاغلي آرينزي سره يې کوم ټوك پاتې وي. دا چې اوس اثر په لاس کې نه شته نو ځکه يې په ميتود هم له دې زيات څه نه شي ويل کيدای.

[۵۵]

اولسی سندرې

(دوهم ټوك)

ټولوونکی: زلمی هيواد مل.

۶۹ـ احسان الله آرينزي، دښادۍ بدلې، دژبو او ادبياتو مرکز، ۱۳۶۶ .

خپروونکی: دقومونو او قبایلو چارو وزارت، دنشراتو او فرهنګی چارو ریاست.
دچاپ ځای: دلوړو او مسلکی تحصیلاتو مطبعه.
دچاپ نیټه: ۱۳۶۶ش. ۱۹۸۷ ع.
دچاپ شمیر: ۲۰۰۰ ټوکه.
مخونه : ۲۰۰+ ۵ = ۲۰۵ .

موضوع: په دې مجموعه کی د پښتو د (۹۲) تنو اولسی شاعرانو سندرې راټولی شوي دي. په اثر کی دلیکوال څرګندونی هم راغلی او همدارنګه شاعران په لنډ ډول معرفی او دشعرونو بیلګی یی راوړل شوي دي.

دکتاب لیکوال دغه اثر دخپل لس کلن زیار نتیجه بولی او زیاتوي چی دهیواد بیلا بیلو سیمو ته یی سفرونه کړي او داولسی شاعرانو دمعرفی او دهغو دسندرو او شعرونو په راټولولو کی یی زیارونه ګاللی دي.

په دې اثر کی(۱۸۹) سندرې راغلی چی شاعران یی معرفی شوي، سندرې د موضوع په اساس ویشل شوي او له لومړي ټوک سره یې نومرې مسلسلی راغلی دي. ددې ټوک دسندرو پرله پسی نومره له (۲۲۱) شمارې څخه پیل شوې او تر(۴۰۶) پورې رسیږي. داثر په پای کی توضیحات او

ماخذونه راغلی دي. دغه اثر تر زیاتې اندازې له اوسنی میتود سره سم دی. (۷۰)

[۵۶]

دتنیو کلتور او فولکلور

لیکوال: بسم الله حقمل.

خپروونکی: دقومونو اوقبایلو چارو وزارت، دنشراتو او فرهنگی چارو ریاست.

دخپریدونیته: ۱۳۶۶ (دحمزه شینواري دزیږیدنی د اتیایمی کالیزې په مناسبت)

دخپریدوځای: دولتی مطبعه.

مخونه : ۱۰۷+۲ = ۱۰۹

کچه: ۲۰×۲۳ سم .

موضوع: دغه اثر پنځه فصله لري چی په ترتیب سره په لومړي فصل کی:

دودونه: (دماشوم زیږیدنه ،دماشوم مریژي او نوم ایښودل، دماشوم ختنه کول، کوژده ، واده او دواده مربوط دودونه، مړی او دمړي مربوط دودونه) ، دماشومانو سندرې او نکلونه ، دواده سندرې او نور خاص دودونه راغلی دي.

۷۰_ زلمی هیواد مل ، اولسی سندرې (دوهم ټوک) ، دقومونو اوقبایلو چارو وزارت، دلوړ و او مسلکی تحصیلاتو مطبعه، ۱۳۶۶.

په دوهم فصل کې: جامې. په دریم فصل کې ګاڼې.
په څلورم فصل کې سندرې. نڅاوې. او موسیقي. اتڼ او داتڼ سندرې، دښځو اتڼ او دهغو سندرې . دتڼیو په سیمه کې موجود بیتونه او سرو کې راټول شوي دي.

په پنځم فصل کې: اجتماعي مسایل او دتڼیو ولسي نرخ... داجتماعي ژوند نور دودونه راغلي او همدارنګه دقبیلوي تعاملا تو او مربوطو نرخونو داصطلاحاتو څیړنې ته ځای ورکړل شوی دی.

داثر لیکوال په خپله سریزه کې له لنډو خبرو وروسته زیاتوي چې دغه مواد یې له نشر شووو موادو سره پر تله کړي کوم چې تر اوسه نه وو خپاره شوي دهغو خپریدل یې غوره ګڼلي او له پاتې موادو څخه یې په دې اثر کې صرف نظر کړی دی، دی زیاتوي:

" ددې جونګ محتویات د تڼیو د معتبرو مشرانو او سپین ږیرو له خولې چې لا تر اوسه په قوم کې نفوذ لري او دقومي او قبیلوي تعاملا تو با نفوذه اشخاص دي د (۱۳۵۹) کال په اوږدو کې راټول او دادي نشر ته سپارل کیږي. هیله مند یم چې دخامو موادو په څیر دڅیړونکو او ټولنپوهانو په درد ولګي. " (۷۱)

۷۱_ بسم الله حقمل، د تڼیو کلتور او فولکلور، دقومونو او قبایلو چارو وزارت، دولتي مطبعه، ۱۳۶۶ ، سریزه، د مخ.

محترم لیکوال لکه څنګه چی په سریزه کی اشاره کړې ده مواد یی دکابل په تنې کوټ کی د تیو له سپین ږیرو څخه را ټول کړي دا چی دفولکلور ټولونی دمعاصر میتود کامل مراعات په کی نه دی شوی نو له دې امله یې په بشپړه توګه له میتود سره برابر نشو ګڼلی. خو له دې سره سره دمحترم حقمل هڅه ستایو.

دلته یوه بله خبره را یاده شوه. هغه دا چی محترم لیکوال ویلی چی مواد یی له مخورو او بانفوذه سپین ږیرو څخه راټول کړي؛ دا یی نه دي ویلی چی د ښځو داتڼ په باره کی یی له چا څخه معلومات تر لاسه کړي او ددې اتڼ سندرې یی له چا څخه لیکلی دي؟

همدارنګه یی د نڅاوو او موسیقی په باب دمعلوماتو منابع کومی دي؟ آیا دماشومانو سندرې او نکلونه یی هم له لویانو څخه لیکلی دي؟ پورتنیو او دې ته ورته پوښتنو ته په سریزه او یا دکتاب په کومه بله برخه کی ځواب نه شو میندلی.

[۵۷]

دکابل تاریخی جغرافیه او کلتور

لیکونکی: محمد ولی ځلمی.

خپروونکی: داطلاعاتو او کلتور وزارت، دخپرونو لوی ریاست.
دخپریدو نیټه او ځای: ۱۳۶۸ - دکابل دولتی مطبعه.
مخونه: ۳+ ۲۱۲ = ۲۱۵.
کچه: ۱۶ × ۲۳ سم.

موضوع: ددې اثر په لومړی برخه کی دکابل تاریخی او جغرافیایی موقعیت اوحالات تر بحث لاندې نیول شوي او وروسی دکابل دښاو خوا سیمو او اړوندو ولسوالیو د کلتوري مسایلو لکه: برفی، نوروز، غیږې ایستلو، کوتربازي، مرغ جنګی، دکابلیانو کالی، مړي او هدیره، دکابل پخلی، ټوکی ټکالی (طنز ونه مطایبی)، کاکه ګان، دودونو او نورو په باب معلومات وړاندې شوي دي.

دکتاب په پیل کی فهرست، وروسی تقریظونه، دلیکوال سریزه او پرې پسې دکتاب متن (دکابل د تسمیې وجه) په سرلیك پیل شوی دی.

دکتاب لومړی برخه تر (۱۱۴) مخه رسیږي، چی وروسی په ۱۴۲ مخ کی کلتوري موضوعات پیل شوي او دکتاب تر پایه ادامه لري.

په دې اثر کی زیاتره له لیکلو آثارو څخه استفاده شوې چی لیکوال دکتاب په پای کی ښودلی دي چی شمیر یی (۸۷) ته رسیږي. دساحوي څیړنی یادونه پکی نه ده شوې.

په دې کتاب کې دکابل دهغو سيمو په کلتور او جغرافيه بحث شوی چې په اداري لحاظ دکابل ولا يت پورې مربوطې دي. (۷۲)

ددغه اثر فولکلوري مواد په بشپړ ډول د فولکلور څېړنې له معاصر ميتود سره سم نه دي راټول شوي.

[۵۸]

دګوربز و نکلونه

ليکوال : مير احمد ګوربز.

خپروونکی: دافغانستان دعلومو اکادمی،دژبو او ادبياتو مرکز.

دچاپ نيټه: ۱۳۶۸.

دچاپ ځای: دولتی مطبعه.

شمير: ۲۰۰۰ ټوکه .

مخونه : ۳۷۴ .

موضوع: په دې اثر کې د پښتو يو شمير فولکلوري نکلونه راټول او خپاره شوي دي چې ټول شمير يې (۱۹) ته رسيږي، دځينو عناوين يې دادي:

۷۲_ محمدولی خلمی، دکابل تاريخی جغرافيه او کلتور. داطلاعاتو او کلتور وزارت دولتی مطبعه. ۱۳۶۸.

ظریف خان ، بگړ، سوداگر، وفادار زوی، د یخ پادشاه لور، درې پهلوانان ، درخانۍ او دگلدارې سیل، دمیروگی او ترینی مینتوب، دبادشاه ناروغه لور، درې شرطونه ، دآدم خان سره د میروگی دزورآزمایښت، درې ملگري ، خوب، بهرام او گل اندامه، درې بزرگر ورونه ، فتح خان بړیخی او داسی نور.

دغه اثر تر زیاته حده (دظواهرو یا شکلیاتو په حساب) دفولکلور ټولونې له معاصرنړیوال میتود سره سم راټول او تدوین شوی دی.

لیکوال په دې اثرکی د گوربزو د سیمی دجغرافیایی موقعیت او دخلکو د کړو وړو په باب معلومات وړاندې کړي او همدارنگه یی هغه نکلچیان هم معرفی کړي له کومو څخه چی دغه نکلونه ثبت شوي دي.

دغه اثر په محلی لهجه کښل شوی خو هغه نسخه چی چاپ ته تیاره شوې او دهغې له مخې دغه اثر چاپ شوی ، په معیاري لهجه اړول شوې ده ، په خپله لیکوال په دې ارتباط داسی لیکلی دي:

" دتقریظ نه وروسته می کتاب د گوربزو دسیمه ایزې لهجی نه په معیاري لهجه چی سیمه ایز لغات ، فولکلوري او ژبنی اصطلاحات پکی ساتل شوي دي واړ اوه ..." ([۷۳])

۷۳_ میراحمد گوربز، دگوربزونکلونه، دژبو اوادبیاتو مرکز، دولتی مطبعه، ۱۳۶۸، یوولسم مخ.

باید یادونه وشی چی دغه ډول لغات او اصطلاحات په کی په پریمانۍ سره ترسترګو کیږي. زه په داسی حال کی چی دښاغلی لیکوال زیار ستایم دا یادونه هم کوم چی که لیکوال دنکلچیانو عمر، دنکل د ثبت نیټه ، خاصه سیمه، اوځینی نور لا زم ټکی چی ترې پاتی دي، ښودلی وای او همدارنګه یی په یوه راوي اتکا نه وای کړې ، د اثر ارزښت به لا زیات او په بشپړ ډول به یو میتودیك اثر وای[٭]همدارنګه د کتاب دنوم په باب هم که یوڅه فکر شوی وای ښه به و ځکه چې دا ډول نکلونه په لږو ډیرتو پیر په نورو پښتنو سیمو کې هم اوریدل شوي دي .

[۵۹]

دننګرهار نکلونه

موئلفه :[٭] غوټۍ خاورې.

خپروونکی: دافغانستان دعلومو اکادمی، دژبو او ادبیاتو مرکز.

دخپریدو نیټه: ۱۳۶۸.

دخپریدو ځای‌او دچاپ شمېر: دولتی مطبعه، ۱۵۰۰ ټوکه .

مخونه : ۱۹۸.

٭ ــ ما په سریزه کی هم ددې ټکی یادونه کړې چی که دکتاب په پښتنې مؤلف لیکل شوی، ما هم مؤلف لیکلی او که ټولوونکی یا مدون راغلی ما هم په خپله اصلی بڼه لیکلی دی. (لیکوال)

موضوع: په دې اثر کې د پښتو (۱۵) فولکلوري کیسی راغلی چی دننګرهار ولا یت څخه ځوانی لیکوالی غوټۍ خاورې راټولی او دژبو او ادبیاتو دمرکز له خوا دچاپ په ګاڼه پسولل شوی دی. کیسی په دې ډول دي:

- جلات خان او محبوبا.
- آدم خان او درخانۍ.
- دوربی بی او باچا.
- دوې بنې.
- داکیسه دې بس ده که ...
- ګوډ، ګړینګن او ګنجی.
- بی دسته پلار.
- لوی ځوان او بیزو وان.
- یادومره یا دومره.
- سره سنځله.
- سلطان محمود او یوولس کاله شپه.
- ګنجی او روې.
- باچا او کوډ ګره ښځه.
- ...

دکتاب په پیل کی دمحترم سرمحقق روهی او محترم ګوربز تقریظونه او وریسی دلیکوالی څو خبرې راغلی، چی وریسی دنکلونو راویان معرفی شوي دي.

دکتاب په وروستۍ برخه کې (۱۶) مخه سیمه ایز و لغتونو، فولکلوري او ژبنیو اصطلاحاتو. ټوټکو او تکیه کلا مونو ته وقف شوي دي.

لیکوالې (۳) نکلونه له خپل پلار، (۳) نکلونه له خپلې مور او پاتې (۹) نکلونه یې له نورو نکلچیانو څخه راټول کړي دي.

په یوه تقریظ کې ددې اثر په باب قاطع نظر څرګند شوی او دغه اثر په کې په کامله توګه دفولکلور څېړنې له معاصر میتود سره برابر ګڼل شوی دی.

همدارنګه محترمه لیکواله داخبره هم کوي چې دا اثر یې په بشپړ ډول له میتود سره برابر دی. مخکې له دې چې ددې اثر په باب خپل نظر څرګند کړم ددوهم تقریظ ځینې ټکې. همدارنګه دلیکوالې ځینې خبرې او ورپسې به دیوې کیسې څو کرښې سره ولولو:

" دمحترمې غوټۍ خاورې نکلونه یوازې ساده ټولنه (ټولونه) او تدوین نه دی دمحترمې غوټۍ خاورې دسریزې او نکلونو نه جوتیږي چې دا نکلونه یې دڅو کالو په بهیر کې لومړی دمختلفو راویانو نه په محلي لهجه ثبت کړي دي. بیا یې پرې څو کلن زیار ګاللی څو یې په اوسنۍ بڼې وړاندې کړي دي....

باید ووایو چی ددې اثر لیکنه او تر تیبونه دفولکلور دساحوي ریسرچ د میتود ونو پراساس شوې نو ځکه ویلی شوچی دا ساده ټولونه او تدوین نه بلکی د فولکلور ټولونی د میتود له مخی یو علمی اثر او تالیف دی...." (۷۴)

دکتاب لیکوالې لیکلیدي " ... خپل ذوق می په کی نه دی داخل کړی او هیڅ ډول زیاتونی او تصرف می نه دی په کی کړی، دنکلونو فولکلوریکو ځانګړنو ته می زیان نه دی رسولی.

دنکلچیانو تکیه کلامونه ، متلونه ، ژبنی او فولکلوري اصطلاحات ټول می ورسره ثبت کړي. لنډه دا چی څنګه می چې دمعرفی شوو راویانو له خولی او ریدلی ، ټکی په ټکی می ثبت کړي دي..." (۷۵)

دلته به دیوه نکل ځینی برخی هم راواخلو:

"... مجلوم چی دا ناره واوریده نو لکه شین زمری دپاپاو په پوځ ورګډ شو ددوی ترمنځ سخته جګړه ونښته، دپاپا وي دپوځیانو نه یی سرونه غوځ کړل او آدم خان هم ډیر یاران له لاسه ورکړل.

۷۴_ غوتی خاورې، دننګرهار نکلونه، دژبو او ادبیاتو مرکز، دولتی مطبعه، ۱۳۶۸ یوولسم دولسم مخونه.

۷۵_ پورتنی اثر، یو دیرشم مخ.

دمجلوم په وجود کې خو داسې ځای نه و . پاتې چې په تورو او غشو دې نه وي لګيدلی... مخکی له دې چې آدم خان دميرمامی چاره وکړي، دميرمامی ځوی ګوجر خان دخپل پلار ددغه شيطانت او بدۍ خوړ لو نه خبر شوی و ،خپل پلار يې په خره سور کړ، مخ يې اول ورته په تبۍ تورکړ.... " (۷۶)

دلته بايد يادونه وکړم چې محترمې ليکوالې داخبره هم کړې ده چې په (۱۳۶۳) کال کې دننګرهار ولايت ته تللې او دا نکلونه يې دفولکلور ټولونې له نوو ميتودونو سره سم راټول کړي دي.

بايد يادونه وکړم چې محترمه غوټۍ خاورې يوه بااستعداده ليکواله ده او ددې دغه زيار دستاينې وړ دی خو ددې په څنګ کې دځينو ټکو يادونه هم ضروري ده ؛ هغه هم په دې منظور چې مونږ خپلې راتلونکې څېړنې لا پسې ميتوديکې کړو.

زه دتقريظ ليکونکو نظر ونه محترم ګڼم خو دهغو معلوماتو له مخې چې زه يې لرم دغه خبرې سل په سلو کې ټولې حقيقت نه لري.

نو ځکه زه ددويم تقريظ ليکونکې نظر تريوه حده تائيدوم تر يوه حده ځکه چې نوموړي دا اثر دليکوالې تاليف ګڼلې خوزه يې تاليف نه بلکې دتاليف په قالب کې برابر اثر بولم.

۷۶ـ دننګرهار نکلونه ، ۵۲-۵۳ مخونه .

زه په داسی حال کی چی دغه اثر دمینه والو د استفادې وړ بولم ، دشکلیاتو له مخی دا اثر په میتود برابر ګڼم خو دحقایقو دځرګند تیا په اړوند ورسره موافق نه یم. دلته دا خبره هم دکولو ده چې یو محترم تقریظ لیکونکی او په خپله محترمه غوټۍ هم دا اثر تالیف ګڼی. که دې اثر ته تالیف ووایو نو باید د لیکوال څیړنه او دذهن محصول وي. که داسې وي نو بیا یې فولکلوري نکلونه ګڼلی شو؟ او په بل ځای کې بیا دا خبره کوي چې ګوندی هېڅ ډول تصرف یې په کې نه دی کړی....

[۶۰]

دکندهارفولکلور

لیکونکی: ننګیالی بځرکی.
خپروونکی: دافغانستان دعلومو اکادمی. دژبو او ادبیاتو مرکز.
دخپریدو نیټه: ۱۳۶۹ .
دخپریدوځای: دولتی مطبعه. مانو ټایپ.
دچاپ شمیر: ۲۰۰۰ ټوکه .
مخونه : ۲۱۶.

موضوع: په دې اثر کی دکندهار دشاو خوا سیمو د بیلا بیلو دودونو او نورو فولکلوري موضوع ګانو لکه : د

واده دود، خامك، دموچنو جوړولو دود، ټوټکی. تاریخی او لرغونی اسناد، دمړینی او مسافرت دودونه. عامیانه طب او داسی نور معرفی او په باب یی خبرې شوي دي.

دکتاب لیکوال دخپل کار په باب یو ځای لیکلی دي:

" ... باید ووایم چی نوموړي فولکلوریك مواد چی تراوسه پورې چا کارنه دی پر کړی او که یی پردې برخو باندې کار کړی هم وي لږ او متفرق غوندې وو نو ځکه می دنوموړو موادو دراټولولو د پاره پښې رالوځی کړې او دروازې (می) و ټکولی ځو په هره برخه کی خپل معلومات ثقه کړم او ددې مواد و په راټولولو کی می کوڅه په کوڅه پوښتنه کړې ده او دخلکو دسینو څخه می دخلکو مال را اخیستی دی او دخلکو په اختیار کی می دهغوي دګټی دپاره تقدیم کړی دی... په نوموړې راټولونه کی چی دکندهار دفولکلور مختلفی برخه (برخی) نو میرې د ډاکتر صاحب قاسم اڅکزي څخه ممنون یم چی په دې مجموعه کی یی زما څخه هیڅ ډول هاندونه سپموئ او ځان یی راسره ستړی کړی او هغه علمی، تاریخی او فولکلوریك معلومات چی دکندهار په مختلفو برخو کی یی قاسم اڅکزی لري د یادونی وړ دي...."([77])

۷۷ـ ننګیالی بځرکی، دکندهار فولکلور، دافغانستان دعلومو اکادمی، دژبو او ادبیاتو مرکز، دولتی مطبعه، ۱۳۶۹، سریزه، ب مخ.

زه په داسی حال کی چی دښاغلی بخرکی دغه کار چی په یوه مجموعه کی یی د پښتنی فولکلور ځینی برخی خوندي کړي دي، ستایم خو په ضمن کی ځینی یادونی هم لرم.

محترم لیکوال ادعاکړې چی کور په کور ګرځیدلی او دروازي یې ټکولی خو دخپلو خبرو په پای کی ټول مسایل یوازې په محترم قاسم اخکزي پورې منحصر وي او له هغه مننه څرګندوي. لیکوال چی دکومو نورو کسانو دروازې ټکولی، متاء سفانه دهغو نومونه یی له یاده وتلی او په مجموعه کې یې نه دي ذکر کړي، چی باید یاد کړي یی وای. همدارنګه یی محترم اخکزی صاحب هم پوره نه دی معرفی کړی او دده له خبرو څخه ښکاري چی دغه مواد به زیاتره دهمده په مرسته لیکل شوي وي.

په هرحال زه په داسی حال کی چی دغه مجموعه دفولکلور خیړونکو دمطالعی او دفولکلور دغنا له پاره غنیمت ګڼم خو دا خبره هم کوم چی دغه خیړنه دفولکلور ټولونی له معاصر میتود سره سمه نه ده تر سره شوې او دهغو معلوماتو له مخی چی لرم یی دلیکوال له ټولو خبرو سره موافق نه یم.

زماهیله (البته دفولکلور دیوه مبتدي شاګرد په توګه) له ټولو محترمو فولکلورټولوونکو څخه داده ، ترهغه

وخته چی دفولکلور ټولونی په باب میتودیك آثار نه وو خپاره شوي او یا په دې ساحه کی معلومات محدودو، او ډیر لږ پوهان له فولکلوري نوو میتود ونو سره بلد و، زیاتره لیکوالان او څیړونکی ترې ناخبره وه نوځکه فولکلوري مواد په هماغه عنعنوي بڼه راټول او خوندي کیدل، اوس چی په دې ارتباط نه یوازې داچی زیاتی مقالی خپرې شوي بلکی مستقل آثار هم خپاره شوي دي. چی دفولکلور ټولونی لارې چارې په کی په وضاحت سره روښانه شوي دي،نو بایده دي چی فولکلور څیړونکی دفولکلور ټولونی او څیړنی میتود په کلکه په پام کی ونیسی او که نه نو (خدای مه کړه) دګټی پرځای به زمونږ اصلي فولکلوري شتمنی ته تاوان ورسیږي.

زما خبرې زیاتره هغو محترمو پوهانو او څیړونکو ته هم متوجه دي چی حتی دخپلو آثارو په سریزو کی یی دفولکلور ټولونی میتود ونه تشریح کړي خو په تاء سف سره باید ووایم چی په خپله یی وربانديې پوره عمل نه دی کړی.

[۶۱]

ټوکی ټکالی

لیکونکی: محمد مومن پتوال.

خپروونکی: دافغانستان دعلومو اکادیمی، دژبو او ادبیاتو مرکز، د فولکلور او شفاهی ادبیاتو دیپارټمنټ.

دخپریدو ځای: آریانا مطبعه.

دخپریدو کال: ۱۳۶۹.

مخونه: ۳۷+۲۳۶ = ۲۷۳.

دچاپ شمیر: ۲۰۰۰ ټوکه.

موضوع: ددې مجموعی په لومړۍ برخه کی لطیفی او مطایبی او په دوهمه برخه کی یی مزاح یا مضرې ټوکی او په دریمه برخه کی یی دوښی یادوړې راغلی دي.

په دې مجموعه کی لومړی لیکوال د ټوکو دڅرنګوالی، تاریخی ارزښت ، زیانونو او عیبونو په باب او همدارنګه د ټوکو د ډولونو په باره کی خبرې کړي دي او څه ناڅه رڼا یی پرې اچولی ده.

دغه مجموعه چی د (۶۰۰) په شاو خوا کی ټوکی په کی راغلی دي، داروانباد پتوال په قول دا دده خپله راټولونه ده او له پخوا نیو چاپی او قلمی نسخو لکه (دعبدالکریم پتنګ، عبدالله عیشی او مرحوم نوري) له آثارو څخه یی استفاده نه ده کړې او دا ټوکی په هغی سیمی پورې اړه لري چی دی ورته منسوب دی. دده دخپلی وینا له مخی‌کیدای شی چی یو شمیر ټوکی له نورو (خارجی) ژبو څخه هم راغلی وي. ([78]) خو دا برخه جلا څیړنه غواړي.

۷۸_ محمد مومن پتوال، ټوکی ټکالی. دژبو او ادبیاتو مرکز. اریانا مطبعه. ۱۳۶۹ سریزه، ۳ مخ.

زما په نظر ښایي په افغانستان کی دا د ټوکو لومړۍ پښتو چاپی مجموعه وي چی په دې حجم او دټوکو له زيات شمير سره خپريږي، له دې مخکی هم مونږ ځینی داسی مجموعی لرو چی ټوکی په کی خوندي شوي خو له نورو موضوع ګانو سره یوځای خپرې شوي لکه: دعبدالکریم پتنګ فولکلوري مرغلرې، د (۱۳۵۶) کال د پښتو ټولنی چاپ چی د نورو موضوع ګانو ترڅنګ (۸۰) ټوکی هم په کی خوندي شوي او داسی نور.

ددې اثر دراټولولو او لیکلو په کار کی دخدای بخښلی پتوال کار د ستاینی وړ دی او کیدای شی ددغه اثر په لوستلو لوستونکی ساعتونه مصروف و ساتل شی خو کومه خبره چی یادول یی ضروري بریښی هغه دا چی لیکوال نه ماء خذ ښودلی او نه یی راویان معرفی کړي دي نو له دې امله یی اثر د فولکلور څیړنی له معاصرمیتود سره سم نه دی.

[۶۲]

دپکتیا نکلونه

(دوهم ټوک)

لیکوال: میراحمد ګوربز.

خپروونکی: دافغانستان دعلومو اکادمی، دژبو او ادبیاتو مرکز.

دخپریدوځای: آریانا مطبعه.

دخپريدو نيټه: ۱۳۶۹ .

کچه: ۱۳× ۲۱.

مخونه: متن : ۳۰۵، سريزه او نظريي: ۲۶ .

موضوع: په دې اثر کې د ګوربز و او وزيرو د سيمې يو شمير فولکلوري نکلونه راټول او خپاره شوي دي.

ددې اثر په پای کې يوه (ويي پانګه) هم راغلې چې سيمه ايز لغات پکې معنا او شرحه شوی دي. په دې اثر کې نکلونه دساحوي ريسرچ دميتود پراساس راټول شوي دي. دهر نقل دراوي لنډه پيژندنه هم په کتاب کې راغلې ده او همدارنګه يې د ثبت ځای او نيټه هم ښودل شوی دی.

دغه اثر تر زياته حده د فولکلور ټولونې له اوسنيو ميتود ونو سره برابر راټول او ترتيب شوی دی، ترزياته حده مې ځکه وويل چې بيا هم ځينې کمې لري. په هرحال دغه اثر د فولکلور دمينه والو له پاره داستفادې وړ مواد وړاندې کوي. (۷۹)

[۶۳]

افغانی موسيقی

مؤ لف: څیړنمل محمد دين ژواک.

۷۹_ ميراحمد ګوربز، دپکتيا نکلونه ، دوهم ټوك ، دژبو او ادبياتو مرکز، آريانا مطبعه، ۱۳۶۸.

دنوټېشنونو لیکونکی:استاد محمود فرخ افندي.
کاپی کوونکی: استادفقیر محمد ننګیالی.
خپروونکی: دافغانستان دهنر مندانو اتحادیه.
دخپرېدو کال: ۱۳۷۰ هـ. ش. ۱۹۹۱م.
دخپرېدوځای: آریانا مطبعه.
مخونه :   ۱۶۶+ ۲۰۰ = ۳۶۶.
کچه: ۱۸× ۲۵ سم.
موضوع: دغه اثرڅلور برخی لري چی دهرې برخی په باب به لنډې خبرې وکړو.

لومړۍ برخه :

په دې برخه کی داستاد فرخ افندي پېژندنه او دده ژوند پېښی راغلی دي.

دوهمه برخه :

په دې برخه کی افغانی سندریز مکتبونه ښودل شوي چی دغه برخه څلور فصله لري:

- په لومړي فصل کی دکندهار سندریز مکتب، په دوهم فصل کی دننګرهار سندریز مکتب، په دریم فصل کی دپکتیا سندریز مکتب. په څلورم فصل کی لوګری سندریز مکتب تر څېړنی لاندې نیولی شوي دي.

مؤلف چي هر سندريز مكتب خيړلی ، دهغه په اړه په يو شمير ملي او اولسی سندرو هم غږيدلی او بيلگی يې هم وړاندې كړې دي.

دساري په توگه دكندهار دسندريز مكتب په ارتباط يی بابولالئ د شين خالو نارې، كاكړی نارې، دهوتكو نارې او داسی نورې اولسی سندرې يادې كړي دي.

دننگرهار دسندريز مكتب په ارتباط يی دچار بيتو ، بدلو، بگتيو او لوبو مثالونه وړاندې كړي دي.

دپكتيا دسندريز مكتب له پاره يی داتڼ نارې او سروكی د مثال په ډول راوړي او دلوگر دسندريز مكتب په اړه يی داستاد ډُري لوگري په باب خبرې كړي او هغه يی ددغه سندريز مكتب بنسټ ايښوونكی بللی دی.

دكتاب په دريمه برخه كی په (۱۱) بيلو بيلو سرليكونو كی دلنډيو په باب خبرې شوي چی بيلگی يې هم وړاندې شوي دي.

په څلورمه برخه كی په افغانی سندريز و مكتبونو پورې داړوند و سندرو ځينی غوره نوټيشنونه او دهغو تصنيفونه تر څيړنی لاندې نيول شوي دي.

په دې اثر كی زياتره له ليكلو منابعو څخه استفاده شوې چی ماء خذونه يی هم ښودل شوي دي. دغه اثر دافغانی موسيقی د پيژندنی په باب زما په نظر داستاد رښتين

(دژوند سندره) او د اروابناد غلام جیلاني جلالی له (د پښتو خانتنی ادب او موسیقی) نومو آثارو څخه وروسته لومړنی اثر دی چی مونږ ته افغانی موسیقی را پیژنی . دغه اثر له افغانی موسیقی (خصوصاً افغانی فولکلوري موسیقی) سره د بلد تیا په منظور د استفادې وړ اثر ګڼل کیدای شی.

ددغه اثر دنوتیشنونو برخه استاد محمودفرخ افندي لیکلی، کاپی کوونکی یی استاد فقیر محمد ننګیالی او رسامان یی یوسف کهزاد او یارمحمد تره کی دي. اثر تر زیاتی اندازې په میتود برابر لیکل شوی دی. (۸۰)

[۶۴]

دټوکو خورجین

لیکوال: میرزاعلم حمیدي.

خپروونکی: ؟

دخپریدو کال اوځای: ۱۳۷۰ . دولتی مطبعه.

مخونه : متن : ۲۲۳.

دچاپ شمیر: ۲۰۰۰ ټوکه.

۸۰ـ محمد دین ژواك، افغانی موسیقی، دافغانستان دهنرمندانو اتحادیه، آریانا مطبعه، ۱۳۷۰.

موضوع: په دې اثر کې یو شمیر خورې ورې ټوکې راټولې شوي. چې لوستونکي په ساعتو مصروف ساتلی شي.

دمجموعې په پیل کې دلیکوال سریزه راغلې چې په دې سریزه کې دټوکو په باب دځینو طبي ډاکترانو او پوهانو نظریې او داسې نور مسایل شرحه شوي دي. دسریزې په وروستۍ برخه کې راغلي دي:

" ما په دې مجموعه کې (۴۸۶) ټوکې راغونډې کړي دي چې دټولو خورو ورو ټوکو په پرتله مې دسمندر څخه یو څاڅکی اوبه واخیستی او ګرانو لوستونکو ته به یې په ډیر درناوي وړاندې کوم..." (۸۱)

محترم ټولوونکی دانه ده څرګنده کړې چې دغه ټوکې یې له کومه کړي، له سیمې څخه یې راټولې کړي او که له چاپي او قلمي آثارو څخه؟ ځکه چې له دې اثر څخه مخکې په لره اوبره پښتونخوا کې د ټوکو مستقلې مجموعې او همدارنګه له یو شمیر آثارو سره ګډې هم خپرې شوي، په همدې ډول کتابونو کې یو شمیر خطي مجموعې هم شته .

دټوکو ځینې مجموعې چې خپرې شوي دادي: ټوکې ټکالې د ۱۳۶۹ کال چاپ. فولکلوري مرغلرې چې یوه برخه یې ټوکې دي؛ د ۱۳۵۶ کال چاپ، خوږ باندار، دعبدالله

۸۱_ میرزاعلم حمیدي، دټوکو خورجین، دولتي مطبعه، ۱۳۷۰، سریزه، ه مخ

عیشی دټوکو خطی مجموعه. بله د یادولو وړ خبره داده چی په دې اثر کی ځینی داسی ټوکی هم ترسترګو کیږي چی فولکلوري نه ښکاري، داسی معلومیږي چی له خارجی منابعو څخه دې ژباړل شوي وي.

په هر حال دغه اثر که څه هم دفولکلور په یوه خاصه نوع کی دحجم له نظره پریړ کتاب دی خو دمیتود په باب یی باید ووایم چی له معاصر میتود سره برابر نه دی.

[۶۵]

په لغمان کی دواده دودونه

لیکوال: دسرمحقق مرستیال عبدالجبار نادر.

خپروونکی: دپښتو څیړنو بین المللی مرکز.

دخپریدو ځای: دښوونی او روزنی مطبعه.

دخپریدوکال: ۱۳۷۰.

مخونه: ۱۲ + ۷۱ = ۸۳.

کچه: ۱۲×۱۴.

موضوع: په لغمان کی دواده دودونه، له ریباري څخه نیولی بیا دواده تر پایه چی څه دودونه دي، ټول په کی راغلی دي.

داثر په پیل کی له معمول سره سم فهرست، وړپسی نظریی او تقریظونه راغلی او وړپسی دلیکوال سریزه او بالا

خره اصلي متن پيل شوی دی. په سريزه کی دالاندې دوه سر ليکونه څيړل شوي دي:

۱_ دلغمان جغرافيايی موقعيت.

۲_ دکار طريقه .

ليکوال: دخپل کار طريقه داسی بيانوي:

الف: په يو شمير زياتو ودونو کی زما ګډون او په هغو کی له پيل نه تر پايه پورې برخه اخيستل.

ب: دمختلفو کليو او بانډو له يو شمير زياتو سپين سرو ښځو او نارينه وو سره مرکه او له دغی لارې دکوژدې او واده په باره کی دمعلوماتو راغونډول.

ج: دراغونډ شوو معلوماتو د تدوين او انسجام په منظور ديوې مفکورې ترلاسه کولو دپاره دمختلفو ولا ياتو دواده او کوژدې دپړاوونو مطالعه کول اوله هغو څخه يوه انتباه اخيستل...." (۸۲)

دغه رساله په خپل ځای دارزښت وړ او په لغمان کی دواده د دودونو په باب يو لړ معلومات ورنه تر لا سه کيدای شی. زه په خپل وار داثر دليکوال او دپښتو څيړنو دبين المللی مرکز هڅی ستايم خو ضمناً ددې اثر په باب يو څو ټکی عرض کول غواړم. چی که په راتلونکی کی دغه اثر بيا

۸۲_ عبدالجبار نادر، په لغمان کی دواده دودونه، دپښتوڅيړنو بين المللی مرکز، دښوونی او روزنی مطبعه، ۱۳۷۰، سريزه، ل مخ.

خپرېږي يادې ته ورته آثار رامنځ ته کيږي. په هغو کې دفولکلور ځېړنې معاصر میتود پوره مراعات شي.

لومړی: زما په اند ليکوال زياتره په خپلو مشاهداتو تکيه کړې ده ځکه چې يوازې دا خبره کافي نه ګڼل کيږي چې سړی ووايي له سپين ږيرو يا سپين سرو څخه مې مواد راټول کړي بلکې بايد راويان معرفي ، وخت او سيمه مشخصه شي.

دوهم: دا ثر له مطالعې څخه سړی پوهيدای شي چې ليکوال ددې اثر په ليکلو کې له يو شمير چاپي او قلمي آثار و څخه استفاده کړې(چې ده خپله هم اقرار کړی چې يو شمير آثاريې په دې اړوند مطالعه کړي) خو متاء سفانه چې ديوه ماء خذ نوم يې هم نه دی يادکړی.*

دريمه خبره: دا ده چې محترم ليکوال دده دشفاهي وينا له مخې (١٧-١٨) کاله کيږي چې لغمان ته نه دی تللی نو ده کله دغه ودونه او کوژدې مشاهده کړي او همدارنګه له ١٣٥٧ کال نه را په ديخوا دواده او کوژدې د دودونو په برخه کې دزماني دجبر پر اساس دکتنې وړ بدلونو نه راغلي مګر

---

* ـ دساري په ډول دپښتني فولکلور فرهنګ. چې دفولکلور او شفاهي ادبياتودڅانګې غړو په ګډه کار و رباندې کړی او په ١٣٦٣ کال کې يې دغه کار سرته رسولی او په (١٣٦٦) کال کې ددوهم ځل لپاره اصلاحي کتنه ورباندې شوې . محترم ليکوال ددغې پروژې ددودونو له برخې څخه استفاده کړې حتی اصطلاحات يې مستقيماً ورڅخه اخيستي دي. خو ددې ماء خذيې هيڅ ذکر نه دی کړی.

محترم لیکوال دغو بدلونو ته اشاره قدرې هم نه ده کړې زما دغه یادونه په دې منظور ده چې باید دفولکلوري مواد و دثبت نیټه څرگنده وي ځکه چې دزمانی په تیریدو زیاتره دود- ونه یا له مینځه ځي او یا بدلون پکی پیښیږي. څرنگه چې دا اثر په (۱۳۷۰) کال کې چاپ شوی باید د پخوانیو دودونو په څنگ کې د تغیراتو یوه ضمنی یادونه هم شوې وای.او یایې تاکلې نېټه ښودل شوې وای.

څلورم: لیکوال دخپل اثر په پای کې دلغمان او نور ستان دواده ددودونو یوه مقایسوي څیړنه وړاندې کړې ده ؛ لومړی دا چې نورستان اوس یو مستقل ولایت دی خو محترم لیکوال دلغمان مربوطه ولسوالی گڼلی ده . دوهم دا چې دی کله نورستان ته تللی چې هلته یې ودونه مشاهده کړي او که دکوم ماء خذ یا اشخاصو څخه یې پوښتنه او استفاده کړې وي باید ذکر شوی وای.

همدارنگه لیکوال یو شمیر دودونه په ټول لغمان تپلی چې داکار (زما په نظر) سم نه ښکاري ځکه هلته ځینی داسی دودونه هم شته چې په محدودو کورنیو پورې یا محدودو خیلونو پورې منحصر وي. دبیلگی په ډول (چغلبازی) عامه بڼه نه لري او حتی ډیر خلك ددغه دود غندنه کوي او بد ورڅخه وړي، له بلی خوا محترم لیکوال دیو شمیر دودونو له پاره دمروجو اصطلاحاتو پرځای بدل اصطلا حات کارولی .

لکه : ساراګشت دفارسي د (سبزه لګد) معادل استعمال شوی چی پښتنانه او دري ژبی ساراګشت په بله مانا کاروي او په لغمان کی ددغی اصطلاح یو اوږد شکل مروج دی: (ناوې سارا)یا(صحرا) ته ایستل.

په پای کې باید ووایم چی دغه اثر دفولکلور څیړنی له معاصر میتود سره سم نه دی لیکل شوی، ځکه چی د فولکلور ټولونی موازین په کی په نظر کی نه دي نیول شوي.

[۶۶]

دمومندو نرخونه

لیکوال: مجاور احمد مومند.

خپروونکی: دافغانستان دعلومو اکادمی، دژبو او ادبیاتو مرکز، دفولکلور او شفاهی ادب دیپارتمنټ.

دخپریدو نیټه: ۱۳۷۰.

دخپریدوځای: دولتی مطبعه.

دچاپ شمیر: ۱۰۰۰ ټوکه.

مخونه : ۱۸+۸۲ = ۱۰۰ .

کچه: ۲۴× ۱۶

موضوع: په دې رساله کی دموندو دبابیزو دسیمی بیلا بیل نرخونه او پریکړې راټولی او خبرې ورباندې شوي دي.

په دې اثرکې له نورو ضروري خبرو وروسته ليکوال لومړۍ ددغې سيمې مشهور نرخيان او بيا يې د باييزو سيمه معرفي کړې ده او دده په خپل قول ددې کار په تر سره کولوکې يې د (سروې ميتود) کارولی دی.

نوموړي دخپل کار په باب يوځای داسې ليکي:
" تر اوسه پورې دمومندو د پښتنې قبيلې د نرخونو په باب چا کومه ځانګړې هر اړخيزه څېړنه نه وه کړې او نه په دغه برخه کې کوم ساحوي ريسرچ او تحقيق تر سره شوی و.

دا لومړی ځل دی چې ما په خپل وار سره دغه مهم او غوره کار ته ملا وتړله . دبنده په وس چې څه پوره وو. دمومندو له کلو او بانډو څخه مې د مشرانو او پوهو نرخيانو له خولې نرخونه راټول کړل چې يوځانګړی اثر ترې جوړ او ترتيب شو...." ([83])

ددې اثر په يوه بله برخه کې راغلي دي: " ... دکتاب ډيزاين له منل شوو نړيوالو معيارونو سره سمون لري او له همدې امله دفورم او جوړښت په لحاظ يو اکاډميک اثر بلل کيږي. " ([84])

۸۳ـ مجاوراحمد مومند . دمومندو نرخونه، دژبو او ادبياتو مرکز. دولتي مطبعه ۱۳۷۰. و مخ.

۸۴ همدغه اثر شپږ مخ (دروهي تقريظ)

زه په خپل وار په داسی حال کی چی دلیکوال زیار ستایم دده له پاره په دې لاره کی نور بریالیتوبونه هم دخدای (ج) له دربار څخه غواړم او له خپلو نورو ورونو څخه هیله مند یم چی همدغسی دده په شان ځان په تکلیف او میتود یك آثار رامنځ ته کړي.

[۶۷]

ادبیات مردم

مؤلف: محمد شفیق وجدان.

خپروونکی: داطلاعاتو او کلتور وزارت.

دخپریدو ځای: دولتی مطبعه.

دخپریدو کال: نامعلوم.

مخونه : ۱۴۹.

کچه: ۱۶×۲۱ سم.

موضوع: په دې اثر کی لیکوال هڅه کړې چی دملی ادبیاتو ځینی بیلګی سره راټولی او یوه مجموعه ترې جوړه کړي. په دې مجموعه کی د دوو رسمی ژبو (پښتو او دري) یو شمیر متلونه کیسی او نور خوندي شوي دي.

ددې مجموعی پښتو برخه په دې ډول ده :

پښتو متلونه:

په دې برخه کې د پښتو (۱۹۷) متلونه دالفبې په ترتیب راغلي چې پر له پسې نومره هم لري. دغه برخه دمجموعې په (۱۱_۱۷) مخونو کې راغلې ده.

همدارنګه په دې مجموعه کې د پښتو دغه لاندې فولکلوري نکلونه هم خوندي شوي دي:

۱_ آدم خان او درخانۍ له	۲۲-۶۳	مخه
۲_ خشکیار او شاترینه،له	۶۳-۷۱	رر
۳_ ملا عباس او ګلبشره،له	۷۱-۹۹	رر
۴_ دانسان کمال، له	۱۱۹-۱۲۰	رر
۵_ نیکمرغه، له	۱۲۰-۱۲۱	رر
۶_ددرواغجن نتیجه،	۱۲۲ مخ	
۷_ دوه ګیدړان،	۱۲۲ مخ	

پښتو لنډۍ:

په دې اثر کې دبیلا بیلو موضوعاتو په ارتباط یوشمیر پښتو لنډۍ هم راغلي چې دکتاب له ۱۳۶- ۱۴۰ مخه دوام کوي. همدارنګه په ۱۴۶- ۱۴۷ مخونو کې د پښتو (۱۴) کیسۍ (چیستانونه) هم راغلي دي.

ددغه اثر په ترتیب او تدوین کې د پښتو اوفارسي له چاپي مجموعو څخه استفاده شوې چې دفهرست په پای کې ددغو آثارونومونه دهغو له مؤلفینو سره یو ځای یاد شوي خو

دانه ده ښودل شوې چې کومه فولکلوري کیسه یا متل له کوم اثر څخه را اخیستل شوي دي. دغه اثر تر زیاته حده په میتود برابر دی. (۸۵)

۸۵ـ محمدشفیق وجدان، ادبیات مردم، داطلاعاتو او کلتور وزارت، دولتی مطبعه...؛

دریمه برخه

په لره پښتونخوا کې

دپښتنې فولکلور ټولې شوې چاپې مجموعې

[۱]

حیات افغانی*

لیکوال: محمد حیات خان.

له اردومتن څخه په پښتو ژباړونکې: محقق فرهاد ظریفی او محقق عبداللطیف طالبی.

دپښتو متن تحشیه، تعلیقات او سریزه: اکادیمسین عبدالشکور رشاد.

*ـ ما دغه اثر په کوزه پښتونخواکې په لومړي کتار کې حساب کړی او یا په بل عبارت لومړی می معرفي کړی، په دې دلیل چې ددغه اثر اردو متن (چې اصل دی) په (۱۸۶۸ ع) کال کې چاپ شوی دی. که څه هم پښتو ترجمه یې وروسته خپره شوې ده. (لیکوال)

خپروونکی: دسرحدونو چارو وزارت، دنشراتو او فرهنگی چارو ریاست.
دخپریدوځای: آریانا مطبعه.
دخپریدو نیټه: ۱۳۷۰.
مخونه: ۱۰+۳۲۶+۲۷۴+۲۷۴+ ۲۴ = (۹۰۸).
موضوع: دغه اثر چې محمد حیات خان په (۱۸۶۵ ع) کال بشپړ کړی او په (۱۸۶۸ ع) کال په اردو ژبه چاپ او خپور شوی دی. دافغانانو (پښتنو) تاریخ دی چې ددوی په تاریخ او جغرافیه برسیره ددوی کړه وړه، عادات، دودونه، نرخونه پوښاک، خوراك او دژوندانه نور اړخونه هم په کی شرحه شوي دي.
دغه اثر چې پښتو ژباړه یی په دریو و ټوکونو کی خپره شوې، په نورو برخو یی خبرې نه کوم یوازې په هغو برخو یی بحث کوم چې د پښتو له فولکلور سره اړه لري. څرنګه چې ما ته دخپل کار په جریان کی اردو متن لاس ته رانه غی نو ځکه می له پښتو ترجمې څخه استفاده وکړه.
دحیات افغانی په لومړي ټوك کی د (پنج پای قبیلی ښاخونه) تر سرلیك لاندې ددغی قبیلی د بیلا بیلو څانګو لکه نور زیو، علیزیو، اسحاق زیو او ځینو نورو څانګو دواده دستور، دکیږدۍ دستور، خوراك، پوښاك، دود او دستور، معمولی عادتونو او میلمه پالنی په باب دکتاب له (۲۱۵-۲۲۳) مخه بحث راغلی دی.

همدارنگه دملتان دافغانانو دحال د بیانولو په ترځ کی ، ددوی د ژوندانه ډول بیان شوی دی. په همدې ترتیب له (۲۷۹-۳۰۸) مخه دیوسفزیو ځینی دودونه او دستورونه لکه پښتنی ننګ ، دښځو ننګ، دواده دستور او همدارنګه دویش په لارو چارو یی خبرې شوې دي. (۱)

ددې اثر په دویم ټوك كی له (۱۲۰- ۱۴۷) مخه دځدرانو او امانخیلو نرخونه او دودونه بیان شوي دي. (۲)

دحیات افغانی په دریم ټوك كی دمروتو او ځینو نورو قومونو ددود او دستور په باب خبرې شوي چی شیتك نه دي خو په دې سیمه كی میشته دي (۳)

که څه هم دغه اثر دفولكلور په باب یوه مستقله مجموعه نه ده ، بلكی یو تاریخی اثر دی، دا چی د پښتنی فولكلور په باب په كی زیات مواد راټول شوي، نو ځكه مې په خپله رساله كی معرفی كړ څو په راتلونكی كی زمونږ دفولكلور څیړونكو دتوجه وړ وګرځی.

ددغه اثر دفولكلوري برخی په باب کومه منبع نه ده په ګوته شوې ښایي لیکوال یوڅه په خپلو مشاهداتو تکیه کړې وي او څه یی له خلكو څخه راټول كړي وي، دا چی

۱_محمد حیات خان، حیات افغانی، لومړی ټوك، دمحقق طالبی او محقق ظریفی ژباړه دسرحدونو چارو وزارت، آریانا مطبعه، ۱۳۷۰.
۲_ پورتنی اثر، دوهم ټوك.
۳_ همدغه اثر، دریم ټوك.

مآ خذاو منابع یی نه دي ښودلی: دغه برخه یی په بشپړ ډول دفولکلور ټولونی له معاصر میتودسره برابره نه شو ګڼلی. خو ددې خبرې یادونه هم ضروري ده چی ددغه اثر دلیکلو په وخت کی لا دفولکلور ټولونی په باب میتود یکې هڅی محدودې وې او لا عامی شوې نه وې.

[۲]

متلونه

داسې ښکاري چی اروانښاد قاضی رحیم الله په پیښور کی په ۴۳- ۱۹۳۸ کلونو کی دمتلونو یوه مجموعه چاپ کړې ده ، چی دمتلونو په خصوص کی دانسیکلوپیدیا حیثیت لري او ډیرش زره متلونه په کی راټول شوي دي. (۴)

[۳]

پشتو لوګیت

ټولوونکی او اردو مترجم: فارغ بخاري.
خپروونکی: نیا مکتبه قصه خوانی بازار پشاور.
دخپریدو ځای: انشا پریس، لاهور.

۴_ م.ګ، اسلانوف، پښتو فولکلور او په شوروي اتحاد کی یی ژوره مطالعه، (مترجم: معتمد)، دفولکلور پوهنی سیمپوزیم، ۱۳۶۶، ۷۰ مخ.

دخپریدو نیټه: ۱۹۵۱ .

مخونه : دسریزې په شمول (۲۰۶)

موضوع: په دې اثر کی دپښتو یو شمیر عامی اوخاصی سندرې (لنډۍ . چاربیتی. لوبی . بګتی. نیمکۍ او الله هو سندرې) راغلی . چی په اردو ترجمه شوي دي.

د اثر په پیل کی په اردو ژبه داجمل ختټك سریزه او وریسی د (پشتو لوګګیت) ترسرلیك لاندې دلیکوال سریزه راغلی. چی وریسې دکتاب متن پیل کیږي.

په دې اثر کی یو شمیر ګلچین لنډۍ راټولی شوي چی لومړی پښتو لنډۍ او وریسی دهمدغی لنډۍ اردو ترجمه راغلی ده. ددغو لنډیو شمیر(۵۷۷) ته رسیږي چی د بیلو بیلو موضوعاتو (مذهبی. محاکاتی. تاریخی. سیاسی. طنزیه. عشقی) په باب ویل شوي دي.

باید یادونه وشی چی په دې اثر کی دراغلو ډول ډول سندرو دراټولولو کومه منبع او ماء خذ نه دی په ګوته شوی چی ایا دغه مواد له ساحی څخه راټول او په دې کتاب کی خوندي شوي او یا دلیکلو منابعو څخه انتخاب او چاپ شوي؟ دکتاب په سریزه یا کوم بل ځای کی دغسی یادونه یا لیکنه زما په نظر رانغله. نو ځکه ویلی شم چی دغه اثر له اوسنی میتود سره برابر نه دی. (۵)

۵ـ فارغ بخاري. پشتو لوګګیت. نیا مکتبه . قصه خوانی بازار پشاور . انش پریس لاهور. ۱۹۵۱

[۴]

تاریخي چاربیتي

ټولوونکی: نصرالله خان نصر.

خپروونکی: دادبي ټولي صوبه سرحد لوی مرکز. برتهکال. پېښور.

دخپریدو کال اوځای: ۱۹۵۳ء اکتوبر. سرحد برقي پریس.

کچه: ۲۲×۱۸ سم

مخونه : ۱۶.

موضوع: دتاریخي پېښو په باب دویل شوو تاریخي چاربیتو مجموعه ده چې دعزیز ، دلیل ،عبدالغني، عبدالحکیم ستي او ملا مقصود نومو شاعرانو له خولې ویلی شوي دي.(۶)

[۵]

پټهانو کی رومان

مؤلف : فارغ بخاري.

اردو مترجم: رضا همداني.

۶ـ حبیب الله رفیع، پښتو پانګه، دوهم ټوک، پښتو ټولنه، دولتي مطبعه ۱۳۵۶، ۳۸۸ مخ.

دخپریدو ځای: اشرف پریس لاهور.
دخپریدو نیټه: ۱۹۵۵
مخونه : ۱۲۴.

موضوع: په دې اثر کې د پښتو دا لاندې (۹) فولکلوري کیسې په اردو ترجمه شوې دي:

۱_ آدم خان – درخانۍ.
۲_ موسی خان – ګلمکۍ.
۳_ فتح خان- رابیا.
۴_ جلات خان – محبوبا.
۵_ ښادي- بیبو.
۶_ مومن خان-شیرینو.
۷_ یوسف کړه مار.
۸_ تور دلی- شهۍ.
۹_میمونۍ (۷)

[۶]

دنوره دین چاربیتی

مرتب: نصرالله خان نصر، کاتب محمد ګل رحیم اسماري.
خپروونکی: په خپله مرتب.

۷_ دپښتنې فولکلور دترجمو تاریخی سیر (ټاپپی اثر)، ۳۵ مخ.

دخپریدو ځای او نیټه: ۱۹۵۸م ، شاهین برقی پریس، پیښور.
دچاپ شمیر: ۱۰۰۰ ټوکه.
مخونه : ۱۴۴.
کچه: ۱۲×۱۹ سم.
موضوع: په دې مجموعه کې د پښتو دنامتو اولسی شاعر نوره دین چاربیتی راټولی او خپرې شوي دي.

په دې اثر باندې مرحوم نصرالله خان نصر یوه (۱۶) مخیزه سریزه لیکلی چی په ترڅ کی یی دنوره دین په پیژندنه زما نه او دهغه وخت په حالاتو رڼا اچولی ده.

دلته باید یادونه وکړو چی ددغو چاربیتو منبع نه ده ښودل شوې، چی له کومه شوي او له کوم ځایه اوله چا څخه یی راټولی کړې دي، یوازې اویوازې داخبره څرګنده ده چی مرتب یی نصرالله خان نصر دی. نو له همدې امله یی په میتود برابر نه شو ګڼلی. (۸)

[۷]

دمروتو کسرونه

حاشیه لیکونکی او مصحح: عبدالرحیم مجذوب مروت.

۸ـ نصرالله خان نصر، (مرتب) ، دنوره دین چاربیتی، شاهین برقی پریس پیښور، ۱۹۵۸.

خپروونکی: پیښور یونیورسټی ، پښتو اکیډمی.

دخپریدو ځای او نیټه: پبلك آرټ پریس، پیښور (۱۹۵۹).

مخونه: ۱۲۸.

کچه: ۱۶× ۲۰ سم.

موضوع: دمروتو دقام هغه محلی سندرې په کی راټولی شوي چی په بیلا بیلو وختو کی یی دخپلو نیکونو په باب ویلی دي. دغه سندرې د پښتو په اولسی ادب کی یو ځانګړی باب بلل کیدای شی.

ددې اثر په پیل کی د میرشرف خان وزیر له خوا یوه دیباچه لیکل شوې او ورپسی دمولا نا عبدالقادر سریزه راغلی‌ده ، چی دکتاب دچاپ نیټه هم دسریزې په پای کی راغلی ده او دکتاب په پوښ نه ده لیکل شوې.

دمروتو دکسرونو په دې مجموعه کی دجرس، میرهوس، دوران، دینك، لاجمیر، عطایی، نورمحمد ، کنډ-اتی، میخان ، سلطان او ځینو نامعلومو اولسی شاعرانو کسرونه راټول شوي دي.

ددې مجموعی په باب دمولا نا عبدالقادر په سریزه کی راغلی دی چی دغه مجموعه ده (مولا نا عبدالقادر) ته ، حبیب الله خان مروت سپارلی ده چی هغه ته یې یوه دوست

عبدالله جان بګو خیل را لیږلی وه ، په دې لحاظ د مجموعی ټولوونکی څرګند نه دی او نه یی د ټولولو دډول په باب څه ویل شوي دي نو ځکه یی په میتود برابره نشو ګڼلی.

ددې اثر په دیباچه کی دمروتو دکسرونو په باب معلومات وړاندې شوي او هم دکسر لغوي مانا په کی څېړل شوې ده . (٩)

[٨]

ګل ټپی

(لومړی ټوک)

ټولوونکی: ګل محمد خان کاکړ.

دخپریدو کال: ١٩٦١ - اسلامیه پریس کوټه.

کچه: ١٢×١٨ .

مخونه : ٢٩٢ .

موضوع: دالفبی په ترتیب د پښتو زرګونه لنډۍ پکی راغونډې شوي او خوند ور اثر دی. (١٠)

٩ـ عبدالروف مجذوب، دمروتو کسرونه، پېښور یونیورسټی، پښتو اکیډمی، ١٩٥٩.

١٠ـ پښتو پانګه، لومړی ټوک ، ٢٥٧ مخ .

ګل ټپې
(دوهم ټوک)

ټولوونکی: ګل محمد کاکړ.
دخپریدو کال: نه لري.
کچه: ۱۲×۱۸ سم
مخونه: ۱۶۲+ ۲۴۰+ ۱۹= ۵۲۰ .

موضوع: دا هم دپښتو لنډیو یوه مجموعه ده ، چې بیا هم په دوو برخو کې له الفبې نه شروع شوې او دواړې برخې یې له یوې ضمیمې سره راغلې دي.[۱۱]

[۹]

سرود کهسار
(پښتو ټپې او ران اردو ترجمه)

ټولوونکی او اردو مترجم: محمد یونس سیټهی وفا .
دخپریدو او چاپ نیټه: ۱۹۶۳ع
دچاپ ځای: حمیدیه پریس پشاور
دچاپ شمیر: ۲۰۰۰ ټوکه.
خپروونکی: یونیورسټی بك ایجنسی پیښور.

۱۱_ پښتو پانګه (لومړی ټوک) ، ۱۳۵۴ ، ۲۵۷ مخ .

دغه اثر چې د بیلا بیلو موضوعګانو په باب لنډۍ په کې راټولې او په اردو ترجمه شوي، د موضوعاتو شمیر یې (۳۰) ته رسیږي، د بیلګې په ډول: نعتیه ، د مینې په باب، ژړا ، بیلتون ، زړه ، ارمان، تلوسې او داسې نور.

دکتاب جوړښت داسې دی چې لومړۍ پښتو لنډۍ لیکل شوې او ترې لاندې دهمدغې لنډۍ اردو ترجمه راغلې ده . په ځینو ځایو کې د موضوع دلا وضاحت په منظور فارسي او اردو بیتونه هم راوړل شوي دي.

دکتاب په پیل کې د (تعارف) تر سرلیك لاندې د قدرت شهباب یادونه او وروسته د لیکونکې سریزه راغلې ده. په کتاب کې لومړۍ د ټپې او دهغې د خصوصیاتو په باب خبرې شوي او د سریزې په وروستۍ برخه کې لیکوال دخپل کار دمیتود په باب په لنډه و ټکو کې خپل مطلب څرګند کړی دی.

لیکونکې د مقدمې په پای کې له یو شمیر هغو ښاغلو څخه مننه کوي او نومونه یې اخلي کومو چې ددغه اثر په ترتیب او تنظیم کې له لیکوال سره مرسته کړې او مشورې یې ورکړې دی. دلته به په اردو ژبه دلیکوال د لیکنې یوه برخه راواخلو:

"اس مجموعی کی مرتب مین جن احباب گرامی نی مجھی اپنی قیمتی مشورو سی نو از امین ان کا بیحد

احسان مند هوي- ان مين قاضی عبدالحلیم اثر. محمود الحسن کوکب اور مشتاق احمد مشتاق کی نام قابل ذکر هيی." (۱۲)

ددې اثر د کښلو په باب بله داسی یادونه نه تر سترګو کیږي څو سړی و پوهیږي چی دغه ټپی له کومه شوي. ایا له کتبی منابعو څخه رانقل شوي او که له ساحی. نو ځکه ویلی شو چی اثر په میتود برابر نه دی. که څه هم د لیکوال زیار د قدر وړ دی چې پښتو اولسی ادب یې اردو ژبو ته وریپیژندلی او دغه ذخیره یې خوندی کړی ده.

[۱۰]

چټانین اور رومان

مولف او اردو مترجم: خاطر غزنوي.

خپروونکی: ؟

د خپریدو نیټه او ځای: ۱۹۶۵ع - پیښور.

مخونه: ۱۶۴

موضوع: په دې اثرکی د پښتو لا ندینی (۲۰) فولکلوری کیسی په اردو ترجمه شوی دی.

۱۲_ محمد یونس سیتهی وفا، سرود کهسار. یونیورسټی بك ایجنسی پیښور. ۱۹۶۳. ۱۳ مخ

(۱) میمونی.
(۲) توردلی- شهی.
(۳) فتح خان - رابعه.
(۴) جلات خان- محبوبه.
(۵) موسی خان- ګلمکی.
(۶) حکم جانه.
(۷) بنادی - بیبو.
(۸) ظریف خان ظریف.
(۹) نیمبولا او تیمبولا.
(۱۰) شهزاده بهرام او ګل اندامه
(۱۱) قطب خان - نیازو.
(۱۲) یکه یوسف.
(۱۳) شیربانو
(۱۴) مومن خان- شیرینو
(۱۵) ولی جان- تانو.
(۱۶) سیف الملوك - بدیع الجماله.
(۱۷) مریم.
(۱۸) عظیم کوشلیا.
(۱۹) نعمان - صاحبزادګی.
(۲۰) اسلام بی بی.[۱۳]

۱۳_ د پښتني فولکلور د ترجمو تاریخي سیر، ۱۳۶۶، ۴۰ مخ.

[۱۱]

سرحد کی رومان

ټولوونکی او اردو مترجم: خاطر غزنوي.

دخپریدو ځای: پیښور

مخونه: ۱۷۴.

دخپریدو کال: ۱۹۶۵.

موضوع: په دې اثرکی د پښتو (۲۰) فولکلوري کیسی په اردو ترجمه شوي دي. په پیل کی د مولا نا عبدالقادر یادونه، وروسی د مترجم سریزه راغلی ده.

کیسی دادي:

۱_ میمونی.

۲_ توردلی- شهی.

۳_ آدم خان- درخانی.

۴_فتح خان- رابعه.

۵_جلات خان – محبوبه.

۶_ موسی خان – ګلمکی.

۷_ حکم جانه.

۸_ خادي - بيبو.
۱۰_ تيمبولا- ويمبولا .
۱۱_ شهزاده بهرام
۱۲_ قطب خان - نيازو.
۱۳_ يکه يوسف- شيربانو .
۱۴_ مومن خان- شيرينو.
۱۵_ ولی جان - تانو.
۱۶_ سيف الملوك_ بديع الجمال.
۱۷_ مريم-۱۸_ عظيم کوشاليا .
۱۹_ نعمان - صاحبزادګی.
۲۰_ اسلام بی بی.[۱۴]

يادونه :

ددې اثر او په چتهانين اور رومان کی راغلی کيسی زياتره په عناوينو کی سره ورته او هم دواړه آثار ديوه ليکوال او په يوه کال خپاره شوی دی او دکيسو شمير يې هم مساوی دی.

له بلې خوا په دې آثارو کې ټولې کيسې د پښتو فولکلوري کيسې هم نه شو بللی ، چې دا دواړه موضوعګانی د جلا څيړنی ايجاب کوي.

۱۴_ د پښتني فولکلور د ترجمو تاريخی سير. ۱۳۶۶ ، ۴۱ مخ .

[۱۲]

دټکرو شکور

ویونکی: تندرخټک

خپروونکی: قصه خوانی بازار، حاجی فضل احمد تاجر.

دخپریدو ځای: پیښور.

دخپریدو نیټه: ۱۹۶۷.

موضوع: په دې اثر کې د تندر خټك يو شمير هغه اشعار راغلی چی په اولسی کالبو نو کی ویل شوی دی، لکه: لوبی، بګټی، او همدارنګه ځینی منظومی کیسی او يو شمير لنډۍ چې ده په خپله جوړې کړي؛ هم راغلی دي.

درسالې په وروستۍ برخه کې د خطاط له خوا یوه منظومه دعائیه لیکل شوې ده.

دغه رساله چې په پیل کی یوه لنډه کی سریزه هم لري او ښایی په خپله شاعر تد وین کړی وی او یا به د کتابونو تاجرانو . خو له سریزې څخه څه داسې نتیجه نه شي تر لاسه کیدای چې چا تر تیب کړې ، خو دا په ډاګه معلومیږې چې دقصه خوانی بازار تاجرانو چاپ کړې ده.

سره له دې ټولو خبرو چې مصنوعی لنډۍ هم پکې شته بیا هم د فولکلور پستانو د مطالعې له پاره د استفادې وړ ګڼل کیدای شی.[۱۵]

[۱۳]

کاکړۍ لنډۍ

لیکونکی: صاحبزاده حمیدالله.
خپرونکی: یونیورستی بك ایجنسی، پیښور.
دخپریدو کال او ځای: ۱۹۶۷م = ۱۳۸۷ هـ .ش
منظور عام پریس پیښور.
کچه: ۱۶× ۲۱ سم
مخونه: ۱۲۰

موضوع: په دې مجموعه کی څه ناڅه (۶۰۰) کاکړۍ لنډۍ راټولی شوي چې ددغو کاکړیو غاړو بیلا بیل ډولونه (البته د موضوع په لحاظ) ښودل شوي او تبصرې هم وربانددې شوي دي.

د غه کاکړۍ غاړې چې د بیلو بیلو موضوعګانو (عشقی، دینی، جنګی او ...) په باب د صاحبزاده حمیدالله له

۱۵_ تندرختك، د ټکرو شکور، قصه خوانی بازار پیښور، ۱۹۶۷.

خوا راټولی او د (کاکړی لنډۍ) په مجموعه کی چاپ شوی دی، دکوم خاص میتود له مخی دا کار نه دی شوی. [۱۶]

یادونه :

کاکړی غاړې ، چې هره مصرع یې (۸) څپې ده او صاحب زاده صاحب یې کاکړی لنډۍ بولی، د پښتو له معمولو او مشهورو لنډیو سره د څپو د شمیر له مخی تو پیر لری، ځکه چې د لنډیو لومړۍ مصرع (۹) او دوهمه یې (۱۳) سیلابه ده .

[۱۴]

دغروځوکی

(دپښتو صحرایي بدلې)

لیکونکی: صاحب زاده حمیدالله.

خپروونکی: پخپله لیکوال.

دخپر یدونیټه او ځای: ۱۳۸۸هـ، اسلامیه پریس کوټه.

مخونه : ۹۶.

۱۶_ صاحب زاده حمیدالله، کاکړی لنډۍ، منظورعام پریس پېښور، ۱۹۶۷.

دچاپ شمیر: لومړی چاپ: ۲۵۰ ټوکه .
کچه: ۱۴×۲۲.

موضوع: په دې رساله کې د هغو اولسي شاعرانو بیلا بیلې سندرې راټولې شوی چې په ټولنه کې له یوې سینې نه بلې ته انتقال شوي او تر دې وخته را رسیدلې دي. په رساله کې لومړی لیکوال ددغو سندرو په باب ځینې تحقیقي مطالب وړاندې کړي او یوه نسبتاً اوږده ځیړنه یې ورباندې کړې ده او همدارنګه دهر ډول بدلو یا سندرو په باب یې هم خبرې کړې دي.

دغه رساله داولسي ادب دڅیړونکو او مینه والو له پاره دعلاقې وړ مواد وړاندې کولی شي. په رساله کې د میړانې او زړورتیا په باب او همدارنګه دعشقي، دیني، معاشرتي او نورو موضوعګانو په باب بدلې راغلې دي، چې ټول شمیر یې (۳۶) ته رسیږي.

دا رساله لیکوال په (۶۴) کال کې لیکلې ده چې وروسته څه نورې بدلې پرې زیاتې شوې او په (۱۹۶۹) کال کې یې د چاپ جامه اغوستې ده .

درسالې کتبي او شفاهي ماخذونه ، نه دي ښودل شوي نو له دې امله یې په میتود برابره نه شو ګڼلی. (۱۷)

۱۷- صاحب زاده حمیدالله، دغروڅوکي، اسلامیه پریس ،کوټه، ۱۹۶۹م .

[۱۵]

پښتنی افکار
یا په بل عبارت
(پښتو کیسې)

ټولوونکی: ولی محمد خان سیال کاکړ.

خپروونکی: ؟

دخپریدو کال اوځای: ۱۹۶۹. دجولاي ۲۶ مه .
اسلامیه پریس ، کوټه.

دچاپ شمیر: ۱۰۰۰ ټوکه .

کچه: ۱۲× ۱۸ سم.

موضوع: په دې رساله کې یو شمیر پښتو کیسې (چیستاتونه) راټولی او حل شوي دي. د رسالې په پیل کې: تړون ، کور ودانی او اعتذار سر لیکونه. ورپسی د رسالې فهرست راغلی دی. همدارنګه په دې اثر کې د کیسیو په باب د یو شمیر لیکوالو نظریو او دسلطان محمد خان صابر سریزې ته ځای ورکړل شوی دی.

په رساله کې تر (۵۲) مخه د کیسیو په بیلا بیلو سر لیکونو کې معلومات وړاندې شوي او په (۵۳) مخ کې کیسې پیل شوي دي.

ددغو کیسیو په لیکلو کې د ردیف مراعات شوی چې د (الف) په توری پیل او په (ي) پای ته رسیږي. د هر ردیف کیسې پر له پسې ګڼه هم لري. د کیسیو د لیکلو ترتیب داسې دی چې دهر مخ ښی اړخ ته کیسې او کیڼ اړخ ته یې ځواب لیکل شوی دی. د بیلګې په ډول:

- پورې اورې غر، پکې ناست دی قلندر. (زړه)

دمجموعې ټولوونکی په ځینو کیسیو کې رکیك الفاظ حذف کړي دي. لکه:

-بابا په ونه ځړیږي، پرتوګ یې په .... ځړیږي. (کلپ او کلي)
(۵۳ مخ)

محترم لیکوال د خپل کار په اړه د (کور ودانی) تر سر لیك لا ندې له هغوځلورو تنو څخه مننه کړې، چې ددغو کیسیو په راټولولو کې یې له ده سره مرسته کړې ده، ددغو کسانو یې یوازې د نومونو یادونه کړې او بس.

نوموړی د "اعتذار" د سر لیك په یوه برخه کې لیکي:
" د پښتنې افکارو په راغونډولو او ښه په زړه پورې ترتیب ورکولو کې، ما تر خپله وسه پورې پوره پوره زیار ایستلی دی خو بیا هم ګمان کوم، چې ځینې نیمګړتیا وې او کمتیاوې دې ولري. هیله ده چې پوه او منور پښتانه به زما

دغه نیمګړي زیار ته د قدر په سترګه وګوري او زما تر خطا ګانو به راتیرسی." (۱۸)

زه په خپل وار د استاد سیال کاکړ دغه زیار ته د قدر په سترګه ګورم او د پښتو د شفاهی ادب مینه وال ، دده ددغی ښکلې مجموعې لوستلو ته را بولم. دا چې نومورې خپله هم اشاره کړې زه به دومره ووایم چې ددغې رسالې میتود بشپړ نه دی.

[۱۶]

سپیڅلی ګایونه

(پښتو متلونه)

ټولوونکی: ولی محمد خان سیال کاکړ.

خپروونکی: یونیورسټی بك ایجنسی.

دخپریدو کال او ځای: ۱۹۶۹ ، اسلامیه پریس، کوټه.

مخونه: ۹۶.

شمیر: ۱۰۰۰ ټوکه .

کچه: ۱۲×۱۸

۱۸ـ ولی محمد خان سیال کاکړ، پښتنی افکار، کوټه اسلامیه پریس، ۱۹۶۹، ۵ مخ.

موضوع: په دې اثر کې لومړی د متلونو په باب تر بیلا بیلو عناوینو لاندې بحث او څیړنه شوې او وروسی متلونه دالفبی په ترتیب سره راغلی دی. ددې مجموعی د متلونو شمیر (۱۰۲۳) ته رسیږي د مجموعی د ټولوونکی په قول په دې اثر کې هغه متلونه راغلی دی چې تر دې وخته نه دي چاپ شوي. محترم لیکوال ددغو متلونو د راټولو لو نیټه او منابع نه دي په ګوته کړي نو ځکه یې په بشپړ ډول یو میتود یك اثر نه شو ګڼلی. (۱۹)

دا اثر د فولکلور او ادب د مینه والو له پاره د څیړنې په برخه کې لازم مواد وړاندې کوي.

[۱۷]

غاړې

ټولوونکی : ولی محمد خان سیال کاکړ.

خپروونکی: ؟

دخپریدو کال اوځای: ۱۹۶۹ ه ق. دربیع الثانی۱۲ اسلامیه پریس، کوټه

مخونه : ۲۰۸.

کچه : ۱۲×۱۸ سم.

۱۹ـ ولی محمد خان سیال کاکړ، سپیځلی ګایونه (پښتو متلونه) ، کوټه، اسلامیه پریس، ۱۹۶۹م.

موضوع: دا اثر دوه برخی لري چې په لومړۍ برخه کې یې د کاکړو د سیمې پېژندګلوي او په عمومی ډول د پښتو پر ادب او دکاکړۍ غاړو یا کاکړیو لنډیو په ارتباط وړ معلومات وړاندې شوی دی. وروسته لیکوال د موضوعاتو پر اساس یو شمیر کاکړۍ غاړې راوړې دي.

دمجموعی په پیل کې لیکوال د (مننه) ترسرلیک لاندې له یو شمیر هغو ښاغلو څخه مننه کړې ده چې دغاړو په راټولو لو کې یې له ده سره مرسته کړې ده . دغه کسان چې د نومونو یادونه یې هم شوې . شمېریې(۱۱) تنو ته رسیږي.

خو کاشکې زمونږ محترم لیکوال اومشهور فولکلور یست سیال صاحب دنومونو پر ذکر کولو برسیره د هغو نور مشخصات هم یاد کړی وای؛ دې کار به دده دغه هڅه لامیتودیکه او ارزښت به یې نور هم ورزیات کړی وای.

دلته باید یادونه وکړم چې محترم سیال کاکړ بر سیره پردې چې په پښتو ژبه یې یو زیات شمیر آثار کښلي دي، د پښتنی فولکلور له پاره یې هم هڅې د زیاتې ستاینې وړ دی . ده په دې لاره کې هېڅ ډول زیار نه دی سپمولی او ښایسته ډیر آثاریې په دې باب راټول او خپاره کړي دي او د پښتنی فولکلور ډیرې نا پېیلي مرغلرې یې په زرین مزی پیېلی دی.
مونږ د نوموړی کارونو ته په درنه سترګه ګورو اوپه دې هم باور لرو چې داستاد سیال کاکړ کارونه په دې برخه کی له

زيات غور او دقت څخه برخورداره دي. خو زه دفولکلور ديوه مبتدي شاګرد په توګه اړيم چې درسالي د کښلو په شکلی برخه د فولکلور څيړنی د معاصر ميتود په رڼا کې ځينی يادونې وکړم.

ددغی رسالی دراټولولو او کار طريقی ته په پاملرنه خپل عاجزانه نظر داسی څرګندوم چې دغه مجموعه بشپړ ميتود نه لري ياېې ميتود نيمګړی دی. دا خبره به ددې مانا ونه لري چې خدای مکړه دغه اثر ارزښت نه لري ياېې ارزښت لږ دی، بلکی د اثر علمی ارزښت او دسيال صاحب هڅه مونږ ته د قدر وړ دي.

زه د ټولو پښتنی فولکلور پوهانو او څيړونکو کارونه په خپل خپل ځای د قدر وړ ګڼم خاصتاً د هغو ښاغلو آثارو ته زيات ارزښت ورکوم او غوره يې ګڼم چې په خاص او صادقانه دقت او هلو ځلويې خپل آثار ليکلی او ځانونه يې په تکليف کړي دی. او زما پيشنهاد ــ ټولو هغو محترمو ليکوالو ته چې په دې ساحه کې کار کوي دادی چې دوی نورو ته دفولکلور څيړنی لارې ښيي خو خپله بيا ورباندې پوره عمل نه کوي. دادی چې ځانونه لږ نور هم په تکليف کړي او خپل آثار په څه ناڅه بشپړ ډول ميتوديك وليکی څو زمونږ د ځوانو ليکوالو له پاره د لارې مشال وګرځی. (۲۰)

۲۰ـولی محمد خان سيال کاکړ، غاړې، کوټه، اسلاميه پريس، ۱۹۶۹.

[۱۸]

چغیان

(انګی)

ټولوونکی: ولی محمد خان سیال کاکړ.

خپروونکی: ؟

دخپریدو کال او ځای: ۱۹۷۰م ، اسلامیه پریس، کوټه.

مخونه : ۴۸.

دچاپ شمیر: ۱۰۰۰ ټوکه .

موضوع: د مؤلف دوینا له مخی دغه سندرې په کاکړو کی دودیدوپه وخت دناوې له خوا د ژړا په ملتیا بللی کیږي او دا د پښتو دفولکلوري سندرو یو نادر ډول دی.

دغه رساله دوه برخی لري: په لومړۍ برخه کې د فولکلور او خاصتاً د چغیانو (انګیو) په باب معلومات او خیړنی راغلی او په دوهمه برخه کې چغیانو ته ځای ورکړ شوی دی. لومړۍ برخه (۲۸) او دوهمه برخه (۲۰) مخه ده .

درسالی په لیکلو کی د کوم منل شوي میتود نه کار نه دی اخیستل شوی. ښایي محترم لیکوال کلی په کلی ګرځیدلی وي خو متاسفانه چې دخپل کار د څرنګوالی په باب یې ډیر څه نه دی لیکلی ، یوازې د رسالی په پیل کې د

(مننه) تر سرليك لاندې له محمد ګل خوستی څخه مننه شوې، چې له ده سره يې د چغيانو په ټولولو کې مرسته کړې ده. (۲۱)

دغه اثر د فولکلور څېړونکو له پاره نوي مواد وړاندې کوي. دسعيد ګوهر تيراهوي په قول د چغيانو په باب دا لومړی اثر دی چی محترم سيال کاکړ ليکلی دی.

[۱۹]

پشتو کی رومان

مؤلف: صاحبزاده حميدالله.

دخپريدو ځای: اسلاميه پريس، کاسی روډ ، کوټه.

دخپريدو نيټه: ۱۹۷۰ع.

موضوع: په دې اثر کې د پښتو (۱۰) فولکلوري کيسی راټولی او په اردو ترجمه شوی دی. کيسی په دې ډول دي:

۱_ ښادي خان – بيبو.

۲_ موسی خان – ګلمکۍ.

۳_ مومن خان – شيرينو.

۴_ جلات خان او شمايله.

۲۱_ولی محمد خان سيال کاکړ، چغيان، اسلاميه پريس، کوټه، ۱۹۷۰.

۵_ طالب جان- ګلبشره.
۶_ ظریف خان- مابۍ.
۷_ خوشکیار- شاترینه.
۸_ قطب خان- نازو.
۹_ دلی او شهو.
۱۰_ آدم خان – درخانۍ.[۲۲]

[۲۰]

پښتني فولکلور

موءلف: ولی محمد خان سیال کاکړ.
خپروونکی: په خپله موءلف ، د پښتو ادبی شپول لومړی سوغات.
دخپریدو کال او ځای: ۱۹۷۱م، اسلامیه پریس، کوټه.
مخونه : ۸۸.
موضوع: موءلف په دې اثر کې د کوشنیانو (کوچنیانو) سندرې، دلویانو سندرې، فالونه ، دګوندۍ سندرې دبی بی د ستی سندرې، دعاوې او ښیراوې راټولی او خوندي کړې دی.

دا اثر په حقیقت کې له دووبرخو څخه جوړ شوی، په لومړۍ برخه کې لیکوال د فولکلور د کلمې ، دتاریخچې په

۲۲_د پښتني فولکلور د ترجمو تاریخی سیر، ۴۳-۴۴ مخونه .

باب غوره معلومات وړاندې کړي چې په دې ارتباط يې ديو شمير پوهانو نظرونه هم غوښتي او دهر چا نظر يې په خپله ژبه خپور کړی دی (که په اردوو، اردو، که په پښتوو پښتو).

دمجموعې په دوهمه برخه کې په ترتيب سره پورتني ياد شوي فولکلوري مواد او دهغو په باب شرحی راغلی دي.

دغه اثر د فولکلور څيړونکو له پاره دمطالعی ښه مواد لري، خو ميتود يې بشپړ نه دی.[۲۳]

[۲۱]

ملی ادب

(پښتو متلونه)

ليکونکی:	ولی محمدخان سيال کاکړ.
خپروونکی:	پښتو اکيډيمی، کوټه.
دخپريدو ځای:	اسلاميه پريس، کوټه.
دچاپ نيټه:	۱۹۷۲م.
مخونه :	۴۸.
دچاپ شمير:	۵۰۰ ټوکه .

۲۳_ ولی‌محمد خان سيال کاکړ، پښتني فولکلور، کوټه، ۱۹۷۱م .

موضوع: په دې رساله کې د پښتو (۳۶۰) متلونه راغلي چې د ردیف مراعات پکې شوی دی. ددې اثر په لومړۍ برخه کې د متلونو په برخه کې څېړنه هم شوې ده. دا اثر د فولکلور د مینه والو له پاره په زړه پورې مواد وړاندې کوي.

لیکوال د سریزې په یوه برخه کې د خپل کار په ارتباط له څو تنو څخه مننه کړې، کومو چې ددې متلونو په ټولونګ کې له ده سره مرسته کړې ده. دغه اثر که څه هم دخاص اهمیت وړ دی، خو د میتود له مخې یې بشپړ نه شو ګڼلای. (۲۴)

[۲۲]

زموږ ژواك

لیکونکی: عبدالقدوس پوپل.
خپروونکی: پښتو اکیډیمی، بلوچستان کوټه.
دخپریدو کال او ځای: ۱۹۷۲ع، اسلامیه پریس کوټه.
کچه: ۱۲× ۱۸ سم
مخونه: ۱۱۷.

موضوع: له زانګو نه تر هدیرې پورې د محکوم جنوبی پښتو نستان د پښتنو او سیدونکو دودنه او رواجونه

۲۴ـ ولی محمد خان سیال کاکړ، ملی ادب، کوټه، اسلامیه پریس، ۱۹۷۲.

پکی را غونډ شوي دي او د پښتني کلتور په څېړنه کی د یوه ښه اخځ په توګه ګڼه تري اخیستل کیدای شی.[۲۵]

څرنګه چې دغه اثر دیوه بل ماء خد په مرسته معرفی شوی نو ځکه یې په میتود خبرې کول ګران کار دی.

[۲۳]

اولسی نکلونه

ټولوونکی: سید عابد شاه عابد.

خپروونکی: پښتو اکیډمی، بلوچستان، کوټه.

دخپریدو کال او ځای: ۱۹۷۲م، اسلامیه پریس، کوټه.

مخونه: ۱۵۵.

موضوع: په دې رسالی کې ټول (۸) فولکلوري نکلونه لکه (ژرند باز با چا، چندڼ لالا، دخراسان پاچا، ژړه غوا. نیکی و بدي، ملا ټټیر، درې حافظان، تور دیب) راغلی دي. دا اثر چې د کوټې د شاو خوا سیمو ځینی فولکلوري کیسی په کې را ټولی او خوندي شوې، د فولکلور څېړونکو له پاره د مطالعی لازم مواد وړاندې کولی شی. په رساله کې کیسی په

۲۵ـ حبیب الله رفیع، پښتو پانګه (لومړی ټوك) پښتو ټولنه، دولتی مطبعه ۱۳۵۴، ۸ – ۱۰۷ مخونه.

سیمه ایزه لهجه (دخلکو په محاوره) خوندي شوي دي، دغه اثر میتود نه لري.[۲۶]

[۲۴]

مزارات

مؤلف : ولی محمد خان سیال کاکړ.
خپروونکی: سلیم بکډپو شارع لیاقت کوټه.
دخپریدوځای: اسلامیه پریس ، کوټه.
دخپریدو نېټه: ۱۹۷۹ ع.
مخونه : ۶۴.

موضوع: دهغو پښتنو نیکه ګانو او انا ګانو معرفی، چې پښتانه ورته په درانه نظر ګوري او عا م وخاص یې زیارتو-نو ته ورځی او ددوی په مزارونو د عاوې کوي او خپل مرادونه دالله تعالی(ج) له دربار څخه غواړي.

په دې رساله باندې بلال احمد بري یوه سریزه لیکلی چې په یوه برخه کې یې راغلی دي:

" دا کوچنۍ رساله چې د پاڼو د شمیر په لحاظ وړه معلومیږي خو ددې پښتنی سیمی یو لړ هغه غمیان او

۲۶_ سید عابد شاه عابد ، اولسی نکلونه ، کوټه ، اسلامیه پریس، ۱۹۷۲.

سپیڅلی مرغلرې په کې دي چې په بیه ډیر ګران او په تاله درانه دي....)[۲۷]

د مزاراتو په دې لړ کې د کوټې (۱۵) تنه ، د پښین (۲۶) تنه د ږوب (۳۰) تنه ، د لورالايي (۱۰) تنه ، د سیوی (۱۴) تنه نیکه ګان او اناګانی را پیژندل شوي دي، چې ټول شمیر یې (۹۵) دی او له دې جملی څخه درې مزاره داناګانو او پاتی(۹۲) د نیکه ګانو دي.

لیکوال د هغو بابا ګانو په باب چې دقلم خاوندان و؛ هم معلومات وړاندې کړي او ددوی دآثارو په باب غږیدلی دی، لکه میا عبدالحلیم کاکړ، ملا سرور اخندزاده او نور.

محترم لیکوال د خپل کار د میتود په باب لیکی: " دکسی دلمنی مزارات می د سیمو په ترتیب سره راوړي دی... ما دمحلی روایاتو له مخی ، یو سلسله روایات راغونډ کړي دي، څرګنده ده چې زما دغه زیار به له هره پلوه نیمګړتیا ولري...." [۲۸]

ښاغلی لیکوال که څه هم راویان نه دي معرفی کړي، سره له دې هم دغه اثر یوارزښتمن اثر دی او د څیړونکو له پاره د استفادې وړ مواد لري او لیکوال به هم ښایی په ډیر احتیاط او امانتداري لیکلی وي خو دا چې راویان او منابع

۲۷_ ولی محمد خان سیال کاکړ، مزارا ت، کوټه، ۱۹۷۳ ، سریزه، ۵ مخ .
۲۸_ پورتنی اثر، ۹ مخ .

پکی نه دي ښودل شوي، له اوسنی میتود سره يې برابر نه شو ګڼلی.

[۲۵]

کاکړی

لیکونکی: ولی محمد خان سیال کاکړ.

خپروونکی: پښتو ادبی دنیا ، کوټه.

دخپریدو کال او ځای: ۱۹۷۳ ، اسلامیه پریس، کوټه.

مخونه : ۱۱۲ .

کچه: ۱۲× ۱۸ سم .

موضوع: په دې اثر کې د کاکړیو (چې کاکړی غاړې يې هم بولی) ځینی نمونی راټولی او خوندي شوې دي.

د اثر په پیل کې سریزه راغلی ، چې ورپسی د کتاب متن پیل شوی دی. په رساله کې ځای ځای د کاکړ یو په باب مفید معلومات هم وړاندې شوي دي.

کاکړ صاحب دغه کاکړی غاړې له لسو (۱۰) تنو نالوستو پښتنو څخه راټولی کړي چې د سریزې په پای کې يې د هغو نومونه یاد کړي دي.

دغه اثر سره له دې چې يو بشپړ ميتوديك اثر نه شو بللی ، خو د فولكلور څېړنی د مينه والو له پاره د مطالعی وړ مواد وړاندې كوي. (۲۹)

[۲۶]

ترينو

لیکوال: ولی محمد خان سيال کاکړ.

خپروونکی: پښتو ادبی دنيا ، کوټه.

دخپريدو ځای: اسلاميه پريس، کوټه.

دخپريدو کال: ۱۹۷۳ .

مخونه : ۴۸ .

کچه : ۱۲× ۱۸ سم.

موضوع: ددې رسالی اصلی موضوع (چی د کتاب په لومړی برخه کې څېړل شوې) د ترينو پښتنو او د ترينو دلهجی په باب څېړنه ده .

درسالی په دوهمه برخه کې د پښتو د شفاهی ادبياتو ځينی برخی خوندي شوي دي، لكه د الله مور سندرې او

۲۹_ ولی محمد خان سيال کاکړ، کاکړی ، پښتو ادبی دنيا ، کوټه ، اسلاميه پريس، ۱۹۷۳.

داسي نور. درسالي وروستۍ برخه ګرامري موضوعګانو ته وقف شوې ده . (۳۰)

ترينو، د پښتو يوه خاصه لهجه ده چې ونېڅی يې هم بولی، د حبيب الله رفيع په قول دا داسی لهجه ده چې نور پښتانه پرې نه پوهيږي.(۳۱)

درسالی فولکلوري برخه د فولکلور څيړنی له ميتود سره برابره‌نه ده .

[۲۷]

فولکلوري طب

ليکوال: پروفيسور ولی محمد خان سيال کاکړ.

خپروونکی: د پښتو ادبی د نيا ، کوټه .

دخپريدو کال: ۱۹۷۴ م .

دخپريدو ځاي: اسلاميه پريس، کوټه .

شمير: ۱۰۰۰ ټوکه .

موضوع: په دې رساله کې د انسانانو او ژوو د ناروغيو دعلاج لارې چارې چې په خلکو کې په عنعنوي بڼه

۳۰ـ ولی محمد خان کاکړ، ترينو، پښتو ادبی دنيا کوټه، اسلاميه پريس ۱۹۷۳.

۳۱ـ پښتو پانګه (لومړی ټوک) ، ۱۳۵۴- ۶۴ مخ .

دود دي، بیان شوي دي. راځئ چې په دې باب د لیکوال د لیکنې یوه برخه هم ولولو:

" موږ دافغان ملت ، فولکلوري طب چې مذهبي جنبه هم لري د لومړي ځل دپاره دادب په مینانو پیژنو. په دې لړ کې مو دانسانانو له ناروغیو سره سره د ځینو حیواناتو ناجوړ یانې هم په ګوته کړې دي.

فولکلوري طب د خلکو میراث دی. نو ځکه مو زیار ایستلی دی چې د خلکو امانت، د خلکو له خولو څخه. دخلکو په ژبه . خلکو ته وړاندې کړو او هر څه موبې له لاس وهلو معرفي کړي دي " [۳۲]

دلته بیا هم خپله پخوانۍ خبره تکرار وم هغه دا چې د ښاغلي لیکوال هڅې په دې لاره کې د قدر وړ دي، کار یې (البته زما په نظر) د قیق دی او ښایي چې دامانت داري خیال به هم په کې ساتل شوی وي. خو په دې رساله کې دغه لاندې پوښتنو ته ځواب نه شي پیدا کیدای لکه : له چا څخه یې مواد راټول کړي؟ له کومې سیمې‌څخه؟ څه وخت ؟ او

۳۲ـ ولي محمد خان سیال کاکړ، فولکلوري طب. کوټه، اسلامیه پریس. ۱۹۷۴ ، سریزه ۶ مخ.

داسی نور. نو ځکه يې کار له معاصر ميتود سره برابر نه شو ګڼلای.

[۲۸]

روهی متلونه

(لومړی ټوک)

ترتيب او تدوين : دمحمد نواز طائر.

خپروونکی: پښتو اکيډيمی. پېښور يونيورسټي.

دخپرېدو ځای: حميد يه پريس. پېښور.

دخپرېدو نېټه : ړومبی ځل ۱۹۷۵ ع. ۵۰۰ ټوکه .

مخونه : ۱۶ + ۲۷۸ = ۲۹۴ .

کچه : ۱۶×۲۰ سم.

موضوع: په دې اثر کې د الفبی په ترتيب د پښتو متلونه راغلی چې د (الف) په رديف پيل او په (د) پای ته رسيږي. چې دهر متل پيل په ستوري سره په نښه شوی دی.

دکتاب په پيل کې دپښتو اکيډيمی د ډايرکټر سيد خيال بخاري ليکنه د (يو څو خبرې) تر سرليك لاندې خپره شوې ده. چې ددې مجموعی د متلونو دراټولولو جريان پکې تشريح شوی دی دلته دهغو لنډ يز وړاندې کوو: لومړی دوی په پښتو مجله کی دنورو فولکلوري مواد و سره يو ځای د

متلونو دراټولولو اعلانونه هم خپاره کړي چې له هرې خوا دغې ادارې ته متلونه را رسيدلي چې ددغې اکيډيمي کارکوونکو (چې نومونه يې په همدې ليکنه کې ياد شوي) سره ترتيب کړي او بالاخره محترم محمد نواز طائر ته سپارل شوي چې هغه تدوين او يوه سريزه يې ورباندې هم ليکلې ده .

په دې ليکنې پسې د محمد نواز طائر سريزه راغلې چې له نورو موضوعاتو برسيره د سريزې له ختميدو وروسته د (يادګيرنه) تر سرليك لاندې دهغو آثارو او اشخاصو نومونه ياد شوي چې دوی ورځخه متلونه ليکلي او له دوی سره يې د متلونو په راټولولو کې مرسته کړې ده ، چې دآثارو د ليکوالو په شمول د ټولو شيمر(۵۶) ته رسيږي. د هر يو تن آدرس هم ورسره کښل شوی دی.

—— دغه اثر په داسې حال کې چې د فولکلور څيړونکو داستفادې وړ مواد لري، تر يوې اندازې يې له ميتود سره سم ګڼلای شو خو په بشپړ ډول نه . ځکه چې د معاصر ميتود ټول شرايط پکی نه دي مراعات شوي. البته دا هم بايد وويل شي: متل چې هر چا راليږلی دهغه په لهجه نشر شوی دی.[۳۳]

په دې اثر کې چې څه ناڅه د (۵۰۰۰) په شاوخوا کی متلونه راټول او خپاره شوي، دهغو متلونو له نشر څخه ډېره

۳۳ــ محمد نواز طائر،(مرتب) روهی متلونه ، پښتو اکيډيمی، پيښور يونيورسټی، حميد په پريس، ۱۹۷۵ع.

شوې چې رکيك او يا لوڅ الفاظ لري. دغه متلونه د پښتو اکيډيمی په ارشيف کې ساتل شوي چې محققين کولی شی له هغو څخه استفاده وکړي. دغه موضوع د سريزې په (۱۲) مخ کې ياده شوې او په کې ويل شوي چې دغه متلونه ديوې قلمی مسودې په بڼه خوندي شوي دي.

دلته ددې خبرې يادول هم بی مورد ه نه بريښی چې ددغی مجموعی د اردو ترجمی په باب هم څه ووايو:

د (روهی متلونه) نومی مجموعه د متلونو په عين شمير سره د (پښتو ضرب الا مثال معه اردو ترجمه) په نوم دهمدغی اکادمی له خوا چاپ او خپره شوې ده .

هلته دکتاب په ښی مخ کی يا په لومړي مخ کې پښتو متلونه او د هغه په مخامخ مخ کی د هغو متلونو اردو ترجمه راغلی ده .

همدارنګه سريزه او نورې يادونی يې هم په اردو ترجمه شوي دي. څرنګه چې عين اثر په اردو ترجمه شوی نو ځکه مې جلا معرفی نه کړ.

[۲۹]

دمتلو قيصی

ټولوونکی: ابوالخير ځلاند.

خپروونکی: پښتو اکیډیمی. کوټه.
دخپریدو کال او ځای: **۱۹۷۵** ع .اکتوبر. اسلامیه پریس کوټه.
دچاپ شمېر: پنځه سوه ټوکه.
کچه: ۱۲×۱۸.
مخونه: ۴۶۲.

موضوع: دالفبی په ترتیب د (ز) تر ردیف پورې د پښتو (۱۱۴) هغه متلونه په کې راغلي چې کیسې ورسره تړلي او یا له کیسو سره تړلي دي.[۳۴]

[۳۰]

فولکلوري سندرې

لیکوال: پروفیسور سیال کاکړ.
خپروونکی: دافغانستان دعلومو اکادمی د ژبو او ادبیاتو مرکز.
دخپریدوکال او ځای: ۱۳۵۷. دولتی مطبعه. **۵۰۰** ټوکه.
کچه: ۱۲ × ۱۶ سم.
موضوع: د پښتو د درې ډولو فولکلوري سندرو په باب لنډلنډ معلومات وړاندې شوي دي (چې لیکوال د پښتنی فولکلور نوي شعري ډولونه ګڼلی دي) ورپسی ددغو سندرو نمونې هم راغلې دي. سندرې دادي:

۳۴_جبیب الله رفیع. پښتو پانګه. (دوهم ټوک). پښتو ټولنه. دولتی مطبعه ۱۳۵۶. ۵۴۸ مخ.

سلسلی، برغازی، سولی.

ځرنګه چې ددغه اثر دفولکلوري موادو دراټولولو منبع نه ده ښودل شوې او راویان هم نه دي معرفی شوي نو ځکه یې په میتود برابر نه شو ګڼلی. (۳۵)

[۳۱]

انګی

لیکوال:	پروفیسور سیال کاکړ.
خپروونکی:	پښتو ادبی بورډ، کوټه.
دچاپ نیټه :	۱۹۸۷ ع - سپتمبر.
دچاپ شمیر:	۱۰۰۰ ټوکه .
مخونه :	۶۰۸
کچه:	۱۳×۱۰
دچاپ ځای:	یونایټیډ پرنټرز. کوټه.

موضوع: په دې اثر کې (دژړا سندرې) تر سرلیک لاندې دښاغلی حبیب الله رفیع لیکنه چې تر ۴۹ مخه دوام مومی. وروسته تر (۱۵۰) مخه دلیکوال له خوا د خصوصیاتو .

۳۵_ ولی محمد خان سیال کاکړ، فولکلوري سندرې، د ژبو او ادبیاتومرکز. دولتی مطبعه، ۱۳۵۷ =(۱۹۷۸ ع).

پیدایښت، مرکزونو او داسې نورو موضوعاتو په باب ګټور معلومات وړاندې شوي دي.

دکتاب له (۱۵۱) مخه تر پایه د انګیو بیلا بیل فورمونه راغلي دي چې پر له پسې نو مره هم لري. ددغونومرو پراساس په کتاب کې دراغلو انګیو شمیر (۵۰۰) ته رسیږي.

" دا سندرې د ناویانو او پیغلو ژړا تمثیلوي خو دا ژړا د مړي دویر سره تو پیر لري. په وړدګو کې دغه ژړا د (اوښکې) په نامه یادوي اوپه کاکړ و کې یې انګۍ بولي.[۳۶]

درسالې لیکوال په (۵۲-۵۳) مخونو کې د خپل کار میتود تشریح کړی او زیاته کړې یې ده چې دغه انګۍ یې د سنځر خیلو له سیمې څخه دخپلو مسافرتونو په لړ کې راټولې کړي چې په یوه برخه کې یې لولو:

" ... ما دانګیو دغه اصیله پانګه د خلکو له خولو اوریدلې او بالاخره مې ددوی په فولکلوري ژبه تر تاسې پورې رارسولې ده ...."[۳۷]

۳۶ـ ولي محمد خان سیال کاکړ، انګۍ، پښتو ادبي بورډ، کوټه، یونایټیډ پرنټرز، ۱۹۸۷، ۱۶ مخ.
۳۷ـ همدغه اثر، ۵۳ مخ.

همدارنګه لیکوال په (۸) مخ کې د (۹) تنو نومونه یاد کړي او له هغو څخه یې مننه کړې چې له ده سره یې د انګیو په راټولولو کې مرسته کړې ده.

زه له محترم لیکوال سره موافق یم چې د ساحوي ریسرچ څخه به یې کار اخیستی وي خو دا چې راویان یې بشپړ نه دي معرفي کړي او د ثبت نیټه یې هم نه ده ښودلې نو ځکه دغه اثر په بشړ ډول دفولکلور ټولونې له معاصر میتود سره برابر نه شو ګڼلی.

[۳۲]

اټک کی اُسپار

مدون : فارغ بخاري.

اردو مترجم: رضا همدانی.

دخپریدو نیټه: ؟

مخونه : **۵۵۹**.

موضوع: دا د بیلا بیلو لیکوالو د مقالو یوه مجموعه ده چې د جلا جلا موضوعګانو په باب لیکل شوي دي. په دې اثر کی دغه لاندې فولکلوري مقالی راغلی دي:

دمقالی سرلیک	لیکوال
۱_ سرحدي لباس	عبدالقادر

۲ـ قبایل کی رسم ورواج: امیر حمزه شینواری.
۳ـ سرحد کې موسیقی سید انصار ناصري.
۴ـ حجره ایم عبدالقادر
۵ـ پټهان اور توهمات (ټوټکی) امیر حمزه شینواری.
۶ـ پښتون عورت سید انور الحق
۷ـ پټها نو کی رومان ...
(په دې مقاله کې د پښتو ځلور فولکلوري کیسی لنډې معرفی شوي دي.)
۸ـ پشتو لوګګیت. ح.ر. صاحب زاده .
(په دې مقاله کې په لوبه . ټپه او چار بیته بحث شوی دی)[۳۸]

[۳۳]

ټکونه
یا
(دمازغو جنګ)

تصنیف: همیش ګل همیش.

۳۸ـ د پښتنی فولکلور د ترجمو تاریخی سیر. ۱۳۶۶. ۴۷ مخ.

خپروونکی: عوامی کتب خانه ، قصه خوانی بازار. پیښور.

دخپریدوځای: پیښور.

دخپریدو نیټه: ؟

کچه : ۱۲×۱۸.

مخونه : ۳۲.

موضوع: دغه رساله دوه برخی لري چې په لومړۍ برخه کې یې په څوارلسو بابونو کې منثور او منظوم چیستانونه راغلی چې له (۷_۲۳) مخه دوام لري. او په دوهمه برخه کې په ترتیب سره له (۲۴-۳۲) مخه ددغو چیستانو نو ځوابونه راغلی دي. په دې اثر کې بر سیره پر منثورو ټکونو ځینی منظوم ټکونه هم خپاره شوي دي.

ښاغلی همیش ګل همیش دخپل کار په باره کې لیکی:

" ځما دوړو کوالی نه دټکو نو ویلو او اوریدلو سره ډیره مینه وه ، هم له دې مینی له کبله چې به چرته لاړم نو د ټکونو ویلو او حل کولو لو به، به می ګرمه کړه . هرځای کی د ټکونو ویلو او حل کولو سره می د ې لړ کی اضافه کیدله او ډیر څه ټکو نه راته معلوم شوي."[۳۹]

۳۹_ همیش ګل همیش. ټکونه . قصه خوانی بازار. پیښور. (؟) . سریزه . ۴ مخ .

له دې پورته خبرو څخه دې نتیجې ته رسیږو چې لیکوال زیاتره په خپلو شخصي مشاهداتو تکیه کړې او ښایي د خپل کلي او شاوخوا سیمو ټکونه یې راټول کړي وي. په سریزه او یاد رسالی په کومه بله برخه کې په دې اړه څه نه دي ویل شوي. په دې اساس باید ووایو چې دغه چیستانونه حتماً لیکوال له ډیرو کسانو څخه اوریدلي چې باید هغه یې مونږ ته را پیژندلي وای او دخپلو مشاهداتو یادونه یې کړې وای.

دغه اثر د مینه والو له پاره د څیړنې لاژم مواد وړاندې کوي خو میتود یې کامل نه دی.

[۳۴]

ټنګ ټکور

تصنیف : دعبدالواحد ټیکه دار.

خپروونکی: حاجي فضل احمد.

دچاپ کال: نامعلوم

دخپریدو ځای: قصه خوانی بازار. پیښور.

مخونه : ۹۶.

دا اثر سریزه نه لري په (حمد) پیل کیږي. چې د ټیکه دار له خوا لیکل شوي شعرونه لکه لوبی ، چاربیتی. زنځیری. او داسی نورې سندرې پکې راغلي دي.[۴۰]

۴۰_ عبدالواحد ټیکه دار، ټنګ ټکور، ...؟

دا اثر ښایي په خپله شاعر تدوین کړی وی او فکر کوم د پلورلو په منظور چاپ شوی وی او یوازې تجارتی جنبه به لري.[*]

[۳۵]

ټپی

ټولوونکی: سید اکبر صابر.

خپروونکی: رحمن ګل اینډ کمپنی، بك سیلرز.

دخپریدو ځای: حمیدیه پریس، پیښور.

دخپریدونیټه: ؟

کچه: ۱۲× ۱۷ سم.

مخونه : ۱۶۰ .

موضوع: دپت، وطن، جانان، زلفو، پیزوان ، بیلتون، سترګو، سالو، ګودر، اختر، غم، غماز، طبیب، پسرلی، ملتان ، چمنی خان ، منګی، شونډو او نورو عناوینو لاندې د پښتو دلنډیو (چې دخلکو د سندرو مهمه برخه ده) انتخاب او چاپ دی.[۴۱]

---

[*]ـ بیا هم ددې له امله چې دشفاهی ادب ددې زمانی آهنګونه او طرز ونه پکې ضبط دي دمطالعی وړ دی. (بختانی)

۴۱ـ پښتو پانګه، لومړی ټوك، ۱۳۵۴ ، ۶۹ مخ .

[۳۶]

ثرخ

لیکوونکی: عایشه ملك (په انګریزي ژبه)

پښتو کوونکی: فضل حق شیدا.

خپرونکی: یونیورستي بك ایجنسي، پېښور.

دخپرېدوځای: منظور عام پریس.

موضوع: د پښتنو د کړو وړو،ساده ژوند ، عاداتو ، ننګ ناموس مروت او غیرت عکاسي یې د لنډۍ و مضمونو او لنډو افسانو په شکل کې کړې او د پښتنو په باب دیوې غیر پښتنې میرمنې دوستانه نظریات او احساسات دي.[۴۲]



۴۲_ همیش خلیل ، پښتنانه لیکوال، اول ټوك، پبلك ارټ پریس، پېښور ۱۹۵۸، .... مخ.

نتیجه

او

پیشنهادونه

څرنګه چې تر اوسه پورې د پښتني فولکلور د تیرو او او سنیو تر سره شووو چارو یا په بله بڼه د ټولو شوو مجموعو په ارتباط داسی کوم ځانګړی او مستقل اثر نه ولیکل شوی چې په هغه کې دې په مفصل او هر اړخیز ډول، دغو مجموعو ته یوه ځغلنده کتنه شوی وی او یا دې دغه مجموعی بشپړې په کې معرفی او مواد یې کره شوی وی.

دغه موجود اثر " د پښتني فولکلور ټولی شوې مجموعی د کوم روش تابع دی؟" چې دیوې رسمی پروژې په توګه یې ما ته د لیکلو دنده راسپارل شوې وه: تر زیاتی اندازې د پورته یاد و شوو موضوعګانو او دې ته ورته مسایلو په باب لازم او د کتنی وړ معلومات وړاندې کولی شی.

په دې اثر کې چې سریزه،پنځه څپرکی؛ نتیجه او دماخذونو فهرست لري؛ تر ټولو لومړی سریزه راغلی چې په

هغې کې د موضوع پر تاریخي جاج بر سیره ددغې موضوع په باب د څېړنې د ضرورت، اهمیت او د څېړنې د میتود او منتظره نتایجو په باب رڼا اچول شوې ده . ورپسې د کتاب لومړۍ څپرکی پیل کیږي چې د ځینو مهمو ماء خذونو ارزیابي ته وقف شوی دی.

ددې اثر په دوهم څپرکي کې د کلتور او فولکلور په باب هر اړخیز بحثونو شوي، د کلتور او فولکلور اړیکې، توپیرونه . د کلتور او فولکلور بیلا بیل تعریفو او د موضوع د لارو ښانتیا په منظور د پوهانو نظر یې هم داستناد په توګه راوړل شوي دي.

په دریم څپرکي کې د فولکلور ټولونې لارې چارې توضیح شوي، چې په دې برخه کې د فولکلور څیړنې میتود ، د فولکلور ټولوونکي ځانګړنې ، مرکه، پوښتنلیك ، کتنه او نورو دې ورته موضوعګانو په اړه لازم بحثونه شوي دي.

ددې اثر څلورم څپرکي د فولکلور ټولونې او څیړنې پسمنظر ته وقف شوی او دغه موضوع په کرونو لوژیك ډول تعقیب او څیړل شوې ده . په لومړي سر کې په عام ډول دافغاني فولکلور ټولونې او څیړنې پر تاریخي جاج خبرې شوي، ورپسې په خاص ډول د پښتني فولکلور ټولونې د پیل موضوع په سیستماتیکه توګه څیړل شوې اودڅیړنې په بهیر کې دافغاني فولکلور پوهانو، ختیځپوهانو اودلرې

پښتونخوا دادب څیړونکو او فولکلور څیړونکو پر کارونو خبرې شوی، څرنګوالی او څو مره والی یې ښودل شوی دی.

په پنځم څپرکی کې په عمومی ډول د پښتنی فولکلور پخوانی او اوسنی کارونه ارزیابی شوی او دا پکی ښودل شوی چې زموږ تیر او اوسنی کارونه دکوم منل شوی روش په رڼا کې ترسره شوی دی.

همدا رنګه په دې فصل کې ټولی هغه مجموعی چې زه یې په تر لاسه کولو بریالی شوی یم معرفی شوي، موضوعات یې ښودل شوی او همدارنګه یې په میتود خبرې شوی دی. لنډه دا چې دا یوه عادي ببلیو ګرافی نه بلکی کره کتنه هم ورسره مله ده . دغه آثار د کار داسانتیا په منظور په عام ډول په درې برخو کې ښودل شوی دی چې په څلورم فصل کې ورته اشاره شوې ده .

ددې اثر په بشپړو لو کې له (۱۲۷) بیلا بیلو آثارو څخه چې د کورنیو او بهرنیو پوهانو له خوا کښل شوي. دماخذپه توګه استفاده شوې ده او (۱۱۵) فولکلوري مجموعی په کې معرفی او څیړل شوی دی.

په لنډ ډول ویلی شم چې دغه اثر که له یوې خوا د پښتنی فولکلور څیړنی او ټولونی په باب میتودیك مواد وړاندې کوي نو له بله پلوه به زموږ له راتلو نکو څیړونکو سره د څیړنی په بهیر کې دا مرسته وکولی شی چې دځان

له پاره د کار ساحه په بنه توګه و ټاکلی شي یعنی په کومو برخو کې چې کار نه دی شوی . دهغو برخو راټولو لو ته به اقدام وکړي.

له بلې خوا به دغه اثر له هغو څېړونکو سره پوره مرسته وکولی شي چې غواړي زموږ د ترسره شوو فولکلوري چارو په باب څېړنې وکړي.

په همدې توګه به ددغه اثر په مطالعه کولو سره زموږ خوان څېړونکي په دې پوه شي چې لومړی باید ځان د فولکلور ټولونې او څېړنې په اصولو او تکنیکونو سمبال کاندی او بیا د فولکلور ټولونې او څېړنې کار ته ملا وتړی او که داسې نه وی نو . هغه د شاعر خبره:

په تد بیر که دې دبام سوری بند نه کړل
دا تقدیر دی چې هغه کوټه به ځا ځې

په همدې توسن به زموږ اوسنی کارونه چې د فولکلور ټولونې په باب یې ترسره کوو یا مو په مخ کې دی. هم د ځینو پخوانیو کارونو په څېر له نیمګړ تیاوو څخه بچ پاتې نشي. او که دفولکلور ټولو نې لارې چارې مو زده وې او ځانونه مو ښه پرې پوهولی وي نو ددې نقیصې مخه به مو مخکې له مخکې نیولې وي.

ددې اثر عمده توپیر له پخوانیو آثارو سره په دې کې هم دی چې په دې اثر کې د فولکلور ټولونې او څېړنې پر

تاریخی پسمنظر، میتود، کمیت ، کیفیت برسیره د فولکلوري آثارو (البته د چاپی مجموعو) او دهغو کره کتنه. لوستونکی او مینه وال په دې لاره کې د رونبانه راتلونکی په باب هڅولی او رهنمایی کولی شی.

تر اوسه موږ د فولکلور څیړنی او ټولونی په باب داسی مستقل اثر نه درلود چې دغو ټولو پوښتنو ته دې بشپړ ځواب وویلی شی. البته په متفرق ډول په بیلا بیلو آثارو کې څه ناڅه څیړنی شوی ، هغه هم دفولکلور په تیوریك اړخ ، نو ځکه ویلی شو چې ددې اثر زیاتره برخی او خاصتاً پنځم څپرکی یو نوی او ابتکاری کار ګڼل کیدای شی.

بله دیادولو وړ خبره داده چې له دې اثر څخه دافغانستان داسلامی دولت دعلومو اکاډیمی د ژبو او ادبیاتو مرکز، د ټولنیزو علومو د مرکز د تاریخ او اتنوګرافی د څانګو، دکابل پوهنتون د ژبو او ادبیاتو پوهنځی استادان او محصلین او همدارنګه د ښوونکو د روزنی عالی موسسی او دولا یاتو د پوهنتونونو منسوبین استفاده کولی شی او همدغه یې د تطبیق ساحی دي. حتی ددې اثر له ځینو برخو څخه د تدریس له پاره هم ګټه اخیستل کیدای شی.

په پای کې باید ووایم چې زه دخپلی څیړنی په بهیر کې له یو لړ مسایلو سره مخامخ شوی یم چې غواړم دلته یې د پیشنهاد په توګه مطرح کړم:

❖ زه په لومړي سرکې دافغانستان داسلامی دولت دعلومو اکاډیمی رهبری ته پیشنهاد کوم چې دفولکلور د بیلا بیلو برخو او په مجموع کې دافغانی کلتور دراټولولو، خوندي کولو او څیړلو په باب دې څیړونکو ته دکار لازمی زمینی او شرایط برابر کاندي څو وکولی شی زموږ داصیل او غنی فرهنګ بیلا بیلی برخی راټولی او له ورکیدو څخه وژغورل شی، ځکه چې نړۍ ورځ په ورځ پر مخ روانه ده او دنوو اکتشافاتو په منځ ته راتګ سره د ټولنی په بیلا بیلو برخو کې بدلونو نه رامنځ ته کیږی او زړې پدیدې خپل ځای نو و پدیدو ته پریږدي. ددې له پاره چې موږ په راتلونکی وخت کې له دغو موادو څخه په خپلو څیړنو کې ګټه واخلو او خپله پخوانی او اوسنی ټولنه ښه و پیژونو: باید دغه مواد راټول او په لومړی قدم کې دافغانستان دعلومو اکاډیمی د کتابتون په خطی برخه او یا هم دمرکزونو په ارشیفونو کې دخامو موادو په ښه وساتل شی، او وروسته بیا وڅیړل شی.

❖ همدارنګه پیشنهاد کوم چې دکابل پوهنتون دژبو او ادبیاتو پوهنځی باید دخپلو محصلینو په مرسته (البته دژبو او ادبیاتو د برخی محصلین) چې دمرکز او اطراف اوسیدونکی په کی شامل دي ددغه کار تر سره کولو ته ملا وتړي او خپله علمی او وطنی دنده ترسره کړي او په

دې برخه کې دافغانستان دعلومو اکاډیمی یوازې پرینږدی.

❖ دکلتور ددولتی کمیتې دخلکو دفرهنگ آمریت هم باید له دې امر څخه مستثنی نه وي ځکه هغوی هم باید دپخوا په شان دغه مواد وته په خپله مجله (فرهنگ مردم) کې انعکاس ورکړی.

❖ دغو یاد و شوو علمی مؤ سسو ته زما بل پیشنهاد دادی چې دغه کار که دګډ زیار او هلو ځلو او همدارنګه یو له بل سره د نږدې اړیکو په لړلو سره سر ته ورسیږي: ګټه به یې لا زیاته وي. هغه متل دی چې وایي: " له یو لاسه ټك نه خیږي ".

❖ دفولکلور ټولوونکو او څیړونکو ته زما پیشنهاد دادی: هغه محترم څیړونکی چې دفولکلور ټولونی او څیړنی په تیوري مجهز دي لطفاً دې ددغی تیوری مراعات وکړي او دڅېړنی په بهیر کې دې دفولکلور ټولونی او څیړنی معاصر میتود له پامه نه غورځوی لکه څنګه چې دیو شمیر محترمو پوهانو په آثارو کې دغسی مسایل لیدل شوی دی. چې ما په دې اثر کې ورباندې خبرې هم کړي دي.

❖ هغه محترم څیړونکی چې په دې لاره کې نوي ګامونه پورته کوي: مخکی له دې چې ساحوي څیړنی پیل کړي

باید ځان په مسلکی پوهه سمبال او دباتجربه اشخاصو له تجربو او سلا مشورو څخه په استفاده خپلی چارې پر مخ بوزي څووکولی شی له خپل کار څخه په زړه پورې نتیجی تر لاسه کړي.

په پای کې دفولکلور او شفاهی ادبیاتو دیوه مبتدی شاګرد په توګه یو ځل بیا دافغانستان داسلا می دولت دعلومو اکاډیمی ریاست ته پیشنهاد کوم څو دفولکلور ټولوونکو او څیړونکو له پاره دهیواد بیلا بیلو سیمو ته د سفر زمینی او لازمی اسانتیاوې برابرې کړي چې وکولی شی زموږ د بډای فرهنګ ارزښتمنی خزانی له پوپنا کیدو او هیریدو څخه وژغوري.

زما ددغه پیشنهاد بل اړخ دادی چې که چیرې ګاونډیو هیوادونوته دسفر زمینی برابر ې شی نو زموږ فولکلور څیړونکی به دهغوی له علمی تجربو څخه (چې له موږ څخه یې پخوا دغه چارې تر سره کړی او په دې لاره کې څو ګامه تر موږ وړاندې دي) دلازمی استفادې او ګټې اخیستنی په نتیجه کې وکولی شی دخپل هیواد دفرهنګی مواریثو په لا ښه خوندی کولو کې وړ تیا ومومی.

مأخذونه

الف : غیر موقوتی خپروني:

۱_ آرینزی، احسان الله . د بنادی بدلی. کابل: دافغانستان دعلومو اکادیمی، دژبو او ادبیاتو مرکز، گستتنر، ۱۳۶۶.

۲_ الفنستېن ، مونټ ستهوارټ. دکابل سلطنت بیان ، دوه ټوکه ، پښتو ژباړونکی: محمد حسن کاکړ او نصرالله سوبمن . کابل: دافغانستان دعلومو اکاډیمی. د پښتو څېړنو بین المللی مرکز، لومړی ټوك، گوندي مطبعه . ۱۳۵۹ .

۳_ الفنستېن ، مونټ ستهوارټ. دکابل سلطنت بیان ، (پښتو ژباړونکی: محمد حسن کاکړ) کابل: دافغانستان دعلومو اکاډیمی، د پښتو څېړنو بین المللی مرکز، دوهم ټوك، گوندي مطبعه ، ۱۳۶۱ .

۴_ امانوف، رجب. رباعیات خلق تاجیك، تاجکستان: انستیتوت زبان او ادبیات بنام رودکی، ۱۹۸۳ .

۵_ بختانی ، عبدالله. "د پښتو شفاهی سندرې او دټولولو لارې چارې یې " دفولکلور پوهنی سیمپوزیم . کابل:

دافغانستان دعلومو اکاډیمی، دژبو او ادبیاتو مرکز. ګستتنر. ۱۳۶۶.

۶ـ بختانی، عبدالله. پښتنی خویونه کابل: پښتو ټولنه . دکابل عمومی مطبعه. ۱۳۳۴.

۷ـ بختانی ، عبدالله ، تور بریښ، کابل: پښتو ټولنه، دولتی مطبعه. ۱۳۴۷.

۸ـ بختانی، عبدالله.(ټولوونکی او دسریزې لیکونکی) دملنګ جان خوږې نغمی، کابل: پښتو ټولنه دولتی مطبعه. ۱۳۴۸.

۹ـبخرکی ، ننګیالی. دکندهار فولکلور. کابل: دافغانستان دعلومو اکاډیمی دژبو او ادبیاتو مرکز. دولتی مطبعه. ۱۳۶۹.

۱۰ـ بینوا. عبدالروف. لنډۍ (چاپ کوونکی او فارسی مترجم) . کابل: رادیو افغانستان. عسکري مطبعه . ۱۳۳۷.

۱۱ـ بینوا. عبدالروف. لنډۍ (چاپ کوونکی او فارسی مترجم) . کابل: دافغانستان دعلومو اکاډیمی. د پښتو څېړنو بین المللی مرکز، دولتی مطبعه. ۱۳۵۸.

۱۲ـ بینوا. عبدالروف. پښتو متلونه . کابل : دافغانستان دعلومو اکاډیمی. د پښتو څېړنو بین المللی مرکز. دولتی مطبعه. ۱۳۵۸.

۱۳_ پتنګ . عبدالکریم. فولکلوري مرغلرې. کابل: پښتو ټولنه، دولتی مطبعه. ۱۳۵۶.
۱۴_پتنګ. عبدالکریم. دغرونو څوکی. کابل پوهنتون: د ژبو او ادبیاتو پوهنځی. دلوړو او مسلکی تحصیلاتو مطبعه . ۱۳۵۹.
۱۵_ پتنګ . عبدالکریم. دخلکو تجربی . کابل پوهنتون: دژبو او ادبیاتو پوهنځی. دپوهنتون مطبعه. ۱۳۵۶
۱۶_ پتوال.محمد مومن. ټوکی ټکالی. کابل: دافغانستان دعلومو اکادیمی. دژبو او ادبیاتو مرکز. آریانا مطبعه . ۱۳۶۹.
۱۷_ پښتانه کوچیان • کابل: دافغانستان دعلومو اکاډیمی. د پښتو څېړنو بین المللی مرکز. د ریسرچ مدیریت. لومړی ټوک. دولتی مطبعه. ۱۳۶۰.
۱۸_ پښتنی سندرې. کابل: پښتو ټولنه . لومړی برخه . دکابل عمومی مطبعه . ۱۳۳۴.
۱۹_ پښتنی سندرې. کابل: پښتو ټولنه . دوهمه برخه. دکابل عمومی مطبعه. ۱۳۳۵.
۲۰_ تره کی. محمد قدیر او زمریالی. امین الله. پښتو متلونه . کابل: پښتو ټولنه. دکابل عمومی مطبعه. ۱۳۱۸.

۲۱_ تندر. ختک . د ټکرو شکور. پیښور: قصه خوانی بازار. ۱۹۶۷.
۲۲_ ټیکه دار. عبدالواحد. ټنګ ټکور. پیښور: قصه خوانی بازار....؟
۲۳_ جلالی. غلام جیلانی . د پښتو خاتنی ادب او موسیقی. کابل: دافغانستان دعلومواکاډیمی. دژبو او ادبیاتو مرکز. د ښونی او روزنی مطبعه . ۱۳۶۰.
۲۴_ حقمل. بسم الله. د ټبیو کلتور او فولکلور. کابل: د قومونو او قبایلو چارو وزارت . دولتی مطبعه. ۱۳۶۶.
۲۵_ حمیدالله . صاحبزاده. کاکړی لنډی. پیښور: منظور عام پریس. ۱۹۶۷.
۲۶_ حمیدالله. صاحبزاده . دغروڅوکی. کوټه: اسلامیه پریس. ۱۹۶۹.
۲۷_ حمیدي. میرزاعلم. د ټوکو خورجین. کابل: دولتی مطبعه. ۱۳۷۰.
۲۸_ خادم. قیام الدین. پښتو نولی. کابل: پښتو ټولنه. دکابل عمومی مطبعه. ۱۳۳۱.
۲۹_ خاوري. غوټی. د ننګرهار نکلونه . کابل: دافغانستان دعلومو اکاډیمی. دژبو او ادبیاتو مرکز.دولتی مطبعه. ۱۳۶۸.

۳۰_ ختېك . خوشحال. دستار نامه . كابل: پښتو ټولنه، دولتی مطبعه. ۱۳۴۵.

۳۱_ ختېك ، خوشحال. طب نامه .كابل: پښتو ټولنه، دولتی مطبعه. ۱۳۴۵.

۳۲_ ختېك . خوشحال. باز نامه. كابل: پښتو ټولنه ، دولتی مطبعه . ۱۳۴۵.

۳۳_ ختېك ، خوشحال،سواتنامه . كابل: دافغانستان دعلومو اكاډيمی، دژبو او ادبياتو انستيتوت (دژبو او ادبياتو مركز) ، دولتی مطبعه. ۱۳۵۸.

۳۴_ خليل. هميش. پښتانه ليكوال (اول ټوك) . پيښور: پبلك آرټ پريس، ۱۹۵۸.

۳۵_ خيال، بخاری. دلی او شهی، پيښور يونيورستی بك ايجنسی...؟

۳۶_ ځلمی، محمد ولی. دكابل تاريخی جغرافيه او كلتور. كابل: داطلاعاتو او كلتور وزرات، دولتی مطبعه. ۱۳۶۸.

۳۷_ځلمی ، محمد ولی . كندهار، (لومړی او دوهم ټوك) كابل: دزوري دانتشاراتو مؤ سسه ، دولتی مطبعه. ۱۳۵۱.

۳۸_ ډارمستتر، جیمز. د پښتونخوا د شعر هارو بهار(دریم چاپ) کابل: پښتو ټولنه ، د ښوونې او روزنې مطبعه ، ۱۳۵۶.

۳۹_ د پښتو ټولنې اساسنامه . کابل: پښتو ټولنه. دکابل عمومي مطبعه، ۱۳۳۴.

۴۰_ دوست ، دوست محمد. د پښتو داولسي ادب لارې . کابل: پښتو ټولنه، دولتي مطبعه، ۱۳۵۶.

۴۱_ دوغن، پیغبر قل. ترکمني مرغلرې. کابل: دافغانستان دعلومو اکاډیمی، د پښتو څېړنو بین المللی مرکز، دولتي مطبعه، ۱۳۶۲.

۴۲_ رښتین ، صدیق الله او جرار، غلام رحمن. پښتو قصې. کابل: پښتو ټولنه ، دولتي مطبعه ، ۱۳۳۱.

۴۳_ رښتین ، صدیق الله. دستار نامه (سریزه) . کابل: پښتو ټولنه ، دولتي مطبعه، ۱۳۴۵.

۴۴_ رفیع ، حبیب الله. دخلکو سندرې، کابل: د تاریخ او ادب ټولنه، دولتي مطبعه، ۱۳۴۹.

۴۵_ رفیع، حبیب الله. دهوتکو نارې، کابل: د پښتون کتابفروشی، دولتي مطبعه. ۱۳۴۹.

۴۶_ رفیع، حبیب الله. پښتو پانګه (لومړی ټوک) ، کابل: پښتو ټولنه، دولتي مطبعه. ۱۳۵۴.

۴۷_ رفیع، حبیب الله. پښتو پانګه(دوهم ټوک) .
کابل: پښتو ټولنه ، دولتی مطبعه، ۱۳۵۶.
۴۸_ رفیع ، حبیب الله. زرینی څانګی، کابل:
دافغانستان دعلومو اکاډیمی، دژبو او ادبیاتو مرکز.ګوندي
مطبعه، ۱۳۶۱.
۴۹_ رفیع . حبیب الله. ژبپالنه . کابل: دافغانستان
دعلومو اکاډیمی، دژبو او ادبیاتو مرکز. ګوندی مطبعه .
۱۳۶۱.
۵۰_ روان . فرهادی. د پښتونخوادشعر هارو بهار
(دتوضیحاتو برخه) کابل: پښتو ټولنه. دښوونی او روزنی
مطبعه. ۱۳۵۶.
۵۱_ روهی، محمد صدیق. د خیړنی لارښود . کابل:
پښتو ټولنه ، دولتی مطبعه، ۱۳۵۴.
۵۲_ روهی، محمد صدیق.فولکلور پیژندنه . کابل:
دافغانستان دعلومو اکاډیمی، دژبو اوادبیاتو مرکز. دولتی
مطبعه. ۱۳۶۵.
۵۳_ روهی، محمد صدیق. دادب او فولکلور په باره
کې . کابل: دولتی مطبعه. ۱۳۶۵.
۵۴_ روهی، محمد صدیق." فولکلور باید د تیوري
په رڼا کې وڅیړل شی" . دفولکلور پوهنی سمپوزیم . کابل:

دافغانستان دعلومو اکاډیمی. دژبو او ادبیاتو مرکز، ګستتنر. ۱۳۶۶.

۵۵_ زیارن، شهزاده ، سرېن ، محمد اسمعیل، پتوال، محمدمؤ من، او نوره لنډی، کابل: دافغانستان دعلومو اکاډیمی، دژبواو ادبیاتو مرکز، دولتی مطبعه، ۱۳۶۴.

۵۶_ ژواك، محمد دین. (مهتمم) . پښتو متلونه، کابل: پښتو ټولنه، دکابل عمومی مطبعه، ۱۳۴۴.

۵۷_ ژواك، محمد دین . افغانی موسیقی، کابل :دافغانستان دهنرمندانو اتحادیه، آریانا مطبعه، ۱۳۷۰.

۵۸_ سرېن، محمد اسمعیل، نږدې ، مصطفی، ویاړ، حضرت محمد او پتوال، محمد مومن . پښتنی فولکلور، کابل: دافغانستان دعلومو اکاډیمی دژبو او ادبیاتو مرکز، دولتی مطبعه، ۱۳۶۵.

۵۹_ سوبمن ، علی محمد . فولکلوري ګیډی، کابل: پښتو ټولنه ، دولتی مطبعه، ۱۳۵۵.

۶۰_ سوبمن ، علی محمد. د ماشومانو فولکلور (دزیري کالنی) کابل: د افغانستان دعلومو اکاډیمی، دژبو او ادبیاتو مرکز. دولتی مطبعه، ۱۳۵۷.

۶۱_ سوبمن ، علی محمد. اولسي پوهه ، کابل: داطلاعاتو او کلتور وزارت، دفولکلور او ادب آمریت ، دولتی مطبعه، ۱۳۵۶.

۶۲_ شپون، سعدالدین (س. ش) . (دادبیاتو تاریخ دادبی تاریخ میتودولوژي(دمقالو مجموعه) ، کابل: دافغانستان دعلومو اکاډیمی، دژبو او ادبیاتو مرکز، ۱۳۶۷

۶۳_ شعور ، اسدالله. (برخی از گرد آوری ادب شفاهیدري) د فولکلور پوهنی سیمپوزیم، کابل: دافغانستان دعلومو اکاډیمی، دژبو او ادبیاتو مرکز، ، گستتنر، ۱۳۶۶.

۶۴_ صادقمل، سید محی الدین. دسردرو توتیان ، کابل: دافغانستان دعلومو اکاډیمی، دژبو او ادبیاتو مرکز، دزیري جریده ، دولتی مطبعه، ۱۳۶۳.

۶۵_ طاهر، محمد نواز. آدم درخانی(سریزه) . پیښور: پښتو اکیډیمی پیښور یونیورستی، حمیدیه پریس، ۱۹۵۹.

۶۶_ طائر، محمد نواز. روهی متلونه (سریزه او تدوین) ، پیښور: پښتو اکیډیمی پیښور یونیورستی، حمیدیه پریس، ۱۹۷۵.

۶۷_عابد ، سید عابدشاه. اولسی نکلونه، کوټه: اسلامیه پریس، ۱۹۷۲.

۶۸_ عطایی، محمد ابراهیم . دپښتني قبیلو اصطلا حی قاموس، کابل: د پښتو خیړنو بین المللی مرکز، دولتی مطبعه، ۱۳۵۷ .

۶۹_ عطایی، محمد ابراهیم. د پښتو پر شفاهی داستان یوه تحلیلی خیړنه . کابل:داطلاعاتو او کلتوروزارت، دولتی مطبعه، ۱۳۷۰ .

۷۰_ عطایی، محمد ابراهیم.ایا د کلیوالی ژوند ټوله پدیدې په فولکلور کی مطالعه کیدای شی؟ د فولکلور پوهنی سیمپوزیم، کابل: دافغانستان دعلومو اکاډیمی ، دژبو او ادبیاتو مرکز.ګستتنر، ۱۳۶۶ .

۷۱_ غروال، محمد عارف. غرنۍ سندرې، کابل: دافغانستان دعلومو اکاډیمی، دژبو او ادبیاتو مرکز،دولتی مطبعه ، ۱۳۶۰ .

۷۲_ فارغ بخاري، پښتو لوګګیت، پیښور: نیا مکتبه قصه خوانی بازار، انشا پریس، ۱۹۵۱ .

۷۳_ قربانخیل، محمد اسلم. (فولکلور) دزیري کالنۍ، کابل: دافغانستان دعلومو اکاډیمی، دژبو او ادبیاتو مرکز،دولتی مطبعه، ۱۳۵۷ .

۷۴_ کاکړ، محمدحسن. دکابل سلطنت بیان (لومړی ټوك) ، سریزه د پښتو خیړنو بین المللی مرکز، ګوندي مطبعه ۱۳۵۹ .

۷۵_ کاکړ سیال. ولی محمد خان. سپیڅلی ګایونه (پښتو متلونه) کوټه: اسلامیه پریس. ۱۹۶۹.
۷۶_ کاکړسیال. ولی محمد خان.غاړې. کوټه: اسلامیه پریس.۱۹۶۹.
۷۷_ کاکړ سیال. ولی محمد خان. چغیان . کوټه : اسلامیه پریس. ۱۹۷۰
۷۸_ کاکړ سیال. ولی محمد خان. پښتنی فولکلور. کوټه . ۱۹۷۱.
۷۹_ کاکړسیال. ولی محمدخان.فولکلوري سندرې. کابل: دافغانستا دعلومو اکاډیمی . دژبو او ادبیاتو مرکز.دولتی مطبعه . ۱۳۵۷.
۸۰_ کاکړسیال. ولی محمد خان.پښتی افکار (پښتو کیسی). کوټه: اسلامیه پریس . ۱۹۶۹.
۸۱_ کاکړ سیال. ولی محمد خان. انګی. کوټه پښتو ادبی بورډ . یو نایټیډ پرنټرز کوټه . ۱۹۸۷.
۸۲_ کاکړ سیال. ولی محمد خان.ملی ادب. کوټه: اسلامیه پریس. ۱۹۷۲.
۸۳_ کاکړ سیال. ولی محمد خان.ترینو . کوټه: پښتو ادبی دنیا. اسلامیه پریس.۱۹۷۳.
۸۴_ کاکړ سیال. ولی محمد خان. فولکلوري طب. کوټه : اسلامیه پریس. ۱۹۷۴

۸۵_ کاکړ سیال. ولی محمد خان. مزارات ، کوټه : اسلامیه پریس، ۱۹۷۳.

۸۶_ کاکړ سیال، ولی محمد خان.کاکړي، کوټه : پښتو ادبی دنیا ، اسلامیه پریس، ۱۹۷۳.

۸۷_ ګوربز ، میر احمد. دګوربز و نکلونه ، کابل: دافغانستان دعلومو اکاډیمی، دژبو او ادبیاتو مرکز. دولتی مطبعه، ۱۳۶۸.

۸۸_ګوربز، میر احمد . د پکتیا نکلونه (دوهم ټوك)، کابل: دافغانستان دعلومو اکاډیمی، دژبو او ادبیاتو مرکز،آریانا مطبعه، ۱۳۶۹.

۸۹_ ګوربز، میراحمد. دګوربز و کلتور او فولکلور کابل: داطلاعاتو او کلتور وزارت، فولکلور ټولنه .دولتی مطبعه، ۱۳۶۳.

۹۰_ مجذوب، عبدالرحیم، دمروتو کسرونه ، پیښور: حمیدیه پریس، ۱۹۵۹.

۹۱_محمد حیات خان • حیات افغانی، دفرهاد ظریفی او لطیف طالبی پښتو ژباړه ، کابل: دسرحدونو چارو وزارت، (لومړی ټوك) آریانا مطبعه، ۱۳۷۰.

۹۲_محمد حیات خان • حیات افغانی، (دفرهاد ظریفی او لطیف طالبی پښتو ژباړه) کابل: دسرحدونو چاروزارت، (دوهم ټوك)، آریانا مطبعه، ۱۳۷۰.

۹۳_ محمد حیات خان. حیات افغانی. (دفرهاد ظریفی او لطیف طالبي پښتو ژباړه) . کابل: دسرحدونو چارو وزارت. (دریم ټوك). آریانا مطبعه. ۱۳۷۰.

۹۴_ معتمد، محمد اکبر او تمارا. میوندي. د دوو دوستو هیوادونو اولسی پوهه.کابل: دافغانستان دعلومو اکاډیمی. دپښتو څیړنو بین المللی مرکز دولتی مطبعه. ۱۳۶۳ه ش، ۱۹۸۴ ع.

۹۵_ م.ګ. اسلا نوف. پښتو فولکلور او په شوروی اتحاد کې یې ژوره مطالعه پښتو ژباړونکی : م . معتمد دفولکلور پوهنی سیمپوزیم. کابل: دافغانستان دعلومو اکاډیمی. دژبو او ادبیاتو مرکز.ګستتنر. ۱۳۶۶.

۹۶_ منګل ، علی محمد. فولکلوري ګلونه . کابل: دافغانستان دعلومو اکاډیمی. دژبو او ادبیاتو مرکز. دولتی مطبعه. ۱۳۶۰.

۹۷_ منګل . علی‌محمد. د پښتو ځنی فولکلوري روایات. کابل: داطلاعاتو او کلتور وزارت، دکلتور دولتی کمیټه . ګستتنر. ۱۳۶۴.

۹۸_ مومند ، مجاور احمد. دمومندو نرخونه . کابل: دافغانستان دعلومو اکاډیمی. دژبو او ادبیاتو مرکز. دولتی مطبعه. ۱۳۷۰.

۹۹_ نادر، عبدالجبار. په لغمان کې دواده دودونه .
کابل: دافغانستان دعلومو اکاډیمی . د پښتو څیړنو بین المللی مرکز . دښوونې او روزنې مطبعه . ۱۳۷۰.

۱۰۰_ نصرالله . سوبمن . دمتلونو کیسی (دزیري کالنۍ). کابل: دافغانستان دعلومو اکاډیمی. دژبو او ادبیاتو مرکز. دولتی مطبعه. ۱۳۵۷.

۱۰۱_ نصر. نصرالله خان. د نوره دین چاربیتی. پیښور: شاهین برقی پریس ۱۹۵۸.

۱۰۲_ ننګرهاری. ګلاب. واسعی. عبدالخالق. ثابت . محمد ابراهیم او نوره پښتنی دودونه. کابل: پښتو ټولنه. د کابل عمومی مطبعه. ۱۳۳۶.

۱۰۳_ نوري، محمد ګل. ملی هنداره . لومړی ټوک. کابل: پښتو ټولنه. د کابل عمومی مطبعه. ۱۳۱۸.

۱۰۴_ نوري. محمدګل. ملی هنداره. دوهم ټوک. کابل: پښتو ټولنه د کابل عمومی مطبعه. ۱۳۲۵.

۱۰۵_ نوري. محمد ګل. متلونه . کابل: پښتو ټولنه. د کابل عمی مطبعه. ۱۳۲۷.

۱۰۶_ واجد. عبدالواجد. دودونه. کابل: دافغانستان دعلومو اکاډیمی. دژبو او ادبیاتو مرکز. دولتی مطبعه. ۱۳۶۰.

۱۰۷_ وجدان. محمد شفیق. ادبیات مردم. کابل: داطلاعاتو او کلتور وزارت. دولتی مطبعه . ۱۳۶۰.

۱۰۸_ وفا سیتهی. محمد یونس. سرود کوهسار، پیښور. یونیورسټی بك ایجنسی. ۱۹۶۳.

۱۰۹_ همیش، همیش ګل. ټکونه (دماز غوجنګ).
پیښور: قصه خوانی بازار...؟
۱۱۰_ هوتك، محمد . پټه خزانه ، کابل: د پښتو د انکشاف او تقویې ریاست، دولتی مطبعه ، ۱۳۵۴.
۱۱۱_ هیواد مل، زلمی. فولکلوري مرغلرې (سریزه) کابل: پښتو ټولنه دولتی مطبعه، ۱۳۵۶.
۱۱۲_ هیواد مل، زلمی. اوسنی ګړنی ادب او د پښتني فولکلور ټولونی ربړې (دافغان یاد - دمقالو مجموعه) ، کابل: کابل پوهنتون، دژبو او ادبیاتو پوهنځی ، دولتی مطبعه، ۱۳۶۰.
۱۱۳_ هیواد مل ، زلمی . د پښتو ځانتی ادب او موسیقی (سریزه). کابل: دافغانستان دعلومو اکاډیمی. دژبو او ادبیاتو مرکز. دولتی مطبعه، ۱۳۶۰.
۱۱۴_هیواد مل ، زلمی. اولسی سندرې، کابل: دافغانستان دعلومو اکاډیمی، دژبو او ادبیاتو مرکز، دولتی مطبعه، ۱۳۶۱.
۱۱۵_هیوادمل، زلمی. پښتو فولکلور او د پښتو شفاهی ادبیاتو د تصنیف ربړې، د فولکلور پوهنی سیمپوزیم، کابل: دافغانستان دعلومو اکاډیمی. دژبو او ادبیاتو مرکز، ګستتنر، ۱۳۶۶.

۱۱۶ـ هیواد مل. زلمی. :غلام محی الدین افغان افکار او آثار (سریزه او توضیحات) . کابل: کابل پوهنتون. د ژبو او ادبیاتو پوهنځی، دولتی مطبعه. ۱۳۶۰.

۱۱۷ـ هیواد مل . زلمی. اولسی سندرې. کابل: دقومونو او قبایلو وزارت (دوهم ټوك). د لوړو او مسلکی تحصیلاتو مطبعه . ۱۳۶۶.

ب : موقوتی خپرونی:

۱ـ دافغانستان دعلومو اکاډیمی پیغام. فرهنگ مردم . دخلکو دفرهنگ آمریت. :. کلتور دولتی کمیته. ۱۳۶۴ . ۳-۴ گڼه .

۲ـ شهرستانی . شاه علی اکبر. (شیوه گردآوري فولکلور) فرهنگ مردم. ۱۳۶۴ . ۳-۴ گڼه.

۳ـ عطایی. محمد ابراهیم (په افغانستان کې د فولکلور ټولونی او څیړنی د کار پرسابقه یوه کتنه) . دفرهنگ مردم یاده شوې گڼه .

۴ـ معتمد . محمد اکبر (مترجم) (ژبه او د پښتو متلونو خصوصیات) کابل (مجله). پښتو ټولنه . ۱۳۵۴، ۵ گڼه.

۵ـ معتمد . محمد اکبر، (د پښتو تاریخی سندرې) کابل: دافغانستان دعلومو اکاډیمی، دژبو او ادبیاتو مرکز. ۱۳۶۳، ۱۱ گڼه .

ج : قلمي او ټایپي آثار او اسناد :

۱ـ بختاني . عبدالله (سرمحقق). لیکلي یادښتونه . ننګرهار . د ۱۳۷۳ کال سلواغه.

۲ـ دژبو او ادبیاتو مرکز. د ۱۳۶۶- ۱۳۶۷ کلونو رسمي اسناد.

۳ـ میرزا کریم الله خان. د بیلا بیلو موضوعاتو خطي مجموعه. د لیکلو نیټه :د ۱۳۰۰ ش کال حدود . لغمان. (دغه مجموعه اوس هم له ماسره موجوده ده .)

۴ـ ناصر. نصرالله . د پښتني فولکلور د ترجمو تاریخي سیر(د محقق علمي رتبې ته د ترفیع له پاره) ټایپي اثر. د ژبو او ادبیاتو مرکز. ۱۳۶۶.

۵ـ هیواد مل . زلمی. په هند کې د پښتو ادبیاتو د ایجاد او ودې پړاوونه . (د سرمحقق علمي رتبې ته د ترفیع لپاره) ټایپي اثر. د ژبو او ادبیاتو مرکز. ۱۳۶۹.

یادونه :

په دې اثر کې چې له کومو ماخذونو څخه ګټه اخیستل شوې ده . مجموعي شمیر یې(۱۲۷) ته رسیږي.

مننه او یادونه

لومړی له خپل درانه استاد سرڅېړونکي عبدالله بختاني خدمتګار څخه دزړه له کومې مننه کوم، چې ددې اثر د لیکلو او بشپړتیا پر وخت یې له مصروفیتونو سره سره په داسې شرایطو کې زما لاسنیوی وکړ چې دهیواد د بیلا بیلو سیمو ، په ځانګړې توګه د کابل ښار او دهغه شاو خوا فضا د باروتو تورو لوخړو پوښلې وه . همدارنګه له ښاغلو سرڅیړونکی نورمحمد سهیم او سر څیړونکی نعمت الله اندړ څخه مننه کوم چې په سختو او ستونزمنو شرایطو کې یې دغه اثر په پوره غور ولوست او خپل عالمانه نظرونه یې پرې و کښل. ګران ورور سرڅیړونکی علی محمد منګل ته هم دهغه دنیك نظر او غوره پیرزوینو له امله دلوی څښتن له دربارڅخه داوږد عمر او روغتیا هیله کوم.

په همدې توګه ښاغلي عبداللطیف احمدي ته کور ودانی وایم چې په بشپړه فرهنګي مینه یې د خپلې اصلي

دندې ترڅنګ ددې اثر د کمپوز، ډیزاین او اهتمام چارې په ډېره ښه وجه سر ته ورسولې.

په پای کې دا یادونه ضروري بولم چې ددې اثر نوم د بشپړتیا تر وخته " د پښتني فولکلور ټولې شوې مجموعې د کوم روش تابع دي؟ " و، خو دچاپ پر وخت . دعبارت د لنډون په هیله د ځینو پوهانو په سلا دغه نوم په " دپښتني فولکلور د چاپي مجموعو څېړندود" بدل شو.

همدارنګه ددې خبرې یادونه هم ضروري ګڼم، چې دا اثر په سختو او ستونزمنو شرایطو کې لیکل شوی . متاسفانه ما دزیاتو اداري مصروفیتونو له امله و نشو کولی چې نوې کتنه پرې وکړم، که څه نیمګړتیا وې په کې ترسترګو کیږي . درانه پوهان به زما عذر ومني !

په درنښت

نصر الله "ناصر"

دژبو او ادبیاتو دمرکز علمي غړی او

دافغانستان دعلومو اکاډیمي علمي منشي

۲۹-۶- ۱۳۸۳

PROPERTY OF ACKU
13618

آثار:

۱_ دنوم او ړون (دنوم صرف) د لیسانس ددورې مونوګراف.
۲_ د پښتو قاموس لیکنې تاریخچه، دماستری تیزس.
۳_ د پښتني فولکلور د ترجمو تاریخی سیر، د څېړونکی علمی رتبی ته د ترفیع له پاره، ۱۳۶۶.
۴_ د پښتنی فولکلور فرهنګ ، ګډه پروژه ، ۱۳۶۶ .
۵_ د پښتنی فولکلور د چاپی مجموعو څېړندود ، همدغه اثر.
۶_ کابل ښار د پیړیو په اوږدو کې (ژباړه) د ۱۳۸۱ کال چاپ.
۷_ په پښتو ادبیاتو کې د جرګو انعکاس، د ۱۳۸۱ کا چاپ.
۸_ په پښتو ادبیاتو کې د آزادی وږمې، د ۱۳۸۲ کال چاپ.

وروستي دوه اثره کابل مجلې خپاره کړي ، چې لومړي يې په ۱۳۸۲ کال کې دملی یووالی جایزه او دویم يې په ۱۳۸۳ کال کې دهیواد دخپلواکۍ د بیرته تر لاسه کولو د پنځه اتیایمې کالیزې په مناسبت دویمه درجه ادبي جایزه ګټلی ده .

۹_ ښکار او مرغان (رساله)، دزیری جریدې د (۱۳۶۰- ۱۳۶۵) کلونو په ګڼو کې خپره شوې ده .

۱۰_ دافغانستان دعلومو اکاډیمي لنډه تاریخچه ، چاپ ته چمتو ده .

همدارنګه يې د یو شمیر پوهانو پرآثار و تقریظونه هم لیکلی دی.
برسیره پر پورتنیو آثارو نصرالله ناصر د (۶۰) په شاوخوا کې علمی- څېړنیزې مقالې هم لیکلي ، چې په کابل ، خراسان ، الفت، هیله، هموطن .... مجلو او ځینو مجموعو ، دزیري او حقیقت سرباز اونیزو کې خپرې شوي دي. ئومړۍ اوس " د شلمې پیړۍ په فرهنګی- ادبی بهیر کې د علامه حبیبی دریځ" علمي موضوع، د سرڅېړونکی علمی رتبی ته د ترفیع په منظور څېړي.

دليكوال لنډ ژوند ليک

نصر الله " ناصر" د محمد امان زوی او دميرزا کريم الله خان لمسی دی، چې په (۱۳۳۳ لمريز) کال دلغمان ولايت د مرکز د " ګبري" په کلي کې زيږيدلی دی. لومړنی زده کړې يې د " کتيل" په کليوالي ښوونځي ، او دلغمان د مرکز په لومړي لمبر ښوونځي او ثانوي زده کړې يې تر دوولسم ټولګی پورې په " روښان" ليسه کې پای ته رسولي او په (۱۳۵۲) کال ددغې ليسې څخه په عالی درجه فارغ شوی دی. په ۱۳۵۷ کال کې يې دکابل پوهنتون دادبياتو او بشري علومو د پوهنځي له پښتو څانګې څخه د ليسانس بر يليك تر لاسه او وروسته يې په همدغه پوهنځي کې په عالي درجه دماستری لوړې زده کړې هم ترسره او ديپلوم يې تر لاسه کړ.

رسمی دندې:

نصر الله " ناصر" د (۱۳۵۷) کال د مرغومی د مياشتې په لومړۍ نېټه د کرهڼې په وزارت کې د مدير په توګه مقرر او د(۱۳۵۸) کال د چونګاښ په مياشت کې يې دافغانستان دعلومو اکاډيمی دعلمي غړيتوب وياړ تر لاسه کړ، چې په دغې اکادمی کې يې دغه لاندينی رسمي دندې ترسره کړي دي.

- دزيري اوونيزی مسلکی غړی، دکابل مجلی مرستيال، دزيري اوونيزې مسوول چلوونکی (۱۳۶۲ - ۱۳۶۵) ، درې څله د ژبو او ادبياتو دمرکز علمی منشي، د ژبو او ادبياتو دمرکز رئيس.

- دافغانستان دعلومو اکادمي د بشري علومو د برخې سرپرست مرستيال، له ۱۳۷۸ کال څخه را په ديخوا دعلومو اکادمي علمی منشی (علمی مرستيال).

پاتې دپشتی په دريم مخ کې